# علوم القرآن

پښتو

علامه شمس الحق افغانی رحمة الله علیه

مترجم

مولانا سیف الحنان حقانی

تاج کتب خانه [illegible] پیښور
قصه خوانی
فون: ۲۱۲۴۳۵۴

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علوم القرآن (پښتو)

علّامه شمس الحق افغانی رحمه الله

مترجم

مولانا سیف الحنان

ناشر

تاج کتب خانه ۰ محله جنگی قصه خوانی پېښور

فون نمبر :- ۲۱۴۴۵۴

NO: 21
C: 22

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست مضامین


| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | پیش لفظ | ۱ |
| ۲ | د وحی او قرآن ضرورت | ۴ |
| ۳ | د قرآن د ضرورت دلیل عقلی | ۵ |
| ۴ | دلیل قانونی | ۸ |
| ۵ | دلیل غذائی | ۱۱ |
| ۶ | دلیل دوائی | ۱۴ |
| ۷ | دلیل نوری | ۱۶ |
| ۸ | دلیل حُبّی | ۱۷ |
| ۹ | دلیل اتباعی | ۱۸ |
| ۱۰ | دلیل نفسیاتی | ۲۰ |
| ۱۱ | دلیل تخلیقی | ۲۱ |
| ۱۲ | دلیل ترحُمی | ۲۲ |
| ۱۳ | د قرآن صداقت او اعجاز | ۲۴ |
| ۱۴ | د معجزے او اعجاز تشریح | ۲۵ |
| ۱۵ | عادیات | ۲۵ |
| ۱۶ | عجائبات | ۲۶ |
| ۱۷ | مشترکه خاصیت | ۲۷ |
| ۱۸ | معجزات | ۲۷ |
| ۱۹ | قرآنی معجزه، بلاغی دلیل | ۲۷ |





| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰ | اوله شُبه | ۲۹ |
| ۲۱ | دویمه شُبه | ۳۱ |
| ۲۲ | دریمه شُبه | ۳۲ |
| ۲۳ | څلورمه شُبه | ۳۳ |
| ۲۴ | پنځمه شُبه | ۳۳ |
| ۲۵ | شپږمه شُبه | ۳۳ |
| ۲۶ | اُومه شُبه | ۳۴ |
| ۲۷ | اتمه شُبه | ۳۸ |
| ۲۸ | نهمه شُبه | ۳۹ |
| ۲۹ | لسمه شُبه | ۴۰ |
| ۳۰ | یولسمه شُبه | ۴۳ |
| ۳۱ | د فیضی تفسیر بے نُقط | ۴۴ |
| ۳۲ | د مُسیلمه توکرے | ۴۴ |
| ۳۳ | ابن الراوندی زندیق یهُودی | ۴۵ |
| ۳۴ | د متنبی توکرے | ۴۶ |
| ۳۵ | د اعجاز القرآن پوهه | ۴۶ |
| ۳۶ | مشاهدات او معنویات | ۴۷ |
| ۳۷ | قانونی اعجاز | ۴۹ |
| ۳۸ | تاثیری اعجاز | ۵۱ |
| ۳۹ | دیورپ په نظر کښې د قرآن تاثیر | ۵۴ |
| ۴۰ | اعجذابی تاثیر | ۵۵ |
| ۴۱ | د قرآن اعجازی تاثیر په شخصیت د رسول الله صلعم | ۵۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۲ | په یځنئ کښ خوله | ۵۶ |
| ۴۳ | دروند والے او پیتے | ۵۷ |
| ۴۳ | دقرآن شخصیتی قلبي تاثیر | ۵۸ |
| ۴۵ | تاثیر قالبی | ۵۸ |
| ۴۶ | دقرآن سیاسی اعجاز | ۵۹ |
| ۴۷ | غذائی اعجاز | ۶۳ |
| ۴۸ | دروح آسمانی غذا | ۶۴ |
| ۴۹ | دروحانی ژوند معیار | ۶۵ |
| ۵۰ | دغذائیت معیار | ۶۵ |
| ۵۱ | دروح مرګ او ژوند | ۶۵ |
| ۵۲ | قرآن رُوحانی غذا ده | ۶۷ |
| ۵۳ | دلیل نظامی | ۶۷ |
| ۵۴ | دوېم اصول دانسان نورو انسانانو سره تعلق. | ۷۰ |
| ۵۵ | درېم اصول دانسان دکائنات عالم سره تعلق | ۷۱ |
| ۵۶ | څلورم اصول دانسان دژوند مقصد | ۷۳ |
| ۵۷ | پنځم اصول دانسانی ژوند آخری منزل | ۷۶ |
| ۵۸ | شمولی اعجاز | ۷۸ |
| ۵۹ | غیبی اعجاز | ۸۴ |
| ۶۰ | اعجزانی اعجاز | ۸۶ |
| ۶۱ | تالیفی اعجاز | ۸۷ |
| ۶۲ | اعتدالی اعجاز | ۸۸ |
| ۶۳ | سلکی اعجاز. | ۸۹ |

| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۴ | درېم فصل د تفسیر او د تاویل او ددے دواړو د متعلقاتو بیان | ۹۰ |
| ۶۵ | د تفسیر او د مطالبو د قرآن د پوهے آداب او شرائط. | ۹۲ |
| ۶۶ | علم اللغة یا علم اللسان | ۹۲ |
| ۶۷ | علم السنة | ۹۳ |
| ۶۸ | علم الآثار | ۹۵ |
| ۶۹ | علم قواعد الالهیات | ۹۷ |
| ۷۰ | علم الموهبة | ۹۸ |
| ۷۱ | د تفسیر بالرائ تحقیق | ۱۰۰ |
| ۷۲ | د شبهے ازاله د صوفیه ؤ او باطنیه ؤ د تفسیر په منځ کښ فرق. | ۱۰۱ |
| ۷۳ | د تفسیر بالرائ قسمونه | ۱۰۴ |
| ۷۴ | اقسام تفسیر | ۱۰۵ |
| ۷۵ | د شبهے ازاله | ۱۱۲ |
| ۷۶ | د وحی لغوی درے قسمه: فطری ۱، ایجادی ۲ | ۱۱۴ |
| ۷۷ | عرفانی | ۱۱۵ |
| ۷۸ | شرعی وحی | ۱۱۵ |
| ۷۹ | وحی د نبوت | ۱۱۶ |
| ۸۰ | د قرآن نزول | ۱۱۷ |
| ۸۱ | نزول اول | ۱۱۹ |
| ۸۲ | دوېم نزول | ۱۱۹ |
| ۸۳ | درېم نزول | ۱۲۰ |
| ۸۴ | جبرائیل علیه السلام قرآنی الفاظ څنګه حاصل کړل | ۱۲۱ |
| ۸۵ | د قرآن نازل شوی الفاظ | ۱۲۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۶ | دقرآن سُنت او حدیث قدسي بېلتون | ۱۲۳ |
| ۸۷ | د وحي د نازلیدو قسمونه | ۱۲۳ |
| ۸۸ | د قرآن جمع کول او دهغې تدوين | ۱۲۵ |
| ۸۹ | دویم، دریم او څلورم محرک | ۱۲۶ |
| ۹۰ | پنځم او شپږم محرک | ۱۲۸ |
| ۹۱ | دقرآن یادول او صحابه کرام | ۱۲۹ |
| ۹۲ | دقرآن کریم تحریري حفاظت | ۱۳۲ |
| ۹۳ | صدیقي جمع | ۱۳۳ |
| ۹۴ | د صدیقي جمع دستور | ۱۳۵ |
| ۹۵ | عُثماني جمع | ۱۳۶ |
| ۹۶ | د عثماني جمع دستور | ۱۳۷ |
| ۹۷ | د قرآن آیتونه او سورتونه | ۱۳۸ |
| ۹۸ | مصحف مدني/مکي | ۱۴۰ |
| ۹۹ | شامي، بصري، یمني او بحریني مصحف | ۱۴۱ |
| ۱۰۰ | کوفي مصحف | ۱۴۲ |
| ۱۰۱ | د سورة اَعلیٰ آیت | ۱۴۳ |
| ۱۰۲ | د حضرت عائشهؓ حدیث | ۱۴۵ |
| ۱۰۳ | یو عامه ضابطه د ابن مسعودؓ روایت | ۱۴۶ |
| ۱۰۴ | د قرآن اختلاف او اوه احرف | ۱۴۸ |
| ۱۰۵ | اُوه قراٴتونه۔ صحابه قاریان | ۱۴۹ |
| ۱۰۶ | اُوه قراٴتونه | ۱۵۰ |
| ۱۰۷ | احرفِ سبعه | ۱۵۲ |





| شمیر | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۸ | د اُوو احرفو حکمت | ۱۵۳ |
| ۱۰۹ | د تحریف په باره کې د ابن عباسؓ روایتونه | ۱۵۸ |
| ۱۱۰ | شیعه او د قرآن تحریف | ۱۶۰ |
| ۱۱۱ | د بائبل تحریف | ۱۶۱ |
| ۱۱۲ | انجیل متی، مرقس، لوقا | ۱۶۲ |
| ۱۱۳ | انجیل یوحنا، تثلیث، ختنه او د جنابت غُسل | ۱۶۳ |
| ۱۱۴ | د الوهیت تصور او بائبل | ۱۶۴ |
| ۱۱۵ | بائبل او د نبوت تصور | ۱۶۶ |
| ۱۱۶ | بائبل او د عملونو بدله | ۱۶۷ |
| ۱۱۷ | د مکي او مدني سورتونو متعلق اصطلاحات | ۱۶۸ |
| ۱۱۸ | د قرآن د سورتونو شمیر | ۱۶۹ |
| ۱۱۹ | د قرآن د آیتونو، کلمو، نقطو او حرفونو شمیر | ۱۷۰ |
| ۱۲۰ | د مختلفو سورتونو مختلف نومونه | ۱۷۰ |
| ۱۲۱ | د قرآن مهمات | ۱۷۲ |
| ۱۲۲ | د نوي فکر په رڼا کې د باري تعالی ثبوت | ۱۷۴ |
| ۱۲۳ | د باري تعالی د اثبات دلائل | ۱۷۷ |
| ۱۲۴ | د باري تعالی ثبوت په سلفي دلائلو | ۱۷۹ |
| ۱۲۵ | د باري تعالی د ثبوت کلامي او فلسفي دلیلونه | ۱۸۱ |
| ۱۲۶ | وجود د باري تعالی او قرآن مجید | ۱۸۸ |
| ۱۲۷ | د باري تعالی توحید | ۱۹۱ |
| ۱۲۸ | د شرک مذمت | ۱۹۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شمیر | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۲۹ | نبوت | ۱۹۳ |
| ۱۳۰ | د نبوت خصوصیتونه | ۱۹۵ |
| ۱۳۱ | په معجزې، کرامت او سحر کښې بیلتون | ۱۹۸ |
| ۱۳۲ | د نبوت حقیقت | ۱۹۹ |
| ۱۳۳ | ختم نبوت | ۲۰۸ |
| ۱۳۴ | قرآن او ختم نبوت | ۲۱۰ |
| ۱۳۵ | د خاتم النبیین لفظ او د عربو لغت | ۲۱۳ |
| ۱۳۶ | د خاتم النبیین لفظ او مفسرین کرام | ۲۱۴ |
| ۱۳۷ | میثاقی دلیل | ۲۲۳ |
| ۱۳۸ | د بعثت عمومي دلیل، تبلیغي دلیل | ۲۲۵ |
| ۱۳۹ | وعدې دلیل | ۲۲۶ |
| ۱۴۰ | حدیث او ختم نبوت | ۲۲۷ |
| ۱۴۱ | ختم نبوت او اجماع امت | ۲۲۹ |
| ۱۴۲ | ختم نبوت او درایت | ۲۳۰ |
| ۱۴۳ | د مرزائی وسوسو جواب | ۲۳۱ |
| ۱۴۴ | ختم نبوت د علامه اقبال په نظر کښې | ۲۳۸ |
| ۱۴۵ | قیامت، معاد او مجازات د اعمالو او د قیامت نومونه | ۲۴۱ |
| ۱۴۶ | د معاد او قیامت نقلي ثبوت | ۲۴۳ |
| ۱۴۷ | د معاد په باره کښې مذهبونه | ۲۴۷ |
| ۱۴۸ | د مجازات درې شکله | ۲۴۸ |
| ۱۴۹ | د تناسخ رد | ۲۵۰ |

| شمیر | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۵۱ | په تناسخي مجازاتو کښې د جرم علم نه وي | ۲۵۱ |
| ۱۵۲ | د جسماني معاد رومبې دلیل | ۲۵۳ |
| ۱۵۳ | دویم دلیل | ۲۵۴ |
| ۱۵۴ | دریم دلیل | ۲۵۵ |
| ۱۵۵ | څلورم او پنځم دلیل | ۲۵۶ |
| ۱۵۶ | شپږم دلیل | ۲۵۷ |
| ۱۵۷ | اووم دلیل | ۲۵۸ |
| ۱۵۸ | اتم او نهم دلیل | ۲۵۹ |
| ۱۵۹ | یولسم او دولسم دلیل | ۲۶۳ |
| ۱۶۰ | د قیامت کیفیت | ۲۶۵ |
| ۱۶۱ | عالمي مرض موت یا د قیامت نخښې | ۲۶۶ |
| ۱۶۲ | د شپیلۍ د قیامت پوکل | ۲۶۷ |
| ۱۶۳ | د پوکلو حکمت | ۲۶۹ |
| ۱۶۴ | د محشر ځمکه | ۲۷۱ |
| ۱۶۵ | د مومن خوراک څښاک | ۲۷۲ |
| ۱۶۶ | بیان د حوض کوثر | ۲۷۳ |
| ۱۶۷ | عمل نامې | ۲۷۳ |
| ۱۶۸ | د قیامت دورځې ګواهۍ | ۲۷۵ |
| ۱۶۹ | د عملو نو تول | ۲۷۸ |
| ۱۷۰ | د اعمالو تول ـ میزان او د موزون لهم بیان | ۲۸۰ |
| ۱۷۱ | د عملو نو تلونکې به څوک وي؟ | ۲۸۳ |
| ۱۷۲ | د عملو نو تللو حکمت | ۲۸۴ |

| صفحه | عنوان | شمیر |
| --- | --- | --- |
| ۲۸۵ | دغوریږ او ناغوریږ پیژندل | ۱۷۳ |
| ۲۸۶ | د تول مقام، د پل صراط تیریدل او دنور | ۱۷۴ |
| ۲۸۸ | د صراط حقیقت | ۱۷۵ |
| ۲۸۹ | د صراط او نور حکمت | ۱۷۶ |
| ۲۹۱ | د نور اسباب | ۱۷۷ |
| ۲۹۱ | په کومه وجه د صراط پورے وتل اسانیږی | ۱۷۸ |
| ۲۹۲ | جنت او دوزخ | ۱۷۹ |
| ۲۹۳ | د جنت او دوزخ د وجود دلائل | ۱۸۰ |
| ۲۹۵ | د آدم علیه السلام دکیږ د وخائے | ۱۸۱ |
| ۲۹۷ | د آدم علیه السلام په راکوزولو کښی حکمتونه | ۱۸۲ |
| ۳۰۲ | د جنت د ژوند حقیقت | ۱۸۳ |
| ۳۰۳ | د آخرت د ژوند اجمالی نقشه | ۱۸۴ |
| ۳۰۴ | د عیسیٰ علیه السلام راکوزیدل | ۱۸۵ |
| ۳۰۶ | د مسیح علیه السلام ژوند | ۱۸۶ |
| ۳۲۷ | ختم نبوت او د عیسیٰ نزول | ۱۸۷ |
| ۳۳۲ | د ذوالقرنین دینه متعلق د کفارو د عذاب همیشوالے | ۱۸۸ |
| ۳۳۶ | تتمه | ۱۸۹ |


---



(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## پیش لفظ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَحۡدَهٗ لَا شَرِیۡكَ لَهٗ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنۡ لَّا نَبِیَّ بَعۡدَهٗ

احقر د خلویښتو کالونه هم زیات موده د قرآن کریم په خدمت کښ مصروف پاتے شوے دے. ما د خپل توفیق مطابق د ډیرو اونورو تفاسیرو اونورو هغه کتابونو مطالعه کوله د کومو نه چه د قرآن فهمئ په باره کښے مدد اخستے شو، او کوم معارف چه د الله د جانبه په زړه به ورېدل هغه به تول م په خپل خپل وخت د درس قرآن شریف په شکل کښے پیش کول:-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ:- د احقر دغے درسونو نه قدیم او جدید دواړو طبقوته د امید نه زیاته فائده اورسیده، د دوستانو اصرار دو، چه څه تفسیر اولیکم، لیکن ما دا مناسب او نه ګنړله، چه د تفسیر په ځائے د قرآنی علومو په مختلفو شعبو کتابونو اولیکم چه په مختصر وخت کښ ناظرین هغه اولوستے شي، او د لږ جسامت په وجه مالی توفیقه حضرات هم د هغے نه مستفید شي، لیکن تالیف کښے د دے خیال اوساتلے شو:

(۱) چه د مطالب قرآن په تعین کښے د سلفو طریقه نه وی پریښودے شوے، او د بیان شوو معارفو او حقائقو به شان داوی چه د سلفو تائید کوی نه چه د هغے تحریف:-

(۲) دویمه دا چه دا دور د عقلیت او فلسفیت دے، د دے وجے نه مقاصد شرعیه نقلیه هم د عقل او فلسفے په رنګ کښے بیان شي، چه د مغرب زده طبقے د هدایت سامان هم اوشي:-

(۳) دریمه:- دا چه د مقاصدو په تعبیرا تو کښے وا صطلا حی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعبیرات کوی. او زیات تَرْ دِ هغه تعبیرات استعمال شي چه د جدید مذاق مُطابق وي. احقر ډیر زیات مصرُوف دے، د دے وجے دَ بے ضرورته بسط او تفصیل نه مِ ډډه کړه، او په مطلب خیز اختصار مِ اکتفا کړه، که چرے دَ موجوده دور دَ مصنفینو په طرز مِ کتاب لیکلے نو دَ دے نه خوچنده زیات غټ کتاب جوړیدے شو دَ کتاب ترتیب په دے ډول دے:-

(۱) ضرورة القرآن:- یعنی د نوع انساني دپاره دوحي إلٰهي او دَ قرآن په ضرورت عقلي او فلسفي دلائل:-

(۲) صداقة القرآن، یعنے په دے خبره عقلي دلائل او دَ مستشرقینِ یورپ تردید چه قرآن دالله دجانبه دے، او معجزه دے:-

(۳) تنزیلِ قُرآن او دَ هغه تدوین:- دَ نزولِ قُرآن او جمعِ قرآن تحقیق:-

(۴) محفوظیة القرآن:- د قرآن د محفوظیت دلائل او دَ مستشرقینو دَ شُبهاتو تردید:-

(۵) مُهمّات القرآن:- یعنے دَ قرآن دَا هسې مقاماتو حل دَ هغے حکمتونه او رازونه او دَ شبهاتو إزاله:-

(۶) احکام القرآن: یعنے دَ قرآن فقهي احکام او دَ هغے حکمت او دَ موجوده دور د شُبهاتو جوابونه:-

(۷) تعبیراتُ القرآن:- یعنے د قُرآني تعبیراتو تحقیقي حل په دے غرض چه صحیح مطالبِ قرآني معلومه شي او دَ جدیده خیالوا هلِ قلمو خامیا نے واضحه شي:-

رومبی پنځه بابونه په کتابي شکل کښے شائع کومَه چه دَ هغے نوم به علوم القرآن وي، دُعا کوم چه الله تعالٰی دَ دے خدمت دَ



تکمیل توفیق ما ته راکړي، په خپل دَرګاه کښے د قبول او منظور کړي، او دَ آخرت دَ نجات ذریعه دِ کړي، او محترم الحاج سیّد عبدالرشید شاه مهتمم مدرسه فاروقیه بهاولپور دِ پاره دِ الله جل جلاله: داکتاب دَ سعادت باعث جوړ کړي، او دَ هغه دِ ینی محبت او مجاهدانه کوششونه دِ الله تعالٰی دَ دے کتاب دِ اشاعت سبب جوړ کړي:-

احقر:- شمس الحق افغاني عفا الله عنه:-

# دوحی او د قرآن ضرورت

دانسان د سعادت او شقاوت د اصولو د معلومولو د پاره د انسان عقل یو خو د دے وجے کافی نه دے، چه د عقل معلوماتو بنیاد هغه تجربے او مشاهدات دی په کومو چه د سائنسی اصولو مطابق بوده محنت او ډیر غور او فکر شوے وی، او د سعادت او شقاوت د اصولو بنیاد د عقائدو، اخلاقو او د اعمالو د خصوصیاتو پیژندل دی، او د مشاهداتو او د محسوساتو د دائرے نه دا دنګ بهر دی چه په هغے باندے د تجربے او مشاهدے په ذریعه هیڅ قسم غور نشی کیدے او نه د هغے د پاره څه تجربه کاه شته دے۔

(۲) دویم د دے وجه چه عقل فیصلو کښے د وهم دخل وی، او د دے کبله د دغه فیصلے اکثر غلطے اُشی۔

(۳) دریم د دے وجه چه عقلونه مختلف دی، د صحیح عقل صورتونه ګمراو د فاسد عقل صورتونه په دے امورو کښے زیات دی۔

(۴) څلورم د دے وجه چه د عقل فیصلے عموماً په جذباتو بنا وی، نو ځکه د اکثر غلطے وی هم د غه وجه ده چه د اقوام عالم د عقلونو فیصلے د معرفتِ الٰهی، د نبوت د حقیقت معلومولو، د عملونو د جزا کانو، د امورِ آخرت او د صحیح او غلطو عملونو په باره کښے یو بل سره متضاد دی یو قوم شرک صحیح ګنړی، او بل تثلیث، بل خدا پرستی، او بل مخلوق پرستی، یو قوم د غوا غوښه خوړل ګناه ګنړی، او خوک ئے نه خوړل، خوک خنزیر خوړل ښه ګنړی څوک ئے نه خوړل، د چا د عبادت کولو او د رضائے الٰهی موندلو یوه طریقه ده، او د چا بله، د چا د نبوت تصور یو دے، او د چا بل، څوک د اعمالو جزا او سزا د جنت او دوزخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل کښے مني، څوک ئے د روحانی درد او راحت په شکل کښے او څوک ئے د تناسخ په شکل کښے مني، دا حال په ټولو روحانی امورو کښے دے، د دے نه واضحه شوه چه په مذکوره امورو کښے عقل کافی نه دے، اُس موږ هغه دلائل عقل پیش کوو کوم نه به چه دا معلومیږی چه د دے امورو د پیژندلو د پاره د خالقِ کائنات وحی، د هغه کلام یا په نورو ټکو کښے د قرآن ضرورت دے، او دا دے د پاره چه د انسانی سعادت او شقاوت د اصولو دا سے یقینی فیصله مقرره شی، چه په هغے کښے د شک شبهے هیڅ ګنجائش پاتے نشی، هغه دلائل په دے ډول دی۔

# د قرآن د ضرورت دلیل بقائی

(۱) اُومبے دلیلِ بقائی دے، د هر انسان فطری خواهش دے چه هغه ته دِ دائمی بقا او ژوند حاصل وی، ځکه چه د انسان د ټولو نعمتونو نه زیات ژوند سره دے که چرے ژوند نه وی، نو ټول نعمتونه مثلاً، مال، و جاه، اقتدار، خوړل، اغوستل، او ښځه دا ټول بیکاره دی، د دے فطری جذبے دلیل دا دے چه د هر انسان د ژوند په بقا باندے څوک دُشمن که چرے حمله اُکړی، نو هغه به د ذات او د بقا سره د محبت په وجه د مدافعت کوشش کوی او د ژوند او بقا محفوظ ساتلو د پاره به زور لګوی، دا دنګ که چرے په انسان د د نخ بیماری حمله وکا چه د هغه حیات او بقا ته تږِ خطره پیښه شی نو هغه به دارو درملو غټ مال لګوی، او د ژوند د بقا کوشش کوی د دے نه معلومیږی چه بقا سره د محبت جذبه فطری ده، اُس د دے ختمیدونکی دُنیا او فانی جهان کښے هیڅ یو انسان ته دا فطری مقصد حاصل نه دے نو که چرے د ژوند په یو

دور کښې هم انسان ته د دوامِ حیات او استمرارِ بقا د مقصد حاصل نه وی نو دلته به دا اُ دې یلې شي چه انسان د یو ناممکن څیز فطری خواهش اُ کړو، چه د علم نفسیاتو د مخې صحیح نه دے، ځکه چه ناممکنات فطری خواهش نه شي کیدے، او نه په یو ناممکن مقصد باندې ټول انسانان متفق کیدے شي دا خبره ناممکنه ده چه دوه ټه د ګور کیږي پخه شي په ټولے نړۍ کښې دا سے یو دروغ کس به هم پیښ نه شي چه د هغه خواهش وی چه دوه ټه په دوو کښې پنځه وی، دا خو شو ناممکن عقلی دا، ثالثاً ناممکن عادی هم فطرةً د ټولو انسانانو مطلوب نشی کیدے، د یو انسان په فطرت کښې هم دا نه دی پراته چه هغه د ټول عمر د خوراک څکاک او د ساه اغستو نه بے نیازه شي د دے نه دا معلومه شوه، چه ناممکنِ عقلی او فطری دواړه د ټولو انسانانو فطری مطلوب نشی جوړیدے، نو دوامِ حیات چه د ټولو انسانانو فطری د ټولو انسانانو فطری مطلوب دے، هیچرے ناممکن نه دے بلکه ممکن الحصول دے، اُس دواړه بقا د پاره په دے نړۍ د عالم تغیرات کښې دا سے اشیاء موجود دی چه کچرے د زر خرابیدو نکی او سخا کیدو نکی یل څیز سره اُ لګولے شي نو څه زمانے پورے هغے ته بقا حاصله شي مثلاً یو تازه مهی (کب) باندے، چه مالګه اُ مږ لے شي او اُ وچ کړے شي نو څه مودے پورے خو باقی ساتلے شي، په چین کښې دیومن سری کالبوت د شهدو په ډک بکس کښې په ایښودو څه مودے د پاره باقی ساتلے شي، د مصر په آثارِ قدیمه کښې دا سے منړه پیاموندے شوي دی چه په هغے باندے د لیکلے شوی تاریخ نه دا معلومه شوه چه دا د ښځو ذوکالو نه د یو مسالے (ممی) په ذریعه محفوظ ده، هر کله چه په دے عالمِ تغیر کښې د بقا ز یا تولو دا سے سامان موجود دے



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ابدی اولاً فانی اشیاؤ کښې دا سے مسالہ به نه وی چه د هغے تړون د انسان د روح سره اُ وشي او په دے وجه هغه ته دوامِ بقا او استمرارِ حیات حاصل شي، ابدی او لازوال څیزونه د الله تعالی ذات او د هغه صفات دی، چه انسان سره د هغے په لګیدو انسان ته دوامِ حیات او استمرارِ بقا حاصلیدے شي او دا د ول صفتِ الٰهی صرف د الله کلام او د هغه وحی کیدے شي، په دے وجه الله تعالی خپل کلام په پیغمبرانو علیهم السلام نازل کړو چه انسان ته هغه دائمی حیات او بقا حاصل شي کوم چه د انسان فطری مطلوب دے،

کلامِ الٰهی په دنیا کښې نازل شوے دے، نو دلته د ولے انسان ته همیشه ژوند اُ نه بخښلو؟ دا اعتراض ځکه خو په دے وجه نامعقول دے چه دُنیا ټوله دارِ فناء ده او په دے کښې ټول مؤثرات د فنا هم موجود دی، او همیشه ژوند او بقا د پاره دا سے محفوظ جهان ضرورت دے چه په هغے کښې مؤثرات د فنا هم موجود نه وی،

(۲) دویم په دے وجه چه دد دے دُنیا د تنګئ د کبله د ټولو انسانانو استوګنه دلته ناممکنه وه، د دینه معلومه دا شوه چه د همیشه بقا غوښتے د فطری جذبے د تکمیل د پاره د کلامِ الٰهی او د وحی د بانی ضرورت دے،

بیا اعتراض دا کولے شي چه په آخرت کښې به د کلامِ الٰهی عاملینو ته که وے د جنت په صورت کښې همیشه ژوند حاصل وی، نو د کلامِ الٰهی منکرینو ته به هم د دوزخ په صورت کښې همیشه ژوند حاصل وی نو د دے جواب دا دے چه د دوزخیانو ژوند د مرګ نه هم بدتر دے،

دویم جواب دا دے، چه کلامِ الٰهی ابدی دے نو ځکه د دے اثر هم دائمی ابدی دے چه دا د انسان ژوند ابدی جوړه وی خو که هغه مسلمانو جنت دی او که کفار د دوزخ دی مګر دا ابدی ژوند دوه قسمه دی

ئُو سره د آرام او بلّ سره د تکلیف نو دوام خو په دواړو کښې دے فرق صرف د استعداد او د عمل دے، جنتیانو کلامِ الٰهی سره د ایمان او منلو جذبے لاندے ترون کړلو او دوزخیانو ورسره د کفر او انکار د جذبے لاندې نو فرق صرف د نوعیّت شو اګر چه دوامِ حیات دواړه دی، د دے مثال داسے دے چه نمر شعے سپینوی ډوبي او جامو سره د نمر تعلق یو شان دے مګر ډوبي خرمن پرے تور بېزی او د جامو رنګ پرے سپینېږی نو دا فرق صرف د استعداد دے، هم دغه حال د کفر او ایمان دے لکه څنګه چه قرآن واضح کړے دے :-

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ط ؛ ترجمه :- مونږه قرآن د ټولو کمزورو لرے کولو او د قوت او د رحمت سامان ؛ سورهٔ بنی اسرائیل آیة ؛ پیدا کولو کپاره نازل کړے دے، لیکن د کفارو د معاندانو ظلم په وجه قرآن د هغوی د پاره د نقصان سامان جوړ شی :-

# دلیل قانونی

(۲) دویم دلیل قانونی دے، د انسان په فطرت کښې دوه قوتونه موجود دی

(۱) یو قوت شهویه (نزوعیه) چه هغه د قدرت د اسے عطا ده چه په هغے انسان د خپلو مفادو د پاره جد و جهد کوی :

(۲) دویم قوتِ غضبیه دے چه په هغے انسان د اسے قوتونو مقابله مدافعت کوی چه کوم د مذکور فوائدو په حصول کښې د ده سره مزاحمت کوی د انسانی فوائدو کُلیات، خوړل - څښل، اغوستل، استوګنه او د بلوغ نه پس منکوحه ده د اټول د انسان محبوب جسمانی مقاصد دی، دوه نور معنوی او روحانی مقاصد دی، دین او رُتبه دا ټول اوه د انسان د اسے



(c) ketabton.com: The Digital Library

مقاصد دی چه په دے کښې ورته څه هم مانع، حائل یا مُزاحم راځی نو دے مقابله کوی د ټولو انسانی جنګ جګړو بنیاد هم دا خیزونه دی، فطرت داغواړی چه د دے اُووه مقاصدو د حفاظت د پاره د یو عادلانه د اسے قانون ضرورت دے، چه پرے انصاف قائم شی، او جګړے ختمے شی، اُس دا قانون د د چاوی د خداوند تعالیٰ، که د انسان د داظاهره ده چه د دے قسمه قانون جوړه وُنکی د پاره د خلود و صفاتو ضرورت دی (۱) عِلمِ مُحیط (۲) رحمتِ کامله (۳) قُدرتِ تامّه (۴) غیرجانبدار دی، علمِ محیط خو ځکه ضروری دے، چه د انسانی حقوقو د هر اړخ علم ورلری او د انسانی فوائدو او حقوقو سره تړلی د انسانانو دَوند په ټولو دواړو (دُنیا، قبر، آخرت) باندے د دده نظروی چه دغه عادلانه فیصله د انسانی ژوند په دے ټولو منزلونو کښې درُست وی، او دا هم ضروری ده چه دغه فیصله د د انسان د پاره د نتائجو په لحاظ هم درُست وی خواه هغه نتائج انفرادی وی، او که اجتماعی ظاهری وی، او که باطنی (د ژوند) مثلاً که چرے انسان د سُود د جواز او د زنا یا لواطت یا لترضاد جواز قانون جوړ کړی نو دے کښې خو د څو شمّا شخصی آزادئ لحاظ ساتلے شوے دے، لیکن دے ټولو کښې د پوره معاشرے د اجتماعی ضرور لحاظ نه دے ساتلے شوے د سُود نتیجه په حرص کښې اضافه او د انسانی همدردئ فقدان دے، او زنا او لواطت سره د صحتِ جسمانی او د عملی قوتونو د کمزورئ غوندے، ضرورونه نظرانداز کړے شوی دی، او په دے کښې همدارنګ په قبر او آخرت کښې د عذاب خیال هم نه دے ساتلے شوے :-

د رحمتِ کامله په وجه ضرورت دے، چه د عادلانه قانون جوړولو په موقعه څه قسم غفلت اُونشی، او په قانون کښې عمداً داسے اجزا شامل نکړی چه هغه د انصاف خلاف دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت کامله پیدا ده وجه ضروری دے چه دچا د زور د لاندې انصاف نکړی یا مجرم نه په سزا ورکولو کښې کمزوری ظاهره نکړی غیر جانبداری پیدا ده وجه ضروری ده چه د هم قوم، هم وطن هم رنګ او د هم ژبان څه طرف داری اونکړی او دا رنګ به قانون سازی کښې د د دے قسمه خلقو د خیال ساتلو په غرض بل قسم خلقو ته نقصان ورنکړی. لکه څنګه چه یو د پین خلق داسے کوی:

دا خلور صفتونه چه عادلانه قانون جوړولو د پاره ضروری دی صرف د خداوند تعالی په ذات کښې موجود دی نه د هغه په رنګ د چا علمِ محیط شته او نه د چا رحمت:

اَللّٰهُ اَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنَ الْاُمِّ بِوَلَدِهَا ؛ ترجمه:- د الله پاک رحمت په خپلو بندګانو دومره زیات دے، چه د مور به په خپل اولاد دومره نه وی:

نه د هغه په رنګ د چا قدرت شته چه د چا زور پرے چلیږی، او په قانون جوړولو کښې د هغه رعایت اوکړی یا مجرم نه په سزا ورکولو کښې د چانه اویریږی، صرف د خداوند تعالی ذات غیر جانبدار ګڼلے کیدے شی چه هغه په قوم او وطن کښې د چا سره شریک نه دے چه د هغوی لحاظ اوکړی نه د چا سره په رنګ او ژبه کښې شریک دے، بلکه هغه خو داسے ذات دے چه لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ، او لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ دے، ترجمه:- نه هغه نه څوک پیدا دی او نه هغه د چا پیدا دے، او نه د هغه په شان څوک کیدے شی.

لو د دے وجے د انسان فطری حق، یعنے عادلانه قانون صرف د الله تعالی ذات سره خاص دے؛ ع

سروری زیبا فقط اُس ذات بے ہمتا کو ہے، حکمراں ہے اک وہی باقی بُتانِ آزری

ریاری (حکمرانی) صرف د دے بے مثله ذات حق دے، هم دے یوازے حکمران دے، نور ټول د آذر بتان دی.



اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؛. سورة یوسف ایة ۲۹ ؛ قانون جوړول صرف د الله تعالی جل جلاله حق دے.

د دے قسمه قانونِ خداوندی، وحیِ الٰهی او احکامِ ربانی نوم قرآن دے په دے وجه د قرآن ضرورت د انسان د پاره ثابت شوه. بهرکیف انسانی حقوقو سره ترلی قانونِ خداوندی نه بغیر د یو انسانی قانون حکمرانی به د جاهلیت حکمرانی بللے شی:

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ط وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ سورة مائده ایة ۴۹ ؛ ترجمه، ولے خلق د انسان جاهلانه قانون غواړی؛ په حقیقت بانندے یقین لرونکی قوم د پاره د الله تعالی نه سوا د بل چا قانون د یر ښه دے؟

غیر حق چون ناہی و آمر شود — زورہر ناتوان قاہر شود
زیر گردون قاہری از آمری است — آمری از ماسوی اللہ کافری است (اقبال)

د الله نه بغیر چه څوک قانون ساز شی، په زور ظلم سره په عاجزانو غالب شی، د آسمان لاندے خو غلبه صرف د یو حکمران (الله) ده، د الله تعالی نه بغیر بل حکمران کافر دے:

# د ضرورتِ قرآن دلیل غذائی

(۳) دلیل غذائی - انسان د جسم او روح نه مرکب رجوړ دے او بیا په دے دواړو کښې روح اعلیٰ او اشرف دے او بدن د هغے په نسبت ادنیٰ او خسیس دے هم دا وجه ده چه د جسم نه روح اوځی نو بدن بیکاره شی، د روح دا قسمه برتری دومره واضحه او بدیهی ده چه حیوانات او جمادات هم د دے نه خبردار دی مثلاً یو ژوندے سړے چه روح پکښے وی او خوږ ځے په یو ځائے کښے اوده پروت وی نو هیڅ څیز پرے حمله نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پکښې چینجي کیږي نه کارغان او تپوسان دده غوښه شوکوي نه ځمکه د ده بدن خوري او نه هوا او نمر دے بدبویه کولے شي. لیکن هم د دغه انسان د بدن نه چه څه وخت روح اوځي، نو جمادات او حیوانات ټول په ده حمله کوي باوجود دے چه د مرګ نه وړاندے دے په کائناتو کښے حاکم وو نه چه محکوم.

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ؛ ترجمه: او الله تعالیٰ د ځکے او د آسمانونو ټول څیزونه ستا سو مسخر کړیدي۔ سورۃ الجاثیه، آیة ۱۳

بیا ځمکه هم د غه جسم خوري، نمرئے بدبویه کړي چینجي هم ورته په پوزه او خوله کښے ننوځي او کارغان او تپوسان هم ترے غوښه شرکوي دا ټول څیزونه چه روح د انسان نه مغلوب وو د ده د مرګ نه پس په ده حکم غالب شول چه دوی د الهام الٰهي په ذریعه د دے خبرے نه واقف وی چه په انسان کښے د قوت او غلبے باعث د هغه روح دے دا د روح د برترئ دلیل دے، هر کله چه بدن کمتر او روح برتر دے لهٰذا کمتر د غذا د پاره قدرت انتظام کړے دے، د انسان د خوراک د پاره د غنمو دانه هله جوړیږي، چه د دے ټول جهان وسیع کارخانه په دے محنت اوکړي، مزکه او اوبه بوټے د مزکے نه راوټوکوي. هوا ئے روتازه اوساتي، ستوري د هغې د نشوونما خدمت اوکړي، نمرئے دانے پخے کړي تر دے حده پورے چه د انساني بدن د پرورش د پاره نمر د سمندر نه بخارات اوچت کړي د هغه نه وریځ جوړه شي، او د باران په صورت کښے د اوبو انتظام اوشي، دا ټول انتظام د کمتر انساني جزو (جسم) د غذا د تکمیل د پاره دے د حکمت خداوندي تقاضا ده چه د برتر جزو (روح) د پرورش د پاره ئے قدرت ضرور انتظام کړے دے دا حو کیدے نه شي چه د کمتر جزو (بدن) د پرورش د پاره خو دومره لوئے انتظام وي او د برتر جزو



(روح) د پاره د هیڅ انتظام نه وی د هغے مثال به بیا داسے وی چه په اس سورے یو دښیں د چا میله شي، نو کور به د آس د کیا وغیره مکمل انتظام اوکړي، او د دښیں د خوراک څښاک وغیره هیڅ انتظام اونکړي، نو حکیم مطلق د بدن (سورلئ) نه زیات د روح (دښیں) د غذا انتظام کړے دے ځکه چه د واړه په خپلو خپلو ضرواتو کښ د غذا محتاج دی بدن او روح دواړه په دے عالم تغیر کښے اوسیږي او په خپل فرض پوره کولو کښے د غذا محتاج دی، که د دے نه وي نو ضرور به د دواړو ورته نه رسيږي او په هغه سوړ د لوړ سره د وه پوهیږي د اس وړاندے قابو کولے شي بلکه کید یشی چه د مړ خو د لوسره دواړه ختم به شي زمیني وه، د دے غذا هم زمیني ده خو روح چونکه د آسماني دے او د و تړون د عالم بالا سره دے لهٰذا د ده غذا هم لطیفه او د عالم بالا تیار کړیکار ده او دا غذا وحي رباني، کلام الٰهي یا قرآن دے. په دے کښے د غذا ټول درے ځانګړتیاوې (میلان طبعي، او نشوونما) خصوصیات موجود دي. لکه د بدني غذا د ا خصوصیات په دوه توئي او غوښه کښے په دے توګه موجود دي چه د دے خوراک ته د انسان شوق کیږي کا ترې او بسیم خوراک ته ئي شوق نه کیږي، چه دا دواړه اوړه کړي او وے خوري د غه رنګ په دوه ئي، غوښه کښې د نشوونما صلاحیت شته په کانړي او اوسپنه کښے نشته بلکه د هلاکت خطره ده. قرآن د روح غذا ئے روحاني ځکه دے چه په دے کښے دا دواړه خصوصیات موجود دي. میلان په دے توګه دے چه قرآن ډیر لوئے کتاب دے او بیا په اجنبي ژبه (عربي) کښے هم دے لیکن سره د دے خلق د دے تلاوت ډیر کوي دا یاد وي او حفظ کوي او د دے یا د ساتلو د پاره هر ورځ ئے او تکرار وي تر مرګه پورے کوي، د وخت او محنت دا قرباني د دے خبرے دلیل دے چه په قرآني غذا ئیت کښے روحاني کشش موجود دے ځکه چه دا د روح غذا ده، کیږے غذا ئي

جسماني نه وي نو د جسم مرګ لازمي دے . همدا رنګ رُوحاني غذا چه نه وي نو د رُوح اصلي (حقيقي) مرګ يقيني دے ، غذائے قُرآني نه حياتِ حقيقي پيدا کيدل په دے آيت کښے ذکر دي يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ترجمه : اے مُومنانو تاسو د الله او رسول خبره مَنئ ځکه چه تاسو سورهٔ انفال، رکوع ۳ آيت ۲۴ : هغه (قُرآن) طرف ته بلي کوم کښے چه ستاسو حقيقي ژوند دے .

وَمَا يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ترجمه : اعلان اُوکړئ چه د قُرآني سورهٔ فاطر آيت ۲۲ : غذا نه محرُوم مړه خلق هغې خلقو سره برابر نه دي چا چه د قران غذا او روحاني نه حقيقي ژوند بيا موندلے دے .

## ۴: دليل دوائي

په دے عالم تغيُّر کښے د انسان په بدن او رُوح دواړو تغيُّرات راځي د بدن د پاره د تغيُّر سبب مُخالفه آب وهوا، فاسده غذا، يا نا مناسب فعل او حرکت کول يا څه بله حادثه وي همدا رنګ د رُوح د پاره د مرضونو او تغيُّرات اسباب ګندهٔ، فاسقانه، ملحدانه مُشرکانه ماحول، خراب تعليم، خراب تربيت، خراب قانُون او خراب افعال او حرکات دي، د دے دواړه قسمه بيمارو د پاره مُناسب ډاکټر يا حکيم ته رجوع کيدے شي بدن او د هغې دارُو درمل دواړه مادي څيزونه دي په دے وجه انسان په خپلو تجربو غور او فکر سره د بدن مرضونه معلومه وي او د هغې د صحت د پاره



دواسے دارُو درمل او علاج تجويز هم اُوکړي کوم چه قدرت دلته پيدا کړي دي، او په دے سلسله کښے په خپلو تجربو او کوشش سره دے د پاره قانُون هم جوړ ولے شي، ليکن رُوح انساني، د هغې صفات او امراض بتول د انساني تجربے د دائرے نه بهر دي نه ئے د مرضونو څه تشخيص کولے شي او نه دے د پاره څه دارُو درمل تجويز کولے شي، رُوح بخپله امرِ ربّاني دے، او صرف عالم بالا سره تړلے يو حقيقت دے لهٰذا د دے، علاج به هم د عالم بالا نه کيدے شي، چه په هغه د مرضونو ازاله کيدي زميني علاج (دارُو درمل) پرے اثر نه غورځوي ځکه چه رُوح زميني نه دے، د رُوحاني مرضونو علاج د بدني مرضونو د علاج نه ځکه ډير اَهَم دے چه د بدني مرض په وجه انسان وقتي طور مړ شي، مګر د رُوحاني مرض په وجه د انسان دائمي مرګ او هلاکت واقع کيږي، هم دا وجه ده چه خالق کائنات د بدن د علاج انتظام انساني تجربو ته سپارلے دے ليکن رُوحاني علاج د پاره د انبيآء عليهم السلام په ذريعه ئے بخپله انتظام اُوکړو چه هغه وحي الٰهي او کلام ربّاني بللے شي او د رُوحاني علاج د پاره تجربه او بے خطا نُسخه ده :-

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ (بني اسرائيل ۸۲) ترجمه : مونږ قران نازل کړو چه په هغې کښے د رُوح علاج او د هغې د قوت بخښلو سامان موجُود دے او يقين لرونکو د پاره د الله رحمت دے .

په دے وخت کښے د رُوحاني امراضو ازالے او د دے د فيضانِ صحت د پاره بل څه علاج يا نُسخه په کائنات کښے موجود نه ده ځکه چه د مُهَيْمِنًا عَلَيْهِ . په دنيا کښے د قرآن نسخه د ټولو انبياء عليهم السلام په ټولو رُوحاني نُسخو باندے مشتمله ده، او په دے کښې دابدي رُوحاني صحت بدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُصول موجود دی هم دا وجه ده چه یورپ خود علمونو انبار ونه اُولګول او د هغې په وجه د ترقئ آسمان ته اُختل لیکن دده روحانی شفا نه د محرومیت په وجه د انسانیت نه محروم دی نه په دوی کښې څه نیکي شته نه خُدا ترسي نه انصاف، نه اطمینان قلب او نه امن بلکه دوی د ګنده او بیمار روحونو په وجه دُنیا هر ځای جنګونو جګړې او په دې کښې د فواحشو، منکراتو او د بینوتو یو لوئ سیلاب په جوش دے چه د هغې د ختمیدو هیڅ قسم اُمید نشته. د ټولې دُنیا د تباهئ خطره ده ځکه چه خرابئ هر ځای په دُنیا تیت دی.

## ۵ دلیل نُوری

په دُنیا کښې دوه قسمه څیزونه دی، یو هغه چه په سترګو لیدلے کیدلے شی، لکه د زمکې نه تر آسمانه پورې ټول څیزونه، دویم هغه چه په سترګو لیدلے نه شی، صرف په عقل معلومیږی لکه ایمان، کُفر، طاعت، معصیت د انسانی اعمالو حُسن او قُبح۔ د دواړو قسمه څیزونو دپاره قُدرت دوه نُوره پیدا کړی دی، یو داخلی نُور او بل خارجی نُور، داخلی نُور خو د سترګو نُور دے چه انسان کښې دننه موجُود دے، که د چا سترګې روندې وی او د داخلی نُور نه محرومه وی، نو هغه په ما او پرې کښې فرق نشی کولے

دویم خارجی نُور چه د انسان نه بهر دے، مثلاً، نمر، بجلی، لالټین، دیوه وغیره که چرې دا خارجی نُور نه وی، اګرچه د سترګو بینائی درسته وی بیا هم هغه په توره تیاره کښې د مار او پرې فرق نشی کولے دواړه نُوره داخلی او خارجی چه جمع وی نو هله به علم او پیژندګلو حاصل وی:-

دا رنګ د دویم قسم څیزونو دپاره هم د اندرونی او بیرونی دواړه قسمه رڼا ګانو ضرورت وی، اندرونی رڼا عقل او بیرونی رڼا د آسمان ده



دے دواړو ضرورت ځکه دے چه د ایمان او کُفر، د نیک او بد، د خیر او د شر پیژندګلو اُوشی، هغه بیرونی رڼا د روحانی اُمورو دپاره کلام اِلٰهی دے چه لکه د آسمانی رڼا (نمر) په شان یو بله آسمانی رڼا ده، وَاتَّبِعُوا النُّوْرَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ مَعَهٗۤ او دوی د هغې رڼا تابعداری کوینه ده کومه چه حضورؐ سره نازله شوې ده۔ سورة اعراف آیت ۱۵۷

## ۶: دلیل حبی

انسان د بدن او روح مجموعه ده د بدن په وجه هغه د جسمانی محبوباتو مثلاً د خوراک څښاک او د مکان خواهشمند دے یا د دے محبوباتو حاصلو د ذریعے (مال دولت) خواهشمند دے، د دے څیزونو سره هم د انسان محبت فطری دے، او خالق کائنات سره محبت هم فطری دے هم دا وجه ده چه انسان په خپل ټول تاریخ کښې د محبتِ الٰهی د تقاضا نه خالی نه دے پاتے شوے دا بیله خبره ده چه کله د دے فطری تقاضے صحیح او درست اظهار شوے دے لکه د مومنینو او موحدینو په شان یا غلط اظهار شوے دے، لکه د بُت پرستو او مشرکینو په شان چه هغوی غیر الله د الله تعالیٰ مظهر اُګرځولو او د هغې عبادت ئې اُکړو، د دے دواړو صحیح او غلطو طریقو اصل محرک هم دا فطری جذبه (محبت الٰهی) وی تر دے حده چه د روس او چین خلق چه د خُدائے نه منکر دی د دے جذبے نه مجبُور شول ځکه چه دا ختمولے نشی چنانچه هغوی د دے فطری جذبے د تسکین دپاره د لینن او ماؤزے تنګ مجسمے او تصویرونه ځائے په ځائے نصب کړل چه د هغوی تعظیم د عبادت په صُورت کښې جاری اُساتلے شی، ما په خپل بل یو کتاب، کمیونزم او اسلام کښې د کمیونسټو دا خبره نقل کړے ده چه د خُدائے په ځائے بل یو مصنوعی خُدائے د خلقو دپاره تجویز کول ضروری دی د دپاره چه د دے فطری جذبے تسکین پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُشي، نو دوی دا مقام خپلو مُحِبّانو مشرانو ته ورکړو. بهر صورت مُحبت الٰهي وفطري جذبه ده د دے دپاره ذیو مظهر ضرورت دے چه د خدائ دخوښے اونا خوښے تابعداری اُکړے شي کوم ئے چه خوښوی هغه اُوکړو اوکوم ئے چه ناخوښ وی هغه اُنکړو. لکه څنګه چه د هر محبوب د محبت عامه تقاضا ده. اُس د خدائے د خوښے اونا خوښے معلومول ترهغے نا ممکنه ده چه خدائے پخپله د خپل کلام په ذریعه نه وی خود لی څکه چه دیوانسان خوښی اوناخوښی ترهغے نشی معلومیدے ترڅو چه هغه پخپله د هغے اظهار نه وی کړے لکه څنګه چه یوکوربه د میلمه د خوښے دخوراک انتظام ترهغے نشي کولے ترڅو چه میلمه هغه نه وی نبکاره کړی، دالله ذات خو د دے نه هُم ډیربلند وبالا دے. نوځکه د هغه د محبت تکمیل دپاره دا ضروری ده چه هغه موبز ته اُوښائی چه فلانئ عقیدے، اخلاق اعمال او اقوال د هغه خوښ دی او فلانی ئے ناخوښ او دا هم خود ل بغیر د کلام الٰهي نه نا مُمکن دی د دے دپاره د وحي او کلام الٰهي ضرورت دے چه د هغه دخوښے اونا خوښے علم حاصل شي هغه کلام قرآن دے چه د هغے نه ضروُرت د قُرآن ثابت شو.

## ۷: دلیل اتباعی

په دنیا کښے اتباع او تابعداری موجوده ده، اولاد د والدینو، شاګردان د اُستاذانو، رعیت د حکومت ما تحت عمله د خپلو افسرانو او احسانمند د احسان کوونکو تابعدارا و فرمانبرداروی، دا صورتونه او د دے نه علاوه نور هم د تابعدارئ صُورتونه فطری او معقول دی او د دے په وجه نظام تمدُّن قائم دے ګچرے اولاد د والدینو تابعدار نه وی نو خاندانی ژوند به تباه شي، شاګرد د اُستاذ نافرمانه وی نو نظام تعلیم به ګډوډ شي، رعیت



د حکومت او ما تحت عمله د افسرانو تابعدار نه وی نو د حکومت انتظام به ترس نس شي، که زیرِ احسان د خپل محسن تابعدار نه وی نو دنیا نه به د احسان وجود هم ختم شي، په د دے دُنیا کښے د هر څیز دپاره علت او سبب موجود دی دغه رنګ د دے مذکور تابعدارو او فرمانبردارو د پاره هم د علت او سبب ضرورت دے، چه هغه (۱) احسان او اقتدار دے. په اولاد د والدینو، په شاګرد د اُستاذانو او په زیرِ احسان د محسن احسان د فرمانبردارئ او اطاعت فطری سبب دے، او په رعیت د حکومت په ما تحت عمله د افسرانو اقتدار د فرمانبردارئ فطری سبب دے د دے نه علاوه نور د ده صورتونه د فرمانبردارئ هم شته مثلاً، عاشق د معشوق اطاعت کوی او عوام د اهل علمو مثلاً د امام ابوحنیفه امام بخاری رحمهما الله او یا د اهل معرفت مثلاً د شیخ عبد القادر جیلانی یا د نور دبزرګانو رحمهما الله تعالیٰ تابعداری هم کوی د دے دواړو صورتونو سبب حُسن دے هغه حُسن ظاهری وی لکه د معشوق حُسن د عاشق دپاره یا هغه باطنی او معنوی وی. لکه د علماءِ دین او بزرګانِ دین حُسن د عوامو دپاره لهٰذا د دے ټولو اطاعتونو اسباب او علتونه صرف درے دی

(۱) قُدرت (۲) احسان (۳) حُسن

په انسان کښ چه په د دے درے واړو علت موجود وی نو د هغه اطاعت کولے شي حالانکه دا د انسانی ذاتی خُوبئ نه دی بلکه د الله عطا او بخشش دے هر کله چه خداوند تعالیٰ د دے درے واړو سرچشمه او جامع دے او د ټولو صفتونو د هغه ذاتی او قوی تر دی نو د هغه په دے اطاعت اُنکړیشی فطرت غواړی چه د دا سے ذات اطاعت په څه طریقه وکړے شي؟ هغه په دا وی چه د هغه وحی او کلام د پیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه انسانانو ته را اُرسی چه د دے لاره صحیح طور متعین شی، د دے وحی نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن دے چه همیشه دپاره محفوظ دے، لهذا د نوع انسانی د پاره د قرآن ضرورت ثابت شو

## ۸ : دلیل نفسیاتی

انسان که چرے د خپل نفس او روح په آئینے نظر واچوی نو د کلام الٰهی یا د قرآن ضرورت پخپله د ده زړه دماغ او د ضمیر خاموش آواز دے یو سلیم الفطرت انسان که هغه په صحرائے افریقه کښے وی یا د آزاد قبائلو په غرونو کښے هرکله چه هغه یو بدکار مثلاً زنا یا قتلِ ناحق کوی نو د هغه دماغ او ضمیر د دے جرم کولو نه ضرور متأثر کیږی او هغه په خپل ضمیر کښے د دے، جرم د اثر یو قسم د ډوندوالے تکدر او انقباض محسوسوی سره د دے چه هلته په دے فعل د د کوټ کوټکے هیڅوک نه وی نه څوک حکومت موجود وی نه څوک عدالت یا پولیس او نه په دغه ځائے کښے څه ضابطه او قانون نافذ العمل وی بلکه دا علاقه د هر قانون نه آزاده وی، اُس سوال دا پیداکیږی چه په دے حالت کښے د دغے ډوندوالی، تکدر، انقباض سبب څه دے ؟

کچرے دا اُو ویلے شی، چه ده جرم کړے دے قانون ماتول کړے دے نو دا سزا ځکه غلط دی چه هلته نه قانون شته او نه د سزا ډیره شته بیا د دغے تاثر وجه څه ده ؟ ظاهره ده چه دا د ده د ضمیر هغه خاموش آواز دے کوم نه چه دے دا محسوسوی چه ضرور ده څه قانونات کړیدے کچرے هلته انسانی قانون نشته نو یو حقیقی او الٰهی ضابطه د انسانی اعمالو دپاره ضرور موجود ده چه په دغے جرم د غه ضابطه ما ته شوے ده او هغه حقیقی او الٰهی قانون چه د کوم نه په خلاف کولو ده مجرم په ضمیر کښے دا تأثر پیدا شوے دے هم هغه کلام الٰهی یا په بل تکو کښے



قرآن دے، چه د هغے نه د قرآن ضرورت په نفسیاتی تاثیر ثابت شو

## ۹ : دلیل تخلیقی

عالَم د بعضے الله نه بغیر نور ټول مخلوق د صرف د دوو خیزونو نوم دے انسان او خادمِ انسان، عالَم تخلیقِ الٰهی او فعلِ خداوندی دے نو په دے کښے به ضرور څه حکمت وی، ځکه چه حقیر انسان بلا فائدے یا بلاحکمته هیڅ یو کار نه کوی، نو د هغه خالق به څنګه بے فائدے او بے حکمته یو کار کوی مشهوره ده چه فِعْلُ الْحَكِيمِ لَا يَخْلُوْ عَنِ الْحِكْمَةِ اُس عقل دا ضروری ګڼړی چه د انسان یا د خادمِ انسان په پیدا کولو کښے حکمت شته، د خادمِ انسان حکمت خو دا سے ظاهر دے چه د عرش نه تر فرشه پورے ټول خیزونه د انسان د فائدے، پرورش او خدمت د پاره دی، زمکه معدنیات نباتات، حیوانات، اور، اوبه، هوا، نمر او د هغے ګرمی او رڼا، ستوری او غیره ټول د انسان په خدمت کښے مصروف دی، لکه څنګه چه د قرآن کریم ارشاد دے:-

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط سورة الجاثية آیت۱۳ ؛ ترجمه: او تابع کړی دی ستاسو د پاره هغه څیزونه کوم چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی،

خالق کائنات زمکه او آسمان ستاسو په خدمت او په فائده کښے په دا سے زبردسته جبری ذمه داری لګولی دی، چه په هغے د نګران مقررولو څه ضرورت نشته او نه د انسان په خدمت کښے د سستی یا د غفلت څه ویره شته لهٰذا دا واضحه شوه چه د انسان نه سوا ټول مخلوقات د انسان د خدمت او تربیت د پاره پیدا شوی دی، کچرے په دے کښے یو څیز هم موجود نه وی نو انسان

ژوندے نه شو پاتے کیدے دا هم ثابته شوه چه د دے اشیاؤ د تخلیق مقصد او حکمت دا نسان ژوند قائم ساتل دی اُس ددے ورکو تې انسان د تخلیق حکمت څه دے؟ هرکله چه کارخانهٔ عالَم دا نسان دَپاره پیدا ده نو دا ضروری خبره ده چه انسان دعالَم دپاره نه دے پیدا د هغے دلیل دادے چه دا ټول عالَم که نه وے نو انسان ژوندے نه شو پاتے کیدے لیکن که چرے انسان نه وے نو عالم باقی پاتے کیدے شو، خبره داده چه انسان اشرف المخلوقات دے د هغه د تخلیق مقصد به هم اشرف وی لکه څنګه چه اَس د خرنه اشرف په دے وجه دے چه د هغه مقصد هم د خرنه اعلیٰ دے. خلاصه کلام دا چه جهان انسان دپاره دے او انسان خالق جهان دپاره. هغه به د نائبِ خُدا او د خلیفهٔ خُدا په حیثیت هغه کارکوی چه د هغه د آقائے حقیقی کومه منشاء وی، په دغے منشاء الٰهی به پخپله عامل وی او بل به پرے عامل کوی او دے ته ویلے شی عبدیت او بندګی:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ سورة الذّٰریٰت آیة ۵۶: دپیریانو او بنی آدمو تخلیق دخالق کائنات د عبدیت او بندګئ دپاره دے په دے بندګئ کښے د خداوند تعالیٰ هیڅ فائده نشته او دانسان فائده پکښے داده چه هغه دخپل مقصدِ تخلیق تکمیل اُکړی نو د حیاتِ ابدی دخوشحالونه به فیضیاب شی، اُس مقصدِ تخلیق یا منشاء الٰهی معلومولو د لوه دپاره ضروری ده چه پخپله خالق د هغے وضاحت اُکړی او هغه بغیر د کلام الله او وحی الٰهی نه ناممکن ده نو څکه د کلام الٰهی ضرورت ثابت شو چه هغه قرآن.

## ۱۰: دلیل نرحمی

رحمت او شفقت خُوبی ده، او کمال صفات دی رحمت نه خالی کیدل نقص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے، چه د هغے نه د الله ذات پاک دے ددے وجے قرآن کښے ځائے پځائے د رحمتِ الٰهی ذکر موجود دے په نورو آسمانی کتابونو کښے هُم او د عقل تقاضا هم دغه ده چه په خالق کائنات کښے دِ رحم ضرورې، دا عالِم کائنات یو آئینه ده په دے کښے رحمتِ الٰهی صاف ښکاری، کائنات کښے صرف دوه څیزونه دی

(۱) مرحوم، او مُنعَم، په چا چه رحمت او انعام وی هغه انسان دے

(۲) رحمت او نِعمت، د آسمانونو او د زمکے هغه ټول مخلوق چه د خداوند تعالیٰ دا رحمه دانسان د پاره نعمت او د رحمت سامان دے.

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ۝ سورة ابراهیم آیة ۳۴: که چرے تاسو د الله تعالیٰ نعمتونه شمیرل غواړئ نو نه شئ شمیرے بیشکه انسان بے انصافه او ناشکره دے.

د الله تعالیٰ د رحمت خو دا حال دے، انسانی اعمال نه ټول خراب دی او نه ټول ښه دی، بلکه څه مُضِر او تباه کُن دی او څه مفید او نفع مند دی، د دُنیا ټول قومونه په دے متفق دی چه انصاف ښه دے او ظُلم بد، لیکن اعمال دا لطیف اشیاء دی چه په انسانی غور فکر یا ډیبار تجری د تجربه ګاه کښے د هغے فائده نقصان نه شی معلومیدے دغه اعمال عام دی عقائد وی که اخلاق که عبادات که مُعاملات، که چرے په دے اعمالو کښے د الله تعالیٰ هدایت هُم نه وی او انسان په تباه کُن او زهرآلود عقائدو او اعمالو کښے مبتلا شی، او خالق کائنات صرف تماشه کوے نو دا به دده د شانِ رحمت نه خلاف وے لکه څنګه چه یو انسان ته دا علم وی چه په طعام کښے زهر ګډ دی بل بے خبره انسان ئې خوری او دے پرے غلے پاتے شی، نو دا به بے رحمی وی، دارنګ که چرے یو ړُوند په ګنده یا کوهی کښے خپه اَګدی او وربرېږدی وځی، خو بینا انسان ګوری او پرے چپ پاتے شو نو دا بے رحمی ده، نو د احکم الحاکمین او ارحم الراحمین شان خو بے انتها اُچت دے هغه ګله دا سے کولے

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی چه انسان خود په مُهلک او تباه کُن اعمالو کښې مُبتلا وی او دے د پرې چپ وی، حالانکه انسانان بے خبره دی او دده ذات په هرڅه خبر دار دے نو دده دَ رحمت تقاضا ده چه دَ هغه د جانبه دِ داسے هدایت نامه مجرّدوی چه په هغې کښې دَ نجات دِ هنده او مهلکو عقائدو او اعمالو تشریح او بیلتون مُوجُودی، همدا غه هدایت نامه کلامِ الٰهی یا قُرآن دے چه دد ے انسان ته ضرورت دے۔

# دقرآن صداقت او اِعجاز

دَ قُرآن دَ اِعجاز یا دَ دَ ے دَ مُعجز کیدو مطلب دا دے چه قُرآن کلامِ الٰهی دے آسمانی او ربّانی هدایت دے، دد ے عُلُوم او معارف دَ الله تعالٰے دَ ذات عِلم و عِرفان دَ لا محدُود سرچشمے ابدی قوانین دی دَ یو انسان دمحدُود او ناقص فکر او دِ ماغو نتیجه نه ده او نه دا دَ انسانی افکار و او نظریاتو په شان دَ وهم خیال، جذبات او خواهش نفسانی نه اثرا و تبدیلی قبلوُونکو تصوّرا تو مجموعه ده، دا فطرت او حقیقت دے چه کله نه بدلیږی او نه په هغې کښې د غلطۍ څه گُنجائش شته نه دَ ے په قوانینو کښې د ترمیم او تبدیلۍ ضرورت شته او نه دَ ټولو بشری قومونو دَ حقُوقو سره ترلی دعدل او انصاف دَ لوے لارے نه دا وَرید و احتمال مُمکن دے، چه دَ هغې متعلق دَ قرآن کریم پخپله ترتیب وار دعوے دا رنگ ده:۔

لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ط تَنْزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ۞ دقُران په مطالبو کښے و یا نده ورستو دهیڅ باطل دَ ننوتو هیڅ گنجائش نشته سورهٔ حٰمٓ السّجده آیة ۴۲:۔ دَا دهغه ذات نازل کرده کتاب دے چه دَ حکمت او دانایۍ سرچشمه ده او په ټولو صفاتِ کامله دَ موصوف دَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ط سورهٔ انعام آیه ۱۱۵:۔ په قرآن کښې دهیڅ ترمیم او تبدیلۍ گنجائش



وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّ:- قرآن هدایات په رښتیني او عَدْلًا ط سورهٔ انعام آیة ۱۱۵ :- انسانی عدل کښې پوره او مُکمل دی اُس یو اڅ دا خبره پاتے شوه چه ایا دا رِشتیا دَ الله تعالٰی کتاب دے یا دَ انسان ذهن دَ خواری نتیجه ده۔ کچرے اوله خبره صحیح وی نو بیا به هر یو غیر الٰهی طاقت دد ے په وړاندے عاجزوی او دے کښې به هیڅ شک پاتے نه شی ..... چه دا کلام الٰهی ... دے او کچرے دویمه خبره صحیح شی نو بیا به په دے کښے ضرور شک وی چه دا کلامِ الٰهی دے او که نه؟ مُونږ به وړاندے دا ثابتوو چه قرآن مُعجزه ده او ټول انسانی طاقتونه دد ے ټول څه چه دَ یو وړوکی جز (حصے) جوړولو نه هم پاتے دی، هم دا وجه ده چه دا کلامِ الٰهی او مُعجز دے او دا لکه د نورو پیغمبرانو علیهم السّلام دَ معجزو په شان دَ یو وخت دپاره مُعجزه نه ده بلکه تَل دَ پاره ده چه دد ے جواب دد ے مُنکرین تر قیامته هم نشی ورکولے او دَ یورپ عیسائی جارج سیل دَ دے خبرے نه پوره دِ شیني کیدے شی لکه چه هغه لیکی چه دَ یو انسان قلم دَ قرآن په شان مُعجز کتاب هیچرے نشی لیکلے بلکه دا معجزه دَ مړو ژوندی کولو نه هم لویه معجزه ده "(تاریخ اسلام جلد ص ۳۲۷ از عبدالقیوم ندوی) د ټولو نه اول مُونږ دَ قرآن دَ اِعجاز او مُعجزے کیدو تشریح کوُو چه په دے خبره پوهیدل آسان شی؛

# دَ مُعجزے او اِعجاز تشریح

په دُنیا کښے څو مره څیزونه چه ظاهریږی دَ هغې ټول دریے قسمه دی

(۱) عادیات (۲) عجائبات (۳) مُعجزات

# عادیات

عادیات هغه څیزونه دی دکوم چه تړون هغه مادی اسبابو سره وی او چه عام خلق ئے پیژنی لکه د غنمو کرلو نه غنم را ټوکیدل او دهغه وکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو نه د فجورے اُونه را پُورکیدل، د دارُو په استعمال مرض لرے کیدل، د وږو خوراک سره لوږه او د وږو خښلو سره تنده ماتیدل د تجارت نه گټه مُوندل او په سامان جنګ سره بریے مُوندل دا اُمور عادیه دی او د عام رواج مطابق دے نه ذکر شوی نتیجے حاصلیږی

## عجائبات

عجائبات هغه چیزونه دی چه د مادی اسبابو په نتیجه کښے پیدا کیږی، مګر د مخصوصو او ماهرینو نه بغیر عام خلقو ته د دغے اسبابو او د هغے د پیدا شوو نتیجو هیڅ علم نه وی، مثلاً سائنسی نوی مصنوعات د مشین په زور اوږدکا دے ز فلول الوتکه الوځول، سمندری جهاز چلول، ریډیو سټیشنونو نه آوازونه او تقریرونه خورول، میزائل، اټم بم او هائیډروجن بم جوړول دا ټول په عجائباتو کښے داخل دی، دارنګ سِحری عملیات د مادی اسبابو او د مهارت پیدا وار دی، لیکن د دے مخصوصو خلقو نه بغیر عام خلقو ته د اسباب او په دے اسبابو د اثره نتیجے معلومه نه وی نو ځکه ورته دا چیزونه عجیبه معلومیږی، بیا په عادیاتو او عجائباتو کښے یو خاصیّت مُشترک دے:-

## مشترک خاصیّت

د دے دواړو قسمو په ډول نور خلق هم جوړولے شی فرق صرف دومره دے چه په عادیاتو کښے د مهارتِ فن ضرورت نه وی، ځوک هُم چه غنم اُکری، نو غنم ریبلے شی، لیکن عجائباتو کښے د مهارتِ فن ضرورت وی صرف یو ماهر انسان د هغے ایجاد اُکړی او نور په نزدګُو نور ماهران ئے بیا جوړوی، لکه ځنګه چه امریکے ایټم بم او هائیډروجن بم جوړ کړو بیا چین د دے په جوړولو، دینه ثابته شوه چه عجائبات هُم داسے چیزونه نه دی چه بل یو ماهر انسان ئے نه شی کولے نو ځکه دے



عجائباتو ته معجزه نشی ویلے:-

## معجزات

مُعجزات هغه دی چه بیخو په هیڅ قسمه عامو عادیاتو خاصو عجائباتو مادی اسبابو باندے اثر نه وی بلکه د هغے وجود د خالق کائنات په مخفی قوّت او مشیت اثر وی او دا بغیر د نبی علیه السلام نه بل هیڅوک نشی حاصلولے مثلاً الوتکه هم الوځی، او د سلیمان علیه السلام تخت هم الوتلو لیکن اول معجزه نه ده او دویمه معجزه ده الوتکه هر انسان جوړولے او الوځولے شی لیکن د سلیمان علیه السلام تخت صرف په مشیت الٰهی الوتلو چه دا ټول نه خوچاوړاندے اُکړے شو نه اُس څوک کولے شی او نه به آئنده څوک اُکړے شی:-

## قرآنی معجزه بلاغی دلیل

په دنیا کښے دوه قسمه مصنوعات دی یو الٰهی مصنوعات لکه نمر سپوږمۍ وغیره او بل انسانی مصنوعات مثلاً موټر سائیکل وغیره اُس موږ چه غور اُکړو نو ښکاره غټ فرق دا دے چه الٰهی مصنوعات د انسانی طاقت نه بهر دی، او انسانی مصنوعات داسے نه دی بلکه بل یو ماهر انسان ئے هم جوړولے شی، مصنوعاتِ الٰهی نه خو بل انسان جوړولے شی نه دے د باره په دُنیا کښن کارخانے شته او نه خو په بازار کښے خرڅیږی هُم دغه حال د کتابونو هم دے د انسان جوړ شوی کتابونه داسے نه دی چه د هغے په شان یا د هغے نه ښه بل څوک نشی جوړولے مګر د قرآن متعلق دا دعوه ده چه دا د خالقِ کائنات د عِلم او قدرت نتیجه ده د دنیا ټول انسانان په جمع د دے په شان څه چه لږ د دے دیوه وړوکی سورت الکوثر چه یو کرښے نه نهٔ یات نه دے، په شان هم نشی جوړولے دلته هیڅ شک باقے نه شو چه دا د الله تعالیٰ کلام دے، لکه ځنګه چه هم په دے معیار قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم پخپله دَ خپل اِعجاز او دَ کلامِ الٰهی کیدو په باره کښے دَ عربو فصحاؤ او بُلغاؤ ته دَ مقابلے دعوت ورکړے دے، فرمائی:

وَاِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰی : کچرے ستاسو په قُرآن کښے دا شبه عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ : وی چه دا کلامِ الٰهی گوندی نه دے نو وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ : تاسو ټول یو ځائے شئ خپل ټول اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝ سورۃ : امداديان هم را اُ بلئ او دَ دے دیو البقره آیة ۲۳، وړوکی سورت خو ندے یو بل سورت جوړ کړئ، کچرے تاسو پخپله دعوٰی کښے رښتینی یئ،

او دائے هم ورسره اُ فرمائیل:

وَلَنْ تَفْعَلُوْا، سورۃ البقره، آیة ۲۴ ریعنے تاسو دا یے کچرے نشی کولے په دویم ایت کښے دے نه هم زیات مضبوط ټکو کښ فرمائی:-

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓی : کچرے ټول انسانان او جِنّات دے اَنْ یَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا یَاْتُوْنَ : دَ باره جمع شی چه دَ قُرآن مِثل بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ : جوړ کړئ او راوړی، نو نشی راوړے ظَهِیْرًا ۝ سورۃ بنی اسرائیل ایة ۸۸ : اگر چه دا ټول په دے کښے دَ یو بل ملا تړ اُ کړی:-

په دے ایت کښے دا سے یو قوم ته خطاب دے دکوم چه پخپل ادبی قابلیت او په فصاحت او بلاغت باندے ناز وُو هغوی دَ قُرآن دُ شمنان وو او اوّل مقصد دهغوی قرآنی دعوٰی غلطول او ماتول وو او دا اعلان دحضور علیه السلام په خُوله مبارکه اُ کړے شو کوم چه اُمّی وو نه ئے شعر و شاعری زده کړے وه او نه ئے فصاحت بلاغت کښے څه تجربه او مشق لرلو بلکه دَ دوی دا خلوبښت کاله عُمر دا سے تیر شوے وو چه د دغه ژبان په ماهرینو کښے دَده هیڅ شهرت نه وو په دا سے حالت کښے د داعلان دَ هغوی تاؤ نه



هم زیات کړو کچرے کیدے شوے نو هغوی به په ډیره آسانه قُرآن او صاحبِ قُرآن ته په دے سخته ماتے ورکړے وَه چه کَم باکم یو کړښنه عبارت خو به ئے دَ قُرآن پشان جوړ کړے وے، ځکه چه دَ قُرآن پخپله هم دا قرار دے کچرے دا سے اُ شو نو قُرآن بیا کلام اِلٰهی نه دے او صاحبِ قُرآن به دَ خُدائے رسول نه وے لیکن هغوی په خپل ادبی ذوق او دَ فطرت سلیمه په بنیاد د قُرآن مثل جوړول ناممکن اُ گنړل او دومره آسانے لارے پریخائے د قُرآن دَ مقابلے دَ باره دجنگونو ډیره گرانه او طویل ترینه طریقه اختیار کړه چه په هغه کښے ئے مالُونه او ځانونه تباه کړل اوځه خو پکښے دخپل ملک او وطن نه هم لاس اُ وینځلو سره دَ دے چه په دے کښے هم ور ته کامیابی نصیب نه شوه، دَ توُرے او خونریزئ دَ مالی جانی قربانئ ورکول او دَ ژبے او دَ قلم خوزولو آسانه طریقه پریښودل دَ دے دلیل دے چه دوی سره دَ قُرآن د دے چیلنج هیڅ جواب نه وو حالانکه دا هغه خلق وو چه دَ دوی دَ فصاحت او بلاغت جواب به تر قیامته اُ نکړے شی دا خود قُرآن دَ اِعجاز بلاغی دلیل دے چه ډیر صفا او آسان دے لیکن دَ یُورپ وغیره مستشرقینو دَ اسلام دَ مقابلے دپاره صرف دغه تحوالانو او معاوضو هضمولو په غرض بیا هم څو گمه ورو بے بنیاده اعتراضات کړی دی هغه به مونږ په وار وار نقل کوؤ او جواب به ئے ورکوؤ:-

## اوله شُبه

اوله شبه اهل استشراق دا کړیده چه کیدے شی دَ عرب فُصحاؤ په دے وجه بل قُرآن نه جوړولو چه دا ئے ضروری نه گنړله نه دا چه دَ بل قُرآن جوړولو نه عاجز وُو لکه چه یو انسان بنو یا رک ته خوتلے شی لیکن دغلته دَ تللو ضرورت نه گنړی. ددے جواب دا دے چه بیشک دَ نیو یارک سفر دَ پاره یوائے قُدرت کافی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے بلکه د تللو باعث هم ضروری دے، نو کچرے د قرآن په مثل راوړلو باندے د عربو بُلغاء قادر روَے، نو د دے نه بله ځیا ته کومه موقعه کیدے شوه ځکه چه قرآن ته شکست ورکولو د پاره د دوی او د قرآن منونکو په مینځ کښے مقابله په دے وجه جاری وه چه قرآن د دوی د پلار ګنیٔ دین باطل کولو، نو د مقابلے ضرورت دے د پاره وُو چه خپل پلار دَګنیٔ دین به ئے هم بچ کرے وے او د قرآن مثال پیش کولو سره به ئے په دے مذهبی مقابله کښے خپل حریف یعنی مسلمانانو و صاحبِ قرآن ته ماتے ورکړے وَه، د قرآن په مقابله کښے دوی ته خپله بریالی دومره عزیزه او ضروری وه چه د هغے د پاره دوی بے کچه مالی او جانی قربانئ ورکولے چه په هغے جنګ بدر، اُحد، خندق او حُنین واقعات او په قرآن منونکو باندے په مکه معظمه کښے د دوی هغه ظالمانه کارنامے ګواهانے دی، هغوی په دے سه پوه وُو چه قرآن ته په ماتے ورکولو به د هغوی دین بریالے شی او د هغوی د فصاحت بلاغت بے مثلی به هم اُخطے شی او د دے مذهبی جنګ بو فریق (مسلمانان) به هم خوار او زار شی اُس د لته دا شبه دا سے عبث ده لکه ځنګ چه په صحرا کښ د تندے نه مَر سری په پاره کښے اوبلے شی چه دے خوبږے وو یه اُوبو ښبنلو ئے قدرت هم وو لیکن دا اوبو ښبنلو ضرورت ورته نۀوو (آفرین په فکرِ غلام جان) د دے نه علاوه حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله تعالیٰ د آریه سماج بانی پنډت دیانند ته د مناظرے چیلنج ورکولو نه پس هرکله چه هغه ته ورغلو، نو هغه نه د حضرت مولٰنا علمی مقام په رڼو مېو منا ظرو کښے بنکاره شوے وو نو چوټ انکار ئے او کړو او ئے ویل چه ما اراده د مناظرے نه ده کړے نو حضرت مولانا اُفرمایل چه اراده خو د اختیار شے دے که اول دِ نه وه کړے اُس ئے اُوکړه به دے خبره هغه خاموش شو دا حال د دے شبے هم دے، مونږ وایو کچرے



مشرکین مکه د نظیرِ قرآن پیش کولو اراده نه وه کرے، نو د عراق مصر شام لُبنان او د بیروت هغه ګنړ شمیره عیسایان دِ اُس د قرآن د نظیر پیش کولو اراده اُکړی، ځکه چه د هغوی مورنئ ژبه عربی ده او په دے ژبه کښے دوی ګنړ شمیره کتابونه لیکلی دی او په ډیرو جلدونو کښے ئے عربی لُغتونه جوړکړی دی، د عربی ژبے لوئے لوئے شاعران هم دی عیسائی، غټ غټ حکومتونه او قومونه کروړونه روپئ هرکال د قرآن او د اسلام په خلاف خرڅ کوی، که د قرآن نظیر پیش کول آسان وے نو د دے دومره ګرانے مقابلو او منصوبو په ځائے به ئی دا کړی وو لیکن ممکنه ده چه عیسائی قومونه خو سپوږمئ ته اُرسی مګر دا هیچرے نشی کیدے چه دوی د قرآن ما تَوَنے پیش کړی:

## دویمه شُبه

اهل استشراق دا دویمه شُبه کړے ده چه کیدے شی د عربو فُصحاوُ سره هغه اسباب موجود نه وو کوم چه د قرآن جوړولو د پاره ضروری وُو، دا شُبه هم ځکه بے ځایه ده چه د یو څیز جوړولو د پاره ضروری اسباب صرف څلور څیزونه دی (۱) قدرت یا مهارت (۲) ماده یعنی هغه مساله کومه نه چه دا جوړیږی (۳) باعث او محرک، یعنی داسے مقصد چه د دے په جوړولو آماده کوی (۴) نمُونه د هغه څیز چه کوم جوړوَل غواړی مثلاً د میز جوړولو د پاره اوّل دا ضروری ده چه جوړونکے دِ ترکاڼ او لوهار وی د دے قدرت او مهارت دِ لری، یو عام سړے ئے نشی جوړ ولے،

دُویم:- دا چه لرګے دِ موجود دی، ځکه چه بغیر لرګی میز نشی جوړیدے

(۳) دریم:- څیز هغه باعث دے چه په کوم د میز جوړولو مقصد حاصلیږی مثلاً د میز قیمت حاصلول یا پخپله د هغے د استعمالولو ضرورت:-

(۴) څلورم:- څیز د میز نمونه ده:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



زا خو ظاهره ده چه د عرب فصحاؤ سره دا خلور واړه اسباب موجود وو (۱) اول قدرت او مهارت د دوی خود ډیره وه چه د نظم او نثر دواړو صورتونو (۲) کښے د دوی جواب نه وو که د دوی هم دغه مشغله وه، ماده د قرآن هغه اته ویشت حرفونه دی، چه هغه هم موجود وو او د دوی ټول کلام د دے نه جوړ وو. (۳) د بل قرآن جوړولو باعث او محرک هم د دوی سره موجود وو ځکه د قرآن مقابلے د پاره هغوی سره وته په تله کښے اینی وو، چه د دوی لوړ دین محفوظ شی.

(۴) خلورم دا چه نمونه د قرآن هم موجود وه نبی علیه السلام ورته بار بار قرآن اوړولو، بلکه د دا سے قرآن جوړولو د پاره ئے ورته چیلنج ورکړے وو، نو ځکه دا شبه هم بے ځایه ده.

## دریمه شبه

دریمه شبه دا ده چه کیدے شی، فصحاؤ د عرب د قرآن ما ثون جوړ کړے وی خو مونږ ته نه دی دا رسیدلے، دا هم صرف د ما شومانو خبرے دی، ځکه چه د دغه وخت کښے سیوا د خو کسانو نور ده ټوله دنیا د قرآن خلاف وه او اوس هم د قرآن منونکو په نسبت د قرآن د مخالفینو شمیر په دنیا کښ ډیر زیات دے هر کله چه د دغه وخت هغه لږ مومنانو قرآن تر موجوده د مومنانو اورسولو نو ډیرو مخالفینو د دغه وخت موجوده وخت ته ډیرو مخالفینو ته ولے را نه رسولو؟ دا د دے خبرے دلیل دے چه دا سے هیڅ نه وو شوی ځکه خو بنکاره قدرے هم نه شوه.

## خلورمه شبه

خلورمه شبه دا سے ده چه یو سائنس دان یو نوے خیز ایجاد کړی بل سائنسدان دا سے نشو کولے دا د دے خبرے دلیل نشی کیدے چه د قرآن په مثل بل نه جوړیدل د دے معجزه ده، د دے جواب دا دے چه نو مصنوعات کښې خیزونه دی چه



چه یو ماهر ئے جوړ کړی بل ئے خواه مخواه جوړه ولے شی او قرآن کښې نه دے ځکه خو تر اوسه چا جوړ نکړے شو.

## پنځمه شبه

پنځمه شبه دا ده چه د قرآن او سحر یو مثال دے سحر هم بغیر د ساحر نه بل څوک نشی کولے نو ځکه دا د خالق کائنات فعل او معجزه نشی گنړلے، د دے جواب دا دے چه سحر او معجزه کښے د زمکے آسمان فرق دے سحر کسبی او د اسبابو لاندے دے اگر چه دا اسباب بنکاره نه دی که بل څوک هم دغسے اسباب استعمال کړی نو هغه هم د سحر عمل کولے شی لکه چه په هره زمانه کښے ډیر ساحران موجود وی د موسیٰ علیه السلام د همسا کار کسبی نه دے نو سمدستی د دے اقرار یان شول چه دا معجزه ده.

## شپږمه شبه

شپږمه شبه دا ده چه اهل استشراق وائی چه د پیغمبر علیه السلام فصاحت او بلاغت بے مثله وو ځکه بل چا د دے مقابله نشوه کړے خو نوی هسے خو قرآن د محمد صلی الله علیه وسلم کلام دے د دے جواب دا دے چه عربو پخپله ولے دا شبه پیش نکړه چه هغوی د قرآن اولنی بد ترین دښمنان وو د هغوی نه اهل استشراق زیات خبردار دی، بلکه دا تیر شوی ټول شبهات هر کله چه پخپله فصیحانو د عرب پیش نکړے نو معلومه شوه چه ټولے غلط او بے ځایه دی.

دویمه وجه دا ده چه که چرے قرآن د رسول الله صلے علیه وسلم کلام وے نو د هغه په احادیثو مبارکو او قرآن کښے به بیا هیڅ فرق نه وو، ځکه چه هغه د نبی او شان په احادیثو کښ قطعاً نشته کوم چه په قرآن کښے موجود دے دلته مستشرقین بل عذر پیش کوی چه د نبی علیه السلام کلام دوه قسمه وو یو نوری بے تیاری چه معمولی به وو بل د تیاری او غور و فکر والا چه هغه به بے مثله وو، نو دا عذر هم ځکه غلط دے چه ډیر کرته یو سائل تپوس کړیدے

ظاهري ډول نه هم کار کیدے شي، او معجزه غیر اغلبه نه ده." "ډاکټر واډ د "سسټم آف لاجک" کښے لیکي چه د بیابان په زړو کوتو کښے کچرے د پنځه ویشتو کنجیانے ملاؤ شي نو دا ضروري نه ده چه د نهو سوو پنځه اویا ډوو کنجیانے دِ هم د غسے وي، مطلب دا دے چه علتونه او اسباب چا بیانے دي چه انساني عقل معلومه کړي دي او کوم اسباب چه نامعلوم دي هغه نسبتًا ډیر زیات وي، لهذا د هرے واقعے حل د دغے معلومه علتونو په کنجیانو پرانستل صحیح نه وي، "پروفیسر هکسلے لیکي، چه مونږه د فطرت حد بندي نه شو کولے، د دے مطلب دا دے چه مونږ په فطرت دا پابندي نه شو لګولے چه د کوم قانون د لاندے هغه ذات کار کړے دے نو د هغے نه بغیر ئے نه شو کولے." د انګلستان ولیم جیونس لیکي چه "په کارخانۂ فطرت کښے خُداوندي مُداخلت نه مونږ باطل نه شو ثابتولے د کائناتو خالق کمول او زیاتول هم کولے شي،" دا سے رائے د مغرب د ډیرو فلسفیانو ده او ځکه به تر ډیره دا رائے ځکه صحیح کیدے شي، چه د قانونِ تعلیل بِنا په ناقص لټون ده چه هغے نه یقیني علم نشي حاصلیدے، او د ټولو سائنسدانانو منلے شوے قانون دے چه تجربه او لټون چه پوره محیط نه وي نو هغے نه یقیني علم نه شي حاصلے دے، مثلًا خو مونږ په تجربه کښ چه څومره اور د ونه راغلي دي نو هغه سوزول کوي خو بیا هم آیا مونږه د ټولو اورونو تجربه کړے ده او د هغے اور هم مونږ تجربه کړیده څه چه کوم کښ حضرت ابراهیم علیه السلام غورزولے شوے وو، کچرے نه مو ده کړے نو دا ناقص لټون شو چه د هغے نه د آتش ابراهیمي فیصله نشي کیدے د دینه علاوه هر علت چه کوم یو معلول پیدا کوي نو د خپل هومره طاقت په ذریعه ئے پیدا کوي چه"


(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ده کښے موجود وي خو دا قوت د خالق کائنات بخشش او ورکړه ده چه هغه ئے اغستے هم شي چه ئے واخلي نو دده هغه صلاحیت ختم شو او په دا سے علت باندے بیا معلول هیچرے نه شي مرتّب کیدے، هم دغه رنګ کچرے یو معلول بغیر د علت نه موجود شو مثلًا په عصائے موسیٰ علیه السلام سره د سمندر بیلیدل دا هم د خالق فطرت کار دے چه په همساکښ ئے د بیلولو طاقت کیښودو کوم ذات چه به دے کښے ورا ننے دا طاقت نه وُو اینبودے نو دے وخت دا معلول با علت شو نه چه معلول بے علته، دا خو مونږ د فلسفے مطابق لیکل اُوکړه، ورنه اصل جواب خو دا دے چه د علت معلول خبره بالکل غلط ده خالق فطرت چه څنګه اُغواړي هم هغسے کولے شي، کله د علت معلول مطابق کار اُ شي نو تاثیر او طاقت اینبودونکے هم دغه ذات دے، او کله بغیر دے نه چه اُ شي هغه صرف په ارادۂ الٰهی کیږي اصل خیز ارادۂ الٰهی ده، معجزات هم ارادۂ الٰهی سره څنګه تعلق لري چه دا صرف افعال الٰهیّه دي او د خدائے او د انسان مینځ کښے فرق دے، چه انسان یوازے د عمل اراده نه کوي بلکه ارا دے سره هغه اسباب هم استعمال لوي مثلًا یو انسان په اُوبو یا ډوډۍ مړیدل غواړي نو دا به یوازے په اراده نه بلکه دے سره به هغه ډوډۍ خوري او اُوبه به څښي نو هله به مړیږي خو خالق فطرت دا سے نه دے د هغه اسبابو نه ضرورت نشته بلکه د هغه ټول کار د نه صرف د هغه دارا دے تابع دي.

إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ. سوره یٰسٓ رکوع ۵ آیة ۸۲

کښے هم دے مضمون ته اشاره ده، آیا آسمانونو او زمکه جوړولو کښ صرف ارادۂ الٰهی کافی نه وه د مزدورانو څه ضرورت هم پیښ شوے وو؟ هیچرے نه دغه معامله د معجزاتو ده چه هغه د عادی اسبابو نه بغیر صرف په ارادۂ الٰهی سره وجود ته راغلے دي،

## آتمه شُبه

اهلِ استشراق وائی چه که چرے قرآن معجزه وی، نو دا به وحیِ الٰهی وی دا مخبله او دد ے په ذریعه دَ عُلوموالقاءِ دعقل نه بهر ده، دد ے ډُو مے جواب خو دا دے چه مخبله په بائیبل کښے دانبیاء علیهم السلام وکړ وحی ذکر موجُود دے نو وحی او نبوت دا دواړه دا سے اُمور دی چه اهل کتاب (یهود او نصاریٰ دواړه ے) منی صِرف دَ پیغمبرِ اسلام دپاره د منلی شوی حقیقت نه انکار محض ضد او عِناد دے۔

دوئیم جواب دا دے، چه دَ الله تعالٰے دجانبه دَ پیغمبر په زړه بانده دَ الفاظو یا دَ معانی القاء بالکل معقُوله خبره ده چه د دے اثابت دَ مسمزیزم دَ عمَل نه کیږی کُوم چه یو ګُو حانی عمل دے، صاحب دمناهل العرفان په علوم القرآن کښے لیکلی دی، چه عیسائی مبلغین رکوموته چه مبشرین هم وئیلے شی، مصر ته راغلی او په لوځوان بانده دَ تنویم مقناطیسی عمل اُ کړو، د هغه نه ئی اول دَ خپل نُوم تپوس اُ کړو هغه ورته خپل اصلی نُوم اُ ښودو بیا دغه عامل هغه معمُول ځوان ته توجُّه اُ کړه او وے وئیل چه دا نُوم ستا نه دے بلکه ستا بل نوم دے په دے عمل ئے ګ هغه د ذهن نه اصلی خپل نُوم لرے کړو او بل فرضی نوم ئی د هغه په ذهن ورا ُ تپلو او دَ دے عمل په ذریعه نورے خبرے هم دَ ده په ذهن کښے واچولے نتیجه دا شوه چه دَ هغه ځوان په ذهن کښے دغه الفاظ او علوم دا سے کلک پریو تل چه دعمل اثر ختمید و نه پس هم به کټ پاتے شول دیته معلومه شوه چه انسان په یو تحقیقی طریقه دَ بل انسان ذهن ته الفاظ وا اَ روے شی نو آیا خدائے پاک دیو منتخب رسول ذهن ته دَ وحی الفاظ او قُرآن نه شی وا اَ روے؟

دریم جواب دا دے چه تیپ ریکارډر دا حقیقت لور هم دیرآسان دا سے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو چه انسانی الفاظ یو بے رُوحه ټیپ ریکارډر ته دا سے اَړولے او پکښے ئے محفوظ کولے شی نو آیا خُدائے پاک دا انسان نه هم عاجز دے چه یو بے روحو آلے ته هم نه بلکه دَیو منتخب نبی درح ته وا اَړ وی او په هغه کښے محفُوظ کړی؟

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰىٓ : سورة ؛ مونږ به ستا په ذهن کښے دَوحی الفاظ اعلیٰ آیة ۶ واچوُو چه هغه به ته نه هیرَ وے۔

اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ؛ ستا په ذهن کښے دَ وحی الفاظ جمع کول بیا سورة قیامة آیة ۱۷ ؛ په نا بانده ی لوګول ځمونږ ذمه واری ده

## نهمه شُبه

اهل استشراق وائی چه دَ قرآن مضامین په ترتیب نه دی، نو ځکه دا اعجاز نه شی کیدے، دد ے ډُومبے جواب دا دے، لکه څنګه چه شاه ولی الله رحمه الله بیان کړے دے، چه قُرآن د نورو مصنفینو په طرز نه دے بلکه دَ قدیم عربو د دستور په طریقه دے لکه چه د سبعه معلّقات" په یو قصیده کښے کښی مضامین بیانیږی کله پکښی د محبت اظهار، کله د باران تعریف او کله دَ آس د تیزتګ بیان اکیا، قُرآن یو شاهی مکتوب دے په کوم کښے چه یو کودنوته دَ بیرو خیزونو دَ انتظام حکم ورکوی چه په هغه کښے ترتیب لټول څه عقلمندی نه ده۔

دوئیم جواب دا دے چه د مصنفینو په توګه ټول مضامین په بیل بیل باب کښ نه موټ کول څه نقص نه دے بلکه دا یو بیل قسم اعجاز دے چه هر کله دا کتاب دیخه د خدائی نو کتاب څه د انسان جوړ کړے نه دے نو دد ے شان به ترتیب کښ هم د نورو مصنفینو نه بیل دے کچرے دا انسانی کتاب وے، نو په دے کښے به خا مخا انسانی ترتیب پیښے شوے وے

دریم جواب دا دے لکه څنګه چه امام رازی رح په تفسیر کبیر کښے لیکلی دی چه قرآن مخبله معجزه ده چه دَ هغے ژور ترتیب هم یو بوره معجزه ده

اودَ ترتیب دا قسم اعجاز ئے دَټول قرآن لاندې ما بیان کړیدے، نور د مفسرینو په شان هم دغه کړے دی لکه "بیان القرآن" "سبق الغایات فی نسق الآیات"، کښے دَ ترتیب قرآن چه بیان شوے دے او اهل استشراق به ستړی او پښتی لګولې دی او دا نه ګوری، احقر په دے ټول دقرآن داخری منزل تفسیر په عربی کښے جمع کړے دے چه د ټولو نګران دے او تراوسه چاپ شوے نه دے :-

(۳) ځلورم جواب دا دے، چه په قرآن کښے بے ترتیبی چه چا ته ښکاره دا دهغه دَ نظر قصور دے، ځکه چه دقرآن مقصد یواځے تعلیم نه دے، بلکه تعمیل (عمل کول) هم دی چه انسانی ضمیر د عمل کولو دپاره تیار شی چه دَ هغے دَپاره قرآن کله دَ امر او نهی نه پس د جنت او دوزخ او د هغے دَ نعمتونو او تکلیفونو ذکر دے دَپاره کوی چه دَ تعمیلِ حکم نتیجه به جنت او د هغے راحتونه او د عدمِ تعمیل نتیجه به دوزخ تکلیفات وی کله الهی اوصاف دے دپاره ذکر کیږی چه دَ الله تعالیٰ لوئی په زړه کښے کینوله شی، او هم دے به زور انسان دحکم تعمیل ته تیار شی، کله په انسان دهغوئ نتو ذکر کوی دَ دے دَپاره چه دے شرمنده شی او دے د هغه عمل ته آماده شی، کله هغه قصے او واقعات ذکر کوی په کوموکښے چه به تابعدارو مومنانو باندے انعام شوے وی، او په نافرمانو عذاب نازل شوے وی دا دے دپاره چه دانسان میلان او رغبت د فرمانبرداری ته وی او د نافرمانئ نه دے نفرت اوکړی که وی داخلو را صول معلومه وی، نو په قرآنی مضامینو کښے به دَ بے ترتیبئ شک هیچرے هم پیدا نشی :-

## لسمه شبهه

اهل استشراق وائی چه د قرآن په بعضے الیونو کښے دعربی ژبے دَ علمو قاعدو نه خلاف شوے دے چه هغه ته لحَن وئیلے شی، او دا اعجاز نه خلاف دے لکه چه عُروه رضا



دحضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت کوی، چه ما دَ هغه نه دَ لحن قرآن په باره کښے تپوس اوکړو مثلاً (۱) إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ ط سورة طٰه آیة ۶۳ (۲) وَالْمُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ ط سورة النساء آیة ۱۶۲ :

(۳) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئُونَ ۔ سورة المائدة آیة ۶۹

نو هغوی اُوفرمائیل :-

يَا ابْنَ أُخْتِي هَٰذَا عَمَلُ الْكُتَّابِ أَخْطَأُوا فِي الْكِتَابِ رَوَاهُ أَبُو عُبَيْدٍ فِي فَضَائِلِ الْقُرْآنِ وَأَخْرَجَ ابْنُ الْأَنْبَارِيِّ فِي كِتَابِ الرَّدِّ عَلَىٰ مَنْ خَالَفَ مُصْحَفَ عُثْمَانَ عَنْ عِكْرِمَةَ لَمَّا كُتِبَتِ الْمَصَاحِفُ عُرِضَتْ عَلَىٰ عُثْمَانَ فَوَجَدَ فِيهَا حُرُوفًا مِنَ اللَّحْنِ فَقَالَ لَا تُغَيِّرُوهَا فَإِنَّ الْعَرَبَ تُسْتَقِيمُهَا بِأَلْسِنَتِهِمْ :-

ګویا کښے دے ذکر شوی ایتونو کښے بظاهر چه لحن دے بے قاعدګی ښکاری دحضرت صدیقے رض نه ئے چه تپوس اوکړو نو هغوی اُوفرمائیل چه دا دکاتبانو غلطی ده۔ ددویم روایت نه معلومیږی چه دَقرآن لیکلے شوے نسخے چه حضرت عثمان رض ته پیش شوے نو هغوی اُوفرمائیل چه دے کښے غلطئ ښکاره شته، لیکن عرب به هغه په خپلو ژبو سره صحیح کړی،

ددے شبهے ړومبے جواب دا دے چه دا دواړه روایتونه "ضعیف الاسناد منقطع او مضطرب دی، علامه آلوسی رح فرمائی چه دا روایت د حضرت عثمان رض نه ځکه صحیح نه دے چه دَدے دواړو وټه دیو پخپله دے روایتونو کښے موجود دے، چه حضرت عثمان رض هر کله چه دغه نسخے دقرآن اُلیدے نو وے فرمائیل، بِأَنَّهُمْ أَحْسَنُوا وَأَجْمَلُوا، مطلب دا چه لیکونکو صحابه کرامو رض ډیر په خائسته طریقے دا مرتب کړے دی، نو دے نه پس بیا دا څنګه وئیلے شی چه په دے کښے غلطئ دی ؟:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صحابی رض په یو روایت کښې د بنه او بد د جمع کیدل د دے جوګه دی چه دا روایت د منلو قابل نه دے، البته حضرت عثمان رض په دغه نسخو کښې صرف د دریوو ځایونو تصحیح[۱] کړې وه.

(۱) لَمْ يَتَسَنَّ ئې لَمْ يَتَسَنَّهْ کړې لو سورة البقرة آية ۲۵۹

(۲) أَمْهِلِ الْكٰفِرِيْنَ ئې مَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ کړې لو، سورة الطارق آية ۱۷

(۳) لَاتَبْدِيْلَ لِلْخَلْقِ ئې لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ کړې لو سورة الروم آية ۳۰

هرکله چه هغوئ د قرآن د تصحیح د و مره فکر کولو چه یو معمولی غلطی ئې هم درسته کوله نو په مذکور روایت څنګه اعتبار راکړې، شی چه د لحن او غلطئ اقرار کولو سره بیا هم هغه پخپل حال پریښودې چه د عقل نه خلاف دے لهذا دا روایت د عقل او نقل دواړو نه خلاف دے چه د قبلولو جوګه نه دے.

(۲) دویم جواب دا دے، چه د لحن نه مطلب هغه رسم الخط دے[۲] د عام رسم الخط نه خلاف وی ابُوعبید ره په فضائل القرآن کښې لیکلی دی، چه د لحن معنی د مشهور رسم الخط نه خلاف کول وی، لکه لَا اَذْبَحَنَّهٗ او لَا اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ.

(۳) دریم جواب دا دے، چه لحن نه مطلب طرز تلفظ دے، نه غلطی، لکه وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ ط، سورة محمد آية ۳۰.

أَىْ نَهْجِ التَّلَفُّظِ مَثَلًا اَلصِّرَاطَ بِالصَّادِ الْمُبْدَلَةِ مِنَ السِّيْنِ[۳]

کوم دریمه غلطئ یا بے قاعدګئ چه ذکر شوی دی د هغې د دویم جواب دا دے چه په قرآن کښې د عربو د قاعدو نه خلاف څه لفظ وے نو د قرآن مخالفینو به د غه رنګه غلطئ خامخا په ګوته کړې وے، او د قرآن اعجازیت بے خاصه کړې ورو د فتح به ئې حاصله کړې وه، چه هغوی دا ہیڅ نه کړل.

[۱] مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۹۰ [۲] مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۹۱ [۳] مناهل العرفان ص ۳۹۰



نو دا شبه نامعقوله ده، بیا هم څه په وار وار د دے جواب ورکوم:

إِنْ هٰذٰنِ د قاعدے په موجب إِنْ هٰذَيْنِ پکار وو ځکه چه "إِنَّ" نصب ورکوی:

(۱) نو په وجه جواب دا دے چه قاعده د ژبې تابع وی او هر د هغې نه جوړه شوی وی، قرآن چه کومه طریقه استعمال کړې ده دا هم په عربو کښې د کنانه بَنِیْ الحارث قبیلې لغت دے، تثنیه په دواړو حالتونو کښې په الف سره لولی لکه چه مناهل العرفان کښې موجود دی.

(۲) دویم دا چه "إِنَّ" په ضمیر شان مقدر کښې عامل دے چه "إِنَّهٗ" دے او هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ په خپلو کښې سره مبتدا او خبر دی.

(۳) دریم دا چه د هٰذٰنِ الف زولا پزور سٰحِرٰنِ سره د مناسبت په وجه دے، لکه سَلٰسِلَا، وَاَغْلٰلًا (سورة دهر آية ۴) او دا هم یو قاعده ده لکه څنګه چه د قرآن په آیت مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ، د سَبَاٍ کسره او تنوین د "نَبَاٍ" د مناسبت د وجے دے:

(۲) دَ وَالْمُقِيْمِيْنَ، منصوب کیدل د مدح په بنا دی،

(۳) وَالصّٰبِـُٔوْنَ، مرفوع کیدل یا خو د مبتدا کیدلو په وجه دی چه د هغې خبر محذوف وی، یعنې وَالصّٰبِـُٔوْنَ كَذٰلِكَ یا عطف دے په محل د إِنَّ سره د اسم د هغې او یا عطف دے د "هَادُوْا" په ضمیر مرفوع باندے

## یوولسمه شبه

یوولسمه شبه دا ده چه بعضې انسانانو هم بے مثاله کلامونه په عربئ کښې جوړ کړی دی لکه مسیلمة الکذاب، ابن الراوندی الزندیق، ابو العلاء المعری ابو الطیب المتنبی او د بعضې تفسیر بے نقطه چه د هغې ټول حروف بے تکو (نقطو) دی مثلا: ا - ح - د - ر - س - ص - ط - ع - ک - ل - م - و - ﻻ - ه - ی، نو دا شبه ځکه بے ځایه ده چه د

## دفیضی تفسیرِ بے نقط

فیضی دا تفسیر ځکه د فیضی په نظر کښې معجزه نه ده او د بلیغانو په نظر کښې هم دا سې کار د متنبّی نه شپږ سوه کاله وړاندې په عربو کښې یو معمول او عام شوے و. د فیضی نه ډیر وړاندې په مقامات حریری کښې داسې عبارتونه موجود دی چه بعضې خالص په حروفِ مهمله کښې او بعضې په حروفِ معجمه کښې او بعضې عبارتونو کښې یو لفظ د حروفِ مهمله (بے نقطو) او دویم لفظ د حروفِ معجمه (نقطه دار) دے، دد ے نه علاوه چه فیضی خپل دا کار د قرآن ماتون نه دے ګڼړلے او نه ئے دا دعوے کړے ده، بلکه هغه تر آخر عمره د قرآن د اِعجاز قائل پاتې شوے دے او په خپل هم دغه تفسیر کښې د قرآن اِعجاز او تعریف په زوردارو الفاظو کښې پیش کړے دے لکه لیکی:-
كَلَامُ اللّٰهِ لَا حَدَّ لِمَحَامِدِهٖ وَلَا عَدَّ ، د الله کلام داسې دے چه د هغې د تعریفونو لِمَكَارِمِهٖ وَهُوَ مَاءٌ لَا سَاحِلَ لَهٗ ، هډ و څه حد نشته او د هغې د فضائلو شمیر هم نشته دا داسې سمندر دے چه غاړه ئے نشته، د فیضی د دا اعتراف د با وجود هغه تفسیر سواطع الالهام اِعجاز ګڼړل سړے عي سست اوکواه چُست جوړیدل دی،

## دَمسیلمه ټوکړے

د فیضی نه علاوه د مُسیلمه هغه ټوکړے چه په هغې کښې دانسانی هدایت یو ټکی هم نشته نه څو هغه ځکه د قرآن پشان معجزه ګڼړلے ده او نه بل چا ګڼړلے ده، بلکه هیڅ یو بلیغ ماهرِ زبان هغه د ذکر کولو وړ هم نه ګڼړل مونږ د ناظرینو د ضیافتِ طبع په خاطر هغه څه لږ نقل کوو:-

وَالْمُبَذِّرَاتِ زَرْعًا وَالْحَاصِدَاتِ حَصْدًا ؛ خدا د قسم وی په هغه ښځو چه تخمونه کری
وَالذَّارِيَاتِ قَمْحًا وَالطَّاحِنَاتِ طَحْنًا ؛ او په هغه ښځو چه غنم لوونه کوی او په هغه
وَالْعَاجِنَاتِ عَجْنًا وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا وَ ؛ ښځو چه غنم صفا کوی او په هغه ښځو چه



(c) ketabton.com: The Digital Library

الثَّارِدَاتِ ثَرْدًا وَاللَّاقِمَاتِ لَقْمًا ؛ چه اوړه ږمبین کوی او په هغه ښځو
إِهَالَةً وَسَمْنًا ؛ چه اوړه اغږی او په هغه ښځو چه وو وی ښځوی او په هغه ښځو چه ښوروا کښې ووډی ماتوی او د وازدے او غوړو نوړی اغستونکو باندے / دلفظ خامیانو نه علاوه هغه په هر ځائے کښې "وَاو" استعمال کړے دے حالانکه بعضې ځایونه د "فاء" او د "ثُمَّ" د استعمال دی بیا دا چه کوم کارونه د سرو وویا د ښځو او کسرو په ګډا ه وُو هغه ئے هم صرف ښځو نه منسوب کړل دا مضمون ځکه ډیر لغو او بے فائده دے چه دیوانه ئے درجے سړی د پاره شرم خبره ده دا رنګ دا ټوکړے هم: اَلْفِيْلُ مَا الْفِيْلُ وَمَا اَدْرَاكَ مَا الْفِيْلُ لَهٗ ذَنَبٌ وَبِيْلٌ وَخُرْطُوْمٌ طَوِيْلٌ، جاحظ د هغه داسې ټوکړے هم نقل کړی دی
يَا ضِفْدَعُ بِنْتَ ضِفْدَعَيْنِ نَقِّيْ مَا تَنِقِّيْنَ نِصْفُكِ فِي الْمَاءِ وَنِصْفُكِ فِي الطِّيْنِ لَا الْمَاءَ تُكَدِّرِيْنَ وَلَا الشَّارِبَ تَمْنَعِيْنَ
دا دوا ړه ټوکړے د آئی ره ما لفی او د پیسند ځه په باره کښې دی

## ابن الرّاوندی زندیق یهودی

ابن الرّاوندی یهودی النسل المتوفّٰی سنه ۲۹۳ھ ده په د یهودو او نصارے وُ نه غټې پیسې اغستے او د قرآن او اسلام په تردید کښې ئے کتابونه لیکل د هغه د کتابونو نومونه دا دی، التاج والفرید، والزمرّد ة، وقضیبُ الذَّهَبِ، د کتابونو لیکلو نه پس به ئے د یهودو او نصاری وُنه لوړے پیسے غوښتے چه نه به ئے ورکولے نو هم د ے کتابونو تردید به ئے بیا کولو ابو العلاء المعری د ده د کتاب تاج په باره کښې لیکلی دی،
لَا يَصْلُحُ تَاجٌ اَنْ يَّكُوْنَ نَعْلًا (د تاج دومره حیثیت هم نشته چه پاره ترجوره ش، دا د هغه ابو العلاء المعری قول دے، چه د ابن الراوندی په شان ځکه هم ملحد وو ابن الرّاوندی د بغداد په ګوټ یو معتزلی ابو علی جبائی سره

ملاقات اُکړو او ورته یې اُوئیل چه څما قرآن اَوُرے ، ځواب ئې اُوئیل چه څه ستا دَ شرمناک علُومو نه خبر یَم، بیا هغه اُوئیل چه اے ابن الرّاوندی ته پخپله منصف شه چه ستا په دے کلام کښے دقرآن پشان فصاحت، بلاغت، خوږوالے او هیبت رُعب دَاب؟ نشته؟

هغه اُوئیل چه نشته!

## دَ متنبّی توکړے:-

متنبی دپیغمبرئ دعوٰی کوله په دغه وخت کښے ئې اُوئیل وو اُقسم بخالق اللّیل والرّیح الهابۃ باللّیل اِنّ الکافر لطویل الویل واِنّ الکفر لمکفوف الذیل، بیائے توبه کړه او مخلص مسلمان شو، د دے ټولو مَاخَذ د مُصطفٰے صادق الرافعی اعجاز القرآن نومی کتاب صـ۲۰۰ ترصـ۲۲۳ دے، د دے خبرونو د نقل کولو مطلب دَقرآن اعجاز صفا ښکاره کول دی، دوئیم داچه متنبی د غیره د مُسیلمه او ابن الراوندی وغیره نه ډیر زیات لوړ ادبی مقام لرلو لیکن هغه هر کله چه په دے میدان کښے قدم کیښودو نو دَ هغه کلام داسے ښکاریدو چه دَ هغه معتقدینو پخپله هغے پورے خندا کوله او دده ضمیر هم په دے دَ لره ملامت کولو:-

دَرَیمه خبره داچه دَ قرآن په جواب کښ چه چا څه اُوئیل مسلمانانو بے له تعصّبه هغه نقل کړل، دریمه خبره دا چه دَ قرآن دامقابله په بغداد کښے په هغه وخت شویده چه پخپله مقابله کوونکی دَ رعیت په حیثیت دَیو مخ په ترقئ اسلامی حکومت کښے استوګن وو او آزادی کښے دومره وه چه حکومت تپوس هم اُنکړو چه غالبًا د هغے وجه داکیدے شی، چه اعجاز قرآن یو نمر دے په دے توکړو هے ته هیڅ نقصان نشی رسیدلے،

## دَاعجاز القرآن پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مُشاهدات او معنویات

(۱) قرآنی اعجاز اګرچه بلاغی حیثیت سره ذوقی څیز دے لکه دَ ترخوا او خوږوا او بو پیژندل او دَ فصاحت و بلاغت ذوق لرونکو دَ باره دَا یو بدیهی څیز دے لیکن مُوبږ تیو څو څیزونه په ګوته کوو چه د هغے په وجه به معمُولی فهم لرونکو حضراتو ته هم دَ قرآن اعجاز واضح شی، څه مضامین خو دَ مشاهداتو سره تعلق لری چه هغه ښکاره څیزونه دی لکه آسمان یا نور دا سے څیزونه او څه معنویات یعنی دَ لیدلو نه بهر څیزونه دی، مثلاً، اَخلاق اَعمالِ قلبیه دا حکامو عقائد او دَ غیبیاتو قوانین، دعرب او د عجم د شاعرانو د فصاحت بلاغت میدان مشاهدات وُو نه چه معنویات، دَ دوی کلام ټول غور ذنګونه هم په مشاهداتو کښ وی معنویاتو کښ به ئے هیڅ درک نه وی لیکن قرآن مشاهدات هم بیانوی او غیبیات او معنویات هم او سره دده په زور بیان کښے هیڅ فرق نه راځی

(۲) دَعربو او دَ عجمو شاعران د رښتیا د دروغو پابند نه وی خو خپل بیان او فصاحت و بلاغت کښے به ئے خپل زور ښکاره کولو هم دغه وجه ده چه دَ عرب شاعرئ په باره کښے دامقوله مشهوره وه چه اَحْسَنُهٗ اَکْذَبُهٗ، یعنے هغه شعر ډیر ښه دے چه په هغے کښے دروغ ډیر وی مګر دَ قرآن مضامین ټول دَ رښتیاؤ پابند دی چه په هغے کښے دَ واقعاتو خلاف هیڅ مضمون نشته په دے وجه دقرآن دائره تنګه وه خو بیا هم دده په فصاحت او بلاغت کښے فرق را نغلو او که یو شاعر صرف دَ رښتیاؤ چاپابند کړو نو دَ هغه کلام به بے خونده پاتے شی، او بلاغت به ئی هم ختم شی دا یواځے قرآن دے چه د رښتیاؤ د پابندئ سره د هغے خوند مزه نوره هم زیاتیږی او بلاغت کښے ئے هر وخت چټ تر نکیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) انسان او دَ هغه قُوَّتُونه محدُود دی په دے وجه بلیغ شاعر په یو خاص میدان کښے دَ خپل فصاحت زور ښودلے شی لکه دِامرؤُالقیس د شاعرئ زور دَ ښځو او آسُونو په تعریفونو کښے محدُود دے، دَ نابغہ دبیان جوش دَ ویرے د مضامینو سره مخصوص دی، دَ اعشیٰ، دَ شرابو سره، دغه رنګ فِردوسی او نظامی دَ جنګ په مضامینو کښے لا جواب دی، شیخ سعدی په اخلاقو کښے بیمثاله دے خو په قرآن کښے د هر قسم مضامینو باوجود د هغے په فصاحت بلاغت کښے هیڅ فرق نه راځی

(۳) د قرآنِ بلاغت خصوصیت دا دے چه په لږو ټکو کښی دا سے اعلیٰ مضمُون بیان کړی چه د هغے په کتابونه جوړیدے شی، خو بیا هم دَ قرآن په خوږ والی کښے هم فرق نه راځی او نه په مضمون باندے دلالت کولو کښے کمزوری او کمزوری راځی مثلاً . وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ

(سورة الذّٰریٰت، آیة ۲۱)

(۵) سل کاله پس هره ژبه بدلیږی، ځکه دَ هر کتاب سَل کاله پس هغه مزه نه وی، بلکه د هغے دَ مضامینو نه په مطلب اخستو کښے ګرانی راولاړیږی دَ حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله، ترجمه قرآن بے مثاله ده لیکن دَ زمانے په تیریدو سره دَ هغے دَ بعضے اُردو الفاظو استعمال پاتے شو نو دَ دے وجه دَ هغے اِفادیت کمزورے شو بیا حضرت شیخ الهند رحمه الله دَ هغه ترجمه دَ نوو الفاظو په قالب کښے دَ هغے افادیت قائم ساتلو دپاره واچوله، لیکن دَ قرآنِ الفاظو په افادیت څوارلس سوه کاله پس هم هیڅ فرق را نغلو د دے نه معلومیږی چه دَ قرآن د الفاظو انتخاب خالقِ کائنات د دے دپاره کړیدے چه دا به تر قیامته د پیرے مُو دے دپاره برقرار وی، دَ دے خلود او دوام ملاحظه کولو نه پس دے کښے هیڅ شک نه پاتے کیږی چه دا دَ ول کلام دَ بلاغت دا سے حد ته رسیدلے دے چه هغے ته دَ انسان



رسائی هیچرے نه شی کیدے هم دغه وجه ده چه قرآن څه وخت نازل شو نو خانه کعبه کښے هغه آویزان او ده بیمثاله او مشهورے قصیدے دَ شاعرانو خپلوانو راکوزے کړے یوازے دَ امرؤُالقیس یو قصیده هم هغسے آویزان ځکه پاتے شوه چه دَ هغه خور دَ هغے د راکوزولو نه انکار کړے وو، لیکن هر کله چه هغے دَ طُوفان نوح علیه السلام متعلق دَ قرآن دا ایت واوریدو،

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَ : اے مزکے خپلے اُبه تیرے کړه ،
يَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ : او اے آسمانه اُودریږه او اُبه کمے شوے

سورة هود آیة ۴۴

نو دَ امرؤُالقیس خور سمدستی د غه قصیده هم راکوزه کړه،

(اِعجاز القرآن الرافعی):

جارج سیل لیکی چه د یو انسان قلم هم دا سے معجزانه کتاب نشی لیکلے او دا دَ مرورونډی کولو نه هم لویه معجزه ده؛ ادمیکسویل کنګ لیکی کچرے وحی څه شے وی، نو بیشک قُرآن یو الهامی کتاب دے (تاریخ اسلام عبدالقیوم ندوی جلد ۱ ص ۳۲۲)

## قانونی اعجاز

دقرآن بلاغی اعجاز خو بیان شو اُس د دے خبرے چه قُرآن دَ الله تعالیٰ کلام دے دویم دلیل قانونی اِعجاز دے، انسانی قانون که یو تن جوړ کړے وی که کنرو تنانو (پارلیمنټ) او دوی دیر ماهران هم وی خو بیا هم دغه قانُون په مختلفو قومونو او ملکونو کښے دیره موده نشی چلیدے او خامخا په دے کښی داسے یو کمزوری ښکاره شی چه په هغے کښے د ترمیم او تغیُّر ضرورت راولی، هم دغه وجه ده چه که یو حکومت او بادشاهئ په قوانینو کښے دهغے قانون سازے اسمبلئ او پارلیمنټونه دیما دیدلګی داولی او

اوهمدغه دَ انساني قانون دَ خامئ اوکمزورئ دليل دے ليکن دَ قرآن قانون چه هغه دَ انساني ژوند دَ ټولو اړخونو تشريحونه لري او دَ هغې ښکاره کوونکے هم صِرف د پيغمبر عليه السلام هغه يو ذات دے چه ليکل لوستل ئے نه وُو کړي او اُمّي رناخوانے ئے پيلے شو، دَ هغې وطن ټول خلق نا ليکلي او نالوستلي وُو په کوم کښے چه دوی ښکاره شوی وو په دغه وطن کښے نه دَ تعليم زور شوروو او نه دَ څه قانون نه خلق خبروو خو سره دَ دے دَ ايشيا، يورپ او افريقے په درے واړو براعظمونو کښے د ذرو ﷺ کالونه زيات مُوده په دے فيصلے کيدے نه شي دے کښے چا نقص ښکاره کړے او نه په کښے دتر ميم او تبديلئ ضرورت پيښ شو په موجوده زمانه کښے چه تعليم عام دے او دَ ټولے نړئ خلق دَ يو بل سره تړلي دي خو صرف مُسلمانان نه بلکه دَ يورپ مُخالفين هم دَ قرآن قانون بے مثاله معقول او جامع بولي حالانکه په دے څوارلس ﷺ سوه کاله تير شوي دي،

(۱) ډاکټر سموئيل ليکي، چه دَ قرآن کريم مطالب داسے همه گير او دَ هرے زمانے په مناسب دي چه ټول آوازونه ئے خا مخا قبلوي او محلونو، شګلنو، ښارونو او بادشاهو کښے کړنګيږي"

(۲) مسټر ولف ليکي "دَ رُشد وهدايت وسيع جمهوريت، انصاف او عدالت نوعي تنظيم، ماليات، دَ غريبانو دَ حمايت او دَ ترقئ اعلیٰ آئين په قرآن کښے موجود دے؛-

(۳) دَ فرانس ډاکټر موريس ليکي "دَ قُدرت مهربانو چه کوم کتاب نه انسان ته ورکړي دي قُرآن دَ هغې ټولو نه بهتر دے دَ تاريخ اسلام عبدالقيوم ندوي جلد ۱ ص۳۲۱ تا ۳۲۲ نقل شوي صِرف په درے حوالو مونږ ه اکتفا کوو، دَ دے نه تاسو اندازه ولګوئ چه دا دول؛



(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب دَ انساني فکر پيداوار کيدے شي؟ هيچرے نه بلکه دَ دے کتاب مَاخذ دَ الله تعالیٰ هغه بے اندازه علمي سرچشمه ده چه هغې ته دَ ټولو قومونو او دَ ټولو زمانو دَ ضرورياتو علم وو او په دے کتاب کښے ئے ټول را ځائے کړه؛

ابيات اقبال مرحوم

آن کتابِ زنده قرآنِ حکيم — حکمتِ او لايزال است و قديم

حرفِ اُو را ريب نے تبديل نے — معنئ اش شرمندهٔ تاويل نے

نسخهٔ تکوينِ اسرارِ حيات — بے ثبات از قُوّتش گيرد ثبات

صد جهانِ تازه در آيات او — عصرها پيچيده در آفات او

نوعِ انسان را پيامِ آخرين — حاملِ او رحمة للعلمين!!

(۴) دَ دينه علاوه سرولامنډ برليکي، دَ قرآن قوانين دَ تاجدار نه ترکمتر فرد پورے، باندے حاوي دي او دا دومره معقول دي چه مثال ئې نشته" (حواله بالا تاريخ عبدالقيوم ندوي)

(۵) آرنلډ ليکي چه قرآن هغه اُصول پيش کړه چه دَ سائنس هغه مخ په وړاندے ترقي هم دے ته ماتے نشي ورکولے،

(دَ تاريخ عبدالقيوم ندوي هم دغه حواله)

## تاثيري اعجاز ④

قرآنِ حکيم دَ خپلو تاثيراتو دَ مخه هم يو معجزه ده ځکه چه په هيڅ انساني کتاب کښے دا دول تاثير نشته کوم چه قرآن خرد کړو، او ټوله نړئ ئې د ړو ښانه کړه دَ اثرآ چولو او لئے نړون دَ انسان رُوح سره دے، ځکه چه دا بدل شي نو انساني تصوُّرات، گفتار او کردار کښے ئې خپله تبديلي راځي، دَ دے دے وارډ مرکز رُوح يا زړه دے، لکه ځنګه چه حديث دا حقيقت ښکاره کړے دے چه

په بدن کښې بوټو ته ده چه هغه درسته وي نو ټول بدن درست وي (بخاري شريف)، د اصلاح مرکز زړوح دے خو روح امر ربّي او آسماني څيز دے، زميني نه دے لهذا کوم کتاب چه آسماني وي نو کلامِ ربّي به وي په هغې به د زړوح اصلاح کيږي کوم چه امرِ ربّي دے. قرآن حکيم کوم قوم او ملک (عرب) کښې چه ښکاره شو هغه د ټولې نړۍ د خرابو مرکز وو، اعتقادي خرابۍ دومره وې چه د خُدا پرستئ ځائے دَ الهٰيه هم نه وه بلکه هر ځائے بُت پرستي وه انصاف ورک وو ټول ظُلم ظُلم وو، هر زور آور په کمزوري لوُخت وو او بغير د لُوټ مار نه د هغوي بله ذريعه معاش نه وه د دوي د ظلمونو نه د دوي اولاد هم خلاص نه وو، تر دے چه خپلې ژونديۍ لونړه به ئې په خاوره ورمندلے او ويا په به ئے پرے هکولوئ شے به ئې دومره کولے چه د هغوي هيڅ مجلس به د شرابو څښلو نه خالي نه وو. د اتفاق بُو نئ هم په دوي کښې نه وو، او د هرے قبيلے او قوم خلق به د هر بل سره په جنګ کښې بُښت وُو او دائے په ټولو کښې زيات خوښه مشغله وه، د اِصلاح ټولے ذريعے (تعليم، تربيت، قانون) دوي کښې نه وے. جهالت لاقانونيت او خودسري عامه وه. دا حالات انساني ذرائع او وسائلو سره په زرګونو کاله کښې هم نه شو بيته کيدے د چا په خوب خاطر کښې هم نه راتله چه د صدو جريو نيوونکي خرابئ به چرته ختم شي، ځکه چه د اصلاح د ذرائعو نوم و نشان هم د غلته نه وو، اُوس چه دا هر څه شته تعليم عام دے، د نشر و اشاعت ټولے ذريعے شته، قانون مرجود، د اصلاحِ معاشره انجمنو قائم، اصلاحي فلمونه هم شته خو بيا هم په خرابو او شر و فساد کښې اضافه کيږي او د جرمونو نوي نوي صورتونه راځي. اُوس د دے منظر او د قرآني اِصلاح د منظر نسبت اُګوره:-



چه هغه په دوه درة نيم کاله کښې دا مُشکل ترين کار په ډير آسانئ حل کړو او هغه اصلاحي انقلاب ئے په عربو کښې راوستو کوم چه ټولے نړۍ ته معلوم دے، د تاريخ په صفحو کښې ښکاره دے او دوست دُشمن د دے اقرار کوي، په عربو کښې بت پرستي، د بيخه ختم شوه او کور په کور د خُدا پرستئ او توحيد دا سے شور جوړ شو چه د غه بت پرست بت شکن شول، سر ئے صرف وحده لاشريک له ته ټيټ شو، په ژبه هر وخت دالله توحيد جاري شو، په زړونو کښې دالله خوف ځائے شو د غيرالله خوف ئے د زړه نه اُوتو. دغه قوم چه د خپلو سکه ورونړو دُشمنان وو د اسلامي او قرآني ورور ولئ په وجه ئے بلالِ حبشي، صهيب رومي، او سلمان فارسي غونده پردي خلق د خپلو سکه ورونړو نه هم زيات اُګڼړل، خانه جنګي ختمه شوه، او ټول عرب قوم د مينے او ورورولئ په مزي کښې پيلي فولادي ديوال جوړ شول، جوارئ او سُود خوړل شراب څښل، غلا، داکه، قتل، او ظُلم نه يوازے د عربو نه ورک شول، بلکه د دے قدم چه کوم ځائے ته اُورسيدو د هغه ځائے نه دا ټولے خرابئ ختمے شوے، دليوُپ يوا هل قلم ليکي چه د قُرآن نازل کيدو نه پس عرب دا انسانانو په شکل کښې فرښتے جوړے شوے، دا يو تاريخي حقيقت دے چه دا سے اصلاحي کارنامه چه سرته رسيدل په معجزه ده صرف د قُرآن په وجه شوه چه د ټولو انساني کتابونو په جمع او د نړۍ د ټولو حکومتونو د طاقت په جمع نه بيرته نو دا د دے خبرے دليل نه دے چه قرآن کلام الهٰي دے او د خداوندي تاثير په وجه دا هسې اصلاحي کارنامه ئے اُکړه؟ ولے نه دا خو د دے خبرے تاثيري دليل دے، چه قُرآن کلام الهٰي دے. دا کوم چه ما اُليکل د موجوده دور اسلام دشمنانو عيسايانو هم د هغې اقرار کړے دے د هغې تفصيل بيا نولونه ورا ندے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوضاحت کول غواړم چه ما ډوه دوه نیمه کاله وړاندې اُلیکل حالانکه قرآن خو دیرویشت کاله نازلیدو، د هغې وجه دا ده چه د مکې دیارلس کاله خو کُفارو په خپل ظالمانه طاقت دَ قرآن آواز بند کړے ؤ او ددے دَ تبلیغ ټولے لارے ئے هم بندے کړے وے دَ هجرت نه پس انه کاله کُفارو دغه کار دجنګ په زور دَ فتح مکې پورے جاری اُساتلو دا یو ویشت کاله خو قرآن نازلیدو ولیکن کُفارو ددے تبلیغ او آواز په مذکوره طریقو بند اُساتلو او باقی پاتے زمانه یعنی په دیرویشتو کالو کښې صرف دوه دوه نیمو کالو کښې دا کار اُشو، ددے وضاحت نه پس بیا خپل مقصد ته راګرځو:-

## دیورپ په نظر کښې دَ قرآن تاثیر

ډاکټر ماریس لیکی، چه قرآن په دنیا هغه اثر اُغورځولو چه دَ هغې نه بهتر ممکن نه وو، دفرانس یسپان لیکی چه قرآن داسے ذړونو او پُرزورو ایمانی جوش پیدا کوی چه بیا پکښې دشک ګنجائش نه پیدا کیږی سرولیم میور لیکی، چه قرآن دَ کائناتو دَ فطرت په دلائلو سره خدائے پاک د ټولو نه اعلیٰ هستی ثابته کړه او انسان ئے دَ هغه په اطاعت راغبت کړلو:-

مسټر جی۔ ډی لیکی چه قرآن په بیشمیره انسانانو اثر واچولو او دَ سائنس دنیا دَ قرآن ضرورت ئے هم واضح کړو:-

مسټر عمانوئل ډی انش لیکی، چه د قرآن رڼرا په یورپ کښې هغه وخت راښکاره شوه چه تیاره خوره وه او په دے دَ یونان مرعلم او عقل ته زوند حاصل شو،

مسټر ایچ۔ ایس لیبر لیکی چه دَ قرآن دَ تعلیم نه دَ حکمت او فلسفې ظهور اُشو او داسے ترقی ئے اُکړه چه دَ منیل وخت دَ ټولو نو سره



لوئے یورپی حکومت نه زیات اُچت شو

## (۳) انجذابی تاثیر

دقُرآن کوم اصلاحی تاثیر چه مونږ بیان کړو هغه هم داسے یو معجزه ده چه بل انسانی کتاب نه ظاهریدے نشی، لیکن دَ اصلاحی اعجاز نه علاوه د قرآن انجذابی تاثیر هم یو مُعجزه او ددے خبرے ښکاره دے چه قرآن کلام الٰهی دے،

(۱) ځکه چه قُرآن ډیر غټ کِتاب دے د هغې یادول ډیر ګران دی (۲) دویم دا چه د غیر عرب مسلمانانو دپاره دَ دغه ژبه پردئ ده چه د هغې په یادولو کښې دویم بندش دے خپله ژبه کښې کتاب یادول آسان او پردئ ژبه کښې یادول ډیر ګران دی،

(۳) دریمه خبره داده چه په دے کښې یو رنګ آیاتونه ډیر دی چه په هغې سړی پُزل کیږی، او غلطیږی، داهم دَ هغې په یادولو کښې یو بندش دے

(۴) څلورمه دا چه دَ قرآن حافظ دپاره د قوم یا دَ حکومت نه څه تنخواه نه ده ټاکلے شوے نه ئے په دوی کښې څه خاص عزت شته،-

(۵) پنځمه دا چه د قرآن یادولو دپاره ډیر وخت په کار دے او بیا دَ یاد ساتلو دَ پاره ئے ټول عُمر ترمرګه دَ دورا او تکرار ضرورت دے، دومره خواری کُچرے د دنیاوی ډګرئ حاصلولو دپاره کړے نو ډیر مال او عزت به ئے ګټلو، دا ټول دَ حفظ قرآن په لاره کښې غټے خنډان دی، لیکن سره دَ دے په مسلمان قوم کښې لکهونه حافظان دَ قرآن موجود دی او ددے دحفظ رواج په ددے بے تپوسه حال کښې هم مخ په ترقئ دے چه دا دَدے دلیل دے چه د قرآن په ذات کښې معجزانه او انجذابی داسے کشش موجود دے چه دَ ددے بندشونو سره هم مسلمانان خپل ځان ته راکاږی او هیڅ یو بندیز په دے اثر نه غورځوی دا کشش او انجذابی تاثیر دَ قرآن یو مستقله معجزه ده او ددے دلیل دے چه قرآن کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی دے ځکه چه بل یو کتاب د ومره حفظ کوونکی په مخ د ځمکے نشته
نه دا سے کشش په بل کتاب کښے شته تر د ے حده چه د تورات او انجیل
یو حافظ هم نشته :۔

## د قرآن اعجازی تاثیر په شخصیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم

د اصلاحی او انجذابی تاثیر نه علاوه د شخصیتی تاثیر هم د قرآن یو مستقله معجزه ده، د قرآن په باره کښے صحیح او غلط دواړه رائے دی، یو صحیح رائے ده چه دا کلام الٰهی دے او بله غلطه رائے ده چه دا کلام الٰهی نه دے صحیح رائے ثابتولو او د غلط رائے د بیکاره کولو د پاره مونږ د قرآن د شخصیتی تاثیرا عجاز هم دلته راندے کوو :۔

د شخصیتی تاثیر اعجازی درے صورتونه دی :۔

(۱) نزولی اثر (۲) قلبی اثر (۳) قالبی اثر

(۱) شخصیتی نزولی اثر :

مخالفین وائی، چه قرآن د الله تعالیٰ کلام ځکه نه دے چه دا د رسول الله محمد صلی الله علیه وسلم کلام دے، که دا غلط رائے اُمنلے شی نو بیا خپل هغه کلام چه په هغے کښے به خدائے تعالیٰ د روغ د تیلے شوی وی ځکه به ژرر اثر په دغه انسان اُغورځوی لکه څنګه چه د عربو د هغه مشهورو ادیبانو قصیده و خاص اثر په هغه شاعرانو نه پریوتو کوم چه دا قصیده جوړه کړے وه که دا سے وے نو تاریخ کښے به ئے څه تذکره ذکر شوے وه لیکن د قرآن وحی :

**په یخنئی کښے خوله** به چه به په حضور علیه السلام څه وخت په یو عامه جمع کښے کیدله نو د مخ موسم باوجود د هغوی د مخ مبارک نه به د خولو غټے غټے څاڅکی په دیر زور څڅیدل. د حضرت صدیقے رضی الله عنها په اول د مجادی کښ منقول دی :۔



لَقَدْ رَأَیْتُهٗ یَنْزِلُ عَلَیْهِ الْوَحْیُ فِی الْیَوْمِ الشَّدِیْدِ الْبَرْدِ فَیَفْصِمُ عَنْهُ وَاِنَّ جَبِیْنَهٗ لَیَتَفَصَّدُ عَرَقًا ما حضور علیه السلام اُلید وچه په سخته یخنئی کښے به پرے وحی نازلیده او ختمه به شوه نو د هغوی د تندی مبارک نه به دا سے خوله را څڅیده لکه څنګه چه و هلی رګ نه وینه داریږی په یخنئی کښے دا سے سخته خوله را تلل غیر اختیاری ده چل ول په د کښے نشی کیدے اُس دا ښکاره خبره چه دا سے تاثیر په انسانی کلام کښے نشی کیدے معلومه شوه چه دا د حضور علیه السلام خپل کلام نه وو، بلکه الٰهی دے :۔

**دروند والے او بوجه** کلام د الفاظو نه جوړ وی په هغے کښے درونه والے او بوجه نه ګمان شی ځکه چه دا خو په اجسامو کښے خاص وی او قرآن خو الفاظ وی جسم خو نه وی بیا هم په حضور علیه السلام به چه قرآن نازلیدو نو د هغوی په شخصیت کښے به د معجزے په ډول دروند والے او بوجه پیدا کیده او لګ هم بلکه ډیر زیات :۔

بخاری شریف کښے زید بن ثابت رضی الله عنه نقل کوی :۔

کَادَتْ فَخِذِیْ اَنْ تَرُضَّ ترجمه : قریبه وه چه زما د پتون هډوکے د بوجهٔ د زوره چوره چوره شوے وے :

د سورۃ مزمل په تفسیر کښے مستدرک حاکم د صدیقے رضی الله عنها نه نقل کوی، چه حضور علیه السلام په سفر کښ په اُوښه سور روان وو، چه وحی قرآنی نازله شوه، هغه اُوښه د وحی قرآنی د بوجهٔ د زوره کیناسته، دا ښکاره خبره ده چه په زید بن ثابت رضی الله عنه او په اُوښه دا ډول اثر نه د وحی را تلو نه وړاندے او نه وروستو چرے شوے وو، دا صرف د قرآنی نزول اثر وو چه دا په قرآن کښے هم ذکر دے :۔

اِنَّا سَنُلْقِیْ عَلَیْكَ قَوْلًا ثَقِیْلًا ○ اے پیغمبره علیه السلام مونږ به تا باندے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بو درُوند قول د دوا چَوو :-

هر کله چه دا خیر قرآن او حدیث کښے را غلو عامو خلقو اُکتلو کچرے دا تاثیر دوا قعاتو نه خلاف وے نو دَ قرآن مخالفینو کفارو به خا مخا دا اعتراض او انکار دوا به کړے وے، هر کله چه هغوی دا سے اُ نه کړه، نو دا دلیل شو ودے خبرے چه دا تاثیر واقعی په تواتر سره ثابت دے، دا تاثیر صرف قرآن سره تړلے نه دے بلکه دَ هغے قرآن سره چه دَ جبرائیل علیه السلام په واسطه نازل دے نو دا سے شوه، لکه چه دَ وخت دنا زلیدو او دَ جبرائیل علیه السلام دفعل او عمل هم په دے کښے داخل وی دا دَ قرآن دَ تاثیر معجزه ده چه بل انسانی کلام کښے نشته:

## ۲- دقرآن شخصیتی قلبی تاثیر

دَ صاحبِ قرآن حضور علیه السلام په زړه مُبارک باندے دقرآن دا اثر وو چه دَ حضور علیه السلام په فرمائش حضرت عبد الله بن مسعود رض ددوی په وړاندے قرآن شریف تلاوت کړو، نو خلقو اُکتل چه دَ هغوی دَ سترګو مبارکو نه بے اختیاره اُوښکے جاری وے۔ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ

(۲) مطرف بن عبد الله بن شخیر رض نه نقل دے، هغه وائی چه دَ شپے په تهجد کښے حضور علیه السلام یو ائے دَ هیڅوک هم نه وو) قرآن لوستلو څه په لاړه تیر یدم نو دَ حضور علیه السلام دَ ژړا په وجه دَ هغوی سینے مبارکے دا سے جوش و هلو لکه په دیچکی کښے ویشیدلے اُوبه چه جوش وهی۔ فَلِجَوْفِهِ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ الْمِرْجَلِ : بنه ! جرے دَ چل ول دَ خبرو نه چلوَلی سړی یخپله دَ شپے په تیرے کښے په یو ائے، دا سے اثر کیدے سی، دا تاثیر خو دَ کلامِ الٰهی کیدے شی۔

## ۳- تاثیر قالبی

په وینا کښے دومره تکلیف نه وی خومره چه په عمل کولو کښے وی دَ



چل وَل خبرے یو ائے دَ خلقو شودلو دَ پاره وی چلوَلی سړے یخپله نل ترنله دپه دَوُ لکے عمل پرِ نشی کولے ترڅو چه هغه کلامِ الٰهی اُ نه ګڼړی او دَ هغے مضامین حق اُ نه ګڼړی لیکن دحُضور علیه السلام په قالب او بدن مبارک باندے دَ قرآنی احکامو څه اثر به کیدو؟ کوم وخت چه دا آیت نازل شو:-

فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ : سورة الانشراح آیة ۷-۸ اے پیغمبره علیه السلام ته چه څه وخت دَ ضروری کارنه فارغ شے نو خپل ځان دالله تعالےٰ په عبادت کښے ستړے کړه، او الله طرف ته توجه شه دے نه پس حضرت صدیقه رض فرمائی چه هغوی به ټوله شپه عبادت کولو تردے حده چه (تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ) د هغوی قدامونه مبارک به اُ پړسیدل

(۲) بخاری شریف کښے دی چه دَ صدیقے رض نه د حضور علیه السلام دا خلاق په باره کښے تپوس اُ شو نو هغوی اُ فرمائیل چه پوره قرآن د هغوی اخلاق وو، لکه څنګه چه هڅوک خپل عادتونه او اخلاق نشی پریښودے دغه شان دحضور علیه السلام اخلاق او عادات قرآنی احکام جوړ شوی وو، څه به قرآن کښے وُو هم هغه دَ هغوی په عمل کښے موجود وو، بنه! چرے به یو انسان دخپل چل وَل دکتاب په دے دول تابع، جسمانی او عملی تاثیر کیدے شی؟ کچرے نشی کیدے نو دا دَ لیل ددے خبرے دے چه قرآن کلامِ الٰهی دے او یخپله حضور علیه السلام په دے دکلامِ الٰهی په حیثیت دټولو نه زیات عمل کوونکے وو:-

## دَ قرآن سیاسی اعجاز

قرآن عربو کښے نازل شوا و ددی دَ ټولو قومونو نه کمزوری بے علمه او بے هنره وُو، د سیاسی غلبے حاصلولو هیڅ ذرائع ددی سره نه وُو، څکه چه سیاسی غلبے او اقتدار حاصلولو دَ پاره اوّل دا فرا دو زیاتوالے ضروری دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودوی کنزنه وو۔ عرب به په هغه وخت کښې صرف سعودی عرب
او یمن ته ویلې شو، عراق، شام، فلسطین، اردن، لبنان، بیروت
مصر او شمالی افریقه دا عرب ملکونه نه وو، خو د اسلامی فتوحاتو
نه پس عرب ملکونه جوړ شو، (۲) دویم خیز تعلیم دے او عرب د امیانو،
یعنې د نالوستو ملک وو، (۳) دریم خیز اتفاق او یو والے وو، لیکن د عربو هره
قبیله د بلې دشمنه وه تر دے چه د مدینې منورے دا انصارو دوه مشهور
قبیلې اوس او خزرج یو د بل دشمنان وو، (۴) څلورم خیز کاریګری
ده او په عربو کښې نه کارخانه وه او نه کاریګری د تورے او د معمولی
پوشاک دپاره هم هغوی د هندوستان او د شام د عیسائیانو محتاج وو،
(۵) پنځم خیز زراعت او غذائی کفالت دے، او د کجورو نه بغیر هغوی
د نورو توموتو محتاج وو، ځکه چه د هغوی وطن د کروندے جوګه نه وو
چنانچه قرآن هغې ته وئیلې "وَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ" او ویلې۔
(۶) شپږم خیز معدنی دولت دے او په دغه وخت په عربو کښې یو معدنی
دولت هم نه وو، اوس چه مونږ څه کورو هغه د اوسنۍ زمانې پیداوار دے۔
(۷) اووم جسمانی قوت دے، او دا هم په دوی کښې ځکه نه وو چه دغه
ملک ډیر ګرم دے ضروری غذا او دی ته حاصله نه وه، د اوبو هم کموت
وو د یخنۍ او ګرمۍ نه ځان ساتلو د پاره دوی سره کوډونه وو نه پاتو
خلقو به په تنبوانو کښې ګذاره کوله او د علاج څه انتظام هم ورسره
وو، (۸) اتم خیز روحانی او اخلاقی قوت دے چه د توحید اعلی او پاکیزه
تصور نه پیدا کیږی، لیکن د عربو خلقو به د کاڼړو یا د کاڼړو نه جوړ
بتانو عبادت کولو،
په دے حالاتو کښې قرآن په عربو کښې ښکاره او عربو ته لوی په جمع
دے رنړا د ووړ کولو ښه زور اکلولو دوه نیم کالونه زیات وخت



قرآن د آزادا شاعت (خورولو) دپاره وخت نه وو موندلے شوے،
لیکن دے لږه موده کښې قرآن عربو لره د کوم ځائے نه تر کوم ځائے
اورسول دے اندازه د قرآن نه ورا ندے او د قرآن نه وروستو د عربو
د نسبت کولو نه معلومیدے شی عرب قبل القرآن هغه وو چه د کوم
مونږ ذکر اوکړو او عرب بعد القرآن دا سے یو قوم جوړ شو چه په تنظیم
اتحاد، اخلاق، بلند خیالئ، اولوالعزمئ، ایثار، قربانئ، خداپرستئ
شجاعت، سخاوت، عفت، پاکدامنئ رحم او شفقت، عقل و تدبیر،
جهانبانئ، جهانګیرئ، دیانت، امانت، صدق او راستئ، د وعدے پوره
کولو او په عدل وانصاف کښې د دوی یو قوم هم سیال نه وو، بلکه د بشریت
پټول تاریخ د دوی د مثال پیش کولو نه تش تور دے هم دغه وجه ده چه
دتیر شوو اته کمزورو سره هم هغوی د مشرق او مغرب دوه لویو
متمدنو او بے اندازے سامان نه ډک یک باد شاهو (قیصرا و کسری)
په یو وخت ټکر اوهله او په ډیر لږ وخت کښې هغوی تار په تار کړو
د هغوی دوړے والو ځولے او د هغوی لوټ او تخت و تاج ئے تس نس
کړل۔
اوس سوال دا دے چه دا سیاسی غلبه عربو ته په کومه وجه حاصله
شوه، چه د ووږ د هغې طوفانی چپې په مشرق کښې کاشغر او دیوار چین
سره ورا اوښید ے او په مغرب کښې مراکش او فرانس پورے؟
د دے جواب دا دے چه سیاسی اقتدار او غلبې حاصلولو دپاره دوه
قسمه اسباب کیدے شی، (۱) یو مادی (۲) او دویم روحانی او غیبی،
۸ اوس ذکر شو چه مادی هیڅ اسباب عربو سره نه وو، بلکه د عربو د
دشمنانو او حریفانو سره وو، کچرے په مادی اسبابو د غلبې فیصله
کولے نو عرب به د مچ د ځکے نه قطعًا ورک وو او نتیجه به اړولے،

(په عکس) وه، نو معلومه شوه چه دا هرڅه په هغه غیبي او روحاني طاقت چه کوم عربو ته د قرآن او صاحب قرآن علیه الصلوٰة والسّلام د برکته نصیب شوے وو، اُس ښکاره خبره ده چه دا سې معجزانه طاقت د کتاب الٰهی د طاقت نه بغیر ممکن نه دے هم دے نه معلومه شوه چه قرآن کلامِ الٰهی دے او په کوم پاک ذات چه دا نازل شو هغه د ټولو نه زیات کامل او خاتم النبیّین ذات وو د مسلمانانو اُوسنی زوال باعث هم دا دے چه دوی د اسلام او د قرآن په هدایاتو عمل پریښے دے ورنه دے دواړو اُس هغه طاقت د چه کوم وو۔ د قرآن دا نسخه د ذروکالونه هر زیات وخت از میبت شوے او تجربه شوے ده، وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَاهُوَ شِفَآءٌ۔[1] قُلْ هُوَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هُدًی وَّ شِفَآءٌ[2] لیکن په کاغذ لیکلے شوے او په خولے ویلے شوے بهترینه نسخه تر هغے اثر نشی کولے ترڅو چه په هغے عمل اُونشی دیورپ مستشرقین دا راز ښه پیژنی چه که چرے مسلمانانو اسلام او قرآن ته رجوع اُوکړه نو نوی کمیدیه، مسلمانان په یوځاے شی په یو مرکز کښے به راشی د هغوی خواره واره طاقتونه او د ترقئ دراتلو به یو موټے شی او د دُنیا په وهیے بربر طاقت به جوړ شی او څومره دلاس نه به د هغه ښکاراُ ځی، نو ځکه څه موده راسې هغوی مسلمانانو لره د قرآن او اسلام نه د بیرته کولو کوششونه شروع کړی دی، او دا وائی چه د مسلمانانو زوال د قرآن او د اسلام په وجه دے او دا هم وائی کچرے مسلمانانو د مغرب هغه گندا او خُدائے ویزاره تهذیب اختیار کړو نو دوی به ترقی اُوکړی او همدا وجه ده چه په اسلامی ملکونو کښے زوړ او نوے جنگ جاری دے او ورځ تر ورځے به مسلمانانو کښے انتشار او مرکزونه تبتیدو نکی جذبات پائلم موجی۔ مونږ به خپلو ×

---

[1] سورۂ بنی اسرائیل آیة ۸۲ [2] سورۂ حٰم السجدۃ آیۃ ۴۴



دوو کتابونو ترقی او اسلام؟ اشتراکیت او اسلام کښے دا مسئلۂ پوره حل کړے ده چه د هغے روح دوه خبره دی هغه دا چه د یورپ کاریگری، هنر او علم یو څیز دے او د هغه طرزِ ژوند، معاشرت او تهذیب بل څیز دے، اوّل څه دا سلام دے چه یورپ پرِ قبضه کړ بیدا کا، یعنے یو د هغوی صنعتکاری چه هغه وا خلی او دوم د هغوی گنهکاری ده چه پریږدی په دے د زور تعلیریافته ... اعتراض نشته ځکه چه هغه اسلام سره نخپله فِټ دے د فِټ کولو ضرورت ئے نشته دلائل ځما په نورو کتابونو کښی شته او د یورپ تهذیب گنهکاریانے پریږدی چه هغه د اسلام او ترقئ دواړو نه خلاف او نخپله یورپ د هغے په وجه د تنزُّل ښکار دے او د ځنکدن په حالت کښے دے، دا سې څومره خانه جنگی ختمیدے شی، د نوی او زور تعلیم دواړه وزرے د ترقئ د پرواز د پاره ضروری دی دواړه د لے یو ځائے کړی جنگوئ ئے مه۔ ۱۰

## ۴- غذائی اعجاز

انسان د جسم او روح نه جوړ دے دا دواړه په دے بدلیدونکی او خرابیدونکی جهان کښے آباد دی، ځکه په دوی کښے هم بدالی او خرابے راځی، نو ترڅو چه دے دواړو د پاره د غذا انتظام نه وی نو د دوی باقی پاتے کیدل ناممکن دی په دے وجه قدرت د جسم او بدن د بقا د پاره د غذا انتظام کړے دے، چه دے د ختمیدو نه بچ شی او د دے د پیدا کولو نه چه کوم فائده اخستل مطلب وو هغه هم پوره شی او دے کښے څه نقصان را نشی او د روح د غذا د پاره ئے هم په دے غرض انتظام کړے دے چه دے هم ژوندے پاتے شی او د دے د پیدا کُش مقصد پوره شی، قدرت د انسانی بدن د غذا د اسې لوئے انتظام کړے دے چه د زمکے نه واخله تر آسمانه او تر نمر او سپوږمئ پورے د ده د غذا په

په تیاری کښې لګیا دی مثلاً د بدن غذا (ډوډۍ) د پاره ځمکه غنم را اوچوکوی او به او هوا هغه شنه او تازه ساتی دستورو په کشش هغه دانه نیسی او غټیږی. نمر د سمندر نه براس او چت کړی پورته وریځ شی او د هغې نه باران په شکل کښې د اوبو انتظام اوکړی او بخیلے ګرمئ هغه د غنمو دانے پخوی، باد و نه بوس او غنم جدا کولو کښې مدد کوی شپه ورځ پوبل پسے لګیدلی دی نو دے کښې اعتدال پیدا کوی مطلب دا چه ټوله کارخانه د جهان په عنمو جوړه ولو کښې لګیا ده چه انسانی بدن له د خوراک تیار کړی حالانکه د روح نه د بدن قیمت او قدر ډیر لګ او لاندے دے چرته لاندے او کمزوری جز د پاره دومره لوئے او وسیع انتظام د قدرت د طرفه موجود دے نو دا خو هیچرے نشی کیدے چه د روح د غذا د پاره د څه انتظام نه وی دا خو نه عمل منی او نه ئے حکمت خو بیلتون صرف دومره دے چه بدن د ځمکے شے دے د دے غذا سامان هم د ځمکے نه اوشو او روح آسمانی او امر ربی دے له دے وجے د دے غذا هم د غه ځائے نه پکار ده:-

## د روح آسمانی غذا

د روح د ژوند د پاره قدرت یو روحانی غذا تجویز کړے ده خو هغه داسے ده چه څوک د هغې کیفیت او مقدار نشی بنودلے ځکه چه د روح په دے کښې الله تعالے سره مشابهت او مناسبت دے نو د دے د پاره به غذا هم داسے پکار وی چه دالله ذات سره تړون لری، بلکه د هغه صفت وی دالله د غه صفت صرف هم د هغه کلام کیدے شی چه روح انسانی ته منتقل شی او د دے ژوند دے اوساتلے شی نو د کلام الهٰی او وحی ربانی نه بغیر د انسانی روح ژوند ناممکن دے. لکه ځنګه چه د جسمانی غذا نه بغیر د جسم ژوند ناممکن دے:-



## د روحانی ژوند معیار

د روح اصلی ژوند او مرګ هم هغه معیار لری کوم چه یو انسانی اندام لری دا فیصله به د غذا په مقرر معیار موقوف وی چه واقعی کلام الهٰی یا قرآن الهٰی روحانی غذا ده که نه؟

## د غذائیت معیار

د غذائیت معیار دوه څیزونه دی (۱) طبعی میلان (۲) ترقی او نشونما. (۱) مثلاً ډوډۍ او غوښه جسمانی غذا ده او اوسپنه او لرګے جسمانی غذا نشی کیدے د دوا په منبع کښې بنکاره بیلتون داسے دے چه ډوډۍ او غوښه خوړل د انسان طبیعت غواړی او دائے طبیعت نه غواړی چه د اوسپنے او لرګی بوره جوړه کړی او دے خوری:

(۲) دویم معیار دا دے چه ډوډۍ او غوښے خوراک سره بدن غټیږی او ترقی کوی مګر اوسپنے او لرګی خوراک سره داسے نه بلکه نقصان کیږی، د غه رنګ قرآن هم طبیعت غواړی، ځکه خو په لکهونو حافظان د بیر عمر لګیا وی قرآن یاد کړی او بیا د هغې د ساتلو د پاره تر مرګه پوره عمر هغې دورونه او تکرارونه کوی. د دے قرآن د علم او عمل سره په روح کښې داسے اصلی (حقیقی) ژوند پیدا کیږی چه بیا یو مړے خلق په زرګونو ژوندی خلقو برکیدے شی لکه موږه سیاسی اعجاز" کښې چه بیان کړه کیږی روح ته قرآنی غذا ور نکړے شی نو روحانی ژوند داسے ختمیږی، لکه چه ځنګه بدنی ژوند د بدنی غذا نه موندلو په وجه ختمیږی:-

## د روح مرګ او ژوند

د هر څیز ژوند د هغه د پیدا کولو د مقصد نه معلومیږی:-

(۱) د سترګے پیدا کولو مقصد لیدل، او د غوږ پیدا کولو مقصد آوریدل دی سترګه چه لیدل نشی کولے او غوږ چه آوریدلے نشی نو دا د دوی مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے دغه شان د رُوح پیدا کول د "معرفتِ الٰهی" دپاره دی ځو ځکه چه دا مقصد حاصلیږی نو روح ژوندے گوندی مړ دے:-

(۲) دا الله په معرفت او د الله په تعلّق سره روح کښے یو لوئے دا سے طاقت را شی، چه د هغے مقابله د دغ قُوت نه خالی روحونه نشی کولے اُس د دے طاقت نوم رُوحانی ژوند او د دے نیشتوالے رُوحانی مرګ دے، دا سے ژوند قُرآنِ حکیم په دے الفاظو بیانوی:

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِیْبُوْا لِلّٰهِ ؛ اے مؤمنانو تاسو د الله او رسول حکم وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا یُحْیِیْكُمْ ط: اُمنئ هغوی تاسو دا سے خیز ته سورة الانفال-آیة ۲۳ ؛ دا بلی کوم چه تاسو ته ژوند درکوی،

دے نه معلومه شوه چه رُوحانی ژوند د جسمانی ژوند نه اعلیٰ او زیات اوچت دے د دے رُوحانی ژوند په برکت او طاقت سره صحابه کرامو د خپل نه خوچند ه زیات لښکرو ته ماتے ورکړه سره د دے چه هغوی سره به هیڅ سامان نه وو او حیرانتیا دا سے کار نامے به ئی اوکړے چه صرف د جسمانی ژوند خاوندانو به نشوے کولے دا ژوند هغوی ته د قُرآن او اسلام نه حاصل وو، د ابن جریر طبری په تفسیر کښے.

وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ ط د سورة آل عمران آیة ۱۰۳ :-

د حضرت ابو قتاده وضاحت دا سے بیان شوے کړدائے ترجمه) چه" د عربو خلق ډیر ذلیل خوار او د ټولو نه زیات ګمراه وُو هغوی سره نه خوراك او نه پوشاك وو هغوی د رُوم او فارس غوندے د دُوو زمرو په مینځ کښے نړلی وو دوی سره د پخخید و هیڅ خیز نه وو، هغوی د خوراك نه محروم وو، نو د وګوانډی خلقو به هغوی خوړل تر دے چه اسلام راغے اسلام ور نه یو کتاب (قُرآن) ورکړو چه هغه دوی لره د قومونو سرداران او حاکمان جوړ کړل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قُرآن رُوحانی غِذا ده

د غذا دپاره مونږ و یاناے دوه معیاره بیان کړی دی (۱) د طبیعت میلان (۲) او ترقی (۱) قرآن طرف ته د ماتے خود احال دے چه د نړئ بل یو کتاب دومره نشی لوستے خومره چه دالو ستلے کیږی نړئ کښے د هیڅ کتاب دومره حافظان نشته خومره چه د قرآن دی، حالانکه دے غریبانو حافظانو ته نه د مسلمانانو له طرفه څه عوضانه ورکولے شی نه د قوم یا حکومت له طرفه او یا خود قرآن ژبه هم غیر عربو دپاره اُپرا ده چه د مجبورئ نه بغیر هغے ته طبیعت نه ورځی، هم د دے نه معلومیږی چه قرآن رُوحانی غذا ده ځکه خو د دے پټولو مشکلا تو با وجود دے ته د طبیعت میلان شته :

(۲) دویمه خبره دا ده چه غذا خوړونکی ته د غذا نه ترقی او طاقت حاصلیږی نو د قرآن تاریخ هم دا ښائی چه د قرآن په برکت کمزوری انسانان طاقتور شول، بے اخلاقه با اخلاقه شول، لاندے خلق بره او ناپاك خلق پاك شول، د دے نه پس د هیچا هم په دے کښ شك نه پاتے کیږی، چه قرآن آسمانی غِذا ده چه د رُوح دپاره د آسمان نه نازله شوے ده او قُرآن باندے یقین لرونکو ته هم دے قرآن هغه عظمت او شان ورکړو چه د هغے مثال په انسانی تاریخ کښے نشی موندے او دا شان یواځے د کلامِ الٰهی کیدے شی

### (۶) دلیل نظامی

قُرآن حکیم د انسانی ژوند دپاره داسے نظام قائم کړے دے چه د هغې نه خپله دا یقین پیدا کیږی چه دا د خالقِ انسان له طرفه دے دا انسان جوړ شوے نه دے ځکه چه دا انسانی ژوند را زونه او رمزونه صرف خالقِ حیات پیژنی نه چه بل څوك انسان چه کله هم د دے لارے نه واوریدو او په یو انسانی لائحه حیات باندے د تګ کوشش اوکړو نو هغه ته امن او آرام نصیب نشو د قُرآن نظام حیات دومره کامل او د

ژوند په ټولو اړخونو باندے خور دے چه کچرے دَ هغے تفصیل بیان شي نو د یرغټ کتاب به ترجوړ شي لهٰذا مونږ د قرآن د صداقت په غرض یو څو بنیادی اُصول پیش کوُو۔

(۱) دانسان تعلق دَ خالق کائنات سره (۲) دانسان تعلق د خپلو هم جنسو انسانانو سره۔

(۳) دَ انسان تعلق د ټول عالم دَ کائناتو سره۔

(۴) دانسان دَ ژوند مقصد۔

(۵) دانسان دَ ژوند اخیری پوړۍ۔

(۱) لومړے اصول ـــ دَ انسان تعلق خالق کائنات سره۔

خالق کائنات دَ انسانی ژوند مرکز دے، دانسان ژوند، د هغے د ضروریاتو دژوند دَ ظاهری او باطنی فائدا خری فیصله دَ خالق کائنات مرضئ سره تړلے ده دَ خپل مرکز حیات نه دَ انسان جُدا کیدل د هغه مرګ دے او دَ هغې سره یوځائے کیدل دَ ده حقیقی ژوند دے لهٰذا دَ انسان لومړئ ذمه واری دا ده چه هغه دَ خالق کائنات په دړاندے په دے حیثیت (شان) یقین اُلری۔ دانسان دے حیثیت ښکاره کولو دپاره قرآن لوُمړے ارشاد اُفرمائیلو۔

خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ (سورهٔ ملك آیة ۲) یعنے خالق کائنات دانسان د مرګ او ژوند خالق دے۔ بیائے اعلان اُکړو۔

وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ (سورهٔ النحل آیة ۵۳) انسان ته ټول حاصل نعمتونه د خالق کائنات بخشش دے، بیائے ارشاد اُفرمائیلو چه انسان خپل کوشش سره چه کوم شیزونه حاصلوی د هغے آخری فیصله هم د قدرت په لاس کښے ده انسان له ښخپل کوشش نیاز بدل نه دی بکار۔

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ (سورهٔ التکویر آیة ۲۹) ستاسو خوښه



(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ الله دَ خوښے تابع ده

قرآن دَ سید الکائنات دَ خولے مبارکے نه دا اعلان اُکړو۔

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِیْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا (اعلان اُکړه چه څه دَ خپل ځان دَ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ (سورهٔ اعراف آیة ۱۸۸) پاره هم د سود او زیان اختیار نه لرم تر څو چه دَ الله خوښه دا فیصله اُنکړی۔

دد ے خیالاتو لازمی نتیجه به دا وی چه (۱) رب العلمین سره به دَ انسان د محبت یو مضبوطه رشته پیدا شي. چه کله هُم نشلیږی۔

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ (د ټولو نه زیات محبت دَ الله سره دَ ایمان سورهٔ البقرة آیة ۱۶۵) او یقین دَ خاوندانو وی هم دد ے محبت دا اثر وی چه دَ هغه فکری او عملی ژوند دا لله سره اُتړلے شي او دَ هغه ظاهر او باطن دَ الله په مخکښے سر ښکته شي، دَ هغه ظاهر او باطن دَ الله په یادونو بادشي او په کائناتو دَ هغه نظر دا سے وی چه هغه دا دَ جمال د محبوب صرف یو آئینه ګنړی۔ هغوی په ولاړه په ناستے او په ملاستے یَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِیٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّ (الله یادوی او په دے خیال او فکر په عَلٰی جُنُوْبِهِمْ وَیَتَفَكَّرُوْنَ فِیْ خَلْقِ (آسمانونو او زمکے نظر اچوی چه اے السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ (دَ عالم خالقه تا دا عالم بے مقصده نه هٰذَا بَاطِلًا (سورهٔ آل عمران آیة ۱۹۱) دے پیدا کړے۔

او د اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ه (په تصور کښے دے د دین دُنیا دَ کامیابو چشمه رب العلمین ګنړی او اعتقادی، قولی او عملی عبادت صرف دَ هغه کوی، او دَ خپلو منډو ترړو نه پس د دین دُنیا دَ خپلو مشکلاتو دَ حل دَ پاره هم دَ هغه مدد غواړی هغه خپله رضا دَ الله په رضا کښے ورکه کړی او دَ الله تعالیٰ په اَمر، نهی باندے عمل کول یعنے دَ هغه د حکمونو تعمیل د خپل ژوند ضروری حصه جوړ وی، قرآن نه چه څا فائده (فیض)

حاصل کړې ده. قرآن پخپله ددغوی حال پخپلو دې الفاظو کښې بیا نوی
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ: الله ستاسو په زړونو کښې د ایمان مینه
فِیْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ: واچوله او ستاسو په زړونو کښې ورته
وَالْعِصْيَانَ ط اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ: نفرت واچولو او ستاسو په زړونو کښې د کفر،
ګناه او نافرمانۍ کرکه واچوله هم خلق په سمه لاره دی (سورهٔ حجرات آیة ۷)
دا هم هغه څیز دے چه په دے د خالق کائنات او د مرکز حیات سره
تړون پیدا کیږی، او دا تړون بیا هغه څیز دے چه هغې سره د انسان زړه
او دماغ ته تسلی او آرام نصیب کیږی او د بتولو دُنیوی پریشانو خاتمه اُشی
اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ط (الرعد آیة ۲۸) صرف د الله په یاد زړونو ته
اطمینان حاصلیږی

## دویم اُصول، د انسان د نورو انسانانو سره تعلق

د انسان ژوند په تمدن او اجتماعیت بنا دے یعنې په ګډه وخت تیرولے شی
بیا هُم ځکه د خپل ژوند ضروریات د نورو انسانانو په مدد حاصلوی،
حجامت د پاره د نائی ضرورت مند وی، جامو د پاره د جولا، د لوښو د پاره
د کولال، د مکان جوړولو د پاره د ګلکار او علاج د پاره د طبیب او ډاکټر محتاج
وی دا رنګ د بے شمیره نورو ضرورتونو د پاره د بے شمیره نورو انسانانو
محتاج وی، تر څو چه د ده د نورو انسانانو سره تعلق نه وی نو هغه ژوند
نشی تیرولے نو ضروری شوه، چه د انسانانو په مینځ کښې تعلق د پاره د
داسے بنیاد اصول وی چه انسان په هغې د اجتماعی ژوند فائدے
حاصلولے شی. قرآن حکیم د حقوق انسانی متعلق داسے بنکاره احکام او
جامع هدایات ورکړی دی چه په هغې عمل کولو سره د انسان د ګډ
ژوند د بډ خوشحاله او پُر امن جوړیدے شی د تفصیلاتو ګنجائش ۸
نشته کښې د انسان د ګډ ژوند د پاره بنیادی اصول قرآن


(c) ketabton.com: The Digital Library

قائم کړی دی، (۱) د بشریت د یووالی اعتقاد یعنی د رنګ، نسل او وطن
د اختلاف باوجود ټول انسانی قومونه د یو پلار مثال لری لهذا یو انسان
د ټولو انسانانو سره هم هغه سلوک کوی کوم چه هغه د خپل ورور
(خاندان) سره کوی، ځکه چه ټول انسان د یو مور پلار یعنی د آدم علیه
السلام او د حوا اَیّ اولاد دی،
(ب) رنګ، نسل او د ملک اختلاف صرف د پیژندګلنی د پاره دے د جنګ
جګړو یا ذکر کے د پاره نه دے.

## دریم اُصول، د انسان د کائنات عالم سره تعلق

د انسان تعلق د کائناتو سره د خادم او د مخدوم په حیث دے کل کائنات د
انسان په خدمت کښې لګیا دی انسان ته معلومه دی او که نه خو سفلی
عناصر ټول یعنی زمکه، باد، اوبه او اور، د زمکے آسمان مینځ کښې وریځ
او باران او برنی نمر، سپوږمۍ او ستوری دا ټول په خپل خپل ځائے
د انسان په خدمت کښې لګیا دی او د دی د ژوند ضروریاتو تیارولو کښې
لګیا دی همدغه حال د ځناورو، اُونو بوټو او د معدنیاتو دے چه د هر یو
د فائد و تحقیق یو مستقل علم دے د دے حقیقت قرآن حکیم په دے
الفاظو کښې اعلان کړے دے:-
خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ط اے انسانانو د زمکے او د آسمان ټول څیزونه
سورهٔ البقرة آیة ۲۹ (ستا د فائدے د پاره پیدا دی)
وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ط او لګیا کړی دی ستا سو د فائدے
سورهٔ الجاثیة آیة ۱۳ د پاره د زمکے او آسمانونو ټول څیزونه د کائناتو
دے تعلق معلومیدو سره په انسان باندے څو حقیقتونه پرانستے شی
(۱) د دے جهان ټول برنی او لاندینی څیزونو کښې د انسان فائدے دی
انسان له بکار دی چه د الله تعالیٰ د دے نه د انسان په زړه کښې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کائناتو د حاکمیت او د هغې د قابو کولو جذبه پیدا کیږي، د انسان او
د کائناتو په مینځ کښې د فائدې وړ کولو او د فائدې اخستلو تړون.
قائمیږي انسان دې ته د فائدې اخستلو کوشش نه کوي، او د علوم کوبه
په ذریعه په دې فائدو قابو مومي او د دې فائدو د تخلیق حکمت پوره کوي
(ب) دویمه نتیجه د عالمي تعلق به دا وي، چه انسان به ځان حاکم او
مخدوم او ټول کائنات به محکوم او خادمان ګڼړي لهذا هغه به دا ټولې
دنیوي فائدې د انساني شرف خادم، محکوم او تابع جوړې وي او شرف انساني
به د دوي خادم محکوم یا تابع نه جوړوي او دې به په دې نظریه عمل کوونکې وي
(جہان ہے تیرے لئے، تو نہیں جہان کے لئے) جهان تا د پاره دې نه جهان د پاره
نه یې بلکه د خالق جهان د پاره یې په دې بنا به هغه دنیا د انساني شرف د تکمیل
ذریعه جوړه وي انساني شرف به په دنیا نه قربانوي هغه به زر، مال
حاکم وي د هغې بنده او غلام به نه وي په دې اصولو به د هغه خودي
نوره هم لوړه شي هغه به د خپل روحاني شخصیت د لوړې اقراري شي
او د دنیا د ذلیلو غرضونو د پاره به په انساني شرف باندې داغ نه لګوي.
(ج) د کائناتِ عالم د قابو کولو او د هغې د خادمیت یو نتیجه به دا هم
وي، چه انسان به د شرک نه بچ شي خپل ځان به اشرف المخلوقات او
نور ټول مخلوقات به خپل خادمان ګڼړي هغه به د عبادت لائق نه
ګڼړي ځکه چه مخدوم کله هم د خادم عبادت نکوي او نه د هغه نه
مرادونه غواړي هم د دغه وجه ده چه قرآن د هغه انسانانو په باره
کښې فرمائي کوم چه د آسمان یا د ځمکې څیزونه معبودان جوړ کړي دي:-
وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ : چا چه د مخلوق عبادت اوکړو نو داسې
السَّمَاءِ : سورة حج آیة ۳۱ : شوه چه هغه د انساني شرف د آسمان
نه ځان را ګوذار کړو.



او هم د دې تعلق اثر به وي چه انسان به د مخلوق د عبادت نه بیزاره
صرف د خالق کائنات عبادت ګذار شي، او هم دا د قرآني تعلیم نتیجه ده

## ۴- څلورم اصول، د انسان د ژوند مقصد

د انساني ژوندګۍ څلورم بنیادي اصول دا دی چه انسان د خپل ژوند د
مقصد معین کولو غوښتنه پرانیځي د ټولو نه ضروري علم دا دې چه انسان
ته د خپل ژوند مقصد معلوم وي او دا په اعلیٰ وي، لکه څنګه چه
انسان د ټولو مخلوقاتو نه برتر او اشرف دې، نو د هغه مقصد حیات
هم داسې برتر او اشرف وي چه په هغې کښې د سره بل یو مخلوق
هم نه وي برابر - د غوا، میښې او بزې مقصد پئ دي په کومه کښې چه
پئ ډیروي او ښه وي نو هغه به زیاته قیمتي وي بزې نه غوا او
غوا نه میښه زیاته قیمتي ده د خر نه آس ځکه زیات قیمتي دې چه
د خر نه د هغه مقصد اوچت دې په دې خبره کښې انسان فکر
اوکړو نو ثابته به شي، چه د انسان نه بغیر ټول مخلوقات د انسان د پاره
دي انسان به دې نه خدمت او فائده اخلي اوس د غور خو کړه دا خبره
ده چه د انسان د ژوند څه مقصد دې. او د دې سوال حل کول د
انسان د ټولو نه لومړۍ ذمه واري ده
دا خو کیدې نشي چه معمولي څیزونه خو د مقصدیت نه خالي نه دي
د انسان غوندې د ټولو نه د لوئ هستۍ پیدا کول دې بې مطلبه وي؟
ځکه چه د خالق کائنات په حکیمي به داغ اګلي نو بنا په دې د انسان د
پیدا کولو مقصد ډیر غټ دې لکه څنګه چه انسان پخپله لوغټه هستي
ده. د ماده پرستانو په خیال کښې خو د غه مقصد صرف خوندونه
اخستل دي د خوراک خوندونه او که د عزت به د حکومت، لکه چه خبر
(خوراک) خو د انسان د ژوند مقصد څکه نشي جوړیدې چه بعضې

څناورلکه میښراو، هاتی د انسان نه ډیر زیات خوراک کوی او دهٔ له خوند هم زیات ورکوی، ځکه ډیر خوراک کښې خوند هم ډیر وی. لکه څنګه چه یوکس دوه آمونه خوری او بل کس شل آمونه اُخوری نو دے دویم کس له به خوند هم زیات ورکوی، دا وئیل ځکه غلط دی چه د میښے او هاتی نه د انسان خوراک بند دے هاتی او میښه وا بنه گیا خوری او انسان پولاؤ او چرګان ا ځکه چه د هاتی او میښے د پاره دغه وا بنه گیا پولاؤ او چرګان دی، د وی ته دا څیزونه زیات خوند ورکوی اُس دویم څیز (رُتبه، عزت) د امام غزالی رحمه الله تعالےٰ د وینامطابق وَهی څیزونه دی ځکه چه عزت او رتبه د مال د پاره ده او مال هم د خوراک د پاره خو فرق صرف د واسطے دے وړاندے هم مقصد خوراک وو بلا واسطه او اُس هم مقصد خوراک دے خو بالواسطه :-

د غه نیکبخت درییم څیز (حکومت) هم یُو مستقل مقصد، ځکه نه دے چه د ا د مال او رُتبے د پاره او مال ورُتبه د خُوراک د پاره مطلوب دی لکه څنګه چه وړاندے ذکر شو، خوراک ئخه مقصد نه دے، بلکه دا چه د انسان حکومت د کُوشش او د تکلیف دے، مال پرِ خرځ کیږی منتہا نے کړے، پکښے وهلے شی شرو نساد پکښے کیږی، د و ئتونه د هغه د پاره بکاروی حکومت آد رپیدل پکښے راځی، مطلب دا چه د دغو نو خطرونه انسانی حکومت ډک وی په دے کښے خو دده ځیا ذمرے بنه دے چه د هغه حکومت فدرق دے ټول څناورے قدرتی زیو فرمات دی او دا سے هیڅ قسم خطرے هم پکښے نشته هم په دے د ول انسانی لذّت او خوند هُم د غمونو او تکلیفونو نه ډک دے په دے خوندونو اغستو کښے کله سرو مال او ټول تبر هم اُ بیلی مګر د څناورو دولذت ود ے ټولو خطرو نه خالی دے د هیڅ وجه دا ده چه د انسان په فطرت



کښے نیر شوے غم او د مستقبل فکر بروت دے دده په مګرو یا خپلوانو کښے څوک چه وړاندے مړ وی ده نه چه را یاد شی خا مخا غم جن کیږی او آئنده خطرے فکر هم د سره خا مخا وی دده وجه د انسان ټول لذّتونه د غمونو او فکرونو نه ډک دی او د څناورو هیڅ یونذت کښے هیڅ قسم غم فکر نشته ددے ټول تقدیر خلاصه دا شوه چه، انسان د خپل ژوند مقصد پخپله نشی مقرّر ولے دا مقصد به دده خالق مقرّر وی، لکه څنګه چه د هوائی جهاز جوړه ونکے د هوائی جهاز مقصد متعین کوی نه چه پخپله هوائی جهاز د خپل مقصد متعین کوی هُم دا مقصد په صفا او بلیغو الفاظو کښی قرآنِ حکیم بیان کړے دے :-

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝ د پیدا نوام بنیا د مود تخلیق مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ۝ مقصد عبادتِ الٰهی دے موږ سورۃ الذّٰریات آیة ۵۶-۵۷) ؛ ددوی نه روزی ګټل د غواړو او نه په بل خرد ول ؛

دا سے لکه څنګه چه انسان د اد وه مقصدونه پخپلو غلامانو ۝ پوره کوی ځکه چه مونږ ته نه د روزئ حاجت شته او نه د خوراک إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ۝ بلکه خدا وند تعالی د وړاندے نه د انسانی مشین قائم ساتلو د پاره د روزئ انتظام کړے دے، ځکه چه هغه ډیر قوی او زور آور دے،

کچرے یو مشین ته د رنګ روغن ضرورت دے د پاره وی چه هغه خراب نشی نو د آد مشین د وجود مقصد نه دے، بلکه د دے مقصد هغه کار دے چه مشین ساز کوم کار د پاره جوړ کړے دے هم د غه رنګ مال د انسان او د هغه د رزق دے د انسان د پاره روزئ د بقاء سامان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصدِ تخلیق نه دے، مقصدِ تخلیق به هُم هغه وی چه کوم دَپاره انسان پیدا شوے دے، یعنی عبادتِ الٰهی۔ دَ تیل او روغن (انسان د مشین دَپاره) روزی هُم دَ انسان صحیح ساتلو دَپاره یو سامان دے دَ هغه دَ ژوند مقصد نه دے، په دُنیا کښے د هر مشین قیمت دَ هغه دَ مقصد مطابق متعین کولے شی مثلاً د چینو په هغه مشین زیات قیمتی گنړلے شی چه لږ وخت کښے ډیر چینی پیدا کوی هم دغه رنګ د انسان مشین قیمت به دَ هغه د تخلیقی مقصد په مطابق وی چه هغه عبادت الٰهی او تقوٰی ده فرمائی اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ، او هم دا انسان دَ الله په نزد ډیر قیمتی دَ شرافت او عزت خاوند او ډیر مقبول دے۔

## پنځم اُصول، د انسانی ژوند آخری منزل

د انسانی ژوند آخری پوړی الله سره یوځلے کیدل دی، قرآن دا وائی چه د انسان ژوند متحرک دے ساکن نه دے۔

يَآيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ط سورة الانشقاق آیة ۶ تیرژوکو الله ته ورروان ئے او بیا به ور سره یوځائے شے۔

(۱) د دے آیت نه معلومه شوه، چه انسانی ژوند متحرک دے۔

(۲) په دے حرکت کښے ورته تکلیفونه هم ځامخا پیښیږی۔

(۳) د دے حرکت آخری پوړئ خدائے سره یوځائے والے دے۔

دا خبره ډیره ښکاره ده چه انسانی ژوند متحرک دے انسان اوّل واشوم وی، بیا هلک او ځوان شی، تر دے د ترقی حرکت دے بیا مرگه پورے دَ تنزل حرکت جاری وی، د مرگ نه پس برزخی حرکت شروع شی، دا ټول قسمه حرکتونه ضروری دی دا هیڅوک نشی بندَ ولے دَ



ترقئ په حرکت کښے به ترقی کیږی او دَ تنزّل په حرکت کښے به خامخا تنزّل کیږی خو دا ټول حرکتونه د غمونو او مصیبتونو نه ډک دی۔

دا خو دَ ښکاره ژوند حرکتونه وو، دَ پټ حرکت، یعنے د قبر او دَ برزخ حرکت هم څوک نشی بندَ ولے دا ښکاره او پټ قسمه ټول حرکتونه به هله ختمیږی چه د دے حرکتونو آخری پوړئ راشی او دا آخری پوړئ کومه ده، دا پوړئ هغه ده په کومه کښے چه دانسانی ژوند نتیجے او ثمرے بیا مومندلے شی،

په دنیا کښے هر حرکت یو عمل نه ویلے شی، چه څه وخت د هغه عمل نتیجه را اُخلی نو دَ هغے عمل حرکت ختم شی، یو زمیندار زمکه جوړه وی تخم پکښے اچوی، دَ هغے اُبه خوړ کوی، سره په کښے اچوی۔ خیال ئے ساتی، څوکیداری ئے کوی، چه فصل پوخ شی بیا ئے ریبی، په مشین یا په غوایانو او خروته غوبلوی، بوس او غله بیله کړی چه دَ غلے درمن واخلی نو دا حرکت ختم شی، ځکه چه هغه د عمل نتیجے او د حرکت آخری پوړئ ته اُرسی او که دے نه پس د هغه حرکت ختمیدل ضروری دی هم دغه حال د انسان دے هغه پخپل ژوند کښی تکلیفونه تیره وی او ور سره حرکت کوی، څوک دَ خیر او نیکئ دَپاره تکلیفونه تیروی او څوک دَ شر او بدئ دَپاره ځان خوری دا سلسله تر مرگه جاری وی بیا وروستو په آخرت کښے چه هر کله دا دواړه قسمه خلق دَ خپلو عملونو نتیجے او دَ خپلو حرکتونو ثمرے دَ جنت او دوزخ په شکل کښے بیا مومی نو ژوند به خپل ځلے او آخری پوړئ بیا مومی او په به اُدریږی او دا دَ ژوند دَ حرکت انتهاده لکه څنګه چه په دے آیت کښے دَ عملونو دَ نتیجو بیان دے۔

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ بِیَمِیْنِهٖ ۙ فَسَوْفَ یُحَاسَبُ حِسَابًا یَّسِیْرًا ۙ وَّیَنْقَلِبُ اِلٰۤی اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ فَسَوْفَ یَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ وَّیَصْلٰی سَعِیْرًا ؕ اِنَّهٗ کَانَ فِیْۤ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ
سورۃ الانشقاق آیة ۷ تا ۱۳

چا ته چه عمل نامه په ښي لاس ورکړے شوه، نو هغه نه به آسان حساب اخستے شي او خپلو خلقو ته به خوشحاله راشي او چا ته چه عمل نامه د شا د طرف ورکړے شوه نو هغه به مرګ غواړي او په جهنم کښے به اُغور ځیږي، ځکه چه هغه به کور کښے بیغمه وو:

دانسان دا حالتونه قرآن حکیم په دے آیتونو کښے بیان کړي دي

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ رِزْقُهَا وَیَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ؕ په مخ د زمکے څوک ګرځیدونکے نشته مګر په الله دَ هغه روزي
سورۃ هود آیة ۶ :: ده او دَ هغه دَ استوګنے او امانت ایښودلو ځائے ورته هم معلوم دے۔

په دے آیت کښے دَ انسان دَ درے وارو حالتو ذکر دے دُنیوي ژوند چه څه وخت په زمکه ګرځي او حرکت کوي دَ آخرت منزل کوم ځائے چه استوګنه کوي یعنے جنت یا دوزخ د قبر او برزخ حالت چه کوم کښے امانت وي تا اُکتل چه دانساني ژوند بنځه بنیادي اصُوله قرآن په څه ښه طریقے حل کړي دي او دَ انساني ژوند نظام ئے په ښه دول پیش کړے دے چه دا دول یو غټ فلسفي او حکیم هم نه دے حل کړے نو دا دلیل دَ دے خبرے دے چه قرآن کلام الٰهي دے۔

## ۷۔ شمولی اِعجاز

دَ اعجازِ شمولي مطلب په قرآن کښے دا سے خوځیږونه دي کوم چه په انساني کلام کښے نشي جمع کیدے دَ دے نه معلومیږي، چه دا الٰهي کلام دے نه چه اِنساني۔ هغه ځیزونه دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) جدَّتِ اسلوب: مطلب دا چه دَ قرآنِ حکیم طرزِ بیان دَ انسان کلام نه مختلف دے په دے بتول ماحول کښ دَ دے مثال نشي موندے انسان چه څه وائي نو خپل ماحول نه ئے را اخلي نو کچرے دا انسان کلام وے نو دعربو دماحول نه به ماخوذ وے خو دا سے ځکه نه ده چه په عربو کښے خو څه چه په ټولو ژبو کښے دَ کلام درے طرزونه موندے شي:

(۱) کلامِ منظُوم یعنے شاعري (ب) کلامِ منثُورِ مُسجَّع (ج) کلامِ منثُورِ غیرِ مُسجَّع: دَ قرآن حکیم په دے دریواړو کښے یو طرز هم نه دے او دوست دُشمن دا اقرار کوي چه قُرآن دَ سبعِ مُعلقات یا دَ دیوانِ حماسه پشان شعر هم نه دے ځکه چه دَ ردیف، قافیے او بحرو غیره پابندي په دے کښے نشته او دَ مقاماتِ حریري پشان منثُور مسجّع، یعنے د بند ونو واله نثر هم نه دے او دَ عام مصنّفینو پشان بے بنده نثر هم نه دے، دینه معلومیږي چه په مخ دَ زمکے دا سے کلام بل هیڅوک نشته نه نو دے بُنیاد او سرچشمه انساني او زمیني نه ده بلکه الٰهي او آسماني ده:۔

(۲) په انساني کلام کښے دَ متکلِّم دَ جذباتو ډیر دخل وي چه هغه د قهر خبرے کوي نو بیا کښے دَ رحم بُوئي هم نه وي او چه دَ رحم خبرے کوي نو د قهر ارخ پکښے نه وي ځکه چه انساني جذباتو کښے اعتدال نه وي برخلاف دَ قُرآن حکیم چه دے کښے په یو وخت دَ زیري او دَ ویرے د جنت او دَ دوزخ، او قهر او دَ رحم ذکر په یو ځائے وي دے نه معلومیږي چه دَ انسان په شان دَ جذباتو نه مغلُوب هستي دَ قُرآن نه ده ژباړه
نَبِّئْ عِبَادِیْۤ اَنِّیْۤ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ۙ وَاَنَّ عَذَابِیْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِیْمُ ۙ
سورۃ الحجر آیة ۴۹، ۵۰ په دے آیت کښے دَ مغفرت دا علان سره دَ

(c) ketabtoh.com: The Digital Library



دردناک عذاب هم ذکر دے، مګر انسان د غصے او قهر په وخت
د رحم او شفقت اظهار هیڅ‌رے نشی کولے او د رحم او شفقت په وخت کے
د غصے خبرے په خوله نشی راتلے :-

(۳) د هر انسان د کلام چه مطالعه اُوشی نو په هغې کښے به داسے الفاظ
بیکاره شی چه د بهرنۍ دُورے د باؤ پیداوار به وی چه د هغې نه به
معلومیږی چه متکلم د ویرے په وجه داسے خبرے کوی، د دینه علاوه
په انسانی کلام کښے څو کله د قوّت اظهار کیږی مګر د داسے قوّت هیڅ‌رے نه
چه هغې نه په زمکه، آسمانونو باندے د حکومت اِظهار کیدے شی که
چرے چالږه مطالعه د قرآن هم اُوکړے، نو هغه ته به په هره صفحه دا
محسوسه شی چه دا د داسے متکلم کلام دے چه د کائناتِ عالَم د یو څیز
نه هم هغه نه ویریږی او نه د باوریږی بلکه عظیم تر بل کائناتو باندے
حکمرانی کوی. د طوفانِ نوح د بندیز په باره کښے د قرآن دا الفاظ ودر
څوا ګوره :-

يَا اَرْضُ ابْلَعِي مَآءَكِ وَ يٰسَمَآءُ : اے زمکے خپلے اوبه تیرے کړه او
اَقْلِعِي : سورة هود (۲) آية ۴۴ : اے آسمانه د ورید ونه بند شه
چرے یو انسانی طاقت هم داسے حکم ورکولے شی؟

(۴) انسانی کلام د انسان د دماغی قوت د محدود والی مظهر وی، د هغه
د بلاغت اکثر په هر میدان کښے یو شان منلے نشی د هغه. د ده
قابلیّت په خاصو مضامینو کښے د بلاغت زور ښودلے شی بل قسم مضامینو کښے
د هغه د بلاغت د غصے ذرے نه وی، یو عرب مشهور شاعر ابو نواس صرف
د شرابو په تعریف کښے بهترین شعر خود ویلے شی په بله موضوع نه
بل شاعر "ابُو العتاهیه" په زُهد و تقوٰے، په فناءِ د دُنیا او په شوق
آخرت باندے د بلاغت نه ډک شعرونه ویلے شی خو په نورو مضامینو



داسے نشی ویلے، په فارسی شاعرانو کښے فردوسی نظامی په جنګی
مضامینو پوره زور سره شعر ویلے شی لیکن په بل میدان کښے هغه
پس راځی، سعدی، اخلاقی شاعر دے جنګی باب نه دے، کچرے د
خُوش قسمتۍ نه یو شاعر په هر موضوع باندے شعر ویلے شی نو دا
فرق بیا هم وی چه په بعضے مضامینو ډیر ښه کلام او په بعضو لږ کم
او په نورو د هغه هم کم ویلے شی. د دے نه علاوه د شاعرانو او بلیغانو
ټول مضامین د فکر او دماغ د یاتو د دائرے نه بهر نه وی په دے
ټولو کښے غیبیات او د مادیاتو نه پوره مضامین ډیر کم وی، په
محسوساتو کښے د شاعرانو خیالاتو کار کولے شی، لیکن په غیبیاتو کښے
د تخیُّل پرواز ختم شی او دے ټولو نه علاوه شاعران د رشتیا و
او د واقعاتو پابند نه وی، ځکه چه په دے لیسے بیا په خیال پابندی راځی
د شاعرانو کار دغه وی چه په خیال کښے څه خبره هر څنګه چه راغله
هغې د پاره هر څه الفاظ چرے هغه په خیال کښے راغله نو د شعر په قالب
کښے ونګیی سره دروا څوی په دے د پ ے نه وی چه داسے کیدے هم
شی که نه او دا رشتیا دی او که دروغ. هم په دے وجه د شاعرانو
په باره کښے یو مقُوله ده چه "اَحْسَنُهٗ اَكْذَبُهٗ" چه ډیر ښه
شعر به هغه وی کوم کښے چه ډیر دروغ بیان وی، لیکن د قُرآنِ حکیم
مضامین یو طرف نه دومره وسیع دی، چه د دے کښے عبادات،
معاملات، قوانین منزلیه، د معاشرت اَحکام، د مملکت قوانین، بین
الاقوامی قوانین او بیا عقائد، اخلاق، تاریخ محسوسات، غیبیات،
واقعاتِ دُنیا او حقائقِ آخرت ټول مضامین دی بیا د دے وسیع مضامینو
د بیانولو د پاره دائره دومره تنګه ده چه هیڅ یو مضمون او عبارت
نه دروغ او خلاف واقعه نه وی او سره د دے د قرآن په فصاحت

او بلاغت کښې يو ذره فرق هم نه راځي لکه چې فرمائي:-

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ○ سورة النساء. "که چېرې قرآن د خدائې نه سوا دبل چا کلام وے نو دوى به په شان آية ع۸۲" بلاغت او د مضامينو په صداقت کښې به خامخا فرق را غلے وو،

دا سې شان د هغه کلام کېدے شي چې د هغې سرچشمه لا محدود قوت وي او هغه صرف خالق کائنات کېدے شي، نو دا دليل دے خبره شو چې قرآن هم د الله تعالى رښتيا کلام دے:-

## ۸- غيبي اعجاز

په قرآن کريم کښې د غيبي علومو يو لويه ذخيره موجوده چې هغې ته د يرغت فلسفي او لوئے عالم د رسائي نشي کېدے نو دا به کله اُشي چې د ناپوهه قوم د يو ناپوهه ذات به هغې ته رسائي اُشي د دا غيبي علومو د ير قسمونه وي:-

(۱) د ورانديو پيغمبرانو عليهم السلام او قومونو تاريخ، د هغې نتيجے او ثمرے

(۲) راتلونکي واقعے، د وخت نه مخکښې د هغې خبر ورکول او د هغې دا سې حقيقت بيانول چې ظاهري اسبابو دائره نه وي،

(۳) د مرګ او طبيعياتو نه بعد امورو په باره کښې دا سې حقيقتونه بيانول چې د لوئے فلسفي او د ټولو فلسفيانو د مجموعي قوت نه هم ډير اوچت وي:-

(۴) د تير شوو پيغمبرانو عليهم السلام مثلاً آدم عليه السلام حضرت نوح ع. حضرت هودؑ، حضرت صالحؑ. حضرت ابراهيمؑ، حضرت اسمٰعيلؑ. حضرت اسحاقؑ، حضرت يوسفؑ، حضرت موسیٰؑ حضرت هارونؑ- حضرت داودؑ- حضرت سليمانؑ، حضرت عيسیٰؑ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت يحيیٰ او حضرت زکريا عليهم و على نبينا الصلوٰة والسلامؑ تاريخي واقعات او د دے ټولو حضراتو عليهم السلام د دعوت او تبليغ مقصد و نه او د دے ټولو حضراتو عليهم السلام د قومونو او اُمتونو واقعات او د دوي د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوتونو او ارشادونو په خپل خپل اُمتونو باندے موافق او مخالف اثرات او د دوي انجامونه او نتيجه، د دے نتيجو علتونه او اسباب، عبرتونه او نصيحتونه چې څنګه تحقيق او حيرت انګيز صداقت او بلاغت سره قرآن بيان کړيدي د هغې مثال په انساني تحرير کښې نشي موندے:-

د دے واقعاتو يو حصه په تورات کښې موجوده او څه حصه د نورو د عالمانو او تاريخ په سينو کښې محفوظ وه ليکن د صاحب قرآن عليه السلام په ټول ژوند کښې يو واقعه هم داسې نشته چې هغوي ته د انساني اُستاذ نه د ذکر کړے څه موقعه پيښه شوې وي يا ئے تربيت ترې کړې وي، يا چا اُستاذ دا سې وئيلي وي، چې ما نه حضور عليه السلام ذکر کړي دي د دا سې علومو يا قاعده حاصلولو په باره بالخصوص د يو اُمّي او ناپوهه سړي د پاره د ير زمانه او ډېر لوئے ذکر کړے ضرورت وي، د دے د پاره د خوګينيو يا خو ملتونو ملاقات کافي نه وي ليکن د نبوت د زمانې د قرآن د ښمنانو هيڅ وخت د دوي ع دا اُمّي توب نه انکار انکړو او نه د تير شوو پيغمبرانو عليهم السلام يا د تير شوي قومونو په واقعاتو کښې څه شک ښکاره کړے وو دا خبره د دے واضح دليل دے چې ټول دشمنانو او دوستانو دا حقيقت او رښتيني منلو چې هغوي عليه السلام اُمّي وو او چا نه هم هغوي زده کړه نه وه کړے او قرآن کوم تاريخي واقعات د انبياؤ يا د اُمتونو چې بيان کړي دي هغه ئے هم صحيح منل که نه ئے منلے نو خامخا به ئې اعتراض کړے وے، په دے بنا د موجوده مستشرقينو

اعتراضات دَ دوا روا مورو په باره کښې غلط او بې بنیاده دي چه د دې مقصد سیاسي دے او استعمار ته وده ورکول دي، د استشراق فتنه علمي اراده نه ده بلکه دَ تحقیق په مرکزي سرچینې دَ طاقت د قرآن او نبوت باندې حمله کول غواړي چه دَ مسلمانانو دَ زړونو نه دَ قرآن او نبوّت هغه جرړې ختمې شي او دَ هغوی دَ فطري وحدت خاتمه اوشي او د دې دَ جګړو اوکولو ځان له کولو نوی دوکونه پرانستے شي،

يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا نُورَ اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ: دوی غواړي چه د الله نور ختم کړي وَاللهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ۝: خو لوي مرکړي او الله دَ خپلے رڼا سورة الصف آیة ۸: پوره کوونکے دے هر څو مره چه کافران ئې بد ګڼي په عامو انګریزي دانو کښې صحیح علم دین نشته او دَ دینی ژبې عربۍ هم مهارت نشته او ددې نه علاوه د دوی دلیور هر یو مصنف سره عقیدتمندي هم ده چه دا د مغربي تهذیب اثر دے او دَ علماء دین نه کرکه ده، دا خلور څیزونه داسې دي، چه مستشرقین خپلے فتنے ته په دے بنه وده ورکولے شي، موږ دَ ګولډ زیهر " د مذاهب تفسیریه نوم کتاب او دَ ولیم میور " د لائف آف محمد " نوم کتاب په آزاد فکر د یره بنه مطالعه کړې ده لیکن په موږ هر هغه اثر اوشو چه کوم موږ اُس بیان کړو او دا زموږ دَ یقین دَ مضبوطوالي یو باعث جوړ شو، موږ دا تلو ځکه موږ د مورد په باره کښې دَ قرآن کریم یو څو هغه غیبي اعلانات بیانوو چه کوم لا شوي نه وو او نه د هغه اسباب او ذرائع وو،

① قرآن کریم داسې قسم اعلان په دے الفاظو کښې کړے دے: غُلِبَتِ الرُّومُ ۝ فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ۝: سورة الروم آیة ۳-۲ رومیان دَ ایران په مقابله کښې داسې مغلوب شو چه د کسرٰی فوځو دَ رومي حکومت او د هغې مرکز داسې تباه کړو، چه داسې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قلنګي ریاست جوړ کړو، تاریخ اُشو دل چه د دے خبرے څه نښه هم نه وه، چه رومي حکومت به بیا راپاڅي او دَ کسرٰی هغه لوئے حکومت ته به ماتے ورکوي، مګر قرآن بِضْعَ سِنِينَ یعني دلسو کالو نه کمه موده مقرر کړه او هم دغسې اُشوه دَ لسو کالو نه کمه موده کښې رومیانو کسرٰی ته شکست ورکړو او دوست دُښمن دَ قرآن دا غیبي اعلان په خپلو سترګو وکتو او کیدونکے اُلیدو او دَ تاریخ په پاڼو کښې محفوظ شو۔

② مسلمانان ډیر کمزوري وو، او قریش ډیر زور آور وو، بالخصوص دَ حدیبیې په مقام سره هرکله چه صحابه کرام دَ ډیر لرے ځایه مدینې منورې نه دَ عمرے په نیت راغلي وو قریشو دَ طاقت په نشه کښې هغوی دَ مکے شریفې او دَ عمرے نه منع کړل سره دَ دے چه دا کار دَ عربو دَ منلي شوي قانون نه هم خلاف وو، مسلمانانو دَ صلح حدیبیې هغه کمزورے دفع هم اُمنلے په هغه کښې یو دا دفعه هم وه چه داخل دِ مسلمانان عمره نه کوي بلکه آئنده کال دِ بیا راشي او په دے حال کښې سورة فتح نازل شو، إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا ۝ (سورة الفتح آیة ۱) چه په دے کښې دَ دوه فتحو پیشګوئي شوې وه، یو دَ یهودو خیبر او دویم زمکه دَ مسلمانانو په قبضه کښې راتلل او دَ هغوی لوئے طاقت ته ماتے ورکول، او دویم دَ قریشو بلکه دَ عربو مجموعي طاقت ته ماتے ورکول او مرکز عرب مکه مکرمه فتح کول، دا دواړه فتح مسلمانانو صرف په دوو کالو کښې حاصلے کړے، د دے نه معلومه شوه چه قرآن کریم دَ عالم الغیب کتاب دے

③ قرآن حکیم داسې وخت کښې دَ خلفاء راشدینو د خلافت پیشګوئي اُکړه چه دَ صحابه کرامو ژوند ته هم خطره وه بلکه یو مسلمانان هم ځان محفوظ نه ګنړلو لیکن دَ قرآن حکیم دا پیشګوئي درسته ثابته شوه او هم د دے مطابق هغوی دَ ذمکے حکومت حاصل کړو د هغوی دین

او اسلام هُم سیاسی طاقت بیا مُوندا او مضبُوط شو او اسلام په بقل جهان د خلفاءِ راشدینو په ذریعه خور شو او د مسلمانانو نه د یو حکومت نه هم خرو یوه پاته نشوه، د دے خلورواړو خبرو اعلان په خپلو دے الفاظو کښے قُرآن کړے وو، وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَیَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَیُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِیْنَهُمُ الَّذِی ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَیُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ط (سورة نور آیة ۵۵) په نادوغه حالا تو کښے قُرآن حکیم دا سے نور د یر غیبی اعلانات دوخت نه ړُومبے کړیدی او بیا رِشتیا اُختل مګر د لنډ والی په غرض صرف هم دا مثالونه کافی ګنړو۔

## ۹ - انجذابی اِعجاز

د قُرآنِ حکیم د جاذبیت دا سے یو خاص شان دے چه په هیڅ انسانی کلام کښے نشته:

(۱) د جاذبیت یو دلیل دا دے، چه غیر عرب خلق د پړدی ژبے دا قُرآن په ډیر تکلیف یادوی یا د ئے ساتی او د دے دوړُو نه او تکرارُو نه کوی، حالانکه د دے کښ دُنیوی هیڅ فائده نشته۔ دا جاذبیت یوائے د قرآن کیدیشی، د بل هیڅ کتاب نه۔

(۲) دویم دا چه د دے په معنے نه پوهیدونکی خلق هم بیا بیا تول د دے تلاوت کوی او زړه ئے نه پوره کیږی نه د ینه معلومه شوه چه انسانی روح د پاره په قرآن کښے یو خاص جاذبیت مُوندے شی

(۳) دریم دا چه د دے په مطلب نه پوهیدونکی خلق هم چه دا تلاوت کوی نو په هغه هم یو خاص اثر کیږی، او د دے تجربه شوے ده چه بی پوهیدونکو خواثر خاصا کیږی، نو دا سے کشش چه په بل یو انسانی کتاب کښے هم نشته۔ د دے خبرے دلیل نشی جوړیدے چه قرآن کلام الٰهی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰ - تالیفی اِعجاز

د قُرآن حکیم په تالیف کښے هم اعجازی شان موجود دے، ځکه چه انسان یو کتاب جوړه وی، نو د هغے یو خو مضامین، د فصل، بیا خو فصلونه د باب، بیا خو بابونه د کتاب په عنوان سره یا د وی او بل لیکن د قُرآن تالیف بالکل د انسانی تالیف نه جُدا او نوے شان دی، او سره د دے د ومره معقُول دے، چه امام رازی رح فرمائی، چه د قرآنی ایتونو ربط هم یو مستقله معجزه ده، په قرآن کښے په یو ځائے احکام، واقعات انبیاء، اُمور آخرت، او صفات د باری تعالٰے بیا نیږی، نو ظاهر بین نا پوهه خلق دا بے ربطی ګنړی، خو قرآن حکیم خپل مضامین د دوه مقصد ونو د پاره بیا کوی یو د دا سے څیز بنود لچه انسان ته ړومبے د هغے علم نه وی، او دویم چه قرآن په دے عمل غواړی ځکه چه یو بهترینه نسخه معلومول ځم کمال نه دے تر څو چه په هغے عمل نه وی شوے، نو قُرآن دا دواړه غواړی، عِلم او عمل لیکن د عمل ترغیب د پاره قرآن حکیم نور مضامین هم بیا نوی چه هغه به د تاریخ مثال شوی واقعات وی بالخصوص د پیغمبرانو علیهم السلام او د هغوی د اُمتونو واقعات او یا به دا د آخرت نتائج وی ځکه چه بنه عمل انسان هله کوی چه د هغے بنه نتیجه د هغه په دماغ کښے راشی او بد عمل پرینبو ته به هله تیار یږی، چه د هغے بده نتیجه ئے په وړاندے وی، او یا به دا صفات د باری تعالٰی وی ځکه د دے مطلب به دا وی، چه انسان به ځان د عالم الکل قادر مطلق، عادل، ذات په وړاندے ذمه دار ګنړی نو نتیجه به ئے داوی چه د دا سے ذات د حکمونو خلاف ورزی به نکوی، د تالیف دا حیرت انګیز نظام د دے دلیل دے چه قُرآن کلام الٰهی دے

⁂

## ۱۱- اعتدالی اعجاز

انسان دَ جذباتو ګوډے دے د ده هر حرکت په جذباتو بنا وی، قهر په وخت کښې د رحم او شفقت نه خالي وی او دَ رحم په وخت د قهر او غُصے نه تش وی، په خوشحالئ کښے به غم هیر وی او په غم کښې به خوشحالي هېره وی لیکن دَ الله شان دَ جذباتو نه پاک دے، او قرآن د هغه کلام دے ځکه پکښې غضب سره دَ مهربانئ او مهربانئ سره د قهر ذکر دی خو ځایونه جُدا وی مثلاً دَ غضب ځائے ګنهګاران وی او د مهربانئ ځائے فرمانبرداران وی هم دغه وجه ده چه قرآن کښے دَ وېرولو سره دَ زیرکولو او زیری ورکولو سره دَ وېرولو، جنت سره د دوزخ او دوزخ سره جنت ذکر په یو ځائے کښے موجود وی او بے شمیره ځایونو کښے په یو آیت کښے مینه، او قهر، دواړه موجود وی مثلاً،

نَبِّئۡ عِبَادِیۡۤ اَنِّیۡۤ اَنَا الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ ۙ وَ اَنَّ عَذَابِیۡ هُوَ الۡعَذَابُ الۡاَلِیۡمُ ۙ ځما بندګان خبر کړه چه زه خو معاف کوونکے او مهربان یم او دا چه ځما سزا هم دردناکه ده۔ سورة الحجر آیة ۴۹ و ۵۰

د دے جمع نه مطلب دا چه دَ قرآن سرچشمه د جذباتو ډوډے انسان نه بلکه دَ جذباتو نه پاک د حکمتونو دَ خزانے کلام دے، د هغه دَ حکمت تقاضا ده، چه انسان کښے دِ محبت او خوف دواړه ځکه وی، کچرے خوف جُدا نه وی، نو بیا به دَ خدائے پاک د فرمانبردارئ کارخانه ګډه وډه شی، کچرے معمولی انسانی حکومت کښے دَ حاکم وېره نوی نو حکومت پائے کېږی دا رنګ دَ محبت ضرورت ځکه دے، چه په عبادت کښے ځان وی دَ محبوب حُکم په اخلاص سره منلے شی او دَ هغه د پاره محب د ځان قربانئ ورکولو ته هم تیار وی، هرکله چه په الله تعالی کښے دا دواړه جمع دی نو د هغه په کلام قرآن کښے دِ هم دا دواړه ځایونه جمع وی، به نو



خبرو نو کښے دا دواړه جمع کیدل دَ نېښت په حساب ډیر کم دی، انسان دَ ه زمری یا ګ ظالم انسان نه وېرېږی مینه ئے ورسره نشته مور سره دَ هغه محبت شته لیکن وېره ئے ترے نشته معلومه شوه چه یوازے خالقِ کائنات کښے دا دواړه جمع کیدے شی بلکه دَ هغه ذات دَ دے دواړو مرکز دے، ثابته شوه چه قرآن ځکه هُم دَ دے ذات کلام دے دَ ترغیب او ترهیب په باره کښے آیتونه پیش کوم

لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ :- دَ الله دَ رحمت نه نا اُمیده مکوئ يَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ جَمِيۡعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ :- بیشکه الله ټول ګناهونه معاف الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ سورة الزمر آیة ۵۳ :- کولے شی، په تحقیق هغه معاف کوونکے او مهربان دے :

فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّاۤ اُخۡفِیَ لَهُمۡ مِّنۡ قُرَّةِ :- هیڅ نفس نه پوهیږی چه ما کوم اَعۡیُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ (سورة :- سترګو یخولو والا نعمتونه دَ هغه السجدة آیة ۱۷ :- :- :- :- دَ پاره دَ عملونو په بدل کښے پټ ساتلی دی :- دَ وېرولو په باره کښے ارشاد دے:-

| | |
|---|---|
| وَ خَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيۡدٍ ۙ مِّنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَ يُسۡقٰى مِنۡ مَّآءٍ صَدِيۡدٍ ۙ يَّتَجَرَّعُهٗ وَ لَا يَكَادُ يُسِيۡغُهٗ وَ يَاۡتِيۡهِ الۡمَوۡتُ مِنۡ كُلِّ مَكَانٍ وَّ مَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَ مِنۡ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيۡظٌ : سورة ابراهیم آیة ۱۵تا۱۷ | ناکامه دے هر هغه کس د چا چه په خپل زور د باړه دوا و سلام سره ئے مند کولو که هغه دَ ستو جهنم دے، د هغے دَ زووا به پئه ده څښولے شی ګوټ به ترا خلی |

مګر تیرولے به ئے نشی او که هر طرف به یه د ه دَ مرګ سختئ دی خو مری به نه او دَ دے نه پس به پا سخت عذاب کښے ګیر وی :

## ۱۲- ملکی اعجاز

د ټولو څلوئے انسان بادشاه حُکم هم چلیږی او خلق ترے وېرېږی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر دا دواړه محدود دي، او دا سې هېڅ څوک نشي کولې چه زمکې یا آسمان غوښتل ئې يو ځپ مخلوق ته حکم ورکړي، ليکن قرآن طوفان نوح عليه السلام کښې زمکې او آسمان ته داسې حکم ورکړو :-

يَآ أَرْضُ ابْلَعِي مَآءَكِ وَيَا سَمَآءُ أَقْلِعِي : (سورة هود آية ۴۴) ؛ اے زمکې خپلې اوبه تيرې کړه او اے آسمانه اوبه بندې کړه :-

او دا حکم ئې جاري هم کړو. د دُنيا لوئې بادشاهان د خلقو د خوشامد تقريرونه او خبرې دې د پاره کوي چه هغوئ چرته بغاوت و نکړي او حکومت تر وا نخلي، ليکن د يو يوروپي مصنف په قول "قرآن نه دا معلوميږي چه د دې مصنف چا ته نه ويريږي" دې نه معلوميږي چه قرآن د خالق کلام دے :-

## (دريم فصل)

### د تفسير او تاويل او د دې دواړو د متعلقاتو بيان :

(۱) د تفسير او تاويل د لفظونو معنوي تحقيق :-

تفسير په عربي لغت کښې د فسر نه جوړ دے چه د هغې معنیٰ د يو څيز ښکاره کول دي او په دې وجه "قاروره"، نه هم تفسره وئيلې شي ځکه چه د هغې په ليدو به ډاکټر د مريض حال ښکاره شي" تاويل په عربي لغت کښې د اَول نه جوړ دے چه د هغې معنیٰ راګرځيدل دي، د تاويل اصطلاحي معنیٰ هم دغسې د قرآن الفاظ ته لوا حتمالي معنیٰ ګانو کښې يو معنیٰ ته راګرځول دي،

د تفسير او تاويل په شرعي او اصطلاحي معنیٰ کښې څو اقوال دي

(۱) دا ابو عبيده قول دے چه دواړه يو معنیٰ لري (۲) امام راغب فرمائي چه تفسير عام لفظ دے د کلام الهي تشريح او د کلام انساني تشريح (دواړو) ته وئيلې شي، مګر تاويل بواځې د کتب الهيه تشريح ته هم وئيلې شي :



(۳) دا امام ابو منصور ماتريدي دا رائې ده، چه تفسير دے ته وائي چه د قرآن مراد يقيني طور متعين کړے شي، او تاويل به دے ته وئيلې شي چه احتمالي معنیٰ ګانو د قرآن کښې يوه معنیٰ غير يقيني طور متعين کړے شي، (روح المعاني جلد اول، الاتقان، جلد ۲ ص ۱۷۳) څومره چه نزد دے اقوال کښې څه اختلاف نشته صرف دا اصطلاح ګانو اختلاف دے د متقدمينو اصطلاح دا ده چه تفسير او تاويل دواړه په يو معنیٰ کښې استعماله وي او د تفسير په موقعه لفظ د تاويل هم استعمالوي، تفسير ابن جرير دا طرز غوره کړے دے او ابو عبيده دواړه هم معنیٰ بولي د هغه په هوراندې دغه اصطلاح د متقدمينو ده او د متاخرينو اصطلاح هغه ده کومه چه ابو منصور ماتريدي بيان کړيده چه تفسير هغه دے چه يو يقيني دليل سره مراد الهي متعين کړي او تاويل به هغه وئيلې شي چه احتمالي معنیٰ ګانو کښې يو معنیٰ په ظن او اجتهاد متعين کړ شي. د امام راغب فرق حقيقي نه دے بلکه د متعلق په اعتبار يو اصطلاحي فرق دے. چه د تاويل تعلق د کتب الهيه د تشريح سره دے او تفسير عام دے :-

(۴) دا رائې دا قول چه روايتًا د قرآن د معنیٰ متعين کول، تفسير او درايتًا متعين کول تاويل دے :

(۵) يا کومه معنیٰ چه د قرآن د عبارت نه واضح معلوميږي هغه تفسير او کومه چه په اشاره د الفاظو سره معلوميږي هغه تاويل دے :-

بهرحال د متاخرينو اصطلاح کا فے دی ګوندې د قرآن ماؤ په اصطلاح کښې دواړه يو معنیٰ ده چه صاحب قاموس دا ښکاره بيان کړيده او د متاخرينو اصطلاح علامه آلوسي په روح المعاني کښې بيان کړيده :-

(۲) د تفسير، تعريف، موضوع او غاية (غرض)

علامه الوسي په روح المعاني کښې د علم تفسير دا تعريف کړے دے، چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم تفسیر هغه علم دے، چه په هغې کښې د قرآن د الفاظو طرزِ تلفظ او
د مفردانو د قرآن مدلولات او معانی مُرادة او د هغې افرادی او ترکیبی
احوال او د نورو متعلقاتو بحث وی او په قول د صاحب د مناهل العرفان
رجلاء اصلاً د دے مختصر تعریف دا دے، چه علم تفسیر قرآن سره د
تهل د هغه تحقیق نوم دے، چه د هغې نه مُرادِ الٰهی متعین کیدے شی
د قدماو د اصطلاح مطابق قرآن د تفسیر او تاویل یو معنیٰ بنو دلے
سورة فرقان کښې دی، ﴿وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ
تَفْسِيرًا﴾: آیة ۳۳) په بل ځائے کښې ارشاد دے. ﴿وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ
إِلَّا اللَّهُ﴾ (آل عمران آیة ۷) موضوع د علم تفسیر کلام د دے د روح المعا[illegible]
غایة او غرض د علم تفسیر د مُرادِ الٰهی علم حاصلول دی په دے غرض د
چه په اعتقاد او عمل کښې د هغې تابعداری اوکړے شی.

## د تفسیر او د مطالبو د قرآن د پوهې آداب او شرائط

رُوح المعانی، الاتقان، برهان، مناهل العرفان او په نورو کتابونو کښې د
تفسیر د اهلیت او استعداد او د قرآن د پوهې د قابلیت د پاره
شرطونه ذکر دی موږ به دا سره د دلائلو ذکر کوو:

### عِلمُ اللغة یا عِلمُ اللسان

د مُفسرِ قرآن د پاره د قرآن د ژ[illegible]
(عربی) مهارت ډیر ضروری دے
او دا مهارت به د دے علومو حاصلیږی، د مُفرداتِ قرآن د مدلولاتو
د موقعے استعمال تحقیق چه دا به په علم اللغة سره کیږی، د قرآن
مُفردانو لسانی تغیرات او تصرفات چه دا به علم الصرف والاشتقاق په
ذریعه حاصلیږی، د مرکباتو او د قرآن د جملو د تغیراتو او تصرفاتو
حرکاتو او اعرابو د تبدّل چه دا په علم النحو سره معلومیږی، د قرآن
الفاظو د انتخاب او د محلِ استعمال د نکتو او د اسرارو چه دا په علم البلاغ[illegible]



[illegible] معلومیږی د قرآن روسبی مخاطبو (صحابه کرامو او عربو) ته د
[illegible] نزولِ قرآن په وخت د دے علومو ضرورت نه وو ځکه د هغوی
[illegible] به هر داوه په دے کښې د هغوی طبعی مهارت وو او فطری ذوق ئے هم
[illegible] لرلو نو ځکه هغوی د دے علومو د مقاصدو ماهر وو، لیکن د غیر
[illegible] عربو او نزولِ قرآن د زمانے نه پس د نورو عربو د پاره د قرآن د پوهې
[illegible] په غرض د دے علومو مهارت ضروری اُګنړلے شو ځکه چه رستنی
[illegible] عربو کښې د نورو قومونو د ګډون په وجه دا ذوق فطری باقی پاتے نشو
[illegible] د دے شرط ضرورت بخپله د قرآن نه ثابت دے:
[illegible] نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ۞ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ۞ او
[illegible] دا قول د الله تعالیٰ ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۞﴾
[illegible] بیتونه صفا بیا نوی، چه دا کتاب په عربی ژبه کښې د هغې د قواعدو
مطابق نازل شویدے، په دے وجه د قرآن د پوهې د پاره د علم
[illegible] لسان یعنې د عربی د ټولو شعبو علم حاصلول ضروری دی او عامه
[illegible] قاعده هم دا ده چه په اُردو ژبه کښې د غالب یا د مومن د دیوانونو
[illegible] پوهه د اُردو ژبے د قواعدو او په هغې کښې د مهارت حاصلولو نه بغیر
[illegible] ممکنه نه ده؛

### علمُ السُنة

د قرآن د پوهې د پاره علم السُنة هم ضروری
دے او د صاحب قرآن علیه السلام نه بغیر د قرآن
[illegible] پوهه ناممکنه ده چه د هغې د پاره علم السُنة والحدیث ضروری دے
[illegible] د پاره چه د نزولِ قرآن اسباب. د قرآن د مجملاتو تشریح او د
[illegible] مبهماتو وغیره د تعیین علم حاصل شی ورنه په قرآن کښې د ناسخ او د
[illegible] حکم شوے دے لیکن دا وضاحت نشته چه د منسوخو نو
[illegible] خومره دے. د هر منسوخ وخت د کوم ځائے نه شروع کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله ختیږي، بیا د هر نوع د کعتونو شمېر څومره دے د نوع ا...
ترکیبي څومره دی او څنګه دی د نوع شرائط څومره دی، او کوم کو...
دی دغه رنګ د زکوٰة حال دے چه زکوٰة په کوم کوم مال کښے دے او په کو...
کښے نشته. د میاشت دے که د کال؟ د مال په هر جنس کښے د دے م...
څومره دے، د زکوٰة شرطونه څه دی او د هغے مصارف کوم دی...
دے نو لو تشریح چه حقیقت کښے د قرآن تشریح ده بغیر د سنّت نه ناممکن...
ده دغه حال د حج روژے او د نورو احکامو دے. څنګه چه مونږ...
د قرآنی الفاظو په مطلب د پوهیدو د پاره د عربو لغت محتاج یو...
دغه رنګ د قرآن عملی شکل متعین کولو د پاره د حدیث او سنّت...
محتاج یو. او دا څومونږ محتاجی ده د قرآن محتاجی نه ده ځکه چه...
مونږ ته د قرآن نه د فائدے اخستو د پاره قدرتی طور د دے...
اُمورو ضرورت دے، مونږ چه اُبو نه فائده اخستل غواړو...
مونږ ته د کوهی کنستو یا د ولے جوړو لو ضرورت وی، د دے...
دا مطلب هرګز نه دے، چه اُوبه محتاج دی. یا کوهے یا ولّه محتاج...
ده بلکه مونږه فائدے اخستو د پاره د دے دوارو محتاج یو او...
بے نیازه دی، هم دغه وجه ده چه بخپله قرآن د خپلے پوهے د پا...
د حدیث او د سُنّت ضرورت ښودلے دے کوم چه د حضور علیه السلا...
قول او عمل بللے شی ارشاد دے،

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ط (سورة جمعه آیة ۲) د حضور علیه
السلام منصب دا دے چه هغه خلقو ته د قرآن او د حکمت تعلیم ور...
کړی، دا د قرآن د مطالبو تعلیم ښائی. ځکه چه د قرآنی الفاظو...
تمه مخے ذکر دے، يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ، ځکه د عامے قاعدے له مخ...
کیږی یو اُستاذ صرف د کتاب عبارت واوری لوستل نشی وئیلی چه



ده د کتاب تعلیم ورکړو تر څو چه هغه د کتاب د مطالبو تعلیم نه وی ورکړے په بل ایت کښے دی:-

لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ (سورة النحل آیة ۴۴) د پاره د چه ته واضح کړے، خلقو ته هغه کتاب چه دوی د پاره نازل شوے دے

علیٰ هذا القیاس په دے باره کښے ډیر ایتونه موجود دی چه د هغے نه د قرآن پوهه په علم الحدیث باندے موقوفه ثابته شوے ده

## عِلم الآثار

د قرآنی معنو پوهیدو د پاره د صحابه او تابعینو د آثارو علم ضروری دے صحابه خو براه راست د حضور علیه السلام شاګردان دی او تابعین ئے په یو واسطه شاګردان دی، د دوی د قرآن پوهه د نورو ټولو خلقو نه زیاته صحیح ده، امام شافعی رحمه الله تعالیٰ په الرسالة کښے لیکی چه "رَاْيُهُمْ لَنَا خَيْرٌ مِّنْ رَاْيِنَا" "اِجْتِهَادُهُمْ فَوْقَ اِجْتِهَادِنَا"، چه د صحابه کرامو د اجتهاد حیثیت زمونږ د اجتهاد نه ډیر غوره دے، د صحابه کرامو په باره کښے د قرآن کریم ارشاد دے،

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ط (بینه آیة ۸) الله تعالیٰ د هغوی نه راضی او دوی د الله تعالیٰ نه راضی دی)

د رضائے الٰهی دا آسمانی سند دومره اُوچت (اعلیٰ) دے چه د دے سره دا احتمال نه پاتے کیږی چه مجموعی حیثیت سره به د دوی تفسیر غلط شی او د اُمّت د پاره به د ګمراهئ سبب جوړ شی، ځکه چه د رضائے الٰهی نه پس د دے قسمه احتمال لا تو ګنجائش نه پاتے کیږی، د دے نه علاوه د علم الآثار نه د صحابه رضا او تابعینو رح د اقوالو علم دا تلے شی او مفسرین قرآن د دا سے تفسیر کولو نه محفوظ پاتے شی کوم چه د دے ټولو نه خلاف وی او د تحریف قرآن عنوان ئے یوځت جرم سبب جوړ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هغې باندې قرآن کښې د دوزخ وعيد راغلې دې

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ: او څوک چه د پيغمبر خلاف کوی لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ: او د مؤمنانو نه په خلاف لاره نيسی نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ط وَسَآءَتْ: نو موږ به هغوی د هغوی د مَصِيْرًا ط (سورة النساء آية ١١٥: خوښې په لار د تلو نه پريږدو او جهنم کښې به ئې وراچوو او جهنم ډير خراب ځائې دې) د دې آيت نه معلومه شوه چه څنګه مخالفت د رسول عليه السلام جرم دې دغه رنګ د صحابه کرامو مخالفت هم جرم دې، ځکه چه د نزول قرآن مومنان هم دغه دی. له دې وجې داسې تفسير چه د صحابه کرامو د مجموعی رائې نه خلاف وی هغه تحريف او جرم دې، چه د هغې سزا دوزخ دې.

## ٤- علم القواعد واصول استنباط.

د مفسر د پاره د عربی ژبان د هغې قوانينو علم هم ضروری دې چه په هغې هغه د مجمل، مفصّل، عام، خاص، مطلق، مقيّد، امر، نهی وغيره حقيقتونه او مقتضيات معلومه کړې شی چه د تفسير کولو په وخت احکامو او تعبيراتو سلسله کښې غلطی اُونکړی، دا قواعد د اصول فقهې د علم نه معلوميږی. دا د عربی ژبې يو ژور علم دې چه خاص اهل علم ئې پيژنی او د دې نه اهل استنباط و ئيلې شی دوی په دې قاعدو کښې ماهر وی، او د دې په زور د احکامو د استخراج جوګه وی قرآن کښې د دې خاص طبقې ذکر دې:

| | |
|---|---|
| وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ | يعنې د امن او خوف په باره کښې څه حادثه پيښه شی نو کچرې هغه الله او د رسول عليه السلام ته حواله |



مِنْهُمْ (سورة النساء آية ٨٣) کړی نو دا استنباط خاوندان به د هغې حقيقت پيژندلې وې.

شرعی احکام کچرې او امر وی نو امر د او د امن څيز دې او کچرې منهيات وی نو نهی ده او د خوف څيز دې، څه معامله کښې دا تحقيق کول چه مامور دې که منهی نو د دې به دا مطلب وی چه دا امن کښې داخل دې که خوف کښې، دا د الله او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم (کتاب الله او حديث) طرف ته راوړل بکار دی، د دې د پاره چه اجتهاد کونکی د کتاب الله او سنّت منصوصاتو سره د دغې معاملې موازنه اُوکړی او د هغې حکم ترې رااُباسی د دې د پاره د عربی په عامه ژبه د پوهيدو نه علاوه د عربی ژبې د مخصوصو قواعدو معرفت (پيژندل) هم ضروری دی چه په هغې د قرآن د صحيح قانونی اندازه فکر دارومدار دې او دا اصول فقه د علم نه د دې قانونی قواعدو پيژندل حاصليږی.

## ٥- علم قواعد الالٰهيّات

د مفسر فرض دی چه هغه نه د ذات الٰهی سره تړلو جائزو او ناجائزو علم حاصل وی، او هغه په دې پوهيږی چه الله تعالٰی يو داسې هستی ده چه د جسميت، طرف او مکان او زمان نه منزّه او پاک دې او د دې قيدونو نه بالکل بهر دې، هغه داسې ذاتی کمالاتو سره موصوف دې چه لا محدود دی دا د دې د پاره چه د هغه آيتونو په تفسير کښې درغ اُنخوری کوم چه الٰهيات او د الله ذات او صفاتو سره متعلق وی، او د دې امورو د پاره د علم العقائد او علم الکلام ضرورت دې، چه د الٰهيات په مسئلو کښې د ګمراهئ نه محفوظ پاتې شی:

| | |
|---|---|
| ازالۀ شبه | کيدې شی چه د چا په زړه کښې دا شبه وی چه د تفسير قرآن د پاره په کومو علومو کښې د مهارت شرط ايخودې |

شوے دے نو هغه علوم خود نزولِ قرآن په زمانه کښے نه وو بلکه د هغے نه ورستو تدوین شو لکه علم الصرف، علم النحو، لغت، بلاغة علم الحدیث والآثار علم العقائد او علم الکلام او اُصولِ فقه. اُس د دے ضرورت ولے پیدا شو او که د دے ضرورت وی نو د وړاندینی صحابه کرامو ولې بغیر تفسیر بیا څنګه وو؟ جواب دا دے چه د علوم وجود او د هغے تدوین کښے فرق دے دا ټول علوم مذکوره د نزولِ قرآن بلکه د هغے نه هم وړاندے موجود وو عربی ژبے سره دا کسانو وو او په عربی خبرو اترو کښے به استعمالیدل صرف دے علوم و تدوین او تصنیف نه وو شوے هسے خو فاعل مرفوع وئیل مفعول منصوب وئیل، عام، خاص، مطلق او مقید وغیره رنګ د صرف او نحو تغیرات، د استعمال بلاغتی موقعے دا ټول د نزول قرآن په وخت کښے موجود وو او عربو به استعمالول صرف د تصنیف او تدوین په سانچه کښے پس واچولے شو. علم الحدیث او علم الآثار د قرآن د تشریح په حیث قرآن سره سره وجود ته راغلل خو صرف تصنیف او تدوین ئے وروستو شو نو دا شبه څکه بے ځایه ده:-

**۲- علم الموهبة** د قرآن د پوهے او د تفسیر د مهارت د پاره علمِ وهبی او د شاه ولی الله رحمه الله په قول "علم لدنی" ضروری دے، چه د نورِ ایمان او تقوی نه پیدا کیږی، د قرآن ارشاد دے لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ۝ (سورة الواقعه آیة ۷۹) د قرآن ظاهری الفاظ او نقوشو ته صرف پاک لاس لګولے شی، یعنی د کوم کس چه طهارت او اودس نه وی، نو هغه ظاهری قرآن ته لاس نشی لګولے دغه رنګ چه د چا طهارت باطنی او قلبی نه وی، نو هغه د قرآن باطن او د هغه معانی نشی موندے. دا طهارتِ باطنی او قلبی نور په طاعت الٰهی او تقوی سره پیدا کیږی، چنانچه امام سیوطی رح په اتقان جلد ۲ صفحه ۱۸۱ کښے د امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرکشی د البرهان فی علوم القرآن نه نقل کړیدی،

اِعْلَمْ اَنَّهٗ لَا يَحْصُلُ لِلنَّاظِرِ فَهْمُ مَعَانِي الْقُرْاٰنِ وَلَا يَظْهَرُ اَسْرَارُهٗ لِمَنْ فِي قَلْبِهٖ بِدْعَةٌ اَوْ كِبْرٌ اَوْ هَوًى اَوْ حُبُّ الدُّنْيَا اَوْ مُصِرٌّ عَلٰى ذَنْبٍ اَوْ غَيْرُ مُتَحَقِّقِ الْاِيْمَانِ اَوْ ضَعِيْفُ التَّحْقِيْقِ اَوْ يَعْتَمِدُ عَلٰى مُفَسِّرٍ لَيْسَ عِنْدَهٗ عِلْمٌ اَوْ رَاجِعٌ اِلٰى مَعْقُوْلِهٖ وَهٰذِهٖ كُلُّهَا حُجُبٌ وَمَوَانِعُ بَعْضُهَا اَكْبَرُ مِنْ بَعْضٍ وَهٰذَا مَعْنٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ، قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ يَقُوْلُ اَنْزِعُ عَنْهُمْ فَهْمَ الْقُرْاٰنِ اَخْرَجَهٗ اِبْنُ اَبِيْ حَاتِمٍ قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ لَا يَجْتَمِعُ فَهْمُ الْقُرْاٰنِ وَالْاِشْتِغَالُ بِالْحُطَامِ فِي قَلْبِ مُؤْمِنٍ ط

د قرآن معانی او اسرار دا سے کس ته نشی حاصلیدے د چا په زړه کښے چه بدعت، تکبر، خواهش پرستی یا محبت د دنیا وی، یا په ګناه مُصِر وی یا د هغه ایمان مضبوط نه وی یا د هغه تحقیق کمزورے وی یا په غیر عالم مفسر باندے اعتماد کوی یا د خپل عقل منته کوی دا ټول اُمور د قرآن په پوهه کښے بندونه وی او څه د لویه نه لوئے وی همدا معنی ده د قرآن د دے ارشاد چه ځه به د قرآن مقاصدو نه هغه خلق اړوم چه په زمکه کښے ناحق لوئی کوی ابن ابی حاتم د سفیان بن عیینه نه نقل کړی دی چه دوی نه به د قرآن د پوهے نور راواخلم، سفیانِ ثوری فرمائی چه حکام پرستی او د قرآن پوهه دواړه د مؤمن په زړه کښے نشی جمع کیدے:

د نه معلومه شوه چه د قرآن د پوهے د پاره د زړه د رڼا ضرورت دے، چه څوک د دے نه محروم وی نو هغه به د قرآن د پوهے نه هم محروم دی او د رڼا د هغه اُمورو نه پیدا کیږی کوم چه پوره عبادات کښے ذکر دی او د الله تعالی نه د فیض حاصلولو د پاره شرط دی د دے نوم

"عِلْمُ الْمَوْهِبَة" دے چه په دے د قرآن دروازه پرانستے شی،

په حدیث شریف کښے دی چه چا پخپله رائے د قرآن صحیح تفسیر هُم اُکړو نو بیا هم ده غلط اُکړه (ابوداؤد، ترمذی، نسائی) د ابوداؤد په یو بل روایت کښے دی، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ یعنے پخپله رائے تفسیر کوونکے د دوزخ مستحق دے په دے وجه ټول عُلماء په دے متفق دی چه تفسیر بالرائے یو بد کار دے

## د تفسیر بالرائے تحقیق

د تفسیر بالرائے نه دا معنیٰ قطعاً مُراد نه ده چه د قرآن په تفسیر ښ ذهن و رائے او فکر استعمال نشی، ځکه چه دے نه خو بغیر تفسیر کیدے نشی او پخپله قرآن په (لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ) چه خلق د قرآن کښے فکر کوی او په اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۝ چه دا خلق په قرآن کښے ولے غور نکوی) قسم الفاظو سره په قرآن کښے د فکر او تدبّر کولو ترغیب ورکړے دے په دے وجه "رائے" او "فکر" خه بد نه دے بلکه د تفسیر بالرائے مطلب دا دے،

(۱) چه خپله رومبیٔ قائمه کړے رائے بنیاد جوړ کړی او قرآن دے رائے نه د را اړولو کوشش کوی په دے صورت کښے رائے اصل شوه او قرآن ئے تابع شو، چه موضوع په سبب کول دی او بد دی او د دوزخ باعث دی، په دے صورت کښے تفسیر بالرأی کښے دا د (ب) "سببیت" د پاره ده سیاق سباق او د عربی قواعدو مطابق د رائے په استعمال دا تفسیر کول چه د قرآن او د اسلام د بنیادی مقاصدو نه خلاف نه وی هغه "محمود" دے مذموم نه دے او دے ته تفسیر بالرائے هم نشی ویلے، بیا هم که دے ته څوک تفسیر بالرائے اُوائی نو د "كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ" کښے استعمال شوے "ب" پشان رائے به صرف یو آله د تفسیر شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تفسیری عمل محور او مرجع به نه وی،

(۲) دویم صورت دا دے، چه په قرآنی تفسیر کښے د عمل او نقل دوه جُدا دائرے دی، د قرآن د مفردا تو معنے متعین کول اسباب نزول، ناسخ، بیان د مجملاتو او مختلف قرآتونه، دا ټول داسے څیزونه دی چه صرف په نقل معلومیږی دائے په دے کښے نشی چلیدے. لهٰذا په دے اُمورو کښی دائے دخل تفسیر بالرائی وی، چه هغه بد دے باقی پخپله رائے د آیت ډیرو معنو کښے یو معنیٰ متعین کول یا د هغے نه د حکم استنباط د قواعدو د استنباط مطابق یا د قرآنی حُکم د حکمت او دراز وغیره استخراج دا ټول تفسیر بالرائے کښے داخل نه دے، ځکه چه دا ټول اُمور د عقل او د رائے دائرے سره تړلی دی نه چه د نقل او درایت سره (الاتقان جلد ۲ ص ۱۷۹ و ص ۱۸۳) نو تفسیر بالرائی به دا مطلب وی، چه دائے د نقل په دائره کښے مداخلت اُکړی، او د نقل او روایت په موقعه د نقل او روایت په ځائے په رائے سره تفسیر اُکړی، نو دا د حد نه تجاوز دے:

## د شبهې ازاله، د صوفیه و او باطنیه و د تفسیر په منځ کښے فرق،

د اسلام صوفیه و هم د قرآن تفسیرونه کړی دی، او باطنیه ملاحده و هم لیکن اوّل ته تعریف او تفسیر بالرأی نشی ویلے او دویم قسم په تعریف کښے شامل دے، د دے فرق دا دے، چه صوفیه کرام د قرآن ظاهری معنے منی او د هغے سره د مناسبو او مماثلو څیزونو ذکر کوی چه د ذهن د پرواز دائره وسیع وی، او د هغه مناسب څیزونه د اسلامی مُسلّماتو نه خلاف نه وی، د دے نه د اسلامیاتو انکار نه لازمیږی مګر باطنیه ظاهری معنیٰ نه منی او د خپلے خوښے د هغه باطنی معنے اصل مُراد د الله ګڼړی، لکه ځنګه چه دا فرق روح المعانی بلکه تفتازانی

هُم بیان کړی دے، علامه الوُسی فرمائی

وَاَمَّا کَلَامُ الصُّوْفِیَّةِ فِی الْقُرْاٰنِ فَهُوَ مِنْ بَابِ الْاِشَارَاتِ تَنْکَشِفُ عَلٰی اَرْبَابِ السُّلُوْکِ وَیُمْکِنُ التَّطْبِیْقُ بَیْنَهَا وَبَیْنَ الظَّوَاهِرِ الْمُرَادَةِ وَ ذٰلِکَ مِنْ کَمَالِ الْاِیْمَانِ وَمَحْضِ الْعِرْفَانِ لَا اَنَّهُمْ اِعْتَقَدُوْا اَنَّ الظَّاهِرَ غَیْرُ مُرَادٍ اَصْلًا وَاِنَّمَا الْمُرَادُ الْبَاطِنُ فَقَطْ اِذْ ذٰلِکَ اِعْتِقَادُ الْبَاطِنِیَّةِ الْمَلَاحِدَةِ تَوَسَّلُوْا بِهٖ اِلٰی نَفْیِ الشَّرِیْعَةِ بِالْکُلِّیَّةِ وَحَاشَا سَادَاتُنَا مِنْ ذٰلِکَ وَقَدْ حَضُّوْا عَلَی التَّفْسِیْرِ الظَّاهِرِ وَقَالُوْا لَابُدَّ مِنْهُ اَوَّلًا اِذْ لَا یُطْمَعُ فِی الْوُصُوْلِ اِلَی الْبَاطِنِ قَبْلَ اَحْکَامِ الظَّاهِرِ وَمَنْ اِدَّعٰی فَهْمَ اَسْرَارِ الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اِحْکَامِ الظَّاهِرِ فَهُوَ کَمَنْ اِدَّعَی الْبُلُوْغَ اِلٰی صَدْرِ الْبَیْتِ قَبْلَ اَنْ یُجَاوِزَ الْبَابَ

دَ تفسیر قُرآن په باره کښے دَ صُوفیه دَ کلام دَ قبیلے دَ اشارا تو دے چه هغه په سالکانو منکشف کیږی او دا د قُرآن ظاهری معنو سره منطبق کیدے شی۔ دا دَ کمالِ ایمان او د خالص معرفت نښے دی، دَ دوی دا مطلب هرگز نه وی چه ظاهری معنے مُراد نه وی، بلکه صرف باطنی معنی مراد دی، دا عقیده خو دَ باطنیه وُ مُلحدینو ده چه په دا سے دوی شریعت ختموُل غواړی او خوزن بُزرگان خو دَ دے نه ویزاره دی ځکه چه هغوی بخپله په ظاهری تفسیر زور ورکړے دے، او وئیلی دی چه د دا ظاهری تفسیر پوخ نه دی هغه باطن ته نشی رسیدے او کوم کس چه د ظاهری تفسیر د پختگی (پوښوالی) نه وړاندے (غیر) قُرآن دَ رازونه حاصلول غواړی نو هغه دا سے دے لکه دکوم څوک نه (غیر دروازے) کور ته رسیدو دعوی کوی۔

دعلامه آلوُسی دَ دے بیان نه معلومیږی، چه دَ صُوفیه وُ په تفسیر کښے د څو اُمورو لحاظ وی، چه هغه د باطنی تفسیر نه جدا کوی،

(۱) دَ الله مُراد صرف ظاهری تفسیر دے نه چه باطنی اشارات (۲) صرف په ظاهری تفسیر کښے د مهارت په وجه باطنی اشاراتو ته رسائی کیدے شی (۳) باطنی اشارات ظاهری تفسیر سره مطابق کیدل ضروری دی (۴) دَ معرفتِ الٰهی په نتیجه کښے دَ باطنی اشارا تو مطلب، دَ مُناسبو څیزونو انکشاف دے، نه چه دَ الحاد او دَ خواهش نفسانی په نتیجه کښے۔ دَ حدیث په دے الفاظو: لِکُلِّ اٰیَةٍ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَلِکُلِّ حَدٍّ مَطْلَعٌ، کښے دَ ظاهر نه مُراد ظاهری معنیٰ ده او دَ باطن نه اَسرار مُراد دی (رُوح المعانی جلد ۱ ص ۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ صُوفیه وُ او باطنیه وُ په معنو کښے دَ بیلتُون په غرض مُونږ یو مثال پیش کوو چه دا بیلتُون به ښکاره شی، حدیث شریف کښے دی: اِنَّ الْمَلٰٓئِکَةَ لَا تَدْخُلُ بَیْتًا فِیْهِ کَلْبٌ وَّ صُوْرَةٌ: یعنے په کوم کور کښے چه سپے یا تصویرونه وی په هغه کښے دَ رحمت فرښتے نه داخلیږی۔ دا خو ظاهری معنی شوه اُس کېږے، څوک دا معنے په ځیل ځانله هُم دا سے واخلی او بل یو مناسب مطلب ئے دا هُم واخلی، . . . . . . . . . . . . . . . چه دَ کور نه مطلب زړه او دَ سپی نه مطلب دَ دَرندگانو خویونه دی او تصویر نه مطلب محبت د دنیا دے نو چه په کوم زړه کښے محبت دَ دُنیا او دَ سپی پشان اخلاق وی، نو هغه کښے مَلَکی نور نه داخلیږی، او س ه دَ دے حدیث دَ ظاهری الفاظو په جوړ بے ضرورته سپے او دَ ساه واله څیز تصویر په کور کښے حرام گنړی دا مثال د صوفیه وُ د باطنی تفسیر دے، لیکن کېږے اُس څوک دَ دے دا مطلب بیان کړی، چه دے نه ظاهری کور، ظاهری سپے او ظاهری تصویر مُراد نه دے او نه هغه په شریعت کښے منع دے، بلکه دَ دے مطلب په حدیث کښے دَ سپو خویونه دی، او دَ تصویر نه مطلب یواځے محبّت دَ دُنیا دے نو دے ته به مُونږ هغه باطنی تفسیر وایو کوم چه الحاد او تحریف دے، دغه رنگ په سُورتِ بقره کښے دَ بنی اسرائیلو په سلسله کښے راغلی دی. اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُکُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً: سورۃ بقره آیة ۶۷) د بنی اسرائیلو د یو

مقتول سړی د قاتل معلومولو د پاره دوی ته حکم اُشو چه غوا ذبح کړی
او بیا د هغې یو جُز مقتول سره اُمږی نو مقتول به ژوندے شی او خپل
قاتل به اُښائی، اُس ددے ایت دا سے تفسیر کول چه د بقرۃ نه غوا یا
غوبے نه دے مُراد بلکه نفس بهیمیه ترمُراد دے بنکاره مطلب به ئے دا
وی، چه خپل نفس بهیمیه د عبادت او د ریاضت په چاړه ذبح کړی
یعنے مړے کړی هرکله چه نفس سوپه عبادت او ریاضت سره د نفس سرکشی
ختمه شی نو روحانی ژوند به نصیب شی، او اصل قاتل یعنی خواهشات
نفسانی به په گوته کړی، (مطلب دا چه د خواهشاتو نه مغلوب انسان
مړے دے، د غوا / غوی نه مطلب هغه نفس بهیمیه دے، اکوم چه د
خواهشاتو مرکز دے، د دے ذبح کول په ریاضت او عبادت سره ددې
خواهشات مغلوب کول دی، چه هغه قاتل بولی، د ژوندی کیدو مطلب
جسمانی نه، بلکه رُوحانی ژوند مراد دے، (مترجم)

دا تفسیر کول چه غوا / غوے نه دے ذبح شوے او نه غوښے
مقتُول بیا ژوندے شوے او خپل قاتل ئے اُ ښودلو» نو دا تفسیر بالرأ
دے چه چُوټ الحاد او زندیقیت دے؛

که اصل واقعه او د ایت ظاهری معنی په خپل ځائے صحیح اُگڼړی او بیا
د غسے باطنی تفسیر اُکړی نو څه بد یت ئے نشته لکه څنګه چه قاضی
بیضاوی په خپل تفسیر کښے دغه ذکر شوے اشارے د معرفت الٰهی د
نکتو په درجه کښے نقل کړی دی؛

## د تفسیر بالرائے قسمونه

امام سیوطی رح په اتقان کښے د ابن النقیب رح نه نقل کړے دی؛

مَا تَحْصِلُ فِيْ مَعْنٰى حَدِيْثِ التَّفْسِيْرِ : په شریعت کښے د منع شوی تفسیر بالرَّاْيِ خَمْسَةُ اَقْوَالٍ اَحَدُهَا: صورتونه دی


(c) ketabton.com: The Digital Library

اَلتَّفْسِيْرُ مِنْ غَيْرِ حُصُوْلِ الْعُلُوْمِ الَّتِيْ يَجُوْزُ مَعَهَا التَّفْسِيْرُ وَالثَّانِيْ تَفْسِيْرُ الْمُتَشَابِهِ الَّذِيْ لَا يَعْلَمُهٗ اِلَّا اللّٰهُ وَالثَّالِثُ التَّفْسِيْرُ الْمُقَرِّرُ لِلْمَذْهَبِ الْفَاسِدِ بِاَنْ يَجْعَلَ الْمَذْهَبَ اَصْلًا وَّالتَّفْسِيْرُ تَابِعًا فَيُرَدُّ اِلَيْهِ بِاَيِّ طَرِيْقٍ اَمْكَنَ وَاِنْ كَانَ ضَعِيْفًا، اَلرَّابِعُ اَنَّ مُرَادَ اللّٰهِ كَذَا بِالْقَطْعِ مِنْ غَيْرِ دَلِيْلٍ، اَلْخَامِسُ التَّفْسِيْرُ بِالْاِسْتِحْسَانِ وَالْهَوٰى (الاتقان جلد ۲، ص ۱۸۳)

(۱) د تفسیر د پاره د ضروری علومو حاصلولو نه بغیر تفسیر کول؛

(۲) د صفاتِ باری تعالیٰ یا د مُقطعاتو یا د متشابهاتو تفسیر کول چه د هغے علم الله تعالیٰ سره خاص دے (۳) د خپلے غلطے قائم کړے شوے رائے د مضبوطولو د پاره داسے تفسیر کول چه هغه د قرآن خپلے غلطے رائے تابع کړی، او هم دے نه ئے دیمار دا کارډی، څلورم دا چه بغیر دلیل دعوے اُکړی چه هم دا مطلب یقیناً د الله تعالیٰ دے، پنځم دا چه د قرآن تفسیر په خپله خوښه او خواهش اُکړی؛

دا ټول صُورتُونه په تفسیر بالرائے کښ داخل دی، په کوم چه د دوزخ د سزا وعید دا غلے دے، د لوی رنګ په تفسیر ولو کښے به ډیر کم دا سے وی، چه په دے پنځو صورتونو کښے به په یو نه یو طریقه داخل نه وی، العیاذ بالله؛

## اقسامِ تفسیر

ابن عباس رضی الله د تفسیر څلور قسمه ښودلی دی (۱) چه صرف د عربی ژبے په خاص مهارت او د هغے په قواعدو پیژندو معلومیدے شی (۲) هغه اعتقادی او عملی ښکاره احکام چه د قرآن الفاظو په آوریدو سره معلومیدے شی، لکه چه فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سورۃ محمد آیة ۱۹؛ پوه شه چه بغیر د الله بل معبود نشته اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ (البقرۃ آیة ۴۳). مونځ قائموئ او زکوٰة ورکوئ

چه دا د عربو عوام هم معلومولے شی او د ے د پاره د عربی د بار یکو ضرورت نه وی او نه په دے باندے د نه پوهیدو څه عذر قبول دے، (۳) چه صرف مجتهدین علماء پرے پوهیږی او عموماً دے ته تاویل ویلے شی مثلاً د فقهی احکامو استنباط، بیان د مجمل تخصیص د عام او تقیید د مطلق۔ حقیقتِ لغویه باندے حقیقت شرعیه ته ترجیح ورکول او حقیقت عرفیه ته په حقیقتِ لغویه باندے ترجیح ورکول خو هله چه په خلاف دے دلیل قائم نه وی، لکه وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ: چه دلیل په معنیٰ لغوی شته نو معنیٰ عرفی به ترے مطلب نشی اخستے:۔

(۴) ځلورم هغه چه د هغے علم الله سره خاص دے، لکه د متشابهاتو د وخت د قیامت او د روح وغیره علم (الاتقان جلد ۲ صـ۱۸۲)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ کښے د مذکورے آسانئ نه مطلب دویم قسم دے لفظ د ذکر کړے قرینه ده چه یولځے هغه قرآنی مضامین آسان کړے شوی دی چه وعظ او نصیحت سره تړون لری او هغه هم د غه دویم قسم دی۔ امام زرکشی دا تقسیم خوښ کړیدے او په دے تقسیم کښے علماء سره چه کوم قسم خاص شوے دے هغه په عامه اصطلاح کښے تاویل بللے شی خو تاویل محمود په دے لاندینی شرطونو مشروط دے که دا نه وی نو بیا تاویل مذموم او تحریف دے:۔

(۱) د کوم آیت تاویل چه کیږی هغه به د وړاندینی آیت سره جوړ خوری (۲) د روستنی آیت سره به هم جوړ خوری (۳) د لغت په اعتبار سره د آیت په مطلب کښے د دے ځائے وی (۴) د کتاب الله او سنتِ رسول نه به خلاف نه وی:۔ الاتقان جلد ۲ صـ۳۱۱ کښے وی:۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱

| | |
|---|---|
| قَالَ قَوْمٌ مِّنْهُمُ الْبَغَوِيُّ وَالْكَرَاشِيُّ التَّاوِيْلُ صَرْفُ الْاٰيَةِ اِلٰى مَعْنًى مُّوَافِقٍ لِمَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا تَحْتَمِلُهُ الْاٰيَةُ غَيْرُ مُخَالِفٍ لِلْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ: | د تاویل د صحت بغوی او کراشی د ... شرطونه نقل کړیدی (۱) د رومبی آیت سره جوړ بنت (۲) د روستی آیت سره جوړ بنت۔ (۳) د کتاب الله او سنت سره د مخالف کیدل) |

امام زرکشی د علامه زمخشری نه دا پنځم شرط هم نقل کړے دے، چه دے تاویل او تفسیر نه د قرآن په معجزانه بلاغت کښے څه نقصان نه پیښیږی، بلکه اعجازی بلاغت په خپل ځائے باقی وی

قَالَ الزَّمَخْشَرِيُّ مِنْ حَقِّ مُفَسِّرِ كِتَابِ اللّٰهِ الْبَاهِرِ وَكَلَامِهِ الْمُعْجِزِ اَنْ يَّتَعَاهَدَ فِيْ مَذَاهِبِهِ بَقَاءَ النَّظْمِ عَلٰى حُسْنِهٖ وَالْبَلَاغَةِ عَلٰى كَمَالِهَا (البرهان جلد ۱ صـ۳۱۱)،

(۱) د مفسرِ قرآن د پاره دا ضروری ده، چه هغه د تفسیر په لوو لارو کښے دا خبره په نظر کښے ساتی چه د قرآن د نظم (عبارت) خوبی او د قرآن د بلاغت کمال په خپل ځائے پاتے وی،، دے نه پنځم شرط هم معلوم شو د علامه زمخشری رائے بالکل صحیح ده د قرآنی آیت اصلی مقصد د پاره په قرآنی تفسیر کښے اعجازی شان موجود دے کچرے معنے بدله شی او د خپلے خوښے معنے اخلے شی نو د قرآنی تفسیر اعجازی شان به ختم شی او په قرآنی الفاظو کښے د نظم قرآنی او د سیاق سباق د ارتباط او د دلالت شان د د غه ځانی معنے را نغوښتلو په وجه کمزورے شی، (۲) کتاب او سنت کښے چه کوم بیان شوے دے هغه یو ناقابل تقسیم آسمانی حق دے نو د قرآن د کوم آیت چه تفسیر کیږی نو دا به کتل پکار وی، چه دا تفسیر یا مطلب به بل ځائے د قرآن یا د سنتِ نبوی د مطالبو سره خو ټکره نه وهی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تکرار وهم نو دا به د دے خبرے دلیل وی چه د انفسیر خپل ځانی او تحریف
دے حق یو د بل سره نه تکراویږی نو تفسیر به هم هغه صحیح وی چه
په هغې کښے یو بل سره تکرار او تعارض نه وی خو تعارض نه مطلب حقیقی
تعارض دے هسے خو ظاهری تعارض مُضِر ځکه ندے چه هغه په قرآن
کښے غور کولو سره ختمیږی، هم دغه وجه ده چه د هدایت په تفسیر کښے
د مُفسِر نظر د په ټول کتاب او سُنّت وی دے د پاره چه د هغه تفسیر
د مجموعی کتاب او سنت نه خلاف نشی. (۲) دا رنګ د خیر القرون (یعنے صحابهٔ
تابعین او تبع تابعین چه د قرآن د پوهے یوغټه او مُمتاز، برخه لری) د
تفسیرونو د مجموعی تُرح نیچه رُ ستنے کوم تفسیر خلاف وی نو هغه به
تحریف وی او د قبلَو لو قابل به نه وی، البته کچرے یو ماهر مُفسِر د تفسیر
د شرائطو په رنړا کښے دا سے مطالب قرآنی بیان کړی، چه سلفو نه وی
بیان کړی خو د هغې خلاف ئے هُم نه وی کړے، نو د دا سے معارف
قرآنیه و دروازه د دُ ستو خلقو د پاره بنده هم نه ده او په قرآن کښے
د صحیح غور او فکر په زور د معارف فواو اسرار و د استخراج کار به تر قیامته
جاری وی، په حدیث شریف کښے راځی. لَا يَنْقَضِي عَجَائِبُهُ : د قرآن
عجیبه مضامین نه ختمیږی د دے متعلق د امام شافعی رح ارشاد دے

جَمِيعُ مَا تَقُولُهُ الْأُمَّةُ شَرْحٌ لِلسُّنَّةِ وَجَمِيعُ السُّنَّةِ شَرْحٌ لِلْقُرْآنِ وَجَمِيعُ الْقُرْآنِ شَرْحٌ لِلْأَسْمَاءِ الْحُسْنَى وَصِفَاتِهِ الْعُلْيَاءِ : ائمه مجتهدینو چه کوم احکام په اجتهاد راپاُ بنکلی دی، هغه د حدیث او سُنّت شرح ده او پوره سنت د قرآن شرح ده او قرآن د الله تعالی د اسماء حسنیٰ او د صفات عالیه و شرح ده) او د دے اسرارو متعلق د حضرت
ابن مسعود رض ارشاد دے:

قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رض مَنْ أَرَادَ الْعِلْمَ : څوک چه علم غواړی نو د قرآن



فَلْيُثَوِّرِ الْقُرْآنَ فَإِنَّ فِيهِ عِلْمُ : د مضامینو لټون دِ اُن کړی ځکه
الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ رَوَاهُ : چه په دے کښے د اوّلینو او آخرینو
الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَدْخَلِ) : علم دے (مراد اُصول د علم دی)
او هم په دے باره د ارشادات د باری تعالیٰ دی، تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ
تَفْصِيلًا لِكُلِّ شَيْءٍ، غرض دا چه د دین ټول اُصول په قرآن حکیم
کښے موجود دی او په فیضانِ الٰهی سره د الله تعالیٰ په خاص بندګانو د
قرآن نه د دین اسرار په رانسے کیږی د دے فیضان ذکر په روح المعانی
جلد ۱ ص ۱ کوری، د دے قسم فیوضاتو ته تفسیر اشاری و یلے شی
د باطنیه و په تفسیر اشاری کښے چونکه د ظاهری معنی انکار دے په دے
وجه هغه مردود دے، د اهلُ السُّنة صوفیه و چه کوم اشاری تفسیرونه
کړی دی په هغې کښے اَهَم خلود دی، تفسیر نیشا پوری، تفسیر الآلوسی
المتوفی سنه ۱۲۷۰ ه تفسیر التستری سهل بن عبد الله التستری المتوفی
سنه ۲۸۳ ه ولم یتم. (یعنے پوره نه دے) او تفسیر د محی الدین بن
عربی المتوفی بدمشق سنه ۶۳۸ ه دا ټول صاحبان د قرآن ظاهری
معنے تسلیم کولو نه پس اشاری تفسیر و نه کوی چه د هغې متعلق زرکشی
په برهان کښے لیکی:

كَلَامُ الصُّوفِيَّةِ فِي تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ : د صوفیه و کلام تفسیر نه دے بلکه
قِيلَ لَيْسَ بِتَفْسِيرٍ وَإِنَّمَا هُوَ مَعَانٍ : هغه واردات او وجد انیات دی
وَمَوَاجِيدُ يَجِدُونَ عِنْدَ التِّلَاوَةِ : چه هغوی د تلاوت په وخت
محسوسوی) بن الصلاح په خپله فتاوی کښے لیکی:
وَجَدْتُ عِنْدَ الْإِمَامِ أَبِي الْحَسَنِ الْوَاحِدِيِّ : ما د ابو الحسن الواحدی
أَنَّهُ قَالَ صَنَّفَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيُّ : نه معلومه کړه هغه او ویلے
حَقَائِقَ التَّفْسِيرِ فَإِنْ كَانَ اعْتَقَدَ أَنَّهُ تَفْسِيرٌ : چه عبد الرحمٰن السلمی

فَقَدْ كَفَرَ قَالَ ابْنُ الصَّلَاحِ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهُ تَفْسِيْرًا وَلَا ذَهَبَ بِهِ مَذْهَبَ الشَّرْحِ لِلْكَلِمَةِ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ كَذٰلِكَ كَانُوْا قَدْ سَلَكُوْا مَسْلَكَ الْبَاطِنِيَّةِ وَإِنَّمَا ذٰلِكَ مِنْهُمْ ذِكْرٌ لِنَظِيْرِ مَا وَرَدَ بِهِ الْقُرْآنُ فَإِنَّ النَّظِيْرَ يُذْكَرُ بِالنَّظِيْرِ:

حقائق التفسیر لیکلے دے کچرے هغه دا تفسیر ګنړی نو کافر دے ابن الصلاح فرمائی چه هغوی دا د تفسیر په توګه نه دے ذکر کړے او نه ئے د دغه لفظ تشریح ګنړی، کچرے داسے وے نو دا باطنیت دے، دا خو یوائے د قرآنی مدلول نظیر ذکر کړے دے، ځکه چه یو نظیر نه بل نظیر را یادیږی:)

د دے اقوالو نه معلومه شوه چه صوفیه داسے قسم تفسیر نه بولی بلکه د قرآنی مقاصد و نظیر بیانوی او د دے سره د باطنیه وُ او د صوفیه وُ د تفسیر بیلتون را علوا ول د قرآن د ظاهر نه انکار کوی لیکن صوفیه د قرآن ظاهری معنی مقلونه بعد داسے قسم بیان کوی، په مناهل العرفان جلد ۲ ص ۵۴۷ کښے دی:

وَمِنْ هٰهُنَا يُعْلَمُ الْفَرْقُ بَيْنَ تَفْسِيْرِ الصُّوْفِيَّةِ الْمُسَمّٰى بِالتَّفْسِيْرِ الْإِشَارِيِّ وَبَيْنَ تَفْسِيْرِ الْبَاطِنِيَّةِ الْمَلَاحِدَةِ فَالصُّوْفِيَّةُ لَا يَمْنَعُوْنَ إِرَادَةَ الظَّاهِرِ بَلْ يَحُضُّوْنَ عَلَيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ لَا بُدَّ مِنْهُ أَوَّلًا إِذْ مَنِ ادَّعٰى فَهْمَ أَسْرَارِ الْقُرْآنِ وَلَمْ يُحْكِمِ الظَّاهِرَ كَمَنِ ادَّعٰى بُلُوْغَ سَطْحِ الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُجَاوِزَ الْبَابَ:

د دے ځائے نه د صوفیه وُ د تفسیر اشاری او د باطنی ملحدینو د تفسیر فرق معلوم شو، صوفیه د ظاهری معنی انکار نه کوی، بلکه د هغے ترغیب ورکوی او وائی چه دا ډیره ضروری ده، ځکه چه د ظاهری مراد د پخنګی نه بغیر د قرآن د اسرارو د پوهے دعوے داسے ده لکه چه څوک دعوی اُلری چه په دروازه د ننوتو بغیر څه : : : دننه کورته لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب د مناهل د تفسیر اشاری قبلولو د پاره پنځه شرطونه بیان کړیدی

(۱) ظاهری معنی دِ د قرآن خلاف نه وی۔

(۲) دا دعوی دِ هم نه وی چه معنی مراد ده یوائے معنی اشاری ده نه چه معنی ظاهری۔

(۳) د قرآنی الفاظو ډیر لرے تاویل دِ نه وی چه د الفاظو عربی حیثیت د هغے خلاف وی۔

(۴) تفسیر اشاری دِ د شرع او عقل مقابل او معارض نه وی۔

(۵) اشاری مضمون دِ په شرعی دلیل مضبوط او مؤید وی۔

مناهل العرفان جلد ۲ ص ۴۹ باندے امام ابن تیمیه رح د قرآن هر هغه تفسیر غلط ښودلے دے چه د صحابه وُ او د تابعینو د تفسیر نه خلاف وی، اصول التفسیر کښے لیکی:-

وَفِي الْجُمْلَةِ مَنْ عَدَلَ عَنْ مَذَاهِبِ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ وَتَفْسِيْرِهِمْ إِلٰى مَا يُخَالِفُ ذٰلِكَ كَانَ مُخْطِئًا فِيْ ذٰلِكَ بَلْ مُبْتَدِعًا لِأَنَّهُمْ أَعْلَمُ بِتَفْسِيْرِهٖ وَمَعَانِيْهِ كَمَا أَنَّهُمْ أَعْلَمُ بِالْحَقِّ الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ بِهٖ رَسُوْلَهٗ انتهى:-

هر هغه تفسیر چه د صحابه وُ او تابعینو د تفسیر نه خلاف وی نو د دے مفسر په غلطه دے بلکه بدعتی دے، ځکه چه د قرآن په تفسیر او د هغے په معنو دوی ډیر ښه پوهه وو لکه څنګه چه هغوی د حضور علیه السلام د راوړلی شوی حق ډیر زیات عالمان وو۔

امام سیوطی رح په اتقان جلد ۲ ص ۱۸۱ کښے هم د دے په باره کښے لیکی وَهُوَ نَفِيْسٌ جِدًّا چه دا ډیره قیمتی او اعلیٰ خبره ده لیکن د دے سره لیکی چه د صحابه وُ او تابعینو د سند د صحت تحقیق پکار دے ځکه چه په دے قسم روایاتو کښے ضعیف او موضوعی هم موجود دی هر دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا اَلْاِعْلَامُ فِیْ خَفَاءٍ (فتح الباری ابتدا جلد اول) یعنے بل ته پټ خبر ښودل، دا د وحی لغوی معنیٰ دی، او د دے شرعی معنیٰ اَلْاِعْلَامُ بِالشَّرْعِ یعنے صِرف شرعی احکام ښودل وحی ده۔ د وحی لغوی، درے قسمه دی

(۱) فِطری (۲) اِیجادی (۳) عِرفانی

**فطری** لکه د خدائے پاك په الهام د نورو مچوګبین جوړول او په هغې کښے شهد جمع کول د غه رنګے د نورو حیوانانو کارنامے خو دا قسم وحی صِرف حیوانانو (ځناورو ځارویو) د پاره دی، په قُرآن کریم کښے دی:

وَاَوْحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِیْ: موبږ د شهدو مچو ته په وحی مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا (سورة النحل آیة ۶۸) . فطری سره ۱ ښودل چه تا سو په غرونو کښے ګبینونه جوړ کړی)

**ایجادی** لکه د یُورپ سائنسدان چه یو آرخ ته مخه کړی او هغې د پاره کوشش کوی نو د دَ غه مطلوب څیز صورت او نقشه الله پاک د ده په ذهن کښے راولی او د غه څیز بیا جوړ شی، مثلاً روښبی سری هوائی جهاز جوړ ول غوښته هغه اوّل د الوتکے شکل د ورلیده له د یو الوتونکی څیز شکل ئے په خیال کښے راو ستو او کار ئے پرِ شروع کړو تجربے ئے کولے او تکلیفو نه او تاوانو نه ئے برداشت کول تر دے چه قُدرت د الوتکے مکمّله نقشه د ده په ذهن کښے واچوله، د موجد کارخپل ذهن مُتوجّه کول وو او د خدائے کار د مطلُوب څیز نقشه چول دا هغه وحی او الهام دے چه عامو انسانانو ته کیږی هغه دِ کافروے نه وی:

کُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ: یعنی مؤمن او کافر دواړ چه کوشش رَبِّكَ ط وَمَا کَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا کوی نو مُوبږ د هغه مدد کو و ستا



سورة بنی اسرائیل آیة ۲۰ ) د خُدائے بخشش او فیض په چا بندٍ د دے دا قِسم وحی عامو انسانانو د پاره خاص ده اګرچه هغه کافرهُم وی:

**عِرفانی** دریم قسم وحی عِرفانی ده چه اولیاؤ سره خاص ده هله چه یو ولی د شریعت په تابعداری او په ریاضت سره د زړه صفائی بیا مُومی نو په ده باندے خاص علوم د الهام په ذریعه د الله د طرفه وارِد یږی چه هغے ته قُرآن اشاره کوی:

وَالَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِیْنَا لَنَهْدِیَنَّهُمْ: څوک چه د دین په لاره کښے او د سُبُلَنَا (سورة عنکبوت آیة ۶۹ : الله په فرمانبرداری کښے محنت کوی نو موبږ به هغوی د هدایت خاص لارے ورا نیغو:

د دے هدایت مطلب الهامی معارف دی چه د هدایت ایمانی نه بیوا دی، ځکه چه ایمانی هدایت خو د محنت کولو نه وړاندِ هم حاصل دے دا د دے واړه قسمه الهام په لُغت او په معنیٰ عامه کښ وحی ده دا حیوان انسان اولیاءِ کرامو ته کیدے شی اګرچه د مرتبو فرق لری خو هغه دے چه کوم ما وړاندے بیان کړو او دا وحی یوائے د پیغمبرانو نه ده بلکه د پیغمبرانو وحی خاص وحی شرعی ده:

## وحی شرعی

څلورم قسم شرعی ده چه انبیاء علیهم السلام سره خاص ده خو هر نبی ولی هم وی نو هغه ته وحی عرفانی هم کیږی چه د هغې نو عیت د وحی شرعی دے، چه د قانُون او احکامو حیثیت لری بخلاف د ولی د وحی عرفانی چه هغه قانونی حیثیت نه لری او دا د علم کلام یو عامه مسئله ده:- وَالْاِلْهَامُ لَیْسَ بِحُجَّةٍ عِنْدَ الشَّرْعِ: یعنے د ولی الهام قانُونِ شرعی نشی جوړیدے ، د وحی شرعی حقیقت دا دے چه د الله د جانبه د فرښتے په واسطه یا نیغ په نیغه په خوب یا په

(۱) د یو جسم په یو مکان کښې ښکاره کیدل لکه
نَزَلَ الْاَمِيْرُ الْمَدِيْنَةَ ، (امیر په ښار کښې ښکاره شو)
رَبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبَارَكًا ؛ ترجمه :- اے ځما ربه ما د برکت
سوره مؤمنون آیة ع۲۹ ؛ واله ځای کښې ښکاره کړه.
(۲) د یو جسم باندې نه لاندې را تلل، لکه
وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبَارَكًا ؛ مونږ د آسمانه د برکت اوبه راکوزې کړې دي؛

د قرآن حکیم الفاظ د جسمیت او مکانیت نه بهر (پاک) دي په دے وجه د نزول قرآن مطلب اعلام (ښودل) دے مطلب دا چه قرآن په ذریعه د فرښتے رسول علیه السلام ته ښودل دا نزولِ قرآن دے او په دے تعبیر (نزول) کښې د قرآن د شان لوئي ښکاره کول مقصود دي (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۲) چه انسان ته د لوړ مقامه پرخیز راغلے دے، یا قرآن باندے د نزول اطلاق په دے اعتبار دے چه جبریل علیه السلام د لوړ مقامه په زمکه راکوز شو دا خو حقیقت دے نو په دے واسطه قرآن ته هم (نزول) منسوب شو.

(۳) دریمه معنی د نزول دا هم ده چه ځینې خیز راکوز نه شو خو اسباب ئے د عالم بالا سره تړون لري چه ارادهٔ الٰهي هم کیدے شي یا آسماني تاثیرات او هم په دے اعتبار سره اوسپنه خاروه او انساني لباس د پاره هم قرآن د (نزول) لفظ استعمال کړیدے.
وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ ؛ مونږ اوسپنه راکوزه کړه چه د هغې
وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ، سورة الحدید آیة ع۲۵ ؛ نه د جنګ سامان هم جوړیږي
وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ ؛ مونږ ستاسو د فائدے د پاره د
اَزْوَاجٍ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ ؛ خاروو اته جوړے راکوزے کړیدي



سَوْاٰتِكُمْ، سورة الاعراف آیة ع۲۶ ؛ مونږ لباس راکوز کړو چه د هغې په ذریعه ستاسو د حیا ځایونه پرده شي،
د دے دریم وار وخیزونو اسباب آسماني وي نو د دے د پاره هم د (نزول) لفظ استعمال شو.

نزول نه بیا دوه نور لفظونه (اِنزال او تنزیل) جوړیږي، (۱) تنزیل په وار وار راکوزیدو ته وائي، او انزال په وار وار او په یو ځل راکوزیدو د پاره استعمالیږي، لکه چه عذاب د پاره هم دے استعمال شوے دے.
اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ، مونږ په دے کلي د آسمان نه عذاب
رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ (سوره عنکبوت ؛ نازلوونکي یو
آیة ع۳۴)

ښکاره خبره ده چه عذاب په یو ځل نازل شویدے. او قرآن په وار وار او د دے دواړو د پاره (د انزال) لفظ استعمال شو، نو وائي
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ ؛ ټولے خوبي د هغه الله دي، چه په
الْكِتٰبَ (سوره کهف آیة ع۱) ؛ خپل بنده ئے دا کتاب نازل کړو.
(مفردات امام راغب ص ۵۰۲).

## د قرآن درے تنزلات

(۱) نزولِ اول | د بارګاهِ خداوندي نه لوحِ محفوظ ته نزول، چه هغه دے آیت کښې ذکر دے. بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ سورة البروج آیة ع۲۱ و ۲۲؛

(۲) دویم نزول | د لوح محفوظ نه د لاندیني آسمان د بیت العزة مقام ته نزول چه په سورتِ دخان سورتِ قدر او سورتِ بقره کښې ذکر دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ ؛ هم موږ دا په مبارکه شپه کښے نازل کړے دے (سورۀ دُخان آیة ۳)

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ؛ هم موږ دا په شپه د قدر کښے نازل کړے دے (سورۀ القدر آیة ۱)

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ (سورۀ البقرة آیة ۱۸۵) ؛ د رمضان میاشت هغه ده په کومه کښے چه دا قرآن نازل کړے شوے دے

د دے درے واړو (نزول) مطلب په یو ځل نازلیدل دی، شپه د قدر او شپه مبارکه دواړه یو دی او په رمضان شریف کښے دی نو آیتونو کښے هیڅ تعارض نشته لکه څنګه چه مستدرک، حاکم او نسائی او بیهقی هم دا ابن عباس رض نه نقل کړی دی۔

(۳) دریم نزول | دریم نزول د جبریل علیه السلام په واسطه د نبی علیه السلام په زړه مبارک شوید ے، لکه

فرمائی الله جل شانه

| | |
|---|---|
| نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ۞ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ۞ سورۀ الشعراء آیة ۱۹۳ تا ۱۹۵) | دا روح الامین ستا په زړه راکوز کړے دے، چه ته ویروونکے شے په صفا عربی ژبان کښے۔ |

دا نزول تقریبًا په درویشت کاله کښے مکمل شو، د لته دا شبه کول بے ځایه دی چه د نبی علیه السلام په زړه مبارک د قرآن د نزول مطلب دا چه صرف معانی به نازل شوی وی الفاظ به نه وی نازل ځکه چه د قرآن (بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ۞) الفاظ دا ګواهی ورکوی، چه د قرآن الفاظ هم نازل شوی وو، ځکه چه الفاظ ۞ د ژبان (ژبے) وی۔

قرآن دوه کرته په یو ځل نازل شوید ے اول کرت په لوح محفوظ کښے او


(c) ketabton.com: The Digital Library

او دویم کرت د دُومبی آسمان په بیت العزّت مقام کښے او دریم کرت نزول ئے په وار دوار په حضور علیه السلام اُشو، نور آسمانی کتابونه په یو ځل په کتابی صُورت کښے نازل شوی دی د قرآن دا دواړه قسمه (په یو ځل، په وار دوار) نزول دا ښائی چه د خدائے حکمت فرښتو ته دا ښودل وو، چه دا آخری کتاب دے، یا دُومبی آسمان ته د نازلولو مطلب د نبی علیه السلام شوق زیاتول وو، ځکه چه د څلوېښتو شے را نزدے کیدل شوق نور هم زیات وی، یا دا حکمت وو چه د قرآن د مکمل حفاظت یقین راشی او شک شبه بالکل ختم شی (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۶ تا ۴۰)

دا حقه دا خیال دے، چه د قرآن د حفاظت مکمل انتظام کول په دے وجه مقصود وو چه دا آخری کتاب دے، یو ځل د عمومی انتظام په صورت کښے قرآن په لوح محفوظ کښے محفوظ کړے شو چه د حکومت الهیه مرکزی محافظ خانه ده- دویم ځل په بیت العزت کښے د آسمانی حفاظت انتظام اُشو او دریم ځل د نبی م په زړه نازلیدو سره د زمینی حفاظت انتظام اُشو، په خلورم ځل د اُمت په سینو د دے د حفاظت انتظام اُشو لکه فرمائی: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (سورۀ الحجر آیة ۹) و پنځم ځل د حضرت ابو بکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم اجمعین په ذریعه د تحریر په صُورت کښے د دے د حفاظت انتظام اُکړے شو په زړه دلو کښے خبره اچوونکے او په سینو کښے محفوظ کوونکے یواځے الله دے،

جبرائیل علیه السلام قرآنی الفاظ څنګه حاصل کړل،

صحیح خبره دا ده چه جبرئیل علیه السلام الله نه قرآن واوریدو او د دے الفاظ ئے حاصل کړل، لکه څنګه چه بیهقی د (إِنَّا أَنزَلْنَاهُ) په تفسیر کښے لیکلی دی او د دے تائید د طبرانی هغه حدیث شریف دے چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نواس بن سمعان رضی الله نه ئے مرفوعًا نقل کړے دے:

اِذَا تَكَلَّمَ اللّٰهُ بِالْوَحْيِ اَخَذَتِ السَّمَآءُ رَجْفَةٌ شَدِيْدَةٌ مِّنْ خَوْفِ اللّٰهِ فَاِذَا سَمِعَ اَهْلُ السَّمَآءِ صَعِقُوْا وَخَرُّوْا سُجَّدًا فَيَكُوْنُ اَوَّلُهُمْ يَرْفَعُ رَاْسَهُ جِبْرَائِيْلُ فَيُكَلِّمُهُ اللّٰهُ بِوَحْيِهِ مَا اَرَادَ فَيَنْتَهِيْ بِهٖ حَيْثُ اُمِرَ ۔

څه وخت چه الله تعالیٰ د وحی کلام کوی نو آسمان د خدائے د ویرے نه رڅیږی څه وخت چه د آسمان فرښتے دا واوری نو بیهوشه شی او په سجده پریوځی د ټولو نه اول چه جبرئیل علیه السلام سر راپورته کړی نو الله تعالیٰ د وحی کلام هغه سره اوکړی چه کوم ځائے ته ورته حکم اوشی هلته د خدائے وحی اورسوی:

د جبرئیل علیه السلام د وحی حاصلولو غیبی معامله ده په هغے کښے دا ئے څه څلائے نشته لهٰذا د اصورت د ټولو نه زیات غوره دے، په مناهل العرفان جلد ۱ صفحه ۴۳ کښے الله تعالیٰ نه د جبرئیل په نیغه روحانی حصول او د لوح محفوظ نه حاصلول هم ذکر دی

## د قرآن نازل شوی الفاظ

کلام د انسان په ذهن کښے وی بیا ئے په ژبه د الفاظو په شکل کښے ادا کوی دا کلام که کوم یو نه خلق هم وائی نو د دغه روحی کښ کلام به بللے شی مثلاً د امرؤالقیس قصیده یا د حریری مقامات چه څوک هم لولی او وائی نو دا به هم د امرؤالقیس او د حریری کلام ګڼړلے شی، دغه ډول الله تعالیٰ خپل کلام د قرآنی الفاظ په شکل کښے ظاهر کړو بیا جبرائیل علیه السلام اولوستو حضور علیه السلام اولوستو په ادبونو انسانانو اولوستو او لولی به ئے مګر کلام به د الله ګڼړلے شی نه چه د جبرئیل علیه یا د محمد علیه السلام په قرآن کښے دی ”حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ“ و ”بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ“ د دی نه ښکاره ثابتیږی چه د قرآن



الفاظ د الله د جانبه دی، او د الله کلام دے، کچرے مضمون دیوزید وی او د دغه مضمون ادا په الفاظو د بل (عمرو) وی نو دے نه به د زید کلام نه بلکه د عمرو کلام ویلے شی په دے وجه چه د قرآن الفاظ او معنے دواړه د الله د جانبه دی او قرآن له هم د دے ذات ترتیب ورکړے دے، موږ نور زیات د خبرو په ولو نو کښے ځان نه نسلکوو ځکه چه څه ډیره فائده ئے نشته، په مناهل العرفان کښے دا پوره ذکر مضمون شته دے:-

## د قرآن، سنت او د حدیث قدسی بیلتون

امام سیوطی رحمه الله د امام جوینی نه نقل کړی دی، چه د قرآن الفاظ او معنے دواړه د جبرائیل علیه السلام په واسطه د الله تعالیٰ د جانبه نازل دی او د حدیث مضمون د الله د جانبه دے مګر الفاظ ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی، (اتقان جلد ۱ صفحه ۴۴) او حدیث قدسی به هغه وی چه الفاظ ئے هم د الله د جانبه وی لیکن معجزه وی او نه د هغے د الفاظو په تلاوت هغه ثواب حاصلیږی کوم چه د قرآنی الفاظو په تلاوت حاصلیږی او نه ئے په مونځ کښے د دے لوستلے کیدے شی (مناهل العرفان فی علوم القرآن جلد ۱ صفحه ۴۴)

د احقر په رائے کښے د حدیث نبوی او حدیث قدسی دواړو مضمون د الله د جانبه دے لیکن د حدیث نبوی نسبت الله تعالیٰ ته کول معنوی دی، مطلب د جانبه د الله خو مضمون دے لیکن په ښکاره الفاظو کښے ئے نسبت الله تعالیٰ ته نه دے شوے مګر د حدیث قدسی نسبت په ښکاره الفاظو کښے الله تعالیٰ ته کول ځکه ضروری دی چه دا د الله تعالیٰ حکم او امر دے او هم په دے وجه د حدیث قدسی الفاظ بدلول او روایت بالمعنیٰ جائز نه دے او د حدیث نبوی جائز دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په شرط د دے چه اصلی معنو کښے ئے فرق را نشی همدغه وجه ده چه حدیث قدسی ته ئے حدیث اُوئیل چه الفاظ نبوی دِ پاره دا (حدیث) خاص دے د (قدسی) لفظ زیاتے د ښکاره نسبت په وجه شوے دے چه د حدیث نبوی نه د دے زیات اهمیت او خصوصیت ثابت شی، والله اَعْلَمْ:-

## د وحی د نازلیدو قِسمونه

دوحی نازلیدل به یا په ذریعه د فرښتے وی یا نیغ په نیغه د الله د جانبه

## د دویمی قسم بیا درے قسمه دی

(۱) وحی تصلصلی (۲) وحی تمثلی (۳) وحی رُوعی

(۱) وحی تصلصلی کښے جبرئیل علیه السلام په خپل اصلی حقیقت (مَلَکیت) باندے قائم وی او وحی راوړی، چه په حدیث د بخاری کښے دے ته ډیرا سخته وحی ویلے شوے ده فرمائی (وَهُوَ اَشَدُّهٗ عَلَیَّ) دا شدت په دے وجه دے چه بشریت او ملکیت دواړه یو ځائے کیدل ډیر لوے پیتے ځکه دے چه فرښته او انسان یو جنس نه دے او بله وجه ئے دا ده چه نبی علیه السلام د بشریت نه مَلَکیت ته عُرُوج اُکړی گویا کښ دواړه حضرت جبریل او حضور علیهما السلام فرښتے خپل منځ کښے یو ځائے شی او دا ځکه پیتے دے چه گویا کښے د حضور علیه السلام جنس بدل شی د د بشریت نه ملکیت ته او دا څه آسان خبره نه ده:-

(۲) دویم وحی تمثلی ده چه جبرئیل علیه السلام د انسان په شکل کښے وحی راوړی په دے صورت کښے حضرت جبرئیل علیه السلام د ملکیت نه بشریت ته تنزل اُکړو او د دوهم جنسو یو ځائے کیدل څه پیتے نه جوړی دا دواړه قسمه وحی را او د دویمی قسم وحی شدت د بخاری په ابتدا کښے ذکر



او قرآنی وحی عمُوماً په دے دوؤ طریقو را غلے ده:-

(۳) دریم قسم وحی رُوعی ده: چه جبرئیل علیه السلام وحی په زړه مبارک د نبی علیه السلام د الله په حکم نازله کړی او د حضور علیه السلام د اوریدو (په غوږو مبارکو) هغے سره څه تعلق نه وی:-

(اَخْرَجَهُ الْحَاکِمُ)

## د بالذات (نیغ په نیغه) وحی دوه قسمه دی

(۱) په ویښه لکه د معراج په شپه د الله د جانبه نیغ په نیغه (بلاواسطه) په وحی شوے وه:-

(۲) یا په خوب کښے لکه د حضرت معاذ رض په حدیث کښے دی: اَتَانِیْ رَبِّیْ فَقَالَ فِیْمَ یَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰی، یعنے خوب کښے ما ته الله تعالٰے راغے او وے فرمائیل چه د عالم بالا فرښتے په څه کښے بحث کوی (اتقان جلد ۱ ص۴۳)

# پنځم فصل

## (د قرآن جمع کول او د هغے تدوین)

قرآن د خالق کائنات آخری کتاب دے، ځکه الله تعالٰی د دے د محفوظ ساتلو مکمل انتظام اُکړو عالم بالا کښے ئے په لوح محفوظ او بیت العزت کښے محفوظ کړو او په زمکه ئی د دے د حفاظت دوه قسمه انتظام اُکړو، یُو حفاظتِ صداری، چه د نبی علیه السلام او د اُمت په زړونو کښے ئے د ماغو کښے ئے محفوظ کړو، چه دا قرآن پخپله ذکر کړیدی په بخاری کښے د ابن عباس رض نه منقول دی، چه د قرآن د نازلیدو په وخت به جبریل علیه السلام سره حضور علیه السلام لوستو او تلاوت کولو په ذکر به قرآنی وحی محفوظه شی تو دا آیت نازل شو:-

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ۔ د زر زده کولو د پاره نه به دے
اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ۝ سورة ؛ خپله ژبه مه خوزوه خوښه به
القيامة آيت ع ۱۷ و ۱۶ ) ؛ ؛ ذمه دی دده جمع کول ستا سینه
کښے او لوستل ستا په ژبه ؛ ؛ ؛ ؛ ؛

دے نه پس به دوی علیه السلام په چپه خوله د قرآن وحی آوریده او هم
د غسے به ئے یادیدله او نورو خلقو ته به ئے رسوله دا رنګ د قرآن د حفظ
ذمه واری یو بل ځائے کښے الله تعالیٰ په خپله اخستے ده . فرمائی، سَنُقْرِئُكَ
فَلَا تَنْسٰى " : مونږ به تا نه (قرآن) لولوو بیا به تا نه هیریږی .
دامت په سینو کښے د قرآن محفوظ کولو ذکر هم قرآن کښے شته فرمائی
بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ (د قرآن ښکاره آیتونه
دی چه د اهل علمو په سینو کښے موجود دی :-

قدرت دا آخری کتاب په سینو کښے محفوظ ساتل غوښته نو دے د پاره
ئے داسے قوم غوره کړو چه د هغوی حافظه بیمثاله وه او د هغوی
د تومی واقعاتو او د قبائلی نسبونو خزانے وے او دوی به یو خل
د سوونو شعرونو قصیدے چه واوریدے نو ورته به یاده شوه او د عربو
تاریخ په دے ګواه دے، او بیا دا نالوستے قوم وو د دوی د هر آوریدلے
شوی شی ټول دارومدار په قوت حافظه باندے وو نو د دوی د عقل
قوت حافظے له قرآن او اسلام نور هم ترقی ورکړه او دا نو، هم
زیات شو د دے نه بغیر عربو سره د قرآن محفوظ ساتلو د پاره د
هغوی د زړه ګټولو، او شوق زیاتولو نور اسباب او محرکات هم
شو چه د هغے په زور دوی د خپل ذهن او دماغ قرآن یاد ولو ته د لیو
زیاته مخه کړه چه هغه دا دی

اول محرک | د عربو ساده او د تکلف نه خالی وو، د هغوی د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروریات ډیر مختصر وو چه هغه د پاره د ډیر محنت او منډو ترړو
ضرورت نه وو چه کوم به ئے بیا موندله نو هم په هغے به ئے قناعت کولو
او نور وپیسے به ئے مخه نه اوړه هم په دے وجه د هغوی ژوند فارغ وو
او د قرآن د حفظ د پاره دوی سره ډیر ازګار وخت وو مطلب دا
چه د ازګار وخت زیاتوالے هم یو سبب او محرک وو ؛ ؛ ؛ ،

دویم محرک | قرآن او وحی سره د دوی د حد نه زیاته مینه او عشق وو او دا دواړه داسے څیزونه

دی چه د یو څیز را بنکلوا و حاصلولو د پاره د ټولو نه لوئے محرک دے
چه دوی ئے د یو عاشقانه شان په قرآن یادولو مجبوره کول د صحابه
کرامو قرآن سره د عشق او محبت ډیر تاریخی واقعات موجود دی چه
د هغے کښے د شک کولو هیڅ وجه ځائے نه پاتے کیږی هر کله چه یو څیز
سره د مضبوطے حافظے والا قوم په عاشقانه دول محبت پیدا شی نو بیا
د هغه څیز ډیر زر یادول شی :-

دریم محرک | د قرآن حیران کن او تعجب پیدا کونکے رنګ دریم محرک وو، خصوصاً چه ټول د عربو فصیحان

او بلیغان د دے د مثل راوړو نه پاتے راغلی وو او دا هم د صحابه کرامو
خپل ځان ته د را بنکلو یو باعث وو، ځکه چه د انسان په طبیعت کښے دا
پراته دی چه هغه د هر عجیبه او ناآشنا څیز د یادولو کوشش کوی لهذا
د دے محرک هم د صحابه کرامو زړونه د قرآن یادولو ته راتیټ کړه
او دوی په پوره توجه سره د دے په یادولو کښے ولګیدلو او د قرآن
حیران کن اعجاز په دوی کښے د دے د یادولو زبردسته جذبه او اشتیاق پیدا کړ

څلورم محرک | په حدیث کښے د قرآن په زده کړے او د دے په یادولو او په دے د عمل کولو ترغیب ورکړے

شوے دے چه په هغې د صحابه کرامو ایمان او کامل یقین وُو تر دے حده چه په قرآن عمل کولو بانده به هغوی بچیل ځانونو قربانول فخر او وياړ کولو، او کله به چه صحابه کرامو د ترغيب الهي آيتونه واوريدل نو د هغوی د شوق او ذوق به نور زيات په لمبو شو مثلاً دا آيتونه:-

(۱) اِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ (سوره فاطر آية ۲۹)

(۲) كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ

د صحيح مسلم په روايت د حضرت عثمان رض يو حديث شريف دے خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ: په تاسو کښے د ټولو نه زيات بنه هغه کس دے چه قرآن زده کړي او بل ته ئے ازده کړي:-

او بل حديث د عبدالله بن مسعود رض په روايت د ترمذي دے مَنْ قَرَاَ حَرْفًا مِّنَ الْقُرْاٰنِ فَلَهٗ بِهٖ حَسَنَةٌ وَّالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا لَا اَقُوْلُ الٓمٓ حَرْفٌ بَلْ اَلِفٌ حَرْفٌ وَّلَامٌ حَرْفٌ وَّمِيْمٌ حَرْفٌ:

په دے حديث کښې د قرآن په يو يو لفظ د لسو لسو نيکو د بدلے او ثواب معلوم وعده شوے ده نو دا سے قسم ترغيبا تو او تشويقاتو به په صحابه کرامو ډير غټ اثر غورځيدو کوم نه چه قرآن او حديث ډک دے، همدغه وجه وه چه صحابه کرامو خپل ټول ژوند د قرآن په حفظ کولو کښے تير کړو:-

## پنځم محرك

د صحابه کرامو د دين د نجات راکې يوه ذريعه هم دا قرآن وو د وی به خپله ټوله کټه او کاميابي هم قرآن سره تړله او دا عشق چه او يقين د دے باعث شو چه هغوی به قرآن د دے د عاشق په توګه ياد ولو:-

## شپږم محرك

صحابه کرامو به قرآن حکيم په لمانځه کښے په


(c) ketabton.com: The Digital Library

تراويحو کښے لوستلو د ژوند په ټولو کارونو کښے به ئے هم په دے فيصلے کولے په عقائدو، عباداتو، اخلاقو او اعمالو کښے به ئے د دے په هدايت تلل غرض دا چه اسلامي ماحول او معاشره کښے د قرآن حفظ د ډير عزت او شرافت ذريعه وه نو ځکه د دے باعث شو چه قرآن يو حفظ ياد کړے شي:-

## د قرآن يادول او صحابه كرام

د دے تير و شو و محرکاتو اثر وو چه صحابه کرامو خپله ټوله عمر قرآن يادولو ته کړے وه - د عرب و قبائلو ډير لرے لرے منزلونه کول او د قرآن د يادولو د پاره به مدينے منورے ته راتلل او نبي عليه السلام به هم قاريان او حافظان د قرآن، قبائلو ته په دے غرض ليږل چه قرآن هغوی ته ور ياد کړي په صفر سنه ۴ هـ د ابو براء په درخواست نجد يانو ته د قرآن د تعليم او تبليغ په غرض د حضرت منذر بن عمرو ساعدي په مشرئ کښے د اويا و قاريانو يو ټولے حضور عليه السلام ور ليږلو خو د عامر بن طفيل په لمسون ساد دوو صحابه کرامو منذر بن محمد رض او عمرو بن اميه رض ټول شهيدان کړے شو د شهيد کيدو په وخت چه حرام بن ملحان رض نه نيزه پورے را پورے او ته نو هغوی اوفرمايل اَللّٰهُ اَكْبَرُ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ (الله اکبر خما د کعبے په پروردګار قسم وی چه زه کامياب شوم)

د دے ټولو نوم (سرية القراء) وو او هم د دينه په دغه وخت کښے د قاريانو او د حافظانو د ګڼرو الي پته لګي (فتح الباري جلد ۷ صفحه ۲۹۶)

علامه ذهبي په طبقات القراء کښے د اوو مشهورو حافظانو او قاريانو نومونه ښودلي دي کوم نه چه د قاريانو د قراءت سند رسيږي، هغه دا دي، (۱) عثمان بن عفان رض (۲) علي بن ابي طالب رض (۳) اُبي بن

کعب رض (۴) عبدالله بن مسعود رض (۵) سالم مولیٰ رض (۶) ابی حذیفه رض (۷) معاذ بن جبل رض چه په دے کښے اُبی بن کعب رض د قاریانو سردار دے په مفتاح السعادات جلد ۱ کښے دی چه ابوموسیٰ الاشعری پوره قرآن یاد کړے وو او حضور علیه السلام ته ئے وادوَلو، په صحابه کرامو کښے لس زده حافظان صحابه کرام ډیر مشهور وو چه په هغوی کښے اُوه ډیر شو ته اعلیٰ مقام حاصل وو د هغوی نومونه دا دی (۱) ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه (۲) عُمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه (۳) عثمان بن عفان رضی الله تعالےٰ عنه (۴) علی بن ابی طالب رضی الله تعالیٰ عنه (۵) عبدالله بن مسعود رضی الله تعالےٰ عنه (۶) طلحه رضی الله تعالےٰ عنه (۷) سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالیٰ عنه (۸) حذیفه بن الیمان رضی الله تعالےٰ عنه (۹) ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه (۱۰) عبادة بن الصامت رضی الله عنه (۱۱) معاذ بن جبل رضی الله تعالیٰ عنه (۱۲) مجمع بن حارثه رضی الله تعالیٰ عنه (۱۳) فضاله بن عبید رضی الله تعالیٰ عنه (۱۴) ابوموسیٰ اشعری رضی الله تعالےٰ (۱۵) عمرو بن العاص رضی الله تعالیٰ عنه (۱۶) سعد بن عباده رضی الله تعالیٰ (۱۷) عبدالله بن عباس رض (۱۸) ابوایوب انصاری رضی الله (۱۹) عبید بن ذو ذوالبجادین رضی الله تعالیٰ (۲۰) عبید بن مُعاویه بن زید بن ثابت رضی الله تعالےٰ (۲۱) ابوزید رضی الله تعالیٰ (۲۲) سالم مولیٰ ابی حذیفه رضی الله تعالےٰ (۲۳) سلمه بن مخلد بن الصامت رضی الله تعالیٰ (۲۴) سعد بن عبید بن نعمان الانصاری رضی الله تعالیٰ (۲۵) زید بن ثابت رضی الله تعالےٰ (۲۶) اُبی بن کعب رضی الله تعالےٰ (۲۷) عبدالله بن السائب رضی الله تعالیٰ (۲۸) سلیمان بن ابی حثمه رضی الله تعالےٰ (۲۹) تمیم الداری رضی الله تعالیٰ (۳۰) معاذ بن الحارث رضی الله تعالیٰ (۳۱) ابوالدرداء رضی الله تعالیٰ (۳۲) عُقبه بن عامر الجهنی رضی الله تعالیٰ (۳۳) عبدالله بن عمر بن الخطاب رضی الله (۳۴) سعد بن المنذر بن اوس رضی الله تعالیٰ (۳۵) قیس بن صعصعه رض



(۳۶) عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله (۳۷) ابوحلیمه معاذ رض بحواله تهذیب، طبقات ابن سعد، تذکرة الحفاظ ذهبی، مفتاح السعادات، اتقان، صحیح البخاری) دا خو د پوره قرآن د حافظان لنډ بیان دے او چا ته چه بعضے قرآن یاد وو د هغوی خو شمیر نشی کیدے او دا د قرآن د حافظانو پوهه دوره وه تو اسلام چه خومره به خوریدو، هومره به ورسره حافظان د قرآن هم زیاتیدل، سر ولیم میور غونډه د اسلام دُشمن هم خپل کتاب "لائف آف محمد" کښے اِقرار کړے دے چه د صحابه کرامو حافظه (یادداشت) بے مثاله وه لکه چه لیکی چه د دوی حافظه ډیره اُوچته وه خو د قرآن د پاره به ئی دا ډیره زیاته استعمالوله، د دوی حافظه دومره مضبوطه وه او محبت ئے هُم دومره قوی وو چه اکثر صحابه و د پیغمبر علیه السلام په حیاتِ مبارک کښے به وحی صحیح لوسته او یاد ول". په شپږمه صدئ عیسوی کښے عرب ئه چه ټوله دُنیا کښے د لیکونکو لوستونکو خلقو شمیر ډیرو کښے یو نه هم کم وو د پریس او چاپ خانے انتظام نه وو په دے د دوی نیبات کادبه په یاد ولو دوان وو کوندای په لیکلو تحریرونو کښے خو زیاتے کمے او سنل ډیر آسان وو، هم دغه وجه ده چه د دُنیا ټولو مذهبی کتابونو کښے تحریف اُشو. قرآن حکیم په زمانه د پیغمبری کښے په زرګونو سینو کښے پوره محفوظ وو او لکهونو سینو کښے ننګرے محفوظ وو دا بیان په سورۂ عنکبوت کښے شوے دے،

بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ (سورۂ عنکبوت آیة ع ۴۹) ؛ قرآن د واضحو آیتونو مجموعه ده چه د اهل علمو په سینو کښے محفوظ دی؛

د قرآن د یاد ولو او د تلاوت کار ټولو مسلمانانو جاری ساتلو، مسلمانانو به څکه قرآن په نوم کښے لوستو چه د دے لوستنه په غاڅر کښے فرض وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړدے چه عثمان غني رضی الله تعالیٰ عنه او تمیم داري رض به په یو لیو رکعت کښے پتول قرآن ختمولو (تهذیب التهذیب و استیعاب) عبد الله بن عمر او عبد الله بن عمرو العاص به په یو شپه کښے قرآن ختمولو (فتح الباري) سعد بن المنذر به په درے ورځو کښے قرآن ختمولو (اسد الغابة) دَ سلفو دَ قرآن دَ تلاوت دا حال وو چه به بعضے شوا روز کښے اته کرته قرآن شریف ختمولو، یعني څلور ختمه دَ ورځے او څلور ختمه دَ شپے. بعضے به دَ دوه ورځے کښ ته او بعضے به دوه ځله حالا نکه حضور علیه السلام دَ درے ورځو نه کم وخت کښے دَ قرآن شریف دَ ختمولو نه منع کړے وو، چه دَ قرآن دَ مطالبو په پوهه کښے څه نقصان رانشي، ترمذي کښے عبد الله بن عمر رض مرفوعاً روایت کړے دے:-

لَا يَفْقَهُ مَنْ قَرَءَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلِّ مِنْ ثَلٰثٍ. (اتقان جلد ۱ صـ۷۲)

په سینو کښ دَ حفاظت دا انتظام هیڅ یو انسانی کتاب ته نصیب شوے نه دے کوم کتاب چه دَ مسلمانانو په غوبنه غوښه څه په رګ رګ او په زړه او دماغو کښے ننوتے وی او مشرق او مغرب دواړو کښ دومره داسے حافظان موجود وي چه دَ هغوی الفاظ او حروف بالکل یو شان وی، څه کمے زیاتے پکښے نه وی، دَ دے بیمثله انتظام باوجود دَ قرآن په حفاظت کښے بیا هم دَ چا شک شبه کیدے شي:-

## دَ قرآن حکیم تحریري حفاظت

په اتقان کښے دَ مستدرک حاکم په حواله نقل دي چه قرآن په تحریري صورت کښے درے کرته جمع شوے دے (۱) دَ پیغمبر علیه السلام په زمانه کښے (۲) دَ ابوبکر صدیق رضی الله په زمانه کښے (۳) دَ حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښے دَ اتم مبنی دوه جمع په بخاري وغیره کښے دَ زید بن ثابت الانصاري دَ روایت نه ثابتے دي (اتقان جلد ۱ صـ۵۸ تا ۵۹). او دا دریمه جمع،



یعنے عثماني جمع دَ حضرت حذیفة بن الیماني دَ روایت نه منقوله ده دَ دے درے وارو جمعو په نوعیت کښے فرق وو، دَ اولمبی قسم (نبوي) جمع مقصد دا وو چه قرآن ضائع نشی نو ځکه قرآن په مختلفو څیزونو لیکلے شو. څه خو دَ سپینو کاڼو نه جوړے کړو تختو باندے، څه دَ سپینو څرمنو په ټکړو او څه دَ کږی په هوارو تختو باندے. نو دا جمع دَ یو کتاب په شکل کښے نه وه دَ صدیقی رض جمع مطلب قرآن دَ کتاب په شکل یو ځلے کول وو چه دَ ځان ځان له ټکړو دَ ضائع کیدو هیڅ څه خطره پاتے نشی دا جمع په کاغذ شوے وه چه دَ نبی علیه السلام په زمانه کښے نه وو (کاغذ) او دَ ابوبکر صدیق رض په زمانه کښے دَ شام نه مدینے منورے ته راسیدلے وو. موطا امام مالک رح کښے دَ سالم بن عبد الله نه روایت دے:-

جَمَعَ أَبُوْبَكْرٍ الْقُرْآنَ فِي الْقَرَاطِيْسِ. (ابوبکر رض صدیق قرآن په کاغذ جمع کړے وو) مغازي موسیٰ بن عقبه کښے دي:-

حَتّٰى جُمِعَ عَلٰى عَهْدِ أَبِيْ بَكْرٍ فِي الْوَرَقِ. (اتقان جلد ۱ صـ۵۹) دَ ابوبکر رض په زمانه کښے قرآن په کاغذ لیکلے شو او جمع شو:

دَ حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښے دَ قرآن جمع کولو مطلب دا وو چه دَ مختلف قسمه تلفظ نه دا محفوظ کړے شي، چه دے نه فسا د پیدا نشي، دا فرق امام سیوطی په اتقان کښے دَ ابن تین نه نقل کړیدے (اتقان جلد ۱ صـ۶۰).

## صدیقي رض جمع

دَ دے جمع محرک فاروق اعظم رض وو بخاري کښے دَ زید بن ثابت نه روایت دے، چه کله په جنګ یمامه کښے اویا (۷۰) حافظان شهیدان شول نو ابوبکر صدیق رض ... [illegible] خو چه لا هم نو هلته حضرت عمر رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم موجود وو، حضرت صدیق رضی الله تعالیٰ فرمایل چه:

اَنَّ عُمَرَ رض اَتَانِیْ فَقَالَ اِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ یَوْمَ الْیَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْاٰنِ وَ اِنِّیْ (۲) اَخْشٰی اَنْ یَّسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِی الْمَوَاطِنِ فَیَذْهَبَ کَثِیْرٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ وَ اِنِّیْ اَرٰی (۳) اَنْ تَاْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْاٰنِ فَقُلْتُ کَیْفَ نَفْعَلُ شَیْئًا لَمْ یَفْعَلْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم

(۱) ماته عُمَر رض راغلو او وے وئیل چه د یمامه په دے گرم جنگ کښے د قُران قاریان شهیدان شول؛

(۲) کیدے نور و جنګونو کښے هُم دا سے قاریان شهیدان کیدل نو د قُران د اکثر حصو د ضائع کیدو خطره ده

(۳) لهذا تاسو حکم ورکړئ چه قُرآن د تحریری صورت کښے جمع شی ما هغه ته اُوئیل چه مونږ څنګه هغه کار اُکړو کوم چه پیغمبر علیه السلام نه دے کړے

(۴) فَقَالَ عُمَرُ رض هٰذَا وَاللّٰهِ خَیْرٌ (۴) فَلَمْ یَزَلْ یُرَاجِعُنِیْ حَتّٰی شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرِیْ لِذٰلِكَ؛ اُوئیل چه خدائے م د قسم وی چه دے کښے خیر دے، نو همیشه به ئے (۵) ماته هم دا سے وئیل تر دے چه خُدا سینه الله دے کار د پاره پرانسته۔

(۴) حضرت عُمَر رضی الله تعالیٰ

(۵)

مونږ دُ و مے لیکلی دی چه نبی علیه السلام پخپله زمانه کښے د قُرآن لیکلو حُکم ورکړے وو، لیکن هغه په کتابی شکل کښے نه وو خو د حضرت عُمَر رض مُطالبه داوه چه دا د کتابی صورت کښے جمع شی، ځکه خو حضرت ابوبکر رض اُفرمائیل چه مونږ څنګه داسے کار کولے شُو کوم چه حضور علیه السلام نه دے کړے لیکن حضرت عُمَر رضی الله تعالیٰ د دے هغه ضرورت په ابوبکر رض اُمنلو کوم چه د دے وخت کښے راپیښ وو د نبی علیه السلام په زمانه کښے نه وو پیښ شوے، د نبی علیه السلام زمانه کښے قُران چه کتابی شکل کښے جمع نه وو د هغے وجے دا وے (۱) د نبی علیه السلام په زمانه کښے هغه حالات نه وُو کوم چه د صدیق رض په زمانه کښے راپیښ شوا و د هغے په وجه



قُران نه کتابی شکل ورکړے شو۔ (۲) د نبی علیه السلام په زمانه کښے هغه خیزونه نه مُوندے کیده کُوم چه د صدیق رض په زمانه کښے اُموندے شوه لکه کاغذا او نور د لیکلو سامان وغیره:-

(۳) د نبی علیه السلام په زمانه کښے لا د تلاوت منسُوخ کیدوا حتمال وُو کیدے د غه وخت د کتاب په شکل کښے قُران لیکلے شوے وے، نو بیا به د بعضے تلاوت منسوخ کیدو په وجه هغه ټول کتاب به لوګے شو چه هغه ډیر ګران کار وو۔

(۴) قُرآن به د احوالو او واقعاتو په ترتیب نازلیدوا و ایتونو او سُورتونو به د مضامینو په ترتیب لګیدل کیدے د نبی علیه السلام په زمانه کښے قُرآن د کتاب په شکل جمع شوے وے، نو د نوی ایتونو ځائے کول به مناسبو ایتونو او سورتونو سره بیا ډیر ګران وو، دا صورت د حضرت ابوبکر صدیق په زمانه کښے ختم شو، ځکه چه وحی راتلل بند شو، کاغذا و نور سامان د لیکلو پیا مُوندے شو حافظان ډیر شهیدان شول، نو ځکه قُران نه کتابی شکل ورکول ضروری شول:

## د صدیقیؓ جمع دستُور

حضرت صدیق رض د قُران په جمع کښے پوره احتیاط کړے وو او داسے انتظام ئے کړے وو، چه د قُران په کتابی جمع کښے د هیرے یا د بلے غلطئ څه احتمال هم پاتے نشی هغوی په جمع کولو د قُران کښے صرف په دے اکتفا اُنکړه چه هغه ایاتونه د ږ را جمع کړے شی کوم چه ما ته یاد وی، یا په څه خیز لیکلی وی، یا د حضور علیه السلام نه اوریدلی شوی وی، بلکه دے با رلا کښے ئے په دوه قاعدو عمل اُکړو:-

(۱) هغه لیکلی شوی آیتُونه د جمع کړے شی، چه رسول الله صلی الله علیه السلام د خپل وړاندے په چا لیکلی وی او د دوو عادلانو ګواهانو په

ذریعه دګ ے ثبوت اُمُوندے شي، په ابوداؤد کښے دَ حضرت عروه رض نه روایت دے،

اِنَّ اَبَا بَکْرٍ قَالَ لِعُمَرَ وَزَیْدٍ اُقْعُدَا عَلٰی بَابِ الْمَسْجِدِ فَمَنْ جَاءَکُمَا بِشَاهِدَیْنِ عَلٰی شَيْءٍ مِّنْ کِتَابِ اللّٰهِ فَاکْتُبَاهُ:

حضرت ابوبکر رض حضرت عمر رض او زید رض دواړو ته اُو ئیل چه تاسو دَ جماعت په دروازه کښے کینئ چه دکتاب الله په کوم لیکلی شوي ایتونو دوه کسان ګواهان

تیرشول نو هغه ایتونه اُ لیکئ،

(۲) دویم دا چه د غه لیکلی آیتونه دِ دَ ډیرو صحابه کرامو رض په سینو محفوظ هُم وی (وګورئ مناهل العرفان جلد ۱ ص ۲۳۵)

دغه رنګ ابن ابی داؤد په کتاب المصاحف کښے سند سره بیان کړیدی چه وَمَا کَانُوا یَکْتُبُوْنَ فِی الصُّحُفِ وَالْاَلْوَاحِ. صحابه کرام رض به چه کوم قرآن په صحیفو والْعُسُبِ وَکَانَ لَا یَقْبَلُ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰی: په تختو او دَ کجورو په څانګو لیکلی وُ یَشْهَدَ شَاهِدَانِ :: :: :: :: :: نو هغه به دَ دوو کسانو دګواهئ نه بس قبلولے شو

## عثمانی جمع

دَ اسلام دائره هر کله چه لویه شوه نو کومو مسلمانانو قرآنی ایتونه دَ کوم اُستاذ نه په کوم تلفظ او قرآن کښے چه زده کړی وو، نو په هغوی کښے او به نورو هغه مسلمانانو اختلاف پیدا شو کوم ته چه په بل قرأت کښے تعلیم ورکړے شوے وو، لکه څنګه چه بخاری کښے دَ حذیفه بن الیمان دا ذکر شوے خبره ددے قسم فتنے دلیل دے کوم چه دَ آرمینیا او دَ آذربائیجان دَ فتح کولو نه پس مدینے منورے ته واپسی کښے دَ حضرت عثمان رض په خدمت کښے دا عرض وړاندے کړو،

اَدْرِكْ هٰذِهِ الْاُمَّةَ قَبْلَ اَنْ یَّخْتَلِفُوْا: په دے اُمت کښے دَ یهودو او نصارا اِخْتِلَافَ الْیَهُوْدِ وَالنَّصَارٰی :: :: پشان اختلاف پیدا کیدو نه وړاندے



(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو د اسنبال کړئ :-

تر دے چه په مدینه منوره کښے هم دَ اُستاذانو او شاګردانو په مینځ کښے دَ قرأت دَ اختلاف فتنه پیدا شوه. نو ځکه خو حضرت عثمان رضی الله په خطبه کښے اُ فرمایل چه" هر کله تاسو کښے دا اختلاف دے رچه په مدینه کښے یئ) نو لرو ښارونو کښے خو ددے نه هُم ډیر زیات اختلاف پیدا کیدو خطره ده هغوی څه په دغه الفاظ دادی،

اَنْتُمْ عِنْدِیْ تَخْتَلِفُوْنَ فَمَنْ نَأٰی مِنَ الْاَمْصَارِ اَشَدُّ اِخْتِلَافًا.

(مناهل العرفان جلد ۱ ص ۲۳۵ و اتقان ص ۵۹)

نو بیا هغوی دا قضیه صحابه کرامو ته وړاندے کړه او دَ هغوی په اتفاق سره حضرت عثمان رض دَ حضرت حفصه رض نه دَ قرآن هغه نُسخه را اُ بلله کومه چه دَ حضرت صدیق رض په زمانه کښ لیکلے شوے وه او دَ هغے نه یې نقلونه اُ وَاغستل دے دَ پاره چه هغه مشهور دَ ښارونو ته اُ لیږی او هر دَ هغے په مطابق ددے قرآن ذکر کړے اوشو دَ نه جاری وی او ددے نه علاوه دَ نورو قرأتونو بندیزئے اُ کړو، ددے عثمانی مجموعے لوُمړنے امام نُحکه کینبودے شو چه هغه دَ نورو قرآنی نسخو پیشوا او امام دے، په اجماع دَ صحابه کرامو سره ددے لیکل چه دَ کوم مجلس (کمیټی) په حواله شو، هغه څلور تنه وو، درے قریش او یو انصاری وو دَ قرآنو صاحبان داوو،

(۱) عبدالله بن زبیر رض (۲) سعد بن العاص رض (۳) عبدالرحمان بن الحارث رض (۴) او زید بن ثابت انصاری وو:-

## دعثمانی رض جمع دستور (آئین)

په عثمانی جمع کښے دَ دے خبرو خیال اُ ساتلے شي.

(۱) په مصحف کښے هم هغه څیز درج دی کوم چه یقینی قرآن منلے شي.

(۳) دا هم معلومه وی چه د حضور علیه السلام په آخری دور کښې د د دے تلاوت باقی وو:-

(۴) د کوم صحیح والے چه حضور علیه السلام نه ثابت وی او د هغې تلاوت منسوخ نه وی (مناهل العرفان جلد ۱ صفحه ۲۵۰): امام سیوطی رح نقل کړیدی چه د د دے نسخو شمیر اوه وو چه اوو ښارونو سره تړون لری، یوه نسخه حضرت عثمان رض په مدینه منوره کښې اساتله او نورے ئے مکے مکرمے، شام، یمن، بحرین، بصرے، او کوفے ته اُلیږلے (اتقان جلد ۱ صفحه ۶۰) بیا د دے نسخو نه مسلمانانو بیشمیره نسخے نقل کړے او حضرت عثمان رض حکم اوکړو، چه د دے نه سوا په کوم لوړو نسخو کښې چه د قرأت اختلاف وی نو هغه ضائع کړئ، د حارث محاسبي نه په اتقان کښې نقل دی چه مشهوره داده چه حضرت عثمان رض جامع قرآن دے مګر په اصل کښې جامع قرآن حضرت ابوبکر رض دے، حضرت عثمان رض خلق د تلفظ (قرأت) په یوه طریقه راجمع کړل، ځکه چه په وړاندې یئو نسخو کښې دیر قرأتونه موجود وو خو په اصل مضمون د قرآن کښې نزنه هیڅ فرق نه را تلو، حضرت علی رض فرمائی که چرے څه په دغه وخت کښې امیر المؤمنین وے، نو ما به هم هغه کول چه کوم حضرت عثمان اُکړل (اتقان جلد ۱ صفحه ۶۰)

## د قرآن آیتونه او سورتونه

عثمانی جمع په سنه ۲۵ هـ کښې اُشوه امام زرکشی او نورو علماؤ اجماع په دے خبره نقل کړیده چه د قرآن د آیتونو ترتیب توقیفی دے مطلب دا چه د الله په حکم شوے دے د کښې د چا رائے او خیال کار نه دے کړے د هر آیت په باره کښې به جبریل علیه السلام دا حکم راوړو چه فلانے آیت د فلانی آیت سره یو ځائے اُلګوئ، امام احمد د عثمان بن



(c) ketabton.com: The Digital Library

العاص نه په اِسناد حَسَن سره نقل کړیدے، حضور علیه السلام فرمائیلی دی چه فلانے آیت په فلانی سورت کښې شامل کړئ همدغه رنګ ابوداود ترمذی او نسائی کښې د ابن عباس رضی الله تعالیٰ نه نقل شوی دی،

كَانَ اِذْ نَزَلَ عَلَيْهِ الشَّيْئُ دَعَا بَعْضَ : یعنی په حضور علیه السلام به چه مَنْ كَانَ يَكْتُبُ فَيَقُوْلُ ضَعُوْا هٰذِهٖ : څه وخت څه آیتونه نازل شو نو الْاٰيَاتِ فِي السُّوْرَةِ الَّتِيْ يُذْكَرُ : لیکونکے به ئې را اُ بللو او وے به ئې فِيْهَا كَذَا وَكَذَا : فرمائیل چه دا آیتونه په هغه سورت کښې شامل کړه په کوم کښې چه دا دا مضمون دے،

د سورتونو په ترتیب کښې غور یزه خبره داده چه هغه هم توقیفی دے، مطلب دا چه دا هم د الله په حکم شویدے، امام جلال الدین سیوطی رح د کرمانی رح د کتاب البرهان نه نقل کړیدی:-

تَرْتِيْبُ السُّوَرِ هٰكَذَا هُوَ عِنْدَ اللّٰهِ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ : د سورتونو ترتیب هم دغه شان د عَلٰى هٰذَا التَّرْتِيْبِ وَعَلَيْهِ كَانَ صَلَّى اللّٰهُ يَعْرِضُ : الله په نزد په لوح محفوظ کښې دے عَلٰى جِبْرِيْلَ كُلَّ سَنَةٍ : او هم په دغه ترتیب به حضور علیه السلام هر کال جبریل ع م له آوردلو:-

دغه شان د امام بیهقی نه هم منقول دے امام بیهقی په اَلْمَدْخَلْ کښې هم لیکلی دی،

كَانَ الْقُرْاٰنُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ : د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَتَّبًا سُوَرُهٗ : کښې د قرآن سورتونو او آیتونه وَاٰيَاتُهٗ عَلٰى هٰذَا التَّرْتِيْبِ اِلَّا الْبَرَاءَةَ : هم په دے ترتیب وو، وَالْاَنْفَالَ : سوا د سورة براءة او سورة انفال:-

ابوجعفر نحاس نه هم د غسے منقول دی، امام سیوطی رح په اتقان

جلد ۲ صـ ۶۳ کښې د حُذیفه ثقفي رض په روایت یو حدیث دا سې نقل کړې دے کوم چه په مُسند احمد او په سُنن ابي داؤد کښې هم موجود دے او د ابن رُشد د کتاب المصاحف نه هم په تائید کښې دا یې روایت نقل کړیدے چه د قُرآن د آیتونو او سُورتونو ترتیب هُم د الله په حُکم شوېدے (توقیفي دے)،

امام زرکشي رح په (برهان) کښې لیکلي دي چه څوک د سُورتونو ترتیب نه اجتهادي وائي نو هغوي ئې هُم توقیقي مني جګړه یواځې د لفظونو ده، ځکه چه توقیف عام دے که قولي او که فعلي، بهرحال د حدیثو د ذخیرې نه ثابته ده چه د سُورتونو موږ ته په زمانه د نبوت کښې مشهور او معروف وُو کوم چه په اتقان کښې شته او دا د دې خبرې ثبوت دے چه د سورتونو ترتیب توقیفي دے،

## د عثماني رض مُصحفُونو تاریخ

### مصحف مدني

د عثماني مصحفونو کوم نسخه چه په مدینه منوره کښې ایښودے شوے وه نو هغه د شهادت تروخته حضرت عثمان رض سره وه د هغوي نه پس حضرت علي رض سره او بیا د خلافت مِلاویدو سره حضرت معاویه رض ته اُسپارلے شوه بیا د اُندلس ته اُرسیده بیا د مراکش دار السلطنت "فاس" ته اُرسیده (تاریخ ادریسي تذکرة المصاحف) بیا په څه طریقه مدینې منورې ته اُرسیده په رُومي جنګ عظیم کښې د مدینې ګورنر فخري پاشا نورو تبرکاتو سره قسطنطنیه ته یوړه او تر اُوسه هلته پرته ده،

### مکي مصحف

مکي نُسخه سنه ۶۵۷ هجري پورے په مکه معظمه کښې پرته وه، محمد بن جبیر اندلسي په سنه ۵۷۹ ه د هلته د هغې زیارت کړے وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانا شبلي نعماني لیکلي دي چه د هغه د سیاحت په وخت د هغه نُسخه په جامع دمشق کښې پرته وه او هغوي ئې غالبًا د نولسمې صدۍ په آخر کښې زیارت کړې وو، کشاف المهدی صـ ۱۵۱ کښې لیکلي دي، چه سلطان عبد الحمید خان سنه ۱۳۱۰ ه نه تر دیرشو کالو پورې حکومت کړې وو په دغه زمانه کښې جامع دمشق کښې اُور اُلګیدو او دغه نُسخه یکښې سوځیده

### شامي مصحف

مؤرخ احمد مُقري سنه ۳۲۵ ه کښې د دې نُسخې زیارت کړې وو دا د کُوفې نه د اُندلس د بادشاهانو بیا د سلاطین موحدینو، بیا د سلاطینو بني مرین په قبضه کښې راغله او جامع قرطبه کښې پرته وه، قرطبې والو سلطان عبد المؤمن ته ورکړه او هم د دهٔ په حُکم ابن الشکوال د مراکش دار السلطنت ته په شوال سنه ۵۵۲ ه یوړه سنه ۷۴۵ ه کښې خلیفه معتضد علي بن مامون سره وه او هُم په دغه کال د ده هر کله چه په تلمسان حمله اُکړه نو دے په کښې مړ شو په دے هله ګُله کښې دغه نسخه ورکه شوه خو بیا د تلمسان بادشاهي خزانې ته راورسیده د هغه ځائې نه یو سوداګر په بیعه واغسته او فاس ته ئې راوړه چه تر اُوسه هلته پرته ده

### بصري مصحف

دا نُسخه د مِصر په کُتب خانه خدیوکښ پرته وه، د سلطان صلاح الدین ایوبي یو وزیر په سنه ۵۵۰ ه کښ دا په دیرش زره اشرفوو اغسته،

### یمني مصحف

یمني مصحف د مصر د جامع ازهر په کتب خانه کښې اُس هُم شته

### د بحرین مصحف

دا د فرانس په یو کتب خانه کښې پروت دے،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کوفي مصحف

دا د قسطنطنیې په کتب خانه کښې شته دے، د حضرت عثمان رضی الله
د دے نور مصحفونه هم دي په دے کښې دویم مصحف عثمانی د قاهرې
په جامع سید نا حسین رض کښې شته - دریم مصحف عثمانی ښ په جامع
ملیه دهلی کښې وو، چرې د تقسیم په هله ګله کښې ګم و شوے نو وی نو
هلته به پروت وی، څلورم مصحف عثمانی د لندن په انډیا آفس
کتب خانه کښې شته په دے لیکل دي، ""کتبه عثمان بن عفان""، دا
د مغلو بادشاهانو سره وو، د اکبر باچا مهر هم پرې شته په ۱۸۵۷ء
کښې دا میجر راونس له ګوتو ته ور غلو هغه د ایسټ انډیا کتب خانې
ته ورکړو. د دے یو سل یوا تیا صفحے دي او په یو صفحه کښې شپاړس
کرښے دي۔

د قرآن محفوظوالے یوه داسے حقیقت دے، چه د هغې اقرار غیله د
اسلام مخالفینو هم کړے دے لیکن بعضے مستشرقینو مثلاً ګولډ لیتهر
وغیره د مسلمانانو د یقین او عقیدے کمزورے کولو د پاره بے سره بنیاده
شکونه پیدا کولو کوشش کړے دے، نو موږ اوس د دے نه تا سو خبروو
د دے خلقو اصلی غرض په قرآن کښې ګډوډون او بدلون راوستل دي.
د ګولډ لیسټر یهودی مستشرق خو بیا په دے د پیر ورکولے دے
په تفسیری مذا هبو کښې هغه د بیشیره اسلامی کتابونو مطالعه کړے ده
او داخیل کتاب ئے د علمی تحقیق په نوم لیکلو لیکن بیا هم د مستشرقینو
د عادت په توګه د دوي هر کتاب تحقیقي او علمي شان کم لري خو
سیاسي شان د یر زیات لري د دوي یقین دے، چه مسلمانان د خپلو
مرکزو نور قرآن او صاحب قرآن نه د لیکاره سیاسي طاقت په ذریعه
لرے سائل ممکن نه دي نو د خپل اصلي مقصد د تکمیل د پاره ئے د جنګ



او د سیاست د میدان په ځائے علمي میدان غوره کړو او د استشراق
په زهرجنه وسله ئے د مسلمانانو د یقین کمزوری کولو او په دوی کښې
ئے د شک د زهرو خورلولو د پاره د اسلامي تحقیق په نوم کوږ وږ نه
رو پټ اولګولے او کتابونه لیکل ئے د کامیابئ په امید شروع کړه د دوي د کامیابئ امید نه دا دي
(۱) د مغربي طاقتونو سیاسي ترقي او د مسلمانانو سیاسي تنزل چه د دے
نه هغوی دا پرشتوني نتیجه را اوباسله چه پر یوتي قومونه د غالب قومونو
هر قسم (غلطه هم) خبره مني او پرې یقین کوي:
(۲) انګریزي دان یوا زے نه بلکه ټول مغرب زده خلق (چه احساس
کهتري کښې مبتلا دي) د یورپ هر مصنف محقق ګڼړي او د خپل دیني
عالمانو نه کرکه لري، ځو نږ نوی تعلیم یافته خلق د دیني تعلیم نه نا
خبره د یورپي مصنفینو هر یو خبره بے تحقیقه مني او دیني علماؤ ته د کوکے
په وجه هم ګوري نه چنانچه د مسلمانانو دا قسم کمزوري د مستشرقینو
د کامیابئ باعث شوے او مسلمانان خپله د دے نه په شکوک او شبهاتو
کښې راګیر شو - د قرآن د محفوظیت په باره کښې د دوي شبهے اصولاً دا دي
(۱) د بعضے آیتونو او روایتونو نه د قرآن د غیر محفوظ کیدو دلیلونه نیول دي.
(۲) د اختلاف قراءت او سبعه احرافو نه دلیل نیول.
(۳) د شیعه ؤ د روایتونو نه حجت نیول.
موږ به دا تول په لنډه و نقل کوو او د دے جوابونه به ورکوو

د بعضے ایتونو او روایتونو نه دلیل نیول

د سورة اعلیٰ ایت | سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ : البته
موږ به تا ته اولوو نو ته به هیر نکړے خو چه کوم
الله اوغواړي.
د دے ایت نه مستشرقینو دا نتیجه را اوباسلے ده چه د قرآن څو آیتونه هیر کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا غلط ځکه دی (۱) چه دا اِستثناء صُوری ده حقیقی نه ده، په علمی اصطلاح کښې دا قسم استثناء د خپل فضل یا د قدرت د اظهار د پاره استعمالیږی ده نه دیو څیز مستثنیٰ کول مطلب نه وی بلکه مطلب دا دے چه مونږ به تا ته قرآن داسے اُولوو چه ته به ئے هیر نکړے نو دا د الله فضل او احسان آگنړه ده دے مثال داسے دے، لکه د قرآن کریم په بل یو ځائے کښې په جنت کښې د جنتیانو د همیشه پاتے کیدو بیانو نه پس اِلَّامَاشَاءَ اللّٰهُ چه ذکر دی، او مطلب ئے دا دے چه جنت کښې همیشوالے د الله فضل دے ګوندی الله تعالےٰ خودا همیشوالے د جنتی ژوندو اپس هم اغستے شی خو د الله وعده ده چه واپس به ئے نه اخلی (۲) د دے نه علاوه که د اصطلب هُم واغستے شی چه ته به ئے نه هیروے خو هله که مونږ ه ئے هم نه هیرول اُغواړو، یعنے دا ستا نه هیرول د الله په مرضیٔ موقوف ... نو بیا هم هیرول ځکه ثابت نه دی چه قرآن کریم په بل ځائے کښے صفا فرمائیلی دی، چه مونږ ه ئے تا نه هیرول نه غواړو بلکه ځمونږ دا خوښه ده چه قرآن دِ ستا سینه کښے محفوظ وی، لکه چه سُورۂ قیامة کښے دی:-

اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ (سورة القیامة) ستا په سینه کښے د قرآن جمع کول د هغے محفوظ کول او ستا په ژبه د هغے د لوستلو ذمه واری ځمونږ ده په دے سُورت کښے د استثنائی صورت جوړه ئے هدو پریکړه اُس خوهغو د هیرولو با هیریدلو سوال نه پیدا کیږی:-

(۳) دریم جواب دا دے کچرے څه آیتونه هیر کړے شی نو دا به د هغے د منسوخ کیدو یو شکل وی په دے د قرآن په محفوظیت کښے هیڅ فرق نه راځی یعنی کوم آیتونه چه د حضور علیه السلام په سینه مبارکه کښی الله تعالیٰ محفوظ اُساتل او هغوی اُمت ته اُورسول نو هم دا



قرآن دے او که د حکمت په وجه د حضور علیه السلام نه هیر کړے شو نو هغه قرآن پاتے نشو، بلکه خالق کائنات پخپله هغه د قرآن برخه جوړه نکړه، لکه څنګه چه هر حاکم ته اختیار وی چه خپل فرمان کښے څه ټکی او جملے لیکی او څه ټکی او جملے ترلرے کوی دا کار د فرمان د محفوظیت نه خلاف نه دے، دا خو د صاحبِ فرمان خپل کار دے د بل چا کار خونه دے، چه فرمان پریبکاره کیږی د قرآن کریم ارشاد دے،

قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَاۤئِ نَفْسِيْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ: اے پیغمبره دا اعلان اُکړه چه څه خپله ځان د په وحی الٰهی کښے ردّ و بدل نشم کولے څه خو صرف د وحی تابعداری کوم:
(سورة یُونس آیة ۱۵)

## د حضرت عائشهؓ حدیث

عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ يَرْحَمُهُ اللّٰهُ لَقَدْ ذَكَّرَنِيْ كَذَا وَكَذَا اٰيَةً كُنْتُ اُسْقِطُهَا مِنْ سُوْرَةِ كَذَا وَكَذَا (رواه مسلم)

حضور علیه السلام د شپے دیو سړی قرآن واوریدو نو وے فرمائیل چه الله دِ په ده رحم اُکړی ده ما ته فلانی فلانی آیتونه د فلانی فلانی سورتونو را یاد کړی دو.

د دے روایت نه دا نتیجه بتیږی چه د قرآن د غه آیتونه بالکل بیکاره او ضائع شوی بلکه د دے سړی د لوستلو نه وړاندے حضور علیه السلام نه دا یاد وُو، صحابه کرامو ته هم یاد وو. لیکلے شوی هم وو، صحابه کرامو پرستل لکه څنګه چه د غه سړی اُلوستل، نو په دے وجه د دے آیتونو د ضائع کیدو خو څه احتمال پاتے نشو، البته د و مره خبره ده چه د نبی علیه السلام توجُّه ورته نه وه او د دغه سړی په لوستو د نبی علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



توجه بیا ورته اُشوه داسے نه چه حضور علیه السلام بالکل هیروو، دا خو یو عامه محاوره ده خو دسے سره هر کله چه قرآن د لیک په شکل کښے موجود وو، لکھونو ته یاد وُو، نو یو یا څو کسانو ته که هیر هم شی نو د سره د قرآن په محفوظیت هیڅ اثر نه پریوځی۔

## یو عامه ضابطه

یو عامه قاعده دا ده چه دا سے قسم هر ځائے کښے بکار راځی، هغه دا ده چه قرآن په تواتر او قطعی اجماع سره ثابت دے د اعتراض د پاره کوم روایتونه چه پیش کولے شی هغه خو یا ضعیف وی او یا روایات نه زیات خبر واحد وی، خبر واحد ظنی وی، او ظنی د قطعی په مقابله کښے بیکاره دے، نو ځکه داسے ټول قسمه اعتراضونه بالکل بے ځایه وی:۔

## د ابن مسعود رضی روایت

مسند احمد او طبرانی او ابن حبان کښے د حضرت عبد الله بن مسعود رض نه منقول ده، چه هغوی به قرآن کښے مُعوّذتین یعنی قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ د دا ره سورتونه نه لیکل، د غه شان ابو عبید رح په روایت د ابن سیرین رح د ابن مسعود رض نه نقل کوی چه هغوی به سورتِ فاتحه په قرآن کښے نه لیکله او حافظ ابن حجر رح د بخاری په شرح کښے د دے روایتونو ته صحیح ویلی دی خو د دے څو جوابونه دی:۔

(۱) د سورتِ فاتحه او د دواړو معوذتینو قرأت په یقینی تواتر سره ثابت دے نو ظنی خبر د دے مقابله کښے هیڅ نه دے او که چیرے د ابن مسعود دا انکار ثابت هم شی نو اجماع او تواتر د یو کس په مخالفت نه ماتیږی که داسے کیدے شوے نو بیا خو یو متواتر هم نه وو پاتے او د دین ټول کار به بیا ړنګ وو: (۲) قاضی ابو بکر رح د ابن مسعود د انکار جواب دا ورکړے دے



چه دا د هغے د قرانیت نه انکار نه دے، بلکه په مصحف کښے د نه لیکلو نه انکار دے، ځکه چه لیکل د هغه څیز ضروری وی چه د کوم د هیریدلو ویره وی او سورة فاتحه او معوذتین دا سے سورتونه دی چه د دے د هیریدو هیڅ امکان نه وو، همدا جواب ابن قتیبه په مشکلات القرآن کښے ورکړے دے اګر چه په روایت کښے اِنَّهُمَا لَيْسَتَا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ" ر دا دواړه د کتاب الله نه نه دی" راغلی دے خو د کتاب الله: مطلب مصحف وی او پوره مطلب به ئی دا شی چه د دے دواړو په مصحف کښے د لیکلو ضرورت نشته۔

(۳) ابن الصباغ رح جواب ورکړے دے، چه دا سورتونه د ابن مسعود رض په زمانه کښے متواتر وو مګر هغوی ته د تواتر علم نه وو رسیدلے په دے وجه ئے احتیاط کولو څو وخت چه دوی ته د تواتر علم اُشو نو د خپل قول نه ئے رجوع اُکړه، لکه چه عاصم رح په واسطه د زر رح د ابن مسعود رض نه قرأت نقل کړیدے چه دا دے واړه سورتونه پکښے ثابت دی نو دا د خپل ړومبی قول نه ئے د رجوع کولو دلیل دے،

د دے ټولو جوابونو ضرورت هله پیښیږی چه د ابن مسعود رض د دے انکار ثابت شی، لیکن ډیرو محققینو د ابن مسعود رض د انکار تردید کړیدے او دے روایت ته ئی موضوع، باطل او غلط ویلی دی:۔

قَالَ النَّوَوِیُّ فِیْ شَرْحِ الْمُهَذَّبِ اَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی اَنَّ الْمُعَوِّذَتَیْنِ وَ الْفَاتِحَةَ مِنَ الْقُرْاٰنِ وَ اَنَّ مَنْ جَحَدَ شَیْئًا مِنْهَا كَفَرَ وَ مَا نُقِلَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رض بَاطِلٌ لَیْسَ بِصَحِیْحٍ وَ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ فِیْ تَدْحِ الْمُعَلَّی الْمُجَلّٰی

امام نووی رح په شرح مهذب کښے لیکلی دی چه د مسلمانانو په دے اتفاق دے چه معوذتین او فاتحه د قرآن حصه ده چه څوک دے نه انکار کوی هغه کافر دے او کوم چه د ابن مسعود رض نه نقل دے

هٰذَا کَذِبٌ عَلَی ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَاِنَّمَا صَحَّ عَنْهُ قِرَأَةُ عَاصِمٍ عَنْ زِرٍّ عَنْهُ وَفِیْهَا الْمُعَوِّذَتَانِ وَالْفَاتِحَةُ (اتقان جلد ۱ ص۸۱)

نو هغه باطل دے درست نه دے ابن حزم محدث په قداح معلی کښے لیکلی دی چه انکار کول په ابن مسعود رض باندے دروغ تړل دی، ځکه چه دَه نه په

روایت دَزِرّ د عاصم قرأت دا سے ثابت دے، چه د ے کښې دا درے واړه سُورتونه دی)

دغه رنګ امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښې لیکلی دی په اتقان جلد ۱ ص۸۰ کښې تفصیل شته، چه د ابن مسعودؓ انکار کولو ته نوویؒ باطل ویلی دی او ابن حزم ورته دروغ او موضوع ویلی دی

## دَ قرأت اِختلاف او اُووه اَحرُاف

مُستشرقین دَ قرآن دَ تحریف یو دا دلیل هم وړاندې کوی چه دے کښے کښې قرأتونه وی (یعنی یو قرأت ئے نه دے) نو دا دلیل ځکه غلط دے چه تحریف هغه دے چه په بادشاهی دستاویز کښے دَ اصل متکلم او دَ دستاویز جوړونکی نه بغیر بل څوک زیاتے کمے اُکړی، که بادشاه پخپله دے کښے زیاتے کمے اُکړی نو هیڅ عقلمند دے ته تحریف نه وائی۔

دَ قرآن پاک قرأت دوه قسمه دے (۱) متواتر او (۲) غیر متواتر، دا دویم قرأت دَ قرآن ځکه نه دے چه دَ اُصول اِمامان په دے متفق دی چه قرآنیت دَ پاره تواتر شرط دے، او هم قرأتِ متواتره قرآن دے دے نه تحریف نه ثابتیږی، تحریف دے ته ویلی شی، چه غیر قرآن په قرآن کښے داخل کړیشی او یا دَ قرآن څه برخه دَ قرآن نه بهر کړیشی نو دَ قرأت اختلاف په دے دواړو کښے یو هم نه دے لاندې دا چه امام زرکشیؒ په برهان کښے لیکی چه قرآن دَ الفاظو نوم دے او دَ قرأت دَ الفاظو د تلفظ او دَ ادا طرز دے، نو دَ دے په زیاتوالی دَ



دَ قرآن په الفاظو کښے هیڅ کمے زیاتے نه راځی (اتقان جلد ۱ ص۸۲)

## اُووه قِرأتونه

په بُرهان کښے امام زرکشی لیکلی دی چه قرآن دَ وحی هغو الفاظو ته ویلی شی چه حضور علیه الصلوٰة والسلام ته دَ احکامو بیانولو دَ پاره کوم چه په معجزانه انداز نازل شوی دی او قرأت دَ دے تلفظ او دَ ادا طرز ته ویلی شی، اُووه قرأت نه تر اُوو قاریانو په تواتر ثابت دی، او بیا دَ دغه اُوو اِمامانو نه تر حضور علیه السلام پورے سند دَ قرأت په کتابونو کښے موجود دے، چه یو راوی دَ بل نه نقل کړیدے لیکن په اتقان کښے دَ ابن جزری نه نقل دے چه حضور علیه السلام پورے هم دا اُووه قرأت نه متواتر دی:-

وَقَدْ نَصَّ عَلٰی تَوَاتُرِ ذٰلِکَ کُلِّهٖ : دَ اُصولو امامانو ښکاره بیان کړیدے اَئِمَّةُ الْاُصُوْلِ کَالْقَاضِیْ اَبِیْ بَکْرٍ : چه اُووه قرأتونه سراسر دَ حضور غَیْرِهٖ وَهُوَالصَّوَابُ لِاَنَّهٗ اِذَا : علیه السلام پورے متواتر دی ثَبَتَ تَوَاتُرُ اللَّفْظِ ثَبَتَ تَوَاتُرُ : نو هر کله چه الفاظ متواتر شو نو دَ هَیْئَةِ اَدَائِهٖ لِاَنَّ اللَّفْظَ لَا یَقُوْمُ : هغے تلفظ او ادا هم متواتره شوه اِلَّا بِهٖ وَلَا یَصِحُّ اِلَّا بِوُجُوْدِهٖ : ځکه چه تلفظ او ادا الفاظو سره تړلی (اتقان جلد ۱ ص۸۲) : دی ځکه له دَ دے وجود نشته)

## صحابه رض قاریان

هغه قاریان اُووه دی کوم چه نیغ په نیغه دَ حضور علیه الصلوٰة والسلام نه قرأت زده کړو، دَ قاریانو په نوم مشهور شول، دَ دوی ستر قاریان اُستاذان او شیوخ دی او دَ دوی قرأت په ټولو مُسلمان ملکونو کښې خور شو حتیٰ چه تر اُوسه دا شته (۱) حضرت عثمان رض (۲) حضرت علی رض (۳) اُبی بن کعب رض (۴) زید بن ثابت رض (۵) عبد الله بن مسعود رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶) ابوالدرداءرض (۷) ابوموسیٰ اشعری رض (مناهل العرفان جلد صـ۳۸۲)

## اووه قراًتونه

(۱) ابن عامر رح چه نوم ئې عبدالله یحصبی دے یحصب دَ حمیر قبیلې دَ یو شاخ نوم دے دا هغې ته منسوب دے، ابونعیم او ابوعمران ئې کُنیت دے، تابعی دے، دَ ده دَ مُغیره بن ابی شهاب المخزومی نه قراًت حاصل کړے وو او هغه دَ حضرت عثمان رض او هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، دا عامر په سنه ۱۱۸ هـ کښې په دمشق کښې وفات شو:

(۲) ابن کثیر۔ نوم ئې عبدالله بن کثیر دارمی، ابومحمد یا ابومعبد ئې کُنیت دے، دا دَ مکې معظمې دَ قراًت امام وو دوی دَ مجاهد رح نه قراًت حاصل کړے وو هغوی دَ ابن عباس رض نه دوی دَ اُبی بن کعب رض نه او اُبی بن کعب دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه حاصل کړے وو، دَ ابن عامر دوه بالواسطه شاګردان هشام او ابن ذکوان مشهور دی او دَ ابن کثیر دوه بالواسطه شاګردان البزی او قُنبل مشهور وو، دا ابن کثیر رح په سنه ۱۲۰ هـ کښې په مکه مکرمه کښې وفات شو:

(۳) عاصم، عاصم بن ابی النجود ئې نوم، په قراًت، فصاحت او خوش آوازئې کښې مشهور وو۔ دوی دَ زِر بن حُبیش او هغوی دَ عبدالله بن مسعود رض او هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قراًت حاصل کړے وو۔ په سنه ۱۲۸ هـ کښې په کوفه کښې وفات شو دَ دوی په خاصو (بلاواسطه) شاګردانو کښې شُعبه بن عباس رح او حفص بن سلیمان رح زیات مشهور دی،

(۴) ابوعمرو مازنی بن العلاء عمار البصری، دوی دَ سعید بن جبیر رض او مجاهد رض او بیا دے دواړو دَ ابن عباس رض نه او هغوی، دَ اُبی بن کعب رض



او هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قراًت حاصل کړے وو دَ یزیدی په واسطه دَ هغوی مشهور شاګردان دوه دی (۱) دوری ابوعمر حفص بن عمر المقری العزیز البغدادی المتوفی سنه ۲۴۶ هـ (۲) ابوشعیب صالح بن زیاد المتوفی سنه ۲۶۱ هـ

(۵) حمزه بن حبیب بن الزیات الکوفی مولیٰ دَ عکرمه بن ربیع التیمی دوی دَ اعمش رح هغوی دَ یحییٰ بن وثاب نه هغوی دَ زِر بن حُبیش نه او هغوی دَ عثمان رض، حضرت علی رض او حضرت عبدالله بن مسعود رض نه او بیا دوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قراًت حاصل کړے وو۔ دے دَ عربیت دَ علم فرائضو او دَ علم حدیث ماهر وو په سنه ۱۵۶ هـ کښې په حلوان کښې وفات شو، دَ ابوعیسیٰ په واسطه دَ دوی دوه مشهور شاګردان سُلیم بن عیسیٰ الکوفی خلف المتوفی سنه ۲۲۹ هـ او خلاد المتوفی سنه ۲۲۰ هـ وو او دَ دوی دَ قراًت سلسله په دواړو روانه شوې وه:۔

(۶) نافع بن عبدالرحمٰن بن ابی نعیم المدنی، دوی دَ ابوجعفر القاری او دنورو ویاؤ تابعینو نه قراًت حاصل کړے وو، کوم چه دَ ابن عباس رض او دَ ابوهریره رض نه او دے دواړو دَ اُبی بن کعب نه او هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قراًت حاصل کړے وو، دَ نافع رح کُنیت ابورویم دے دَ دوی (۱) قالون ابوموسیٰ، عیسیٰ بن مینا النحوی، دَ قالون معنیٰ ګړه "ده ډیره ښکلې قراًت کړه" وو ځکه ورته قالون ویلے شی المتوفی سنه ۲۲۰ هـ او (۲) ورش نوم ئې عثمان سعید المصری دے، په قراًت او خوش آوازئې کښې بې مثاله وو په مصر کښې سنه ۱۹۷ کښې وفات شو رح دوه هغه مشهور شاګردان دی چه کوم چه دَ ده دَ قراًت سلسله چلیدلے ده:۔

(۷) الکسائی، ابوالحسن علی بن حمزه الکسائی النحوی په احرام کښې به ئې کساء (څادر، رنګ) اغوستو ځکه په کسائی مشهور شو، په نحو عربیت

او په قرآن کښې یې مثال وو سنه ۱۸۶ هـ کښې وفات شو۔

په لسو قاریانو کښې نور درې دا دي:

(۸) ابوجعفر یزید بن القعقاع دَ دوی دَ قرأت سند دَ ابن عباس رض او ابی هریره رض حد ے دوارو دَ ابي بن کعب رض نه او دَ ګ رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دے المتوفی سنه ۱۳۰ هـ۔

(۹) یعقوب بن اسحاق الحضرمی۔ دوی دَ عاصم او ابو عمرو بن العلاء نه قرأت حاصل کړے وو المتوفی سنه ۲۰۵ هـ۔

(۱۰) خلف بن هشام بن ثعلب، کُنیت ابو محمد دے دَ عاصم بالواسطه شاګرد وو المتوفی سنه ۲۲۹ هـ (طبقات القراء لابن الجزری و مناهل العرفان جلد ۱ ص ۴۲۹ تا ۴۵۷)

## اَحرُفِ سبعه

په اُوو اَحرُفو دَ نزولِ قُرآن حدیث دَ یویشتو صحابو نه روایت شوے دے ابو عبید بنکاره کړے چه دا متواتر دی، اتقان جلد ۱ ص ۴۵ په صحیحینو کښې دَ ابن عباس رض روایت الفاظ دا دي چه حضور علیه السلام اُو فرمائیل چه جبرئیل علیه السلام ما ته یو حرف اُو لوستلو ما تر هغې ورسته اُوغوښتل او هغوی به ما ته زیاتول ......

تر دے چه اُووو ته اُورسیدل دَ دے حدیث په شرح کښې امام سیوطیؒ په اتقان جلد ۱ ص ۴۵ کښې څلویښت اَقوال او علامه آلوسیؒ په روح المعاني کښې اووه اقوال نقل کړیدي، غوره خبره دا ده چه دَ اُوو نه مطلب دَ عربو قبیلو اُوه لُغتونه دي، کوم چه ډیر فصیح وو او دَ قبیلو دا دي (۱) قریش (۲) هذیل (۳) تمیم (۴) آزد (۵) ربیعه (۶) هوازن (۷) سعد بن بکر دا غوره قول دے ځکه چه ابوعبید، ثعلب، زهري او نور علماؤ بلکه عطیه هُم دے ته مختار (غوره) وئیلے دے او بیهقي په شعب الایمان کښې دے ته صحیح وئیلي دي، اتقان جلد ۱ ص ۴۷ و روح المعاني



په دے قول امام سیوطی رح دا اعتراض کړے دے، چه دا اُوه قرأتونه یوازے دَ قریشو وو، ځکه چه دَ عمر او دَ هشام دَ قرأت په جګړه کښې حضور علیه السلام دَ دوارو ته صحیح اُووئیل حالانکه دا دواړه قریشیان وو، دا اعتراض ابن قتیبه او ابو علي الاهوازي هم وائي، خو ځمونږ په خیال کښې دا اعتراض صحیح نه ښکاري، ځکه چه کیدیشي چه دَ نبي علیه السلام نه هغه یو صاحب دیو قبیلے په قرأت او دویم صاحب دَ بلے قبیلے په قرأت اوریدلی وي نه دا چه کولو دے دَ قریشو دا اُوه قرأتونه (لغاته) وو:

## دَ اُوو احرُفو حکمت

په شروع کښې دَ اُوو واړو لغاتو قرأت او بیا صرف دَ یو لغت قرأت مقرر دَولو حکمت دا دے (والله اعلم) دَ قرآن ښکاره بیان دے بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ۝ چه قرآن په عربي ژبه کښې نازل شوے دے، خو په بعضے مخصوصو الفاظو کښې دعربو قبیلو اختلاف وو لکه څنګه چه کوئټې او لکهنو په اردو کښې یا دَ پیښور او دَ قندهار په پښتو کښې:-

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ : مونږ هر رسول دَ هغه دقوم په ژبه کښې جوړ کړے وو)

ښکاره خبره ده چه دَ حضور علیه السلام خاص قوم قریش وو او عام قوم ئے عرب وو دَ عربو قبیلے په تعصب کښې دومره زیاتے وے چه ژبے به خاصو ټکو په خاص طرز او تلفظ بانده ے به هم مرګونه کول نو دَ الله تعالی حکمت دا وو چه اسلام په ابتداء کښې کچرے دوی ته یوازے دَ قریشو لُغت مخصوص او مقرر کړیشي، نو کیدے شي چه دَ دغے تعقب په وجه دَ عربو هغه نورے قبیلے دَ قرآن نه فیض وانخلی نو هر یو قبیلے ته په دے غرض په خپل لغت کښې دَ قرأت اجازت ځکه ورکړے شو چه یو خو به دَ قرآن نه فیض یاب شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل به دَ خپلې محرومئ په سبب دَ تعقُب او ضد ښکار نشي دَ عثماني رض جمع قُرآن په وخت کښې هر کله چه اسلام ډیر خور شو دَ قبیلو خصوصیتو نه او ځان ځانی ختمه شوه ټول مسلمانان یو ګوټ شول دَ ژبې وغیره هیڅ فرق پرې اثر نشو خوړلې نو په مُصحف عثماني کښې صرف دَ قریشو په لغت دَ نبي علیه السلام په ړومبی حکم او یا دَ مذکور علت او سبب ختمیدو په وجه اکتفا اُوکړې شوه لکه څنګه چه مؤلفة القلوب په زمانه دَ نبوت کښې دَ زکوٰة مصرف وو، لیکن فاروقي زمانه کښې دَ اسلام دَ طاقت اخستو په وجه دا علت او سبب پاتې نشو څکه دوی بیا مصرف دَ زکوٰة نه خارج کړې شو دا سې نور هُم ډیر احکام امام زرکشي په بُرهان کښې نقل کړي دي چه دَ علت او سبب ختمیدو په وجه هغه ختم کړې شوی دی :-

دَ قرآن تحریف ثابتولو دَ پاره مستشرقینو دا اُوه حرفونه یا اُوه لُغتونه هم دلیل جوړ کړی دے، خو دا څکه صحیح نهٔ دے لکه څنګه موږ وړاندې ذکر کړل چه تحریف د بل چا زیاتی کمی ته وئیلی شي کچرې متکلم (دلته الله پاک) پخپله په خپل کلام کښې کمې زیاتې څه مصلحت دَ پاره اُوکړي نو دے ته تحریف نشي وئیلې لکه څنګه چه دَ بادشاهانو او دَ نورو حاکمانو په حکمونو کښې دا یو عام معمول دے او دغه رنګ دَ تیر شوی مصلحت په بُنیاد اول په اُوو قرأتونو دَ قرآن دلوستې اجازت او بیا دا موقوف کول او په یو خاص لُغت (دَ قُریشو) دَ قُرآن قرأت تحریف نهٔ دے بلکه دا تصرُّف الٰهي په خپل کلام (قرآن) کښې دے چه په دے حق دَ ټولو روغو خلقو اتفاق دے چه پخپله خبره یا حکم کښې متکلم زیاتې کمې کولې شي، دغه رنګ منسوخ التلاوة (دَ رجم) آیت هم اُګڼړه چه اول دَ قُرآن برخه وه او بیا دَ قُرآن



نه دَ دے تِلاوت اُبښکلې شو، نو دا تصرف په قرآن کښې دَ قرآن دَ نازلونکي پخپله وو نه چه دَ بل چا لکه چه فرمائي :-

| | |
|---|---|
| قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِيٓ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ (یونس آیة ۱۵) | ته اعلان اُوکړه چه دا قُرآن څه دَ خپله ځانه نشم بدلولې څه خو هم دَ هغې تابعداري کوم کوم چه ما ته وحی کیږي :- |

دغه رنګ د خلع سورت چه دَ اُبي رض په مصحف کښې وو او بیا منسوخ التلاوت شو نو دا تصرف الٰهي وو دَ بل چا نهٔ بدے سره سره دا هُم حقیقت دے چه په اعجاز کښې منسوخ التلاوت آیتونه دَ قرآن حکیم مستقل آیتونو سره هرګز برابر نهٔ دي بلکه کم دي څکه خو معلومیږي چه دَ ګُرو حبې نه دَ دغې آیتونو دَ مستقل پریښودو الله تعالیٰ اراده نهٔ وه

## اُوه قرأتونه

دَ اُوو حرفونو د حدیث دویمه تشریح اُوه متواتر قرأتونه دی، دَ تحریف اعتراض په دے هم څکه نشي کیدے چه دا اُوه واړه قرأتونه هم قرآن دے په قرآن کښې دے سره هیڅ کمے زیاتے نه راځي، په دے صورت کښې دا اُوو حرفونو مطلب د تلفظ اُوه طرزونه دی، دَ حرف، نحوي معنے، مطلب نهٔ دے بلکه لُغوي معنیٰ مطلب ده، چه معنیٰ ئے اُوه قرأتونه دی، قِرأتونه خو دا اُوو نه زیات دی او په حدیث کښې اُوه یادیږي؛ دا وَلے؟

دَ دے جواب یو هغه دے کوم چه اتقان دَ جزری نه نقل کړی یدے هغه وائي چه ما دَ صحیحو، شاذو او دَ ضعیفو ټولو قرأتونو چانړه اُوکړه نو معلومه شوه چه آخر کښې دا ټول دَ اُوو نه بهر نهٔ دی (اتقان جلد ۱ صـ۴۷) کچرې دَ اُوو نه زیاتي هم وي، نو دَ دے هم څه پروا

خکه نشته چه دا وو نه مطلب مشهور قراءتونه دی او بل دا چه لفظ داوو (سبع) د حصر د پاره نه دے، دویم دا حدیث د نبی علیه السلام روم بے دے، او اوه قراءتونه بیا روستو ظاهر شوی او تصنیف شوی دی دا خنګه چل دے، نو د دے جواب دا دے چه اوه وا په قراءتونه د نبی علیه السلام په وخت کښے وو، خکه خود هغوی نه دا تول دا وو مشهورو قاریانو رضی په ذریعه روایت شوی دی، صرف د دے کتابونه روستو جوړ شوی دی۔

دریم اعتراض دا دے چه هر ایت کښے خو اوه قراءتونه نه جاری کیږی، نو جواب ئے دا دے چه په ټول قرآن کښے دا وو قراءتونو وجود بنودلے شوے دے نه چه په هر آیت کښے۔

د اسلام مخالفینو په مصحف عثمانی څو اعتراضونه کړیدی چه په هغې کښې مستشرقین پیش پیش دی۔ مونږ اوس هغه نقل کوو او وار په وار به د هغے جواب ورکوو۔

(۱) رومبے اعتراض دا دے چه څه وخت حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ ته مصحفونه وړاندے کړے شو نو هغوی اُ فرمائیل۔ اِنَّ فِي الْقُرْاٰنِ لَحْنًا سَتُقِيْمُهُ الْعَرَبُ بِاَلْسِنَتِهِمْ (روح المعانی جلد ۱ صـ ۲۸) په مصحف عثمانی کښے دا سے غلطئ دی چه عرب به ئې په خپلو ژبو درستے کړی هم دا شان په فوز الکبیر کښے دی، نو اول جواب ئے دا دے لکه چه علامه آلوسی لیکی، لَمْ يَصِحَّ عَنْ عُثْمَانَ اَصْلًا، (چه دا روایت د حضرت عثمان رضی الله عنه نه بالکل ثابت نه دے۔

(۲) دویم جواب دا دے چه په مصحف عثمانی د صحابه وُ اجماع ده او رسم عثمانی هم وحی سره ثابت دے، نو په غلطه خنګه اجماع کیدے شی، (۳) دریم جواب دا دے، چه حضرت عثمان د مصحف عثمانی


(c) ketabton.com: The Digital Library

کاتبانو ته په جمع شا باسے ورکړو وے فرمائیل، اَحْسَنْتُمْ وَاَجْمَلْتُمْ ناسو ډیر ښه او ښائسته کار اُ کړو څنګو صحابی په غلط کار څنګه شاباسے ورکولے شی، بل دا چه ابو عبیده د عبد الرحمن بن هانی نه نقل کړیدے وائی چه څه حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ سره وم کاتبانو چه د غه مصحف حضرت عثمان ته وړاندے کړو نو هغوی قلم دوات طلب کړو، او دوے غلطیانے ئے درستے کړے (۱) لَمْ يَتَسَنَّ ئے لَمْ يَتَسَنَّهْ کړو (۲) لَا تَبْدِيْلَ لِلْخَلْقِ ئے لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ کړو، او (۳) اَمْهِلِ الْكٰفِرِيْنَ ئے مَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ کړو۔ (تفصيل وړاندے هم ذکر شوے دے) دا سے وړے د کتابت غلطئ هر کله چه حضرت عثمان رضی درستے کړے نو نورے غټے غلطئ به ئے په کښے څنګه پریښودے؟

څلورم دا چه د لته د لحن معنے غلطی نه ده بلکه د قرآن هغه صحیح الفاظ دی په کوم چه د غه وخت د عربو ژبه نه چلیده او د هغوی د خبرو په طرز نه وو نو حضرت عثمان رضی الله اُ فرمائیل چه عرب به ئے په بیا بیا تلاوت قابو کړی او ژبه به ئے پرواوړی، د دے دلیل نشته چه د لحن دوه معنے دی، (۱) غلطی (۲) طرز کلام د حضرت عثمان رضی په روایت کښے دا دویمه معنی مراد ده لکه چه امام د لغت راغب رحمه الله مفردات القرآن کښے لیکلی دی خود دے نه لحن محمود و یلے شی لکه د عربو شاعر وائی : خَيْرُ الْحَدِيْثِ مَا كَانَ لَحْنًا (ښه خبره هغه وی چه په ښه طرز اُ و یلے شی) او هم د غه معنی د قرآن په وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ کښے استعمال ده لَعَلَّ بَعْضَكُمْ اَلْحَنُ بِحُجَّتِهِ د دے مطلب دا دے، چه د مقدمے یو فریق د فصیح طرز کلام ماهر وی، نو څه د هغوی په خبره فیصله کوم کچرے دا خبره واقعی د هغه حق نه وی نو دا دِ ګری به د هغه په حق کښے د اور یو ټکړه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دے حوالو مطلب دا چه د لحن نه یوازے غلطی نه ده مراد ده بلکه یو خاص طرزِ تلفظ مُراد دے :-

پنځم دا چه د لحن مطلب د رسم الخط لحن دے مزید تشریح ئے دا ده چه په مصحف عثمانی کښے څه رسم الخط د تلفظ سره مطابق نه وی، لیکن د ژبے (عربئ) والا به ئے پخپله درسته کړی، لکه څنګه چه په انګریزئ کښے ډیر داسے لیکل دی، چه د تلفظ مطابق نه دی خو د ژبے والا ئے پخپله درست کوی :-

**د تحریف په باره کښے د ابن عباس رض روایتونه**

مستشرقینو د ابن عباس رضی الله څه روایتونه نقل کړی دی بلکه رَوَقَضٰی رَبُّکَ په ځائے وَوَصّٰی رَبُّکَ او د مَثَلُ نُوْرِهٖ په ځائے مَثَلُ نُوْرِ الْمُؤْمِنِ : د داسے روایاتو نه نه خو د قرآن په معنے څه خاص فرق نه پریوځی خو بیا هم صاحب د مناهل العرفان د دے څو جوابونه ورکړی دی :-

(۱) اِنَّ هٰذِهٖ رِوَایَاتٌ ضَعِیْفَةٌ :- دا ضعیف روایتونه دی حضرت عبد الله لَمْ یَصِحَّ شَیْءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ :- بن عباس رضی الله تعالےٰ نه ثابت نه دی

(۲) دا روایتونه د قرآن د قراءت متواتره نه خلاف دی ځکه بیکاره دی عام جواب دا ابن عباس رض نه د اسلام مخالفینو څو مره روایتونه چه نقل کړیدی د هغے ټولو عام جواب دا دے چه ابن عباس رض په قرآن او په قراءت کښے د زید بن ثابت رض او د اُبی بن کعب رض شاګرد دے او دا دواړه حضرات د هغے کمیټئ ارکان دی کوم چه حضرت عثمان رض د قرآن د جمع د پاره مقرره کړے وه، نو د کله چه دواړه استاذانو او نورو ټولو صحابه د کوم والفاظو د قرآن سره اتفاق کړیوی، نو ابن عباس رض د هغے خلاف کیدے نشی نو دا روایتونه اول خو ضعیف او بے اعتباره



دی که ثابت هم شی نو د قرآن د متواترو الفاظو مقابله د یو کس بیان نشی کولے لکه چه بغداد بنا په تواتر ثابت دے که یو کس د دے خلاف بیان ورکړی نو هغه اعتباری او د منلو نه دے، اصلی خبره دا ده چه څوک صحابه کرام و نه داسے کچه خبره منسوب کوی نو دا د دے دلیل دے چه دا نسبت کوونکے کچه سړے دے او د ده خبره د اعتبار کولو او د منلو جوګه نه ده :-

## شیعه او د قرآن تحریف

مستشرقین پخپله د قرآن په تحریف ثابتولو کښے پاتے راغله نو دا بعوته ئے خوشی کړل چه د مسلمانانو یو غټه فرقه (شیعه) د قرآن د تحریف قائله دی او دلائل ئے ورله هغه کینو د کوم چه دا بنائی چه د شیعه و ملے عقیده دا ده چه قرآن کښے تحریف شته خو دا ځکه غلط دی چه د شیعه و هم هغه عقیده ده کومه چه د سُنیانو ده هغه دا چه قرآن پوره او مکمّل محفوظ دے په دے کښے دیو حرف کمے زیاتے نشته د شیعه و د ډیرو کتابونو حوالے دا دی :-

(۱) شیخ صدوق ابو جعفر محمد بن علی بابویه په رسالهٔ اعتقادیه کښے لیکی مَا بَیْنَ الدَّفَّتَیْنِ لَیْسَ بِاَکْثَرَ مِنْ : کوم قرآن چه د دے دوو دفاینو ذٰلِکَ وَمَنْ نَسَبَ اِلَیْنَا اَنَّهٗ اَکْثَرُ : مینځ کښے دے د دے نه زیات فَهُوَ کَاذِبٌ : : : نشته او څوک چه موږ ته د دے نه د زیات منلو نسبت کوی نو هغه دروغژن دے،

(۲) په تفسیر مجمع البیان د ابو القاسم علی بن الحسین الموسوی کښے دی اِنَّ الْقُرْاٰنَ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ : قرآن د نبی علیه السّلام په زمانه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ مَجْمُوْعًا : کښے هم د غسے جمع وو لکه چه مُؤَلَّفًا عَلٰی مَا هُوَ الْاٰنَ وَذَکَرَ اَنَّ مَنْ : اُس دے او کوم امامیه یا حشویه

خَالَفَ مِنَ الْإِمَامِيَّةِ وَالْحَشْوِيَّةِ لَا ؛ چه دَ دے خلاف کوی نو په هغے يُعْتَبَرُ بِخِلَافِهِمْ لِأَنَّهُمْ قَبِلُوا الْأَخْبَارَ ؛ حُکم اعتبار نشته چه هغوی الضَّعِيفَةَ ؛ ؛ ضعيف خبرونه قبول کړيدی ؛۔

سید مرتضٰی شيعه ليکی

إِنَّ الْعِلْمَ بِصِحَّةِ الْقُرْآنِ كَالْعِلْمِ ؛ دا سنی قُرآن دَ صحت علم داسے بِالْبُلْدَانِ وَالْوَقَائِعِ الْكِبَارِ ؛ ؛ يقيني دے لکه دَ مشهور ښارونو دَ موجودګئ او یادَ لويو لويو تاريخی واقعاتو علم ؛

قاضی نورالله الشوستری شيعه په مصائب النواصب کښ ليکی

مَا نُسِبَ إِلَى الشِّيعَةِ الْإِمَامِيَّةِ ؛ کومه خبره چه امامیه شيعه ؤته بِوُقُوعِ التَّغْيِيرِ فِي الْقُرْآنِ لَيْسَ ؛ ؛ منسُوب شوے ده چه هغوی په بِمَا قَالَ بِهِ جُمْهُورُ الْإِمَامِيَّةِ وَإِنَّمَا ؛ قُرآن کښے تحريف مَنی داد ټولو اماميه قَالَ بِهِ شِرْذِمَةٌ قَلِيلَةٌ مِّنْهُمْ لَا ؛ قول نه دے بلکه دَ دوی دَ يو وړوکی اِعْتِدَادَ بِهِمْ، وَقَالَ الْمُلَّا الصَّادِقُ ؛ ټولی قول دے کوم چه بے اعتباره دی فِي شَرْحِ الْكُلَيْنِيِّ يَظْهَرُ الْقُرْآنُ ؛ او مُلّا صادق په شرح کلينی کښ ليکی بِهٰذَا التَّرْتِيبِ عِنْدَ ظُهُورِ الْإِمَامِ ؛ چه قرآن به هم په دے ترتيب دولسم الثَّانِي عَشَرَ ؛ امام ظاهروی ؛

محمد بن حسن الحرالعاملی دَ اماميه شيعه ؤلوئے محدث په خپله رساله کښ ليکی کومه ئے چه د خپلے زمانے دَ يو عالم په رد کښ ليکلے ده چه

هر کسے که تتبُّع اخبار و تفحُّص تواريخ و آثار نِ چاهم چه دَ اخبارو، آثارو او تواريخو لټون نموده بعلم يقيني ميداند که قرآن در غايت ؛ اَکړو هغه يقيناً پوهيږی چه موجوده درجهٔ تواتُر بوده وآلاف صحابه ضبط ؛ قُرآن په انتهائی تواتُر سره ثابت دے او په ونقل کرده وآن در عهد رسول الله مجموع و ؛ زرګونو صحابه کرامو هغه نقل کړے او مؤلف بوده ؛ ضبط کړيدے او هغه دَ حضور عليه السلام په زمانه کښ يو ځائے شوے او جمع شوے وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فروع کافی کتاب الروضة ص۲۸ کښ حضرت علی رض نه روايت دے

هُوَ كِتَابٌ كَرِيمٌ فَضَّلَهُ وَفَصَّلَهُ وَ قُرآن يو عزتمند کتاب دے کوم لچه بَيَّنَهُ وَأَوْضَحَهُ وَأَعَزَّهُ وَحَفِظَهُ الله تعالیٰ فضيلت او بزرګی ورکړيده مِنْ أَنْ يَأْتِيَهُ الْبَاطِلُ بَيْنَ يَدَيْهِ او هغے دَ باطل دَ ګډون نه محفوظ کړيدے

شيخ صدوق د رساله عقائد کښے ليکی،

اَلْقُرْآنُ الْمُنَزَّلُ وَمَا بِأَيْدِي النَّاسِ ؛ نازل شوے او دَ خلقو په لاس ونو وَاحِدٌ لَا زِيَادَةَ فِيهِ وَلَا نُقْصَانَ ؛ ؛ کښے موجود قُرآن يو دے چه په هغے کښ کے زياتے نشته

دَ شيعه ؤ دَ دے مستند وحوالونه پس دا حقيقت ښکاره کيږی چه دَ يو څو بے اعتباره خلقو نه سوا په شيعه ؤ کښ هم په قرآن کښ دَ تحريف يادَ کمی زياتی قائل نَدی نور تفصيل دَ نعمان آلوسی په کِتَابُ الْجَوَابِ النَّصِيحِ لِمَا لَفَّقَهُ عَبْدُ الْمَسِيحِ، کښے اُکوری قُرآن حکيم دَ تحرير او دِ ماغ په دواړو اړخونو محفوظ دے او دَ قُرآن الفاظ او مطالب دواړه معجزه دی ؛

## دَ بائيبل تحريف

دَ دے په عکس دَ بائبل نه تاريخی بنياد شته او نه علمی دا انجيلونو خو داحال دے چه (۱) اصل انجيل يو وو او اُس ځلوردی، او بخار په قصص الانبياء کښے ليکلی دی چه دَ يورپ محققين دا مَنی چه پرومبو درے صدو کښے دَ سلګونه زيات انجيلونه وو، چه خرمو ده پس دَ هغے نه ځلور انجيلونه دَ نائيسيا په کليسا کښے دَ يو فال په بنا چونړ کړے شوا و نور انجيلونه پريښودے شو،

(۲) دَ يورپ سکتن دَ ذرے کتُب خانے نه انجيل برنابا اَړَاو تو چه دَ سُورت مريم په مطابق دَ حضرت مسيح پيدائش او دَ زيرے په پيغمبر اسلامؐ مشتمل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بولس خاص شاګرد (فراموش شو) چه دا اُلیدو نو مسلمان شو دا
انجیل المنار" پریس کښې چاپ شوے دے د یورپ محققین په دے متفق دی
چه په دے انجیلونو کښې یو هم د حضرت عیسٰی علیه السلام نه دے او
نه د هغې ترجمه ده او نه د دے څه سند شته، د مسیحیت مشهور
دشمن پولوس دا مشهوره کړه چه ما ته مسیح علیه السلام الهام
راکړے دے، ځکه چه هغه غورزیدلے وو نو هغه اُوویل چه اُس به د
مسیح په هدایت د مسیحیت د دشمنئ په ځائے د هغه د تبلیغ کوشش
کوم هغه او سینټ پال مسیحیت ګډ وډ کړو، دائرة المعارف مسیحي
مصنف البستانی لیکی چه لوقا خو د مسیحیت لوخراب د دشمن سینټ پال
نه مسیحیت را غلے دے او ابنیت، کفاره، شراب، مردار او خنزیر
حلالوالے ئے په مسیحیت کښې شامل کړو او دائے د خرابو یو مجموعه
جوړه کړه

**انجیل متی** د ټولو نصاری اتفاق دے چه دا اصلی انجیل نه دے
او نه د هغې ترجمه ده کچرے ترجمه ئے وی نو د ترجمے
زمانه او د مترجم نوم ئے نه دے معلوم، متی دا انجیل ۳۹ سنه کښې په بیت
المقدس کښې کینا ستو او وے لیکلو دے خو د حضرت عیسی علیه السلام
صحابی هم نه دے، زوبن بغانی دا سے لیکلی دی:

**مرقس** پطرس کو انا کو په مروج الاخبار کښې لیکی چه مرقس یهودی
وو د دُومیانو په غوښتنه هغه دا انجیل غالباً ۶۰ سنه
کښې اُلیکلو.

**لوقا** مسټر کډل په رسالة الهام کښې لیکی چه د لوقا انجیل الهامی
ځکه نه دے چه د ده مخپله د دے په سر کښې لیکلی دی چه هغه
دا انجیل شاه فیلس سره د خط و کتابت په بنا لیکلے دے، لوقا یونانیے



کښې طبیب وو. د مسیحیت لوخراب دشمن سینټ پال نه مسیحیت را غلے
دے او ابنیت، کفاره، شراب، مردار او د خنزیر حلالوالے ئے مسیحیت
کښې داخل کړو،

**انجیل یُوحَنّا** کیتهولک هیرالډ جلد ۷ کښې پروفیسر لق نه منقول
دے چه انجیل یُوحَنّا د سر نه تر پخه د اسکندریئے د یو
طالب علم تصنیف دے (الفاروق باجه زاده ص ۳۴۲)

**تثلیث** د دائرة المعارف مسیحی مصنف البستانی لیکی چه مسیحیانو
د تثلیث لفظ د پولوس نه زده کړو چه د سینټ پال او پولوس نه وا
وُریدو کوم چه متعصب یهودی وو او هغه مسیحی توحید په شرک کښې
کړو او د کامیابئ سائے واخستو په دے صنم پرستانه عقیده کښې
مسیحی صداقت ورک شو.

**ختنه او د جنابت غسل** نصاری منی چه ختنه ټولو پیغمبرانو
علیهم السلام کړیده، عیسٰے علیه السلام
سنت وو پولس یهودی د کتاب په مخالف سنتول بند کړه چنانچه
(۱) وَلْيُخْتَنْ كُلُّ ذَكَرٍ (هر نارینه دِ سنت کړې شی) تورات تکوین
(۲) قُلْ لَهُمْ فِي يَوْمِ الثَّامِنِ يُخْتَنُ الصَّبِيُّ (دوی ته اُووایه چه پداتمه
ورځ دِ ماشوم سنتوے شی (سفر الاحبار باب ۱۲) او حضرت مسیح
فرمائی چه لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا فِي التَّوْرَاةِ (چه څه به په تورات
کښې هیڅ تبدیلی نکوم (متی باب ۵)
(۳) کوم سړی ته چه منی اُوزی نو ټول بدن دِ په اُوبو اُوینځی او
حائضه دِ هم دا سے کوی
(۴) خنزیر حرام دے (سفر الاحبار باب ۲۱) د دے ټولو حوالو نه
معلومه شوه چه د انجیلونو او د هغوی د احکامو تحریف ترکومه حده شوے دے

## د بائیبل دَ تحریف داخلي شهادت

کچرے تاریخي شهادتونه او دَ یورپ دَ محققینو اقرارونه شانته اُغوندلے شي نو بیا هم بائیبل کښې چرته داسے مضامین موجُود دی چه دَ هغے نه دَ ے تحریف په ښکاره ډول ظاهر یږي ځکه چه د یُ مذهب کښے بنیادي مسئلي درے دی:-

① دَ اُلوهیت تصوُّر ② دَ نبوّت تصوّر ③ دَ عملونو دَ بدلو تصوُّر یا آخرت دَ هر مذهب دا بُنیادي اُصول دی:-

① دَ اُلوهیت په تصوُّر کښې دَ الله تعالیٰ عظمت، پاکی او تنزیه ضروري ده ځکه چه انسان دَ هغے صحیح معرفت بیا مُوندے شي او زړه د هغه دَ جلال او جمال په شان د نړا او آباد کړیشي۔

② دَ نبوت تصوُّر په داسے بواند از کښې پیش کړیشي چه دَ انسان زړه او دِماغ دَ نبي دَ عظمت او عصمت په وړاندے ټیټ شي او دَ هغه دَ فرمانبرداري عشق دِ دَ هغه په زړه کښې پیدا شي۔

③ د بدلو تصوُّر او دَ عملونو د جزا نقشه دِ داسے جوړه وی چه انسان دِ نیکئ ته بلي او بدئ نه دِ ورله کرکه او ویره پیدا کوی او د عملونو دَ نتیجو دیني تصوُّر دِ هغه په فرمانبرداري کولو تیار روی او دَ گناه نه دِ منع کوی، ځکه چه دَ نیکئ د نتیجو زیرے او دَ بدئ دَ نتیجو نه ویرولو مقصد دَ انساني شخصیت اصلاح او دَ جماعتي ژوند پاکی ده، په دے تله اُس مُونږ دَ بائیبل تعلیمات او هدایات تلُو چه هغه دَ درے وارو تصوُّراتو مقصد و نه ترکومے پُوره کوی:-

| دَ اُلوهیت تصوُّر او بائیبل | (۱) خُداوند، په زمکه دَ انسان په پیدا کولو پښیمانه او دَ لگیر شو |
|---|---|

(تورات پیدائشی درس ۵ و ۶) (۲) پښیمانه پښیمانه کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سترے شو (کتاب پرسیا باب ۶ درس ۶) دَ خط کشیده الفاظو نه د خدائے تعالیٰ جاهل کیدل۔ غمژن کیدل او ستړی کیدل ثابتیږي چه هیچرے دَ الله دَ شان سره سمون نخوري:

(۳) نه به بیشکه هغه زمکے ته اُ نه رسیے، دَ کومے په بابت چه ما قسم خوړلے دے، چه څه به هلته ستا دَ استوګنے بند و بست کوم (تورایت گنتي باب ۳۲ آیت ۳ بیا په آیت ۳۵ کښې دی) تاته به څما وعدے ماتول معلومه شي، دَ قسم وعده ماتول یو شریف انسان سره نه ښائي نو خالق کائنات سره به څنګه اُ ښائي،

(۴) تر صبا صادقه پورے یعقوب خُدائے سره پرزورے کولے او ځکه چه څه وخت تلو نو یعقوب تر هغے نه پریښو تر څو چه برکت ئے ترے وانخستو (پیدائش باب ۳۲ ایت ۲۴)۔

(۵) خُدائے پاک به دَ هغه پلاند سمان دَ بیخه دَ اُ یاسی (کتاب یسعیا باب ۳ آیت ۱۸):

(۶) خدائے دَ خیمے په دروازه ولاړ دَ هغه دَ خُلے نه اور او سپیره موټه لوږے راو تو او سُور شوا و منڅ ئے کړه۔ خلقو موسیٰ او هارون ۴ سره خُدائے په گرسئ ناست اُلید او خورل سنبل ئے اُ کړه، دَ هغه جاے دَ واړے پشان سپینے او دَ هغه د سرو ویښته سُتره او دَ هغه پشان ووادول (سلاطین باب ۲۲)

(۷) څو بیز خُدائے یهودا پیدا شو (عبرانیون باب ۷ آیت ۱۴)

(۸) دَ خدائے کم عقلي دَ خلقو دَ عقلمندئ نه او دَ خدائے کمزوري دَ خلقو دَ زور نه زیاته ده ۔ تاته څما خوځے او مانه نن پیدا شوے۔ (اعمال باب ۱۳ آیت ۳۳)

دے خوالو نه تاسو دَ خُدائے بائیبلي تصوُّر اندازه کړئ، دَ دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوره زياته دَ خُدائے بيعزتي څه کيدیشي، بيا دَ قُرآن دا حکم چه «
لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ او لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ښه اُګورئ چه دَ خُدائے هستی
دَ څه په شان ده او نه دَ هغه څوک سيال شته ،

## بائيبل او دَ نبوّت تصوُّر

(۱) نوحؑ شراب اُڅښل او بدمسته شو، دَ هغه ستر بربنډ شو څو دَ
هغه ځامنو پټ کړو (پيدائش باب ع۱۹)
(۲) لوط عليه السلام شراب اُڅښل او خپلو لُونړو سره ئے زِنا اُکړه
او معامله دوه کرته اُشوه : (پيدائش باب ع۱۹)
(۳) حضرت يعقوب عليه السلام دَ بزے دَ بچو څرمن دَ لاسه تاؤ کړه
او دروغ ئے اُو وَئيل او خپل پلار ئے دوکه و دکولو دَ پاره ئے خپل نوم
عيص اُښودو (پيدائش باب ع۲۷)
(۴) دَ حمور ځوئے سکم دَ حضرت يعقوب لُور و سره زنا اُکړه :-
(پيدائش باب ع۳۴)
(۵) دَ موسیٰ عليه السلام په غائيبه وهارون عليه السلام دَ خلقو په وينا
دَ کالو بُت جوړ کړو او په خلقو ئے دَ دے عبادت اُکړلو او دَ هغے دَ پاره ئے
دَ قُربانئ ورکولو حکم ورکړو، او وے وئيل چه دا ستاسو معبود دے
چه دَ مصر دَ ځمکے نه ئے تاسو را اُويستئ (خروج باب ع۳۲)
(۶) داؤد عليه السلام په پټ اُختو دحتی اوريا ښځه ئے په لمبا اُليده
نو پرِ عاشق شو او وے بلله او ورسره ئے زنا اُکړه چه دَ هغے خيته
شوه نو دَ هغے خاوند ئے په مکرا اُوژلو (دَ سموئيل دويم کتاب باب ع۱۱)
(۷) حضرت سليمان عليه السلام دَ ممانعت باوجود مُوابي او عَمُونی
بُت پرستے ښځے جوړے کړے او نفساني خواهش ئے دومره په
چيو شو چه اُو سِوو بيګمو او درے سوو حرمو نه ئے خبره اُرسيده



بيا په دی دومره عاشق او زن مُريد شو چه بتولی ته مائل شو او په
آخری عُمر کښے ئے بُتانو ته هم سلام اُکړو (اول سلاطين باب ع۱۱)
(۸) مُونږ ايمان لرُو چه ته خدائے نه راوَتے ئے، يعنی يسوع :-
(يُوحنّا باب ع۱۶ آيت ع۳۰)
(۹) يسُوع اُووَئيل چه دَ آسمان او زمکے ټول اختيار ماله راکړے شو
(متی باب ع۲۸ آيت ع۱۸) :-
(۱۰) مانه چه څومره وړاندے راغلی دی هغه ټول غله او ډاکوان
دی، (يُوحنا باب ع۱۰ آيت ع۸)
اُمت دَ پاره نبیٔ دَ عمل نمُونه وی، آيا دَ نبيانو دا شان دَ نبوّت
مقصد پوره کولے شی؟

## بائيبل او دَ عملونو بدله

(۱) څومره خلق چه په شريعت تکيه کوی، هغه ټول لعنت لاندے
دی (ګليتون باب ع۳ آيت ع۱)
(۲) خُدائے دَ چا عدالت نُه نه کوی هغه دَ عدالت ټول کار خپل ځوئے
ته اُسپارلو (يوحنا باب ع۱۵ آيت ع۲۱)
(۳) کوم مسيح چه مُونږ دَ پاره لعنتی جوړ شو هغه مُونږ په بيعه
واخيستو او دَ شريعت د لعنت نه ئے خلاص کړو :- (ګليتون باب ع۳
آيت ع۱۳)
(۴) هغه يوازے مُونږ دَ ګُناهونو کفّاره نه ده بلکه دَ ټولے دُنيا
ګُناهونو هم (دَ يُوحنا پُومبے عام خط باب ع۲ آيت ع۲) :-
(۵) پادريانو ته دَ ګُناه بخښلو اختيار دے دَ چا ګناهُونه چه تاسو
بخښئ نو هغوی اُبخښلے شو او دَ چا ګناهُونه چه قلئ پريږدئ نو
هغه اُساتلے شوے (يوحنا باب ع۲۰ آيت ع۲۳) :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دَ بدے دا سے تصوّر نه پس دنیکې کولو او دَ گُناه نه بچ کیدُ جن به پاتے کیدے شي، دے نه معلومه شوه، چه دا ټول تحریفات دی،

# شپږم فصل

مکی او مدنی سُورتونه او دَ هغې شمیر او دَ آیتونو کلمو او دَ حروفو د شمیر په بیان کښې

## دَ مکی او مدنی متعلق درے اصطلاحات دی

(۱) کوم سُورتُونه چه دَ هجرت شروع کیدو دَ زمانې نه وړاندے نازل شوی دی، هغه مکی دی او کوم چه دے نه وُروستو نازل دی هغه مدنی دی (۲) کوم سُورتونه چه په مکه کښې نازل شوی دی هغه مکی دی، خو مکے نه مطلب خُود مکه او دَ هغې خواوُ شا علاقه ده، لکه مِنّی، عرفات او حُدیبیه او کوم چه مدینه کښې نازل شوی دی، نو هغه مدنی دی خو دلته هم خُود مدینه او دَ هغې خواوُ شا علاقه مُراد ده لکه بدر، اُحد، سلع، (۳) کوم آیتونو کښې چه خِطاب اهلِ مکه ته دے هغه مکی او کوم کښې چه اهلِ مدینه ته خطاب دے، هغه مدنی دی، خو مشهور پیژندل قول دے، دَ مکی او مدنی پیژندل دَ صحابه کِرامو له اقوالو معلومیږی لکه چه ابوبکر بن عربی په "انتصار" کښې لیکلی دی په دے بار کښې دَ نبی علیه السلام هیڅ قول نه دے نقل شوے په مکی او مدنی معلومولو کښې دا فائده ده چه په نزول کښې دَ وړاندے وُروستو سُورتونو پته لګی او دے سره دَ نسخ او تخصیص مسئله په آسانه حل کیدے شي ابوالحسن بن الحصار نه منقول دی چه شل خو په اتفاق سره مدنی سورتونه دی. دولسو سورتونو کښې اختلاف دے، او نور ټول بیا مکی دی، لیکن اُبیّ بن کعبؓ اوه ویشت سُورتونه مدنی بنائی او نور ټول مکی، زیات تفصیل اتقان جلد ۱ ص ۹ و ۱۰ کتلے شي.

---



## دَ قرآن دَ سُورتونو شمیر

دَ قُرآن دَ سُورتونو په شمیر کښې دوه مشهُور اقوال دی:-

(۱) دَ قرآن سُورتُونه یو سل څوارلس دی، مطلب دا چه انفال او براءة ځان له ځانله سُورتونه دی:-

(۲) دویم دا چه سُورتونه یو سل او دیارلس دی مطلب ئے دا شو چه انفال او براءة دواړه په یو سُورت حسابیږی:-

### دَ قرآن په سُورتونو کښې دَ تقسیمولو یو څو حکمتُونه دی

(۱) هر یو سورت دَ مستقلې معجزے په شکل کښې وړاندے کول:-

(۲) لوستونکو او یادوُونکو ته یو قسم تسلی خوشحالی او همت ورکول چه په یو سُورة ختمولو سره هغوی دَ قُرآن یو مستقله برخه ختمه کړه

(۳) متناسب مضمُونُونه یو ځائے کول (اتقان جلد ۱ ص ۶۶)

... کار یوه فائده: دَ مکی مدنی سورتونو پیژندلو یو څو ضابطے:-

(۱) کوم سُورت کښې چه "کَلّا" لفظ راغلے دے هغه مکی دی، دَ "کَلّا" لفظ درے دیرش ځایه په پنځلسو سورتونو کښې راغلے دے چه ټول دَ قرآن په آخری نیمه حصه کښې دی او آخری نیمه حصه زیاته مکی خو متشابهات یکښې مدنی دی؛

(۲) په کوم سورت کښې چه سجدهٔ دَ تلاوت ده هغه مکّی دے،

(۳) سوا دَ سُورت بقره او آل عمران دَ نورو کومو سُورتونو په سر کښې چه حروف تهجّی دی هغه مکّی دی:-

(۴) مفصّل یعنی دَ قُرآن آخری اُومه زیاته برخه مکی ده (طلاق، تحریم او سُورت نصر مدنی دی):-

(۵) په کوم سُورت کښې چه حدود او فرائض دی، هغه مدنی دی:-

(۶) په کومو سورتونو کښې چه دَ جهاد بیان دے هغه مدنی دی:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) په کوموسورتونوکښې چه دَ مُنافقانو بیان دے هغه مدنی دی
(مناهل العرفان جلد ۱ صـ ۱۸۹ و ۱۹۰) :-

**دَ قُرآن دَ اٰیتونو شمیر** | دحضرت عائشے رض دَ شمیر مطابق دَ قُرآن آیتونه شپږ زره شپږ سوه او شپږ شپیته دی، (۶۶۶۶)

**دَ قُرآن دَ کلمو شمیر** | دَ حضرت مجاهدؒ دَ شمیر مطابق دا شپږ اویا زره او دوه نیم سوه دی (۷۶۲۵۰)

**دَ قرآن دحروفو شمیر** | دَ حضرت ابن مسعودؓ دَ شمیر مطابق دا درے لکه دوه ویشت زره شپږ سوه یو اویا (۳۲۲۶۷۱)

زورونه پنځه څلویښت زره دوه سوه او درے څلویښت دی (۴۵۲۴۳)
زیرونه یو کم څلویښت زره پنځه سوه او دوه اتیا (۳۹۵۸۲) دی :-
پیښونه اته زره آته سوه او څلور (۸۸۰۴) دی :-
نقطے (۱۰۵۶۸۴) یو لک پنځه زره شپږ سوه او څلور آتیا دی (تاریخ القرآن صادر، صـ ۱۱۹ او فنون الافنان دَ ابن الجوزی)

## دَ مختلفو سورتونو مختلف نُومونه

**سبع طِوال** | اُوه اُږده سُورتونه (۱) بقره (۲) آل عمران (۳) نساء (۴) سورهٔ مائده (۵) سورهٔ انعام (۶) سورهٔ اعراف (۷) سورهٔ انفال سره دَ سورهٔ توبه :-

**مِئین** | داهغه سُورتونه دی، په کوموکښې چه سل یا لږ زیات آیتونه دی. سورهٔ یونس نه تر سورهٔ فاطر پورے :-

**المثانی** | داهغه سُورتونه دی په کوموکښې چه دَ سلو نه کم آیتونه دی دَ سورتِ یٰسین نه تر سُورتِ قٓ پورے :-

**مفصل** :- دَ ورو ورو سُورتونو نوم دے دَ سورتِ قٓ نه دا خله دَ



قرآن تر آخره پورے، یعنی دَ شپږ ویشتے سپارے دد ریم پاؤ نه دُ ستو واخله تر آخره دَ قرآن نه پورے :-
طوال مُفصَّل : بیا درے قسمه دی،-
اوساط مُفصّل: دَ سُورتِ بروج نه تر سورتِ لم یکن (بیّنة) پورے
قصار مفصّل: دسورت (بیّنه) لم یکن نه تر والنّاس پورے،
بعضو علماؤ په نزد طوال مفصل د سُورتِ قٓ نه تر والمرسلٰت پورے او اوساط مُفصّل دَ سورتِ نبأ نه تر والضحیٰ پورے، او قصار مفصّل دَ الم نشرح نه تر والنّاس پورے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ قرآن مُهمّات

## اوّل فصل : دَ باری تعالیٰ جلّ مجدهٗ هستي

انساني تاریخ سره دَ باری تعالیٰ جلّ مجدهٗ دثبوت عقیده راروان د
ټول قومُونه او ملکونه په اکثریت په دے مسئله کښ اتفاق لر
اګرچه په نورو څیزونو کښے اختلاف شته په هره زمانه کښ څ
په دے زمانه کښے دَ خُدائے نه منکر خلق هم وي، خودا په څه دل
یا عِلم اړانره نه لري بلکه دَ بے علمئ نتیجه ده، دَ مُلحدانو دا وَرو
تولے وائي چه مُونږ دَ سائنس او دَ محسوساتو په احاطه کښ خدا
اُنه موندو بعضے کم عقل خلق دے ته علم بالعدم وائي خو دا
بلکه داعدم علم دے.
دَ باری تعالیٰ هستي هرکله چه دَ محسوساتو نه لیرې ده نو په دے کښ
خدائے څنګه بیا مُوندے شي خو دَ دے دا مطلب هُم نه دے چه څ
هم وشته نه او که څوک بے عقله ئے دا مطلب واخلي نو بیا به دا
شي لکه څوک وائي هرکله چه په اُوچه مځکه نشي مُوندے، نو
دریاب کښے به هم نه وي، یا په دریاب کښے سَمَسره اُنه دي نو وائي
چه په اُوچه هم سَمسره نشته، مُونږ چه څنګه اُ لیکل مُلحدان پخپله
هم دَ دے اقرار کوي پروفیسر لیټرز (LETTRE) چه دَ مُلحدانو سر
پینځ دے او دَ دوي غټ عالم دے بیکی، چه مونږ دَ کائناتو دَ اول
آخر نه ناخبره یو نو څو نږ دا کار نه دے چه دَ یو اَزلي یا اَبدي هی
انکار اُکړو لکه څنګه چه څمونږ دا کار هُم نه دے چه دا هستي ثابت
مادي مذاهب خپل ځان دَ عقل اوّل دَ وجود دَ بحث نه جګ



ساتي، څکه چه هغوي ته دَ دے هیڅ علم نشته . مُونږ دَ حِکمت الٰهي خو
مُنکر یُو او نه ئے ثابتولو کي څمونږ کار بالکل دَ نفي او اِثبات نه بیل وي
لیکن دَ سائنسدانانو اکثریت دَ خدائے دَ هستي قائل دے رالکلا م
حصه دوم ص۶)
(۱) ایزک نیوټن لیکي چه دَ کائنات په برخو کښ کوم جوړخت او تناسب
چه سره دَ ذرګو نو انقلابا تو دَ زمان او مکان دے دا بغیر دَ یو ذات نه
قائم ساتل مُمکِن نه دي کوم ذات چه اول دے او دَ عِلم او اختیار
خاوند دے،
(۲) ددے زمانے دَ ټولو نه لوئے هوښیار سائنسدان هربرټ سپنسر
وائي، دَ کومو رازونو او پټو څیزونو چه دا حال وي چه مُونږ پرڅومره
زیات غور او فِکر کوُو هومره هغه نور همدا سے پټیږي، دینه یقیني
ثابتیږي چه انسان نه پوهیدونکے اوانلي او بدی دا سے یو طاقت شته
چه هغے نه ټول څیزونه صادریږي.
(۳) دَ فرانس یو فاضل کیمل فلامریان وائي، چه ټول اُستاذان په دے
خبرَ پوهیدو نه عاجز دي چه وُجود موجُودکیدل څنګه اُ شو او څنګه
جاري دے په دے بِنا دَ دا سے یو خالق خامخا اقرار کول دي چه هر وخت
د هغه مؤثر کیدل همیشه قائم دي.
(۴) پروفیسر لیني لیکي چه قادر او دانا خُدائی څما په وړاندے خپلو عجیبه
غریبه کاریګرو سره دا سے جلوه ګر کیږي، چه څما سترګے وازے
پاتے شي او څه پاکل شم هر څیز کښے خوا ه هغه څومره وړوکے وي
د هغه څومره عجیبه قُدرت، څومره عجیبه حِکمت او څومره عجیبه
ایجاد مُوندے شي،
(۵) نونتسل په انسائیکلوپیډیا کښے لیکي، چه دَ عُلومِ طبعیاتو مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې دا نه دی، چه خمونږ د عقل تنده ماته کړي بلکه د هغې لوی مقصد دا دی چه مونږ د خپل عقل نظر خالق کائنات ته ورپورته کړو، او د هغه په جلال او عظمت عاشقان شو.

(الکلام صفحه ۳۸ و ۳۹)

---

# د نوی فکر په رڼا کښې د باری تعالیٰ ثبوت

د نوی فکر خاوندانو ته د معرفت الٰهی په لار کښې درې شبهې خنډ ان جوړ شوی دی، د خدائی د انکار سره سره د امریکې یو مشهور ملحد دا شبهې پیش کوی:

(۱) د یقینی علم ذریعې یا حس دی او یا وجدان (یعنی حس باطنی) خو په دې دواړو لارو د باری تعالیٰ وجود نه ثابتیږی۔

(۲) د باری تعالیٰ ذات او حقیقت د تصور نه پورته دی او د کوم څیز چه حقیقت نامعلوم وی، نو هغه به څنګه ثابت او منلی شی،

(۳) کچرې د خدائے هستی اومنلی شی، نو په دنیا کښې موجود شر د هغه د حکمت نه خلاف دی لهٰذا داسې کائنات چه هغې کښې شر هم شامل دی د غه ذات ته نشی منسوب کیدې۔

## د درومبۍ شبهې جواب

د درومبۍ شبهې جواب داد دی چه باری تعالیٰ په وجدان (حس باطنی) سره څنګه ثابت دی چه انسانی اکثریت د وجود د خدائے اقرار کوی کچرې د یو څو کسانو له دې انکار دی نو د هغې وجه دا ده چه د هغه وجدان صحیح نه دی، لکه څنګه چه ظاهری حواسو کښې نقصان راتلې شی دغه رنګ په وجدان یعنی باطنی حواسو کښې هم نقصان راتلې شی کچرې



د سترګو نظر درست نه وی نو څه ورته نه ښکاری دغه رنګ کچرې وجدانی بینائی خرابه شی نو د وجدانی امورو احساس ورته نه کیږی مونږ ته دا هم وښئیلی دی چه ظاهری حس سره خدائے څنګه نشی معلومیدې چه هغه د دې احاطې نه بهر دی، که بیا هم څوک خامخا زور لګوی، نو د هغې به دا مطلب وی، چه هغه خوږ او تریخ په سترګو معلومول غواړی، حالانکه هغه د دې احاطې نه بهر د مبصراتو په څانګ د منلو وقاتو په احاطه کښې داخل دی، نو د باری تعالیٰ ذات د ظاهری محسوساتو نه بالاتر دی وجدانیاتو او معقولاتو په احاطه کښې راځی۔

## د دویمې شبهې جواب

د دویمې شبهې جواب دا دی چه د ډیرو څیزونو حقیقت معلوم نه وی خو مونږ منو، نو د خدائ په منلو کښې د اشکال وجه دا ده چه نه منلو کې د اشکال وجه دا، لکه چه شیخ ندیم الجسر د خپل کتاب (قصة الإيمان بين الفلسفة والعلم والقرآن) په صفحه ۳۰ کښې لیکی چه سائنس دانان ماده، روح او حیات منی او حقیقت ئې ورته معلوم نه دی، دغه رنګ د عقل حقیقت او ادراک حسی سره د هغې جوړخت هم معلوم نه دی، لیکن سره د دې، دا خو منی نو د خدائے له هستی په دې بناء انکار کول ولې دی؟

## د دریمې شبهې جواب

د دریمې شبهې جواب دا دی، چه (۱) کچرې کائنات کښې د شر داسې واقعات شته کوم چه حکمت خداوندی سره اوس خمونږ په علم کښې سمون نه خوری، خو کیدې شی چه راتلونکې وخت د دې سمون خمونږ په علم کښې راشی، په دې خبره اوس خمونږ علم نه راتلل د دې دلیل نه دی، چه بل وخت به هم علم نه راځی، لکه څنګه چه دا یو حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے چه ژړګونه کاله وړاندے انسان ته د ډیرو قوانینِ قُدرت
عِلم نه وو او زُ ستوو رته دَ دے علم اُ شو،
(۲) دَ غالِبي واقعاتو کومے کړئ چه مونږ ته شر ښکاری دَ هغے وجه
داده چه مونږ ته دَ ټولو واقعاتو د ذخیر عِلم نشته بچرے داسے
کیدے شوے، نو دا ښکاریدونکے شر به مونږ ته خیر معلومیدو،
(۳) ابن سینا په (شِفا) کښے جواب ورکړے دے، چه دَ دُنیا درے حالته
فرض کولے شی، (ا) خالص خیر (ب) خالص شر (ج) ډیر خیر او
لږ شر، دقدرت په وړاندے دا دریواړه صورتونه وُو، په دریمی
صورت عمل کیدے شو. دویم صورت ځکه نشو کیدے، چه قدرت
داسے دُنیا نه پیدا کړے چه ټول ډِ شر شروی، دریم صورت
کښے خبرے شته لکه دا خبره چه قدرت له داسے عالم پیدا کول،
مناسب وو چه په هغے کښے خیر زیات او شر کم وے، که دا شے
بالکل کت کړے وے، نو ټول به خیر خیر پاتے شوے وو، خو داسے ځکه
نشی کیدے چه دَ دغه لږ شر کټ کولو په وجه به دُنیا د ډیر خیر نه
محرومه وه، لکه چه اور د سوځولو په وجه شر دے بدانت، چاے. آبادی
سوځوی، که دا لږ شان شر نه وے، نو بچلے کرمول او نور ډیر د فائدے
کارونه به هم ور سره ختم وُو دُنیا به ځنګه چلیده، یا لکه اُوبه چه دَ
شر اړخ ئے (سیلاب وغیره) ډیر کم دے مګر د خیر اړخ ئے ډیر زیات
دے دَ دُنیا د ډیرو خیزونو ژوند دے سره تړلے دے او نور بیشمیره
خیرونه پکښی دی. یا لکه هوا چه دَ شر اړخ ئے (طوفان او بیا بیړ
اُوښے د بیخه راګوزیدل) کم او دَ فائدے اړخ ئے ډیر زیات دے
په دے کاُ بونه زیات دَ ډیرو خیزو لو ژوند ولاړ دے، او نور
ډیر خیرونه پکښے، نو قدرت داسے اُکړه چه لږ شر ئے دَ ډیر



خیر د پاره پکښ پریښو، او ربه بیا اور نه وو چه بچلے ئے کولے شوے
او جماعت ئے نشوے سیزلے دے خو به بیا بچلے هم نشوے کولے او نه
به پکښے داسے ګرمی وه چه په یخنئ کښ ئے پرِ ځان ګرم کړے وے.
(۴) ابن رُشد دد دے شبے داجواب ورکړے دے، چه دُنیا کښے
ټول شرونه ځان له نه دی بلکه خیر سره دَ تابع په ډول تړلی دی
لکه غُصه بده خو ده لیکن که دا نه وے، نو چا به هم دَ قاتِل مُقابله
نشوه کولے او نه به ئے دَ خپل مال او عِزت حفاظت په هغه وخت
کښے کولے شو کوم وخت چه چا په دے حمله کولے، شهوت خراب
دے خو ښکاره غټه فائده ئے دا هُم ده چه دُنیا ترِ آباده ده او ټول
انسانی نَسل هم په دے قائم دے د ملحدانو دَ شبهو لرے کولو نه
پس مونږ دَ نوی فِکر په رڼا کښے د باری جلّ مجده دَ اثبات دلائل
پیش کوُو،

## اول دلیل

دَ عالم وجود به یا باری تعالیٰ ته منسوب وی یا به مادے او دَ هغے حرکت
ته بے له قصد او اِرادے او یا به مادے او ارادے ته منسوب وی خو
سره دَ قصد او اِرادے، دد ے دریم صُورت هیڅوک قائل نشته نه دَ
خدائے منونکی او نه نامنونکی ځکه چه مادیین په دے متفق دی چه ماده
ارادہ نه لری اُس صرف دویم صُورت د بحث دَ پاره پاتے شو چه عالم
ډِ مادے ته بے له قصده او ارادے اتفاق طور منسوب وی، لیکن دا صورت
هُم قطعاً باطل دے ځکه چه عالم کښ حکیمانه ترتیب موجود دے
او په دے دَ قُدرت قوانین دلیل دے، په عناصرو او مرکباتو کښے نه نشته
شته، د نباتاتو او حیواناتو په تخلیق کښے مُرتب نظام شته دَ موسمونو
او دَ شپے ورځے په تبدیلو کښ دَ ستارو په حرکاتو کښ یو خاص ترتیب
دے، چه دَ مادے یا دَ هغے دَ حرکتِ مسادفه یا اتفاقیه نتیجه نشی

کیدے څکه کچرے د کاغذ په لسو جُدا جُدا ټکړو د یو نه تر لسو هندسے اُلیکلے شی بیا په یو تهیله کښ واچولے شی او یو نابینا ماشُوم ته اُوئیلے شی چه د ے نه یو یو ټکړه را اُباسه نو که هغه کروړونه واره دا پرچے بیا بیا اُباسی هیچرے به په ترتیب را اُو نځی، د غه رنګ که د یو قصیدے بیلے بیلے جُملے او ټکی په یو بوجنګئ کښے واچولے شی او بیا د غسے یو ماشوم نابینا نه د هغے د راوِ ستو اُو ئیلے شی نو هیچرے به د قصیدے په اصل ترتیب را اُو نځی اګرچه په کروړونو واره د غه بیلے بیلے پرچے را اُباسی نو د دُنیا دا مُرتبه سلسله به د یو نابینا او بے شعوره مادے نه بے له قصد او ارادے څنګه ظاهره شی، د د ے نه دا معلُومه شوه چه د عالَم متعلق رومبے صُورت "چه دا د یو حکیم خدائے په قصد او اراده ظاهر شوے دے" صحیح او معقُول دے (قِصَّةُ الْاِیْمَانِ بَیْنَ الْفَلْسَفَةِ وَالْعِلْمِ وَالْقُرْاٰنِ لِاِبْنِ نَدِیْمُ الْجَسْرِ ص ۲۹۲)

**دویم دلیل** نوے او زړه فلسفه په د ے مُتفقه ده چه د عالم ماده علم، شعور او ژوند نه لری او په کائناتو کښ دا د واره څیزونه موجودی، په ژوندی څیزونو کښ ژوند شته انسان علم او شعور لری په ځناورو کښ شعور شته نوے تحقیق خو دا وائی چه بعضے اُونو بوټو کښے هم شعور شته، نو دا څنګه کیدے شی چه دا څیزونه خود د مادے یا د هغے د حرکت نه پیدا وی او بخپله د مادے د علم، ژوند او شعور د رے واړه نه تشه وی، حالانکه د نفی محض نه د اثبات وجود ناممکن دے، لهٰذا د کائناتو سر چشمه هغه ذات کیدے شی چه هغه کښے ذاتی ژوند او علم وی دا سے ذات صِرف هغه خدائے کیدے شی چه اصل ژوندے علیم او حکیم دے۔

**دریم دلیل** دا انسانیت جوهر فکر او ادراک دے هغه چه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُونو بوټو کښے او د ه وو په ځناورو کښ دے ارخ وا ړولو او په انسان کښ را ویښ شو او بیا اُوچت مقصد ئے اُغوښتو اُس د ځاځا د د ے ترقی سبب وی د علم الحیات مشهور ماهر ډاکټر لاټیپ مارګن" لیکی چه د د ے ترقئ ظُهور د د ے خبرے دلیل دے چه د کائناتو د تخلیق اصل او بنیاد شته چه خدائے دے څکه چه ارتقاء (ترقئ) د پاره د منزل وجود ضروری د ے، د علم تقاضا دا ده چه د ګوزنی علم راز د نه په بترنی علم کښ حل شوی وی، د طبعیاتو د پښتو رانو حل په علم الحیات کښے او کړ د ے د پښتو رازونو حل بیا په علم النفسیات کښ د د ے د پښتو رازونو حل بیا په علم تحلیل او تعلیل منطقی کښے او بیا د د ے علم د پښتو رازونو حل په مقام رُوحانی کښ وی۔

**څلورم دلیل** دا انسانی عقل دا خصوصیت دے چه هغه فردیت نه کلیت ته را اخلی او تجربیت او تصوریت پیدا کوی مثلاً انسانی اشخاصو نه نفسِ انسانی، حیواناتو نه نفسِ نباتی او بیا د عالمی ګنړوالی نه د عالَم نفسِ کُلّی را اخلی، دا نفسِ کُلّی (وحدت) الله دے چه ټول ګنړوالی هُم په د ه ختمیږی (مطلب دا چه دا آخری وحدت دے د ے نه پس بل وحدت نشته (مترجم)

## د باری تعالے ثبوت د سلفی دلائلو په رنړا کښ

**رُومبے دلیل** دے رُومبی دلیل ته مونږ د دلیل غرق، څکه وایو چه امام جعفر صادق رح نه چا د الله د وجود دلیل اُغوښتو نو هغه ورته اُوفرمائیل چه د ریاب کښ ستا کشتی ډوبه شی تا سره د هغے تخته قدرے نه وی او لامبو هُم نه د ے زده نو ستا به د بچ کیدو څه اُمید وی نو سائل اُو ئیل چه و لے نه... بیا امام موصوف اُو ئیل چه کله بچ کیدو ظاهری اسباب نشته بیا هم د د ے اُمید لره د چا په آسرا خو به وی

دغه آسرا خُدائے دے. نو دا د باری تعالیٰ د هستئ نفسیاتی دلیل دے.

**دویم دلیل** دے دویم دلیل ته مُونږ (دلیل فلکی) ځکه وایُو چه امام ابوحنیفه رح یو سائل ته په ثبوت د باری تعالیٰ دا دلیل پیش کړے وو. چه یو بیړئ بغیر له د یو بے غاړے نه د دریاب بلے غاړے ته نشی رائے نو د ټول عالم دا دومره غټه بیړئ به بغیر له څښتن ګه اُچلیږی دے عالم د غټے بیړئ په انتظام چلیدل د دے دلیل دے چه دد دے چلوونکے شته چه هغه خُدائے دے.

**دریم دلیل** دے دریم دلیل ته مُونږ (دلیل تُوتی) ځکه وایُو چه امام شافعی رحمه الله د اِثباتِ باری تعالیٰ د بارهٔ په دے طریقه پیش کړے وو چه د تُوت پاڼړے چه ږه اُخوری نو ریجے کوی چه د ریښمو چینجے ئے اُخوری نو ریښم ترے جوړ شی او د شهدو مچئ چه اُخوری نو شات ترے جوړ شی نو د یو خیزه دا دے مختلف خیزونه جوړیدل د دے اِقرار ته مونږ مجبُوروی چه دا د هغے قادرِ مطلق کار دے کوم ته چه مُونږ خُدائے وایُو.

**څلورم دلیل** دے ته مُونږ (دلیل صوتی) وایو، ځکه چه امام مالک دا دلیل داسے ورکړے وو چه هرکله د یو انسان آواز بل سره نه میلاویږی او دغه رنګ شکل هم نو معلُومیږی چه دا اختلاف د یو عظیم قوّت کار دے کوم ته چه مُونږ خُدائے وایُو.

**پنځم دلیل** دے ته مُونږ (دلیل بیضی) داسے وایُو چه د چرګے اګئ ته بهرا اُوګئ او د اګئ هغه مضبُوطه قلعه ماته کړی او د بچی د راوتو ترو وخته چرګه هُم داسے په آګونا سته وی، چرګه د د ے کینا ستو پابندو ل د بچی د جوړیده وخت معلو مول د اګئ د ماتو او وخت معلومیدل دا ټول اِلهامی کارُونه دی چه خداوند



تعالے په الهام چرګے او بچو ته اُ ښودل، د دے نه د الله هستی ثابته شوه

**شپږم دلیل** دے ته مونږ (دلیل نباتی) وایُو ابُونواس د قسمانیم اُونو بُوټو د هغے د قسمانیم پاڼړو میوو او ګلونو نه د الله تعالیٰ په هستئ داسے دلیل نیولے دے چه دد دے ټولو ما ده یو ده (یعنی اُوبه او خاوره) او بیا د دے نه عجیبه مختلف قسمه خیزونه پیدا کیدل دا ښائی چه دا د یو عظیم قوّت کار نامه ده کوم چه خدائے وئیلی شی،

دا ټول دلیلُونه امام رازی رح په تفسیر کبیر جلد اول کښ نقل کړی دی مونږ نور هم واضح بیان کړه : سعدی رح فرمائی :.

| | | |
|---|---|---|
| برگِ درختانِ سبز در نظرِ هوشیار | | هر ورقے دفتریست معرفتِ کردگار |

**اُوم دلیل** دے ته مونږ (لِسانی) داسے وایُو، چه په دنیا کښے دے وخت ګڼړے ژبے شته دا ژبے اولاد د مور پلار یا د خپل ماحول د خلقو نه اِ زده کړی دی او دا سِلسِله ترا آخره تلے ده تر دے چه د اوّل انسان د دُنیا په بارهٔ کښ دا جواب ختم شی چه آخِر هغه د چا نه ژبه زده کړه چه بغیر د ده نه بل هیڅوک دغه وخت کښ نه وُو، نو دا به مجبُورًا منلے شی ؛ چه دده ژبه الهامی وه او د دغے الهام کوُونکی نوم خُدائے دے ، اُس مُونږ د باری تعالیٰ په ثبوت فلسفی او کلامی دلیلُونه پیش کوو .

## د باری تعالیٰ د ثبُوت کلامی او فلسفی دلیلُونه

۱: **دلیل حدوثی**: کائنات او عالم د دوه خیزونو نوم دے، یا به جسم وی یا به په جسم اودرېده بل خیز دا دواړه خیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالذات وی، او که بالواسطه له دوو حالتو به خالی نه وی حرکت او سکون، کچیرې جسم یا په دې ځای کښې ولاړ وي او یا په بل ځای کښې او یا هم په دواړو ځایونو کښې وي نو دا متحرک دې، او کچیرې په دوو ځایونو کښې په یو ځائې وی نو ساکن دې بیا دا دواړه د یو بل ضد دی چه حرکت راشی نو سکون ختم او سکون چه راشی نو حرکت ختم شی معلومه شوه چه دواړه حادث (نوپیدا) دی، دغه رنګې جسم او جسم سره تړلی نور څیزونه له دې دوو حادث حالتونو خالی نه وي بلکه دا به ور سره نښتي وي نو جسم او جسم سره تړلی څیزونه هم حادث دې په وجه حادث شو، د حادث د پاره محدث (پیدا کوونکی) ضروری دې کچیرې هغه څپله هم حادث وی نو هغه د پاره به بل محدث ضروری وی او دې نه به تسلسل رد پیدا نې قصه) جوړ شی دا سې کیدې نشی نو ضرور دا محدث به قدیم وی چه هغه خدائې دې او دې نه د خدائې وجود ثابت شو۔

## ۲: دلیل امکانی

د هر څیز د رې حالته فرض کولې شی ممتنع الوجود چه د کیدو وجود نه وی لکه دوه په دوو کښې پنځه، واجب الوجود چه د هغه وجود ضروری وی، یا ممکن الوجود چه کیدل او نه کیدل ئې دواړه ضروری نه وی لکه اوبه چه رنګ دا سې هم کیدې شی او بې رنګه هم، اوس عالم ممتنع الوجود ځکه نه دې چه دا موجود دې، او واجب الوجود هم ځکه نه دې چه ډیر څیزونه ختم شی او آخر به ټول هم ختم شی دا خو څه موږ په سترګو وینو او څه په قیاس معلوموو، نو عالم بیا ممکن الوجود شو کوم د وجود هم ضروری نه دې او عدم وجود هم ضروری نه دې لکه اوبه چه د هغې رنګ ضروری نه دې که راغلو ښکاره شو نو د هغې وجه به



بهرنئ وی ځکه چه دا خپل هیڅ رنګ نه لری دا شان د عالم وجود ضروری نه وو، که موجود شو، نو د آ د بهرنی علت نتیجه ده دا علت که ممکن وی، نو هغې د پاره به بل علت ته پکار وی او دا سې به تسلسل (د کې پند انې قصه) جوړ شی، چه محال دې نو فیصله دا شوه چه دا علت به ممکن الوجود نه بلکه واجب الوجود وی چه دا هم د خدائې دې چه د هغه وجود دا سې ضروری وی چه د بهرنی علت نتیجه نه بلکه هم د هغه د ذات دا سې تقاضا ده چه د عقل د ذرک ښکښن نه لګی۔

## ۳: دلیل قیاسی

د یو څیز بل ته چه نسبت اُشی نو دا دوه قسمه دې یا به دا دویم ترلې څیز دا اصل څیز سره رخت وی تر به نه جدا کیږی، لکه د اور نه ګرمی او تاؤ دې ته به بالذات، وئیلې شی مطلب به ئې دا وی چه د اور ذات دا غواړی چه ګرمی او تاؤ ور سره خامخا وی، یا به دویم د ګرمی څیز لازم نښتې وی کله به وی او کله به نه وی دې ته رما بالعرض) وئیلې شی لکه ور سره ګرمی چه کله ښکښن په بهرنی علت (اور، نمر وغیره) راځی کله ښکښن نه راځی په دې رما بالعرض) څیز کښې د علت تپوس

مثلاً اوبه ولې ګرمې دی او په مابالذات کښې د علت دا سې تپوس نشی کیدې چه اور ولې ګرم دې قیاس مطابق د کائناتو وجود او په مابالعرض، ځکه چه کله ښکښن یو څیز وی او کله ښکښن نه وی کله هیڅ په وی کله نه وی، نو دلته دا سوال خامخا کیږی، چه دا کائنات موجود دې ولې دې جواب به دا وړکولې شی چه کا د دا سې ذات نامه ده چه هغه واجب الوجود دې وجود د هغه ذاتی او ضروری دې او هغه ته رب العالمین وئیلې شی دلته بیا بل سوال (چه الله موجود دې) دا سې ختم شی لکه دا سوال ختم شی چه اور ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرمد ے، نو په د ے دلیل د باری تعالیٰ د ذات او صفات دواړو ثبوت کیږی، مثلاً انسان او د انسان ژوند، علم، لیدل، آوریدل، قدرت، کلام او اراده ټول "ما بالعرض" دی، چه کد ے فیضان د پاره د "ما بالذات" او د ذاتی سر چشمے ضرورت وی، نو د انسان بلکه د ټول عالم د وجود د پاره وجو. د باری تعالےٰ او د صفاتو د پاره صفات د باری تعالیٰ سرچشمه او خزانه ده چه هغه "ما بالذات" او واجب الوجود دے

۴. دلیل اتقانی

په کائناتو کښے حکیمانه قوانین شته، چه د هغے په زور علتونو نه د معلولاتو او اسبابونه د مسبباتو علم راځی، دا حکیمانه قوانین دومره وسیع دی چه د ماضی نه تراوسه د سائنس په ذریعه څومره قوانین معلومه شوی دی هغو قوانینو په نسبت چه تراوسه لا معلومه هم نه دی ډیر کم دی، بلکه د د ے معلومه قوانینو نسبت نا معلومو قوانینو سره داسې دے لکه د یو څاڅکی چه سمندر سره د ے هم هغه وجه ده چه په سائنسی قوانینو کښی ترقی لا روانه ده، کچرے دا حکیمانه قوانین کم وے نو سائنسی ترقی به ئے په ولاړه وه ځکه چه سائنس د قدرت د قوانینو معلوم ول او ښکاره کولو نوم د ے، دا ښکاره خبره ده چه دا بے حده او بے حسابه حکیمانه قوانین د قادر مطلق حکیم کیدے شی هغه خدائے د ے، د ا هیچرے د مادے کار ځکه نشی جوړیدے چه پخپله د علم، شعور، حیات او حکمت نه تشه ده،

۵: دلیل حبی

د شاه رفیع الدین نوّر الله مرقده، د رسالے "المحبة"، نومے رسالے مطابق د ټولو کائناتو په خمیر کښی محبت اچلے شوے دے: او خصوصاً په انسان کښی ډیرځیات محبت شته بیا د د ے محبت دوه قسمه دی:-

(۱) یو محبتِ ناقصه:- (۲) دویم محبتِ کامله:-

ړومبے قسم د مال او اولاد محبت دے، او دویم قسم د الله محبت دے ټول مذ هبونه د الله په محبت قائم دی، دے نه معلومیږی چه محبتِ الٰهی په فطرت کښی داخل دے، محبت د موجود سره کیږی، مثلاً مونږ خپل ذات یا مال او اولاد سره محبت ځکه کوو چه داموجود دی نیشت سره محبت څه معنی نه لری د محبتِ ناقصه دا حال شو چه د هغے محبوب چه موجود وی نو د محبتِ کامله د ولے محبوب موجود نه وی! ضرور موجود دے دا هم د وجودِ باری تعالیٰ دلیل شو، او د الله محبت نه کامل ځکه و یلے شی چه د محبتِ ناقصه ټول محبوبات لکه مال او اولاد وغیره په محبتِ الٰهی قربانولے شی:-

۶: دلیل التجائی

دنیا ظلم نه ډکه ده، او په هره زمانه کښے د مظلومانو شیر د ظالمانو نه ډیر زیات وی، نو انسانی فطرت د ظاهری ټولو اسبابو او ذریعو نه نا امیدئ کښے د خپل زړه مضبوطولو د پاره او د نا امیدی په امید کښی بد لولو د پاره یو غیبی قوّت سره د رابطے او تړون پیدا کولو کوشش کوی چه هغه د ټولو نه بالا او قادرِ مطلق وی او حالات بدلول د هغه په قابو کښی وی دا سے قسم التجاگانے دعاگانے او زاری په ټولو مذهبونو کښے شته چه د ذاتِ الٰهی د وجود دلیل دے:-

۷، دلیل ترتیبی

ټول کائنات په ترتیب دی، یعنی ګرمی یخنی، شپه ورځ، سپرلے او خزان، د ستورو حرکت د حیواناتو او نباتاتو نشو ونما ټول په ترتیب دی، دا ټول د یو حکیم ذات د موجودیت ځکه دلیل دے چه د هر ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب ورکوونکے وی، دَ دیوان حافظ دَ الفاظو ترتیب دا ښائی چه دَ دے ترتیب ورکوونکے شته الفاظ ټول یو بل سره ترتیب نحوی همُد هسے دَ کائناتو داحت او حیران کُن ترتیب دا گواهی ورکوی چه دلته یو عظیم ترتیب ورکوونکے شته چه اللّٰه دے او هُم دا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ هستیٔ دلیل دے۔

**۸: دلیلِ شعُوری**

دا جهان یو لوئے عمارت دے چه دَ دے هره پُرزه دَ حکمت ډکه ده او دا دلیل دے چه دَ دے بانی او معمار دَ عقل او شعور خاوند دے نو بیا دَ دے نسبت بے شعوره مادے ټولو دا سے نامعقُوله دے لکه دَ ره کسان په یو بیابان کښے یو بنا شته کو ته بیا مُوږ هغه ته د وا ره ورنوځُو هر شے ښکښے موجُود په ترتیب پروت وی اُس دا دواړه کسان په دے خپل خیال بنکاره کوی یو وائی چه دا هر څه ټول شوی دی کچه خښتے ټول جوړے شوے بیا ټول پخے شوے او بیا ټول راغلو، بل شو خښتے ټول ورغلے پخے شوے ټول بیا یو ځائے شوے دیوالُونه چتُونه وغیره ټول جوړ شو قالینُونه ټول جوړ شو دَ گلُو بزونه ټول وری دا اُو ته یو ځائے شوه ټول رنگ اُبو راغے دا ښکښ ټول رنگ شوه او بُوټی کالونو په ټول اُ شو او قالین تر تیار شو، او بل وائی چه دا سے نه ده دا ټول ټول نه دی شوی دَ دَ ماهر انجنیر او کاریگر دَ پو هے او فکر نتیجه ده اوّل دے دَ عمارت نقشه ئے په ذهن کښ تیاره کړه، بیا ئے ضروری څیزونه او سامان راجمع کړو او په ماهرانو او کاریگرانو ئے دَ نقشے په مطابق جوړ کړو اُس دَ دے دواړو بیان چه دَ عقل په عدالت کښے پیش شی نو فیصله به دا وی چه اوّل سړے لیونے دِماغ خراب دے او دویم



سړے عقل مند دے دَ اوّل بیان چُوټ غلط او دروغ او دَ دویم بیان بالکل رِشتیا او صحیح دے دغه رنګ دَ جهان دَ عمارت باره کښے دَ ماده پرستو بیان دَ اوّلمبی کَس په شان دروغ او غلط او دَ مُومن او خدا پرست بیان بالکل صحیح او رِشتیا حکیمانه او عاقلانه دے، لهٰذا دَ عقل په موجب دَ جهان دَ عمارت دَ پاره دَ خدائے وُجود ډیر ضرُوری دے او ټول دَ جهان دا عِمارت دَ خُدائے دَ ذات، صِفاتو او کمالُونو دَ ثبوت یو غټ دلیل دے

**۹: حیاتی دلیل**

په دُنیا کښ ژوند مُونږ وینو کوم چه شته مُونږ ژوندی یُو ډیر نور څیزونه ژوندی دی، نو دا دلیل دَ دے خبرے دے چه دَ دے عالِمی حیات (ژوند) دَ پاره یو دَ ژوند سرچشمه او بُنیاد شته چه دا حقیقی او اصلی ژوندے ذات هُم دَ ربّ العالمین دے۔

**۱۰: ذِکری دلیل**

دالله په ذِکر کښ کامِل خوند، دَ انجذاب انبساط او دَ زړه دَ اِصلاح بینے شته، دَ نیشت په ذِکر کښ خوند خولا څه کوے دَ سَرَه ذِکر ئے وی نه، نو دَ ئے نه معلُومیږی چه دَ اللّٰه ذات موجُود دے

**۱۱: دَ اِطلاق دلیل**

دَ ا قانون دے چه دَ هر مُقید دَ پاره دَ مطلق وُجود ضروری دے ځکه چه دَ تقیید او تحدید مطلب دَ وسیع او مُطلق څیز نه یو حصه ورا او مُقیّد څیز حاصلول دی، مثلاً دَ زمکے حد بندی هله کیږی چه وسیع زمکه موجُود وی دَ کائناتو ټولو وُجود محدود دے چه زمان او مکان په حدودو کښے بند او راگیر دے دَ پاره دَ حدودو، قیودو او دمکان او زمان نه بالا تر دَ یو هستیٔ ضرورت دے او دا صرف دَ ربّ العالمین ذات دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وُجود دَ باری تعالیٰ او قُرآن مجید

قُرآن دا ښائي چه دَ خدا ئـ اقرار دَ اِنسان په فِطرت کښې داخل دے
دَ علم الانسان دَ ماهرانو دَ متفقه فیصله ده، چه کوم وخت دَ علو
فنونو او تهذیب وُجود نه وُو او انسان په فطری حالت کښے وو نو
هغه دا سے وخت کښې هُم دَ خُدائے عبادت کریسه، دَ یو مشهور محقق
مکس مولر، په کتاب «الکلام» کښې دا خبره نقل ده چه "څو بزرا سلاف
دَ خدائے پاك په ورا ندے هغه وخت سَر تیټ کړے وو چه دَ خدائے
پاک نوم ئے هُم نه وو زده، دَ جسمانی خدائے یعنی دَ بُت عبادت
دیکه پس دا سے پیدا شو چه اصلی اِنسانی فطرت دَ مثالی صورت
په پرده کښې پټ شو ... هم دغه وجه ده چه دَ دُنیا دَ تاریخ معلو
سره د دنیا په هره برخه کښې دَ خدائے عقیده موجوده وَه. اثوری
مصری، کلدانی، یهود، اهل فینیشه ټول دَ خدائے قائل وو"
پلوټارک وائی چه دُنیا ته اُګورئی، په ډیرو ځایونو کښې قلا کال
کارخانے، سیاست، علم، فن، کاروکسب، دولت به نه وی لیک
خدائے به هر ځائے کښې موجود وی،، دَ وحی او الهام منکر دَ فرانس
یو مشهور فاضل رفولتیر، وائی چه زرد شت منوسولن، سقراط
ټولو دیو سردار، یو منصف او یو خدائے عبادت کولو، هم دغه
فطرت دے، چه قرآن ځے دا سے بیا ... نوی:-
وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ: څه وخت چه خدائے دَ بنی آدم
ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ دملا نه دَ هغه نسل را اُبنکو
عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا او ځپل ځان هغوی په دے ګوا
بَلَىٰ شَهِدْنَا ج سورة الاعراف ایة ۱۷۲ کړل چه آیا څه ستاسو خدائے
یم نو ټولو اُو وئیل چه آو ته مُونږ ګواهان یُو،



لیکن دَ خارجی اسبابو او آثارو نه کله دا فطری احساس دباؤشی نو
بیا قرآن ځائے په ځائے دا فطرت خبر داره کړو،
أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ (القران) آیا دَ خدائے په باره
کښې هم څه شك کیدے شی، کوم چه دَ آسمان او زمکے موجد دے؟
په خود دَ خارجی اسبابو نه دا فطری احساس دومره دباؤ شی چه
بیا زے دَ خبرداری اِشاره ورله کافی نه وی په دے وجه قرآن دَ
تجربو او دَ حِس په بنیاد دَ خدائے په وجود استدلال اُکړو، دَ انسانی
تمیز او پوهے دَ شروع نه، انسان ته چه کوم ویدیهی او حِسی !!
مقدمات و علم وی هغه دا دے، چه کله هغه څه څیز په ترتیب او
تنظیم بیا موُمی نو دَ هغه یقین راشی چه چا عقلمند ذات دا ترتیب
و تنظیم ورکړ یدے او دَ بے ترتیبه څیزونو دا اندازه اَخلی چه
دا څیزونه ځپله را یو ځائے شوی دی دَ حافظ یا نظامی دَ شعر بے
ترتیبه الفاظ یو معمولی انسان ته ورکړه هغه چه ئے سل واره وارو
اړوا راړوی نو هُم به تر په اټکل دَ دوی هغه شعر ځپله جوړ نشی
حالانکه هم هغه الفاظ دَ شعروی خو صِرف دَ ترتیب ورکولو کسر
پکښے باقی وی نو دا به کله اُشی چه دَ دُنیا دا په ترتیب نظام دِ
ځپله جوړ شوے وی، قُرآن مجید دَ خدائے په وجود دا سے استدلال
کړے دے:-

| | |
|---|---|
| (۱) صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ | دا دَ خدائے کاریګری ده چه هر شے ئے په پخه جوړه کړیدے، [۱] |
| (۲) مَا تَرَىٰ فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِنْ تَفَاوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِنْ فُطُورٍ ○ سورة ملک آیة ۳ | دَ رحمٰن په پیدا وښت کښې به تاسو څه فرق اُنه وینئ بیا بیا هم اَګورئ [۲] |

چه دَ ... پکښې چرته ښکاری به

(۳) خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا — خدائے پاک هر یو خیز جوړ کړو، او بیا ئے د هغے یو اندازه مقرر کړه (۴)
لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ط
لَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۝ (د خدائے په پیدا او بنت کښے هیڅ تبدیلی نشی کیدے) د خدائے په طریقه کښ به ته هیڅ تبدیلی نه مومے)

په دے آیتونو کښ قرآن د جهان درے صفته بیان کړیدی (۱) کامل او بے نقصانه دے (۲) په ترتیب او مناسب دے (۳) د داسے اصولو او ضوابطو پابند دے چه څوک ئے ماتولے نشی:-

ن چه تحقیقات آخری حد ته رسیدلی دی او د کائناتو په سوونو رازونو بنکاره شو، لوئے لوئے فلسفیان او حکیمان په دیر شور او فکر سره د خدائے د ثبوت هم د استدلال پیش کوی:-

ارسطو د خدائے د وجود، د هغه د توحید او د قیامت قائل وو (ملل و نحل د شهرستانی جلد ۲ صفحه ۳۹۸)

(۱) ملټن ایلهورډ وائی چه انسان هغه وخت حق دق شی چه داسے خلق اُوینی چه هغوی دا وائی چه د ناطق او مکرم مشاهدا تو غوندے عجائبات په لیدو هم دا وائی چه دا صرف د بخت او اتفاق (چخپله د پیدا کیدو) نتیجه ده، دا فرضی احمقانو او عقلی گمراهئ کومے چه خلق د علم محسوسات، نومړینے دے لره علم حقیقی بالکل باطل گڼی دے په فزیکل سائنس پوهیدونکی هیچرے په دے یقین نشی کولے

(۲) هربرټ اسپنسر لیکی، دا رازونه چه ورځ په ورځ نور هم باریک کیږی هرکله چه موږ په هغے زیات بحث کوو، نو دا به خامخا منلے شی چه انسان د پاسه داسے یو ازلی او ابدی قوت موجود دے چه د هغے موجبه دا ټول خیزونه موجود دیږی۔



(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) پروفیسر لینه وائی، کوم لوئے خدائے چه آزلی دے، د ټولو خیزونو عالم دے په هر خیز قادر دے، د خپلو کاریگرو په ذریعه ما په وړاندے دا شان جلوه گر دے چه زه حیران او بیخوده شم (الکلام جلد ۲ صفحه ۵۶، ۵۷)

# د باری تعالیٰ توحید

په کومو دلائلو چه د خدائے د وجود یقین راځی هم هغه د خدائے د یووالی دلائل هم دی، عالم دیرے برخے بنکاری خو حقیقت کښ هغه یو خیز دے، لکه څنګه چه د انسان اندامونه مثلاً سترګے غوږونه خو په لیدو دیر بنکاری لیکن هغه حقیقت کښ یو څیز (انسان) دے اُس د دے پیدا کوونکے او چلوونکے هم یو ذات دے دوه نه دی نو دوه نه به زیات څنګه وی، څکه چه یو خدائے انتظام چلولے شی، نو بل خدائے بیا بیکاره شو او بیکاره خدائے کیدے نشی او کچرے دوه وو هم انتظام نه شو چلولے نو دواړه خدایان څکه نه شو چه دواړه به بے وسه وی او بے وسه خدائے موږ ته نه دے لیدلے، کچرے دواړه مختلف نظامونه چلوی، نو عالم به تس نس شی او کچرے دواړه یو نظام چلوی نو بیا هم عالم څکه به ۲ ها وی ده او ختم شی چه د عالم حقیقت یو دے او چلوونکی د یو حقیقت دوه یا زیات څنګه نشی کیدے چه د وجود او ذات په مینځ کښ داسے نسبت وی، لکه د ظرف او مظروف مثلاً پنړه او نخپه، اُس کچرے یو خدائے یو ذات ته یو وجود ورکوی او بل خدائے هم دغه ذات ته بل وجود ورکوی، نو دغه یو ذات به د بیخه ختم شی، لکه چه یو پنړه کښ دوه خپے ور اُمنهے نو هغه شلیږی او پنړه پاتے نشی، دغه رنګ د دواړو خدایانو په دخل ورکولو د عالم تباهی ده او کچرے بل خدائے یکښ دخل نه ورکوی نو داسے بیکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عاجز خدائی نه وی بل دا چه د اتفاق ضرورت هلته وی کوم ځائے کښ چه د اختلاف نه ضرر پیدا کیږی کچرے دوارہ خدایان وی نو ضرورت او حاجت د اتفاق به ورته نه وی او نه به ورته د ضرر ویره وی، ځکه چه دا دواړه کمزورئ د خدائی خلاف دی، نو دواړه خدایان به خامخا پوره تصرف کوی او کامل دخل به ورکوی، نو اُس موبز وئیلی دی چه کچرے دوی دواړه مخالف تصرف کوی نو هم عالم تس نس او کچرے موافق کوی نو هم عالم تباه برباد لکه چه دوه منیږه بو جئ کښ دوه تنه ځان ځان له دوه دومنه غلا اچوی نو هغه به پرق اُشلیږی، دا دلیل قرآن دا سے بیان کړے دے :-

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا: کچرے زمکه آسمان کښے ډیر خدایان وے، نو دواړه به برباد شوی وو (سورۃ انبیاء آیة ع۲۲ :

هُم دغه وجه ده چه دعوی د توحید په پتولومنډ هبونو کښ شته مُشرک قومونه هُم یو ذات قادر مُطلق منی :-

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ط (سورۃ لقمٰن آیة ع۲۶ :: کچرے د مشرکانو نه تپوس اُوکړے، چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی نو خامخا به دا وائی چه الله پیدا کړی دی عیسایان (مشرکان) منی درے خُدایان خو وائی، چه دا درے واړه یو دی خبره غلطه ده خو بیا هُم حقیقی ګنړوالے هغوی هُم نشی برداشت کولے، باری تعالیٰ سره په صفتونو فعلونو او عبادت کښ دوی نور شیونه هُم شریک کړی نو ځکه د کامل توحید نه محروم شول، په پتولومنډ هبونو کښے بوازے اِسلام دا سے مذهب دے چه هغه د باری تعالیٰ توحید



د هر قسم شرک د بوټونو نه پاک کړو :-

## د شرک مذمّت

(۱) شرک د مغفرت جوګه نه دے اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ سورۃ النساء آیة ع۱۱۶ )

(۲) په مُشرکانو جنت حرام دے اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ط :

(۳) د مُشرکانو ټولے نیکئ برباد دی: وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ سورۃ الزمر آیت ع۶۵ :-

(۴) د مُشرک د پاره د بخښنے دُعا جائز نه ده مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ سورۃ التوبه آیه ع۱۱۳ )

مُشرکین هُم د الله په ذات او د عالم په خالقیت کښ د ه سره په شریک نه منلو مُتفق دی، لکه چه شاه ولی الله رح بنکاره فرمائیلی دی "مُشرکانو صفاتی، افعالی او عبادتی شرک کړیدے"،

مطلب دا چه د الله په صفاتو او په فوق الاسباب افعالو او عبادت کښے ورسره لوړے مقدسے هستیانے شریکے کړے خو د اسلام او قرآن لوئے خصوصیت دا دے چه دوی د باری تعالیٰ توحید د هر قسم شرک د بوټو نه پاک کړو نو دے چه د مافوق الاسباب نفع او ضرر مرکزئے یوازے د رب العٰلمین ذات ګرزولو، قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط (سورۃ اعراف)

حاضر او ناظر ئے یو ذاتِ خداوندی اُګرزولو، وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ (سورۃ الحدید آیة ع۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



عِلمِ غیب ئے صِرف ذات خُداوندی سره خاص کړو، قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ « رسورهٔ النمل آیة ع۶۵
دُمشکلا تو حَل کولو د پاره ئے بلل هم هغه سره خاص کړل :-
فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللهِ أَحَدًا ۝ رسورهٔ الجن آیة ع۱۸ :-
هر قسم عبادت او ما فوق الاسباب مَدَد غوښتل ئے هم دَ الله ذات سره خاص کړل :- إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ « رسورة الفاتحه آیة ع۴ :
تر دے چه سجدهٔ تعظیمی ئے هم الله سره خاص کړل، کومه چه نورو دینو کښ دَ غیر الله دپاره جائز وه. أَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ :- سورهٔ الجن آیة ع۱۸ )
نذر لغیر الله، قسم بغیر اسم الله، طواف لغیر بیت الله ئے بند کړو او داسے دَ شک ټول دروازے ئے بندے کړے، حقیقت دا دے چه دَ خُدائے دَ اِقرار نه په زړه چه کوم اخلاقی اثر غورزیږی هغه بغیر دَ دے توحید کامل نه نشی کیدے، دَ اِطاعت، انقیاد، اِخبات، خشوع، استقلال، توکل او اِخلاص حالت په زړه هله طاری کیدے شی چه دا خیال او اعتقاد ئے وی چه څمونږ د ټولو حاجتونو، ضرورتونو، اُمیدونو، غرضونو او مقصدونو هم یو مرکز دے، داشان دَ آزادئ، زړه ورتیا او بے نیازئ صِفتونه دَ دے توحید کامل نه بغیر نشی پیدا کیدے کوم کس چه دَ یو ذات نه سوا بل څوک حاجت روا گنړی دَ هغه سَر په هره آستانه دَ ټیټیدو دپاره تیار وی

## نبوّت

دَ نبوت لغوی بنیاد کچرے (نَبَأ) خبر وی، نو دَ نبی شرعی او عُرفی معنیٰ په دا الله له طرفه خبر ورکوونکے وی، او کچرے دَ نبوة په معنیٰ دَ



رفعة نه منقول وی نو دَ نبی معنیٰ به دَ ټولو نه لوړ او اُوچت شان والا وی، او کچرے دَ نبی بمعنی طریق نه منقول وی، نو مطلب به ئے دا وی چه پیغمبرﷺ الله ته دَ رسیدو لاره او وسیله ده، په دومبی صُورت کښ مهموز اللّام او په آخرو دوو صُورتونو کښ به معتل اللام وی، دَ اَشاعِرَهٔ نه دَ مُواقِف» شارح دَ نبی، شرعی او اصطلاحی تعریف دا نقل کړے دے،
مَن قَالَ لَهُ اللهُ أَرْسَلْتُكَ إِلٰى قَوْمٍ، نبی هغه څوک وی، کوم ته آذ إِلَى النَّاسِ جَمِيعًا :- ؛ چه الله دا فرمائیلی وی، چه تا مایو قوم یا ټولو خلقو ته پیغمبر لیږلے ئے :
دَ نبی دومبئ دوه لغوی معنیٰ امام راغب رحمه الله په مُفردا تو کښ لیکلی دی، دَ نبی یو څو خصوصیات دی چه په هغے دَ غیرِ نبی نه جدا گیږی

## دَ نبوت خصوصیتونه

① یو انسان دَ نبوت دَ عُهدے دَ پاره چُونړ کول دَ الله کار دے، دا عُهده وَهبی ده کسبی نه ده، الله تعالیٰ په ظاهر باطن په حال او مستقبل پُوره خبردار دے چه هغه کوم اِنسان ته دَ نبوت فرض په غاړه کوی نو دَ دغے فرضو ادا کولو په هغه کښ کامل قابلیت او استعداد موجود وی اَللهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ط ر الله ښه پوهیږی چه دَ پیغمبری منصب چا له ورکول په کار دی :-
② دَ نبی علوم هم وهبی وی کسبی نه وی، هغه دَ زمکے دکوم اُستاذ نه زده کړه نه وی کړی، بلکه دَ آسمانی اُستاذ نه ئے دَ آسمانی علومو زده کړه کړی وی، او دَ نړئ په تعلیم کښے هغه اُمّی رنالوستے وی امام غزالی رح دَ احیاء العلوم په دومبی جلد کښ دعقل دَ مرتبو دَ فرق دا سے بیان کړے دے چه دَ خلقو دَ عقل مرتبے مختلفے دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضے دیر غبیّ وی چه په ښوکلو هم زده کړه نشی کولے، او بعضے تیز دماغی وی چه په ښودنه زده کړه کولے شی او بعضے هغه حضرات دی کوم چه د انسانی ښودنے نه بغیره خپل زړه په رانزا علوم حاصلوی، دا پیغمبران علیهم السلام دی.

③ په شکل و شباهت او په خوئے خصلت کښی د نورو نه ممتاز وی بخاری وغیره کښی دی:-

كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نبی علیه السلام په صورت اَحْسَنَ النَّاسِ خَلْقًا وَّ خُلُقًا او سیرت کښے له ټولو خلقو بهتر وو:-

④ په علم او عمل دواړو کښے کامل وی، د علم کمال ئے دا دے چه کښے غلطی نه وی او د عمل کمال ئے دا دے، چه گناه ترهینه کیږی او د عباداتِ الٰهی د حد نه تیریدل د ده په عمل کښی نه وی، نبی د اُمت دپاره د عمل نمونه وی:-

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ: نو څکه د گناه نه پاک وی او د خپل عمل غلطه نمونه نه وړاندے کوی، لکه انسان چه د خپل بچی دپاره دغه غلطه نمونه نه وړاندے کوی، الله تعالیٰ چه نبیؑ د عمل نمونه راولیږله نو په هغه کښی د غلطی او گناه څنګه امکان کیدے شی:-

⑤ نبی علیه السلام د علم او عمل تکمیل کوی، مطلب دا چه څوک د هغه تربیت کښی راشی نو هغوی په علم او عمل کښی کامل جوړ شی د هغوی د علم او عمل شان د نورو ټولو خلقو نه بلند او ممتاز شی:-

⑥ د نبیؑ د تعلیم او عملی ژوندانه دا ښکاره معلومیږی، چه د دے اصل مقصد عام مصالح دی یعنی د ده په وړاندے، د یو کس یا د ټبر او ټولی د فائدے په ځائے په عمومی فائده وی:-

⑦ د نبی اُوم خصوصیت دا دے، چه د نبیِ مَعَاشی ژوندانه او اخلاقِ کِردار د بے مالئی او مالدارئ په دواړو وصورتونو کښے یو شان وی کوم خوراک سیناك استوګنه او اغوستنه چه د بے مالئی په حالت کښے ئے وی هم هغه ئے د مالدارئ په حالت کښی وی، کومه عاجزی او خاکساری چه د بے مالئی په حالت کښے وی هم هغه ئے د مالدارئ په حالت کښی وی لکه چه د حضور علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السّلام، د ثبوت د تاریخ په پاڼو کښے محفوظ دے گویا که پیغمبران علیهم السلام په عوامی مفاد و خپل ذاتی مفاد، قربان نه وی، او د غلبے او حکومت حاصلولو نه پس هم د هغوی د عجز و نیاز د بندگئ د شان او د هغوی په تواضع هیڅ اثر نه پریوزی، د پیغمبرانو علیهم السلام د زړه او روح خداداد پاکی او صفائی د هیڅ ماحول نه خرابیږی او که کیږی نه دے مطلب دا شو چه عام انسانانو نه د هغوی فطرت مختلف دے:

⑧ د نبی په ژوندانه کښی د تصنّع تکلّف، نمائش، خپلے لوئی او د ځان ښکاره کولو هیڅ نښه نه وی، او د هغه محبت او بغض د خپل ذات دپاره نه بلکه د ربِ العٰلمین د ذات دپاره وی، هغه خو د خپل ځان حق معاف کوی، لیکن د الله حق نه معاف کوی:

⑨ نبی د الله د فرمانبردارئ عملی نمونه وی، هغه په ښکاره او پټه په دننه او بهر دو ستانو او دُشمنانو سره، په تهرا و په خوشحالئ کښے بلکه په هر حالت کښے د رضائے الٰهی د لارے نه یو ذره هم نه اوړی د ګنړے حالاتو او ځانی کیفیات د هغه په استقامت کښے څه نقص نشی راوستے کولے کښے د الله رضا او د شرع تابعداری د هغه په خمیر کښی اخلے شوی وی:

(۱۰) د هغه په ذریعه د دے د پاره مجاہبات او معجزات ظاهریږی چه د هغه د نبوت تائید پرې اُوشی. په شرح مواقف کښے د معجزے اُوه (۷) شرطه لیکلی دی:-

(۱) دا به د خدائے فعل وی (۲) د عادت خِلاف به وی، (۳) د هغے مقابله به نشی کیدے (۴) د نبوت دعویدار نه به ظاهریږی (۵) د دعوے موافق به وی (۶) بل نبی نه به د دروغژن نه وائی (۷) د دعوے کولو نه به وړاندے وی (طبع نولکشور ص۲۲۵ تا ۲۲۷)

د معجزے اُصولی قسمونه دوه دی (۱) معنوی معجزه د خاصانو د پاره (۲) حِسی معجزه چه عوامو د پاره وی د حضور علیه السلام معنوی معجزه قُرآن دے، او حِسّی معجزه ئے شق القمر، تکثیر طعام ومیاه (یعنے خوراک څښاک زیاتول) او د ګډو وخښا ورو اُو نور ډیر نور خبرے کول دی.

## په معجزے، کرامت او سحر کښے بیلتون

معجزه او کرامت دواړه د الله کارونه دی، معجزه له پیغمبرانو او کرامت له ولی، ظاهریږی دواړه اختیاری نوی په اکتساب حاصلولے نشی، ښودنه او زده کړه ئے نوی، د دے دواړو سبب صِرف د الله اراده وی، په خلاف د سِحر چه د هغے معنے د لُغت اِمامان او مُفسّرینو داسے بیان کړیده، مَا دَقَّ مَأخَذُهٗ وَلَطُفَ، یعنے کوم فعل او عمل چه په مخفی اسبابو بناوی هغه سِحر دے، د سائنس بعضے موجُوده مصنوعات هُم د سِحر په تعریف کښی داخلیدے شی، ځکه چه د انسانی فعل دے، د انسان په اختیار کښی دے په ښودنه او زده کړه، کسب او اکتساب، په مشق او تجربه حاصلیږی دے نه علاوه عادی اُمور دی د دے اسباب لکه د عام کار کسب دا سے ښکاره او ظاهِری



چه عام خلق پرې هُم پوهیږی، کچرے له د دروغژن نبی یو خِلافِ عادت کار ظاهر شی نو دا به معجِزه نهٔ وی، بلکه په استدراج او سحر کښے به ځکه داخل وی، چه د هغے مخفی هغه اسباب موجُود وی کوم چه مادی وی او که غیرمادی وی، خو تعلیمیافته او مشق کوونکی خلق ئے اِستعمالوی،، عبد الله المقنع یا زردشت نه کچرے داسے کارونه صادر شوی وی، نو هغه هم په دے قِسم کښی داخِل دی، لکه چه د شیخ الاشراق او سکاکی نه هم داسے اُمُور ښکاره شوی دی چه د نبوت دعوٰی ئے نه لرلَه (تاریخ کښی شته) د غه رنګ د ابُو الطیب المتنبیؒ او د نورو متنبّیانو نه هم داسے کارونه ظاهر شوی دی دا ټول سِحر، استدراج تجربو، او تعلیم سره تعلق لری مثلاً د شپونکی په لاس اچولو د شیخ الاشراق لاس د اُو به هغه دا بیلیدل او د شپونکی تګ نه پس بیا لاس جوړیدل چه په حقیقت کښے لاس نه وو بلکه دومالوو، او لکه د سکاکی چه بعضُو ادبُو ته ئے دا سے بند کړو چه یو تغرے هم نهٔ ګلیدو، د طاش کبری زاده روحی نه نقل دے (بحواله مسلمانوں کا نظام تعلیم وتربیت گیلانی جلد ۱ ص۲۳ حاشیه) ابن سینا په آخر د اشارات په یو باب کښی اګرچه د خوارقو د خِلافِ عادت څیزونو طبعی اسباب هم بیان کړیدی او په تفهیمات کښی شاه ولی الله رح دا وو اِنَّمَا الْمُعْجِزَاتُ وَالْكَرَامَاتُ اُمُوْرٌ اَسْبَابِيَّةٌ غَلَبَ عَلَيْهَا السَّبُوْعُ فَبَايَنَتْ سَائِرَ الْاَسْبَابِيَّاتِ،، اُو خوارق ئے په ممتاز اسبابیاتو کښے شمیر کړیدی لیکن د هغه مقصد خوارِق پوهے نهٔ تیرَدے کولو ئے او دا ئے مقصد نهٔ دے چه دد ے درجه د عامو اسبابیاتو په شان کسبی او مشقی دهٔ.

## د نبوت حقیقت

(۱) د نبوت حقیقت خو الله تعالیٰ پیژنی یا پخپله نبی لیکن د دے شکل

په ذهن کښ را وستو د پاره امام رازی رحمه الله په (مطالب عالیه) کښ چه څه لیکلی دی د هغې خُلاصه داده .. چه انسان کښ دوه طاقت دی، (۱) د خیر او شر معلومتول (۲) او دویم د خیر د عمل کولو او د شر نه د ځان ژغورلو طاقت، د رومبی طاقت نوم قُوّتِ نظری دے او د دویم طاقت نوم قُوّتِ عملی دے د دے دواړو قُوّتونو په لحاظ د انسان درے قِسمه دی؛

(۱) لوهغه خلق چه ځپله په دے او صافو کښ ناقص وی:-

(۲) بل هغه خلق چه ځپله خو کامل وی لیکن د ناقصانو تکمیل نشی کولے

(۳) بل هغه خلق چه ځپله هم کامِل وی او ناقصان هم کاملان کولے شی د کمال بیا مختلف درجے دی د دے آخری حد دادے چه قُوّتِ نظری دومره کامل وی چه د دے په څه علم راشی لوهغه دِ بالکل صحیح وی او د غلطۍ امکان هیڅ پکښ وی نه او د قُوّتِ عملی د کمال آخری حد دادے چه هغه ته دِ داسے قوی مَلکه حاصِلَه وی چه ځپله ترِ بنه کارونه صادر کیدلی شی او ددے هیڅ تضاد دیدو امکان ترِ هغه وی، کوم یو انسان ته چه د نظری او عملی کمال دا انتهائی درجه حاصِله وی هم دغه پیغمبر او نبی وی.

(۵) امام غزالی رحمه الله تعالی، په (مَعَارِجُ الْقُدْسِ) او د (اَلْمُنقِذُ مِنَ الضَّلَالِ) کښ د نبوت په حقیقت د پوهے له پاره چه کوم تقریر کړے دے د هغې خُلاصه داده چه انسان د پیدائش په وخت جاهِل وی د بیا لو نه رومبے په هغه کښے د لَمس قوّت پیدا کیږی چه پرِ گرم، یخ او سخت پیژنی، بیا په ده کښ قوّتِ حاسّه او باصره پیدا شی چه په رنګ او مِقدار پیژنی بیا ئے د آوریدو او څکلو قوّت پیدا شی چه هغه آوازونه او مزے پیژنی او په دے د محسوساتو حد ختم بیا لو نه د تمیز دور شروع شی چه په هغے دے د هغه څیزونو


(c) ketabton.com: The Digital Library

[...]لوی، چه په کوم وخت کښ د هغه احساس نه کیږی، د آدو په او مکال د عمر [...]روع کیږی په دے دور کښ دے ځپل، پردی د خوراک څکاك قابل [...]یزونه او پیژنی، بیا د عقل زمانه راشی چه په هغې انسان ممکن [...]ال، صحیح او غلط پیژنی اُس د دے نه وړاندے یو بله داسے درجه [...] د عقل رسائی هغلته نشته لکه څنګه د حواسو چه د عقل درجے ته رسائی [...]نه، د دے درجے نوم نبوت دے چه د هغې په وجه د وحی په ذریعه [...] هغه علوم او معلومات حاصلیږی د کوم د مؤندلو نه چه عقل [...]عاجز دے:-

(۶) د نبوت ثابتولو د پاره د امام غزالی رحمه الله تعالی، د دیه طریقه [...] چه نه ټول کارونه د کولو دی، او نه د نه کولو، بلکه بعضے کولودی او بعضے د نه کولو، اُس دا سوال پیدا کیږی چه د کولو او نه کولو د کارونو فرق هر انسان کولے شی، او که یا ئے هیڅوك نشی [...]لے یا ئے څوک کولے شی او څوک ئے نشی کولے رومبی دواړه احتمالونه [...]ره باطل دی، یوازے دریم احتمال داسے پاتے کیږی، چه بعضے انسانان [...] چه هغوی دا حُدُود متعیّن کولے شی چه فلانی عملونه د کولو او فلانی د [...]ولو جو که دی دغه حضرات پیغمبران او صاحِب شریعت دی:-

(۷) داحقر په خیال کښ د بعضے لطیفو څیزونو مثلاً د ایمان، کفر، د طاعت [...] معصیت تاثیرات د عقل د حد نه بهر دی، لکه څنګه چه معقولات د حواسو [...] نه بهر دی نو د دی علم د عقل په ذریعه څکه نشی حاصلیدے مګر د [...]ی د تاثیراتو علم هم یو ضروری دے، څکه چه د کثیفو څیزونو [...] د نړیا قواو زهرو نفع نقصان معمول دے لیکن د روح سره د [...]شی په وجه د لطیفو څیزونو اثر قوی وی، مادیاتو کښے لطیف اشیاء [...]علی الاثر وی، لکه ستیم چه دومره قوی الاثر دے چه ریل گاډے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر منډے وهی. لهٰذا دَ انسانی فلاح دَ دے څیزونو دَ نفع او نقصان
پوازے رب العٰلمین حُکم کولے شی چه هغه پخپله لطیف او خبیر دے مګر
انتهائی مشرف او عظیم دے او انسان بے حده کمزورے او ذلیل د
په دواړو کښے هیڅ جوړخت نشو نه لهٰذا دے دَ پاره یو واسطه دا سے
چه څه قدرے نسبت ئے دَ الله سره وی او څه دَ انسان سره چه په
طریقه د الله فیض انسانانو پورے را اُرسوی او دا واسطه دَ نبوت
شی دَ دے واسطے په دَ اسے مثال وی لکه دا ورا و اُبو یو ځائے کولو دَ پا
چه دَ اور پشان ګرم او لطیف هم نه دے او دَ اُبو پشان یخ او بُنیاد و
دَ اور فیض دګرمی) بیغ په نیغه څکه اُبو تر نشی منتقل کولے چه دده دَ
مینځ کښ جوړخت نشته هر کله چه د پچکے واسطه شوه نو دا اور فیض
هله اُرسی او هغه ګرمے شی، دغه حال دَ محبت الٰهی او دَ نبوت دَ
چه دَ نبی په ذریعه اُمت او عامو انسانانو ته منتقل کولے شی دَ روحا
او ملکیت په اعتبار دَ نبی ذات الله سره نسبت لری او دَ بشریت
انسانیت په اعتبار انسانانو سره نسبت لری او دغه رنګے دَ یو و
په توګه د نبی مناسبت مفیض (الله) او مستفیض (انسان) د
سره دے:-
(۵) شاه ولی الله نوّر الله مرقده، په حجة الله کښ دَ نبوت په اِثبا
کوم کلام کړیدے دَ هغے خلاصه دا ده چه په نباتاتو کښ دهر یو
جُدا خاصیتونه دی دغه رنګ د حیواناتو دَ هر قسم ځان ځان له خ
دی، دا ټول خاصیتونه دَ دوی دَ صُوَرِ نوعیه وُ فطری غوښتنه ده
نوعیه په مُوجب حیواناتو له چه کوم هغوی دَ ژوند دَ پاره فِطری او
غوښتنه علاوه یو بل قسم اِدراک هم ورکړے شوے دے چه هغه
اکتسابی او نظری وی، یعنے شی او دا په تجربه، غور، فکر او په ترتیب



ندما تو حاصلیږی، دده په ذریعه انسان، تجارت، کار کسب او
علوم او فنون حاصلوی، خو دا ټول علمونه دَ انسان بدنی حالت
ترون لری، دده نه بغیر انسان ته یو بل قسم اِدراک هم ورکړے
دے چه دَ هغه دَ رُوحانیت فطری خصُوصیت دے. او هغے ته
ملکیته هم ویلے شی هم دَ دے قوّت په اثر هغه دَ کائناتو په کارخانه
وی چه دا څه له جوړه ده، څه چا پیدا کړے یم، څوک ماله روزی
وی، او څه دَ پاره ئے پیدا کړے یم، او دَ دے سوالونو په جواب ورکښے
دیو دیر لوئے طاقت اِقراری شی، او دَ هغه په وړاندے دَ زاری،
زی نیتوالی او دَ تابعداری آداب په ځائے راوړی خو دے اُمور
په یو قانونِ الٰهی موقُوف دے، چه دَ هغه دَ رضا ګولے مقرر ے
دے صُورت دا جوړ کړی چه له دیرو مودو نه خپل منظورِ نظر
انسان پیدا کړی کوم چه دده فِطری غوښتنے (دَ فرمانبرداری
ون) دَ ظهور سبب جوړ شی دا نبی وی، په اصل مضمون مُونږ دے دَ پاره
ضافه اُکړه، چه عام فهم شی.
دقانونی دلیل دالله جل جلالهٗ، درے[۳] صفتونه ټول قومونه او
منونمنی، (۱) حاکمیت (۲) قُدرت (۳) حکمت
دا دوه صفتونو تقاضا دا ده چه خپل رعیت او انسانی مخلوق با ندے
قانون اُچلوی ځکه چه بے قانونه حکومت هسے شرم دے، قدرت
حکمت هم بے قانونی نه منی، نو دا ضروری شوه چه دَ حاکم اعلیٰ او دَ
العٰلمین د ذات یو قانون د موجود وی او دا هُم ضروری ده چه انسان
دَ قانون نه خبردار کړیشی ځکه چه بے اعلان نه او بے خبره قانون بیکار دے

دقانون دَ اطلاع دوه صُورته کيدلے شي، يو عمومي او دويم انتخابي او
عمومي داچه الله رب العلمين هرکس ته ځان ځان له په هر ملک
زمانه کښ دَ دے خبرور کوي، خو دا دَ الله د شان او دعظمت نه خلا
خِلاف ده، چه يو حقير انسان امير يا بادشاه هُم داسے نه کوي چه کو
په کور ډکرزي او هر هرتن ته دِ خبرور کوي، نو دويم صُورت اُ
داسے مناسب دے چه الله تعالے يو غوره انسان اُنا کي او دَ هغه
واسطه دَ خپل قانونِ خداوندي نه خبر کړي چه دَ خلقو دين دنيا
شي، او عدل او انصاف قائم شي، او دَ خير او شر دَ عملونو د نتيجونه
خبر شي دَ داسے منتخب او نمائنده حاکمِ اعلیٰ هستئ نُوم دَ شريع
په اصطلاح کښ نبي او رسُول دے :-

(۷) دَ محبتي دليل دَ انسان په فطرت کښے دَ جسماني ضرورياتو لکه خو
څښاک نکاح وغيره) محبت هم پروت دے، او دَ روحاني ضرور
(دَ الله) محبّت هم، په دُنيا کښ دَ ټولو قومونو او مذهبونو دا بيشمير
عبادت کا هُونه دے، صحيح يا غلط مظاهر دي، دعبادت طريقه
وي او که غلطه خو مطلب ئے الله سره دَ محبّت ثبوت دے، هر
الله پاک دَ ټولو خلقو محبوب دے او دَ محبوب رضا لټول هُم فطر
غوښتنه ده خو دا رضا يو پټ څيز دے چه دَ هغے اظهار به په کلا
نه چه په قياس او انکل دغه کلام دَ الله کوم پاک او اعتباري ذات
چه ښکاره کيږي هغه ته نبي او رسُول وئيلے شي، او په دغه کلام دَ
دَ اخوښئ او ناخوښئ متعين حدودو ته دَ شريعت په اصطلاح کښ
باطلے عقيدے، بد او خراب خويونه او بد او ناروا عملونه وئيلے
(۸) عدلي دليل، انسانان دَ خپل ذات باقي ساتلو دپاره د
څيزونو محتاج دي، خوراک، څښاک، او ځائے ځائيگے، او دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوع دَ باقي ساتلو دپاره دَ دے نه علاوه دَ نکاح او دَ بچو هم محتاج وي
داخلوي ضروريات ټول انسانان غواړي او طلب کوي، هر کله چه هر
انسان په خپل شهواني او په نوروي قوت دا ضروريات لټوي نو
خامخا به جګړے او کشمکش پيدا کيږي او هر يو به په خپل غضبي قوت نورو ملامت
کوي، ددے جګړو او شر ختمولو دپاره دَ انصاف قانون ضرور دے
چه دَ هر انسان خپل خپل حق محفوظ کړي اُس به دا قانون دَ چا وي
(۱) د يو انسان يا دَ ګڼرو انسانانو (پارليمنټ) او يا به ئے خدائے جوړوي
، په ړومبي دوو صورتونو کښے دعدل مقصد نه پوره کيږي، ځکه
چه دعدل قانون جوړ ولو دپاره دا څيزونه ضروري دي :-

(۱) کامل علم او کامل حکمت چه دَ خير و شر حدونه متعين کولو کښے غلطي
اُ نشي :-

(۲) رحمت او شفقت چه دَ بغض او عناد په وجه دَ قانون په جوړولو
کښے بے انصافي اُ نشي :-

(۳) پره داري به نه کښي نه وي چه دَ قانون په جوړولو کښے دَ خپل
قوم دَ خپلو وطن دار و لحاظ اُ نشي او دَ نورو حق اُ نه وهلے شي :-

انسان کښ دا درے واړه صفت نشته دَ ده علم مکمل نه دے نه ئے پوره
شفقت شته او نه دَ پره جنبے نه بچ کيدے شي، خود خدائے په ذات
کښے دا درے واړه صفتونه پوره موجُود شته، دَ ده په علم کښ غلطي نشته
دَ دُنيا ټول انسانان دَ ده پيدا شوي بندګان دي دے دَ ټولو يو شان
معبُود دے، نو رحمت او شفقت ئے هُم په يو شان دے او پره
جنبه هم ځکه نشي راتلے چه الله يو قوم قبيلے يا وطن سره هيڅ
تعلق نه لري د ده شان دے تصور نه هم اُچت او بالا دے، قانون جوړ
هُم دَ دے ذات حق دے او دا قانون دَ کوم برګزيده بنده، معتمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او منتخب نمائنده په ذریعه چه لیږی دا نبیؑ او رسول ؏م دے:-

(۹) توسطی دلیل، پتول مذهبونه دا خبره منی چه انسان هله دَ خدائے پیژندګلی او عبادت کولے شی چه ورته دَ هغه دَ همنائی وی لیکن دَ عامو انسانانو او دَ خدائے په مینځ کښے دَ مرتبو په لحاظ هیڅ مناسبت نشته، عام انسان ډیر لاندے او دَ دُنیا خالق انتهائی بلند دے ضروری شوه چه انسانانو کښ دَ الله دَ فیض حاصلو لو دا سے برګزیده واسطه دِوی چه بیا دغه فیض عامو انسانانو ته هغه اُورسوی، یو طرف ته دَ بشریت په واسطه انسانانو سره تړلے وی او بل طرف ته دَ روحانی پاکیزګئی او بلندئی په برکت الله جل جلاله سره مناسبت لری دوی په حقیقت کښے دَ فیضان الهی واسطے وی چه دَ دوی په ذریعه دَ خالق کائنات فیض انسانانو ته رسیږی مثلاً مونږ دَ اور فیض (ګرمی) اولو ته سَول غواړو چه دَ هغه نه چائے یا پخکړے جوړ کړو، خو دَ اور او ړو رخت نه راځی یو ګرم دے بل یخ یو اوچ دے بل لوند یو واسطه د ډیکچے پکار دے چه دَ هغه په ذریعه د اور ګرمی اُو کښے ننوزی او مقصد حاصل شی یا دا سے لکه شاه ولی الله رح فرمائی، روح انسانی (چه لطیفه ربانی دے) ډیر لطیف دے او انسانی بدن کثیف دے ددے دواړو وجود بشورا تلے الله دَ جوړ خت راوستو دَ پاره چه د روح انسانی فیض بدن انسانی ته اُورسی واسطه دَ روح طبی (هغه براس چه ویڼے نه پیدا کیږی) پیدا کړه چه دَ انسان په بدن کښے خوزوی، همدغه رنګ پیغمبران علیهم السلام دَ الله او دَ عامو بندګانو په مینځ کښ واسطے دی، دَ رُشد او هدایت دا شکل دَ الله دَ عظمت سره ښائی لکه دَ نصارٰی و دَ عقیدے مطابق الله په شکل د عیسٰی علیه السلام یا دَ هندوانو د عقیدے مطابق الله په شکل دَ رام بشن مهادیو را تلل غلط او دَ فطرت خلاف دی۔



اول دا چه لامحدود خدائے دَ انسان په شکل کښے محدود کیدل دَ عقل خلاف دی، دویم:- خدائی دَ انسان په شکل کیدلو سره خپله خدائی قائمه نشی ساتلے او بل دا چه خدائے پاک کښ به هُم دَ بشریت حاجتونه او ضرورتونه راشی. بیا به خدائے پاتے نشی، دریم:- دا چه دا انسان په شکل سهی خو خدائے پخپله هادی شو س به چه دَ کوم عمل کوی هغه به دَ خدائے عمل ګنړلے شی، نو انسان به دَ هغه تابعداری په دے عمل کښ ځکه نشی کولے چه هغه به دا عُذر لری چه انسان دَ انسان پشان عمل خو کولے شی مګر دَ خپل خالق او خدائے پشان عمل کول ناممکن دی،

څلورم: دا چه په انسانی جامه کښ دَ خدائے را تلل مفید نهٔ دی ځکه هغه دَ چار (عیسٰی یا رام چندر) په شکل کښے چه را شی نو تعلق به ئے هُم ده سره براه راست وی. او نورو انسانانو سره به ئے بالواسطه وی، ځکه چه هر انسان کښ خو به دد غه عقیدے مطابق خدائے نشی ننوتے، لهٰذا په ځائے د دے چه خدائے تعالٰی دَ انسانی تشکُل ذِلّت په سَر واخلی، او پخپله د فیض واسطه شی دا خبره ډیره معقوله ده چه یو غوره کړے انسان دَ فیض واسطه جوړه کړی چه دَ هغه عمل دا انسانیت (بشریت) په وجه د نورو انسانانو دَ پاره نمونه جوړه شی یو انسان بادشاه پخپله کوځه په کوځه نه ګرزی او نه دَ بل چا په شکل کښ ګرزی، صرف خپل نمائنده وزیر وغیره مقرر کړی چه هغه دَده احکام او قوانین نورو ته رَسوی:- دَ اِسلام دَ نبوّت تصور دَ ټولو نه زیات معقول دے هغه دَ فطرتِ سلیمه او دَ دُنیا دَ رِوِش بالکل مطابق دے،

پنځم:- دا چه په شکل دَ بل (عیسٰیؑ یا رامچندر) کښ دَ را تلو مطلب دا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هغې کښې ظاهر شوې دې نو دا خبره ځکه غلطه ده چه د خدائے جلوه گاه او مظهر د دنیا هر یو څيز دے:-

(۱) تقدلیسي دليل: خداوندي احکام پيژندل د هغې مَنَل او ګڼل دپاره ضروري، د احکامو پيژندلو او پوهې دپاره د معلِّم د هغې منلو دپاره د تقدُّس دپاکئ او د ګڼلو دپاره د مقتدي دپاکے نبوّت ضرورت دی، چه د تعليم، تسليم، او تعمیل په ذريعه دين الٰهي باقي پاتے شي، که داسے نه وي کړ دين سلسله به کټ شي او د دين جاري ساتلو دپاره د دے ربط او تړون داسے يو محسوس شخصيت سره ضروري دے چه د هغه عظمت، تقدُّس، محبوبيت، په زړونو کښې داسے مضبوط وي، چه کله هم ترې نه اوړي او دا حيثيت هُم د نبي کيدے شي، ځکه د نبي تصوّر دين دپاره ضروري دے چه د هغه محبّت او تقدُّس د دين د شمع روښانه ساتلو دپاره د تيلو کار ورکوي.

# ختمِ نبوّت

د ختمِ نبوّت مسئله د اسلامي تاريخ په يو دور کښې هُم د شک شبے جوګه نه ده پاتے شوے او نه په هغې د بحث کولو څه ضرورت ګڼړلے شوے دے، ليکن د پاک او هند په برِّ صغير کښې انګريزي حکومت د خپلو مفادو او د تاريخي اسلام دُشمنئ د تکميل دپاره د اسلام په دے مرکزي عقيده ګذار کول ضروري اُګڼړل دپاره ددے چه د مسلمانانو يوولے ختم شي ددے سازش پوره کولو دپاره د پنجاب د ضلع ګورداسپور نه انګريزانو ته داسے يو سړے په لاس ورغے چه ددے مقصد پوره کولو دپاره مناسب وو، هغه د انګريزانو په حمايت



خپل يو اُمت جوړ کړو او د نوي نبوت بنياد ئے اُګڼړلو و يرکتابونه اُليکل چه د هغې بنيادي مقصدونه درے دي:-

(۱) په خپل شخصيت او دعوو زور ورکول:

(۲) د قرآن تحريفونو ته معارف ويئيل:-

(۳) د مسلمانانو په دُشمنئ او د انګريزانو په دوستئ زور ورکول:-

د ده پټوله کاروائي هم د غه خلاصه لري، لکه اقبال مرحوم وائي:-

| | |
|---|---|
| سلطنتِ اغيار را رحمت شمرد | رقصها ئے گرد کليسا کرد و مرد |

ترجمه: (د غير قومونو د انګريزانو حکومت ئے رحمت اُګڼړلو- د ګرجے خوا کښې ګډا ئے اُکړے او مړ شو):-

د نا خبره مسلمانانو د ايمان بچ کولو دپاره به ختمِ نبوّت څه بيان کول ضروري دي، د اسلام مثال د يو عمارت دے او د اهم عمارت درے نقشے وي چه انجنير ئے جوړوي.

(۱) ذهني او فکري نقشه (۲) تحريري او کتابي نقشه (۳) خارجي نقشه

اسلام د عقائدو، اخلاقو او عباداتو يو عمارت دے د هغې پوره نقشه په علم الٰهي کښې محفوظ ده، بيا دا نقشه د کتاب او سُنّت په شکل کښې جوړه شوه چه دا د عمارتِ اسلام يو تحريري نقشه اُګڼړه، بيا خوار لس سوه کاله د مسلمانانو جاري عمل د دے نقشے او عمارتِ اسلام يو بهرنے وجود وو دا درے واړه يو بل سره ګډ يو ځائے وا غلي دي د الله په علم کښې د اسلام حقيقت هُو بهُو د قرآن او حديث په شکل کښې ښکاره شو او قرآن و حديث کښې د اسلام چه کوم حقيقت دُو هم هغه د مسلمانانو په ذهن او فکر کښې پر له پسے نسل په نسل منتقل کيده، د اسلام په

بنيادي اُمورو کښې مُسلمانانو اختلاف نۀ دے کړې اګرچه په نورو اُمورو کښې ئې اختلاف وو، هم دغه وجه ده چه په اِسلام کښې دیرے فرقے پیدا شوے خو تر نن هغوی دختمِ نبوت په بنیادی حقیقت کښې څۀ قسمه اختلاف نۀ دے کړے البته دکتاب الله او سُنّت نبوی نه دباهر ولو په چل انکارکیدے شو او هغه غلے اُشو، په دے مسئله په دوؤ اړخونو بحث کوؤ

(۱) عقل (۲) نقل، په نقل کښې به په درے څیزونو بحث کیږی

(۱) کتاب یعنی قرآن او ختمِ نبوّت (۲) حدیث او ختمِ نبوّت (۳) اجماع او ختمِ نبوّت، او کدے نه پس به دختمِ نبوت په عقلی اړخ بیان کوؤ:-

## ۱: قرآن او ختمِ نبوّت

دقران حکیم دسلو اینونو نه زیا تو کښې دختمِ نبوت مسئله بیان شویده خو دکوتاه والی په خیال مونږ یوه آیت ته اشاره کوؤ، دا په سورت احزاب کښې دے:-

مَاکَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِکُمْ ؛ محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په سړو وَلٰکِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ط وَکَانَ کښے دچا پلار نه دے لیکن دالله رسول اللّٰهُ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ○ ؛ ؛ او په ټولو نبیانو مُهر دے، او الله په هر څیز خبردار دے:-

دا آیت بالخصوص په ختم نبوّت دلالت کوی، یعنی د نبی علیه السلام په تشریف آوری سره د ټولو نبیانو په سلسله مُهر اُ لګیدو، اُس به چا ته هُم نبوّت نشی ورکولے، چا ته چه ملاویدو هغه ملاؤ شو او که هغوی ک نبوت دَور دَ ټولو نه څکه زُ ستو کیسو دے شو چه دا نبوت به تر قیامته چلیږی په آخره زمانه کښې به حضرت مسیح علیه السلام دَ ددوی دَ اُمتی په حیث راځی. ټول پیغمبران اُس هُم په خپل خپل ځائے پیغمبران دی مګر دُنیا کښې صرف دَ محمدؐ دَ نبوّت عمل جاری او ساری دے، او الله ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



څیزونه پیژنی تر دے، چه دا هُم پیژنی چه زمانه دَ ختمِ نبوت او ځائے دَ ختمِ نبوت کوم یو دے په "خَاتِم" کښې دَ "ت" په زیر دَ دیرو قاریانو قرأت دے او دَ "تَ" په زور دَ حَسن او دَ عاصِم قرأت دے، دَ ډیرو مبی قرأت (یعنی خاتِم) دَ خاتِم النبیین معنے دَ ټولو نبیانو ختموونکے او دَ (تَ) په زور (خاتَم) معنی دَ ټولو نبیانو مُهر خو کدواړو قرأتو نو مطلب یو دے هغه دا چه هغوی صلی الله علیه وسلم آخری نبی دے او دَ دوی نه پس دَ نبوّت دروازه بنده شوه، ځکه چه دَ مُهر معنے دَ نبوّت بندیدَ دابو بلیغ انداز دے، چه په قرآن سنتا او عربی لغت منفِق دی، دَ کوموکافرانو په نصیب کښې چه ایمان نۀ وو، دَ هغوی په باره کښې دَ ایمان بندیدَ په لفظ دَ مُهر بیان کړو، فرمائی.

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَیْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ○ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰی سَمْعِهِمْ (سورۃ البقرۃ آیۃ ع۲ ؍ ۷) ؛ ؛ ؛ | یقیناً څه خاص خلق داسے کافر دی چه نه هغوی ویرَوے او که نه ویرَوے هغوی به ایمان نه راوړی ځکه چه دَ هغوی په زړونو او غوږونو مُهر لګیدلے دے:- |

کچرے دلته دَ مُهر معنی دَ ایمان دروازه بندیدل وی نو په خاتم النبیین کښې هُم دَ مهر معنی به خامخا دَ نبوّت بندیدَ وی، لکه صاحب قرآن مجمله دا تفسیر کړے دے په مسلم کښې دَ ابوهُریرۃ رض او په ترمذی او ابوداؤد کښې دَ ثوبان رض نه مرفوعًا روایت دے چه قیامت نه وړاندے به دجّالان او دروغژنان دَ نبوت دعوٰی کړی وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِیّٖنَ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ، حالانکه زه خاتم النبیین یم څما نه پس چا ته نبوت نشی ملاوَیدے هُم دا الفاظ دَ حذیفه رض نه طبرانی او احمد مرفوعًا نقل کړیدی په روایت دَ ابوهریره رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بخاری او مُسلِم کښې د نبوّت تشبیه داسې یو کود سره ورکړی شوې ده چه د هغې تعمیر د نبوت د خښتو شوې وی د هر نبی د نبوت مثال ئې د یو خښتې ورکړی دے، او په دغه عمارت کښې صرف د یو خښتې ځائې خالی وی نو حضورؐ فرمائی چه ځۀ هغه یم، "فَاَنَا هٰذِهِ اللَّبِنَةُ وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ" د ابُوهریرة رضؓ نه مرفوعًا د حضور علیه السلام شپږ خصُوصیات ذکر دی چه په هغې کښې شپږم خُصوصیت "وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ" یعنی په ما د پیغمبرئ سلسله ختمه شوه (رواهُ مُسلِم فِي الفَضَائِلِ) په فتنة الدّجّال کښې د ابو اُمامه رضؓ نه مرفوعًا روایت نقل دے، "وَاَنَا اٰخِرُ الْاَنْبِيَآءِ وَاَنْتُمْ اٰخِرُ الْاُمَمِ" یعنی ځۀ آخری نبی یم او تاسو آخری اُمّت یئ، دغه رنګ په صحیحینو کښې حضرت علیؓ ته د حضور علیه السلام دا فرمائیل "اَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسٰى اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ" یعنی ستا تعلق ما سره هغه دے کوم چه د هارُون علیه السلام د مُوسیٰ علیه السلام سره وو سوا د دے چه هارُون علیه السلام پیغمبر وو او ځما نه پس پیغمبر نشی کیدے دغه رنګ د صحیحینو دا روایت چه "لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ" د نبوت هیڅ پاتے نشو سوا د رښتینی خوبونو۔ پاس تیر شوی د ختم آیت په باره کښې پخپله مرزا په (ازالهٔ اوهام) ص ۲۵۲ و ۶۱۴ کښې داسې لیکی "مګر دا رسول ختم کونکے د نبیا نو دے" دا آیت چه حضُور نبیؐ نه پس به بل نبی دُنیا کښې نه راځی په (حمامة البشری) ص ۲۳ کښې لیکی؛ "اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ الرَّبَّ الرَّحِيْمَ الْمُتَفَضِّلَ سَمّٰى نَبِيَّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ الْاَنْبِيَاءِ بِغَيْرِ اِسْتِثْنَاءٍ وَفَسَّرَ نَبِيُّنَا فِيْ قَوْلِهٖ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ بِبَيَانٍ وَاضِحٍ لِلطَّالِبِيْنَ" په ایام الصلح ص ۲۶ کښې لیکی "حضُور نبی صلی الله علیه وسلم د خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ تفسیر په لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ سره اوفرمائیلو



چه ځما نه پس به بل نبی نه وی او د حق طلب کوونکو له پاره دا خبره ښه ښکاره ده په حدیث (لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ) کښې (لَا) د نفی عام له پاره دے (کتاب البریّة) ص ۱۸۴ کښې لیکی آنحضرت صلی الله علیه وسلم بیا بیا فرمائیلی دی، چه ځما نه پس به بل هیڅ یو نبی نۀ راځی او حدیث د (لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ) داسې مشهور وو چه چا هُم د دے په صحت کښې خبره نشوه کولے او قرآن شریف (چه لفظ ئې یقینی دے) په خپل آیت کریمه "وَلٰکِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ" سره هم د دے تصدیق کوی، چه په حقیقت کښې حضُور په نبیؐ باندے نبوّت ختم شویدے" په تریاق القلوب ص ۳۷۵ کښې لیکی:

| | | |
|---|---|---|
| هست اُو خیر الرسل خیر الانام | | هر نبوّت را بروشُد اختتام |

د دے تصریحاتو نه پس په دے خبره کښې هیڅ شک شُبه نۀ پاتې کیږی چه ذِکر شوے آیت په ختمِ نبوت کښې د قطعی الثبوت کیدو نه علاوه قطعی الدّلالت هُم دے،

## د خاتم النبیّین لفظ او د عربو لغت

(۱) په رُوح المعانی کښې دی چه (خَاتَم) مَا يُخْتَمُ بِهٖ ته وئیلے شی لکه څنګه (طَابِعٌ) مَا يُطْبَعُ بِهٖ وئیلے شی،

(۲) په مُفردات" د امام راغب کښې دی، "وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لِاَنَّهٗ خَتَمَ النُّبُوَّةَ"

(۳) وَفِي الْمُحْكَمِ لِابْنِ سِيْدَةَ وَخَاتَمُ كُلِّ شَيْءٍ وَخَاتِمَتُهٗ عَاقِبَتُهٗ وَاٰخِرُهٗ

(۴) وَفِي التَّهْذِيْبِ لِلْاَزْهَرِيِّ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ اَيْ اٰخِرُهُمْ :-

(۵) وَفِيْ لِسَانِ الْعَرَبِ وَخَاتَمُهُمْ وَخَاتِمُهُمْ اٰخِرُهُمْ،

(۶) وَفِيْ تَاجِ الْعُرُوْسِ، اَلْخَاتَمُ بِالْفَتْحِ وَالْكَسْرِ مِنْ اَسْمَائِهٖ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ الَّذِي خَتَمَ النُّبُوَّةَ بِمَجِيئِهِ ؛

(۷) وَفِي مَجْمَعِ الْبِحَارِ، وَخَاتَمٌ بِالْفَتْحِ بِمَعْنَى الطَّابِعِ أَيْ شَيْءٌ يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي ؛

(۸) وَفِي الْقَامُوسِ الْخَاتَمُ آخِرُ الْقَوْمِ كَالْخَاتِمِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّينَ أَيْ آخِرُهُمْ

(۹) وَفِي كُلِّيَّاتِ أَبِي الْبَقَاءِ وَتَسْمِيَةُ نَبِيِّنَا خَاتَمَ الْأَنْبِيَاءِ لِأَنَّ خَاتَمَ الْقَوْمِ آخِرُ الْقَوْمِ ثُمَّ قَالَ وَنَفْيُ الْأَعَمِّ يَسْتَلْزِمُ نَفْيَ الْأَخَصِّ ؛

(۱۰) وَفِي الصِّحَاحِ وَخَاتَمٌ بِكَسْرِ التَّاءِ وَفَتْحِهَا كُلُّهُ بِمَعْنًى وَاحِدٍ وَالْجَمْعُ الْخَوَاتِمُ وَخَاتِمَةُ الشَّيْءِ آخِرُهُ وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ

## دَ خَاتَمُ النبیین لفظ او مفسرین کرام

دا صحابو کرامو نه د مرزا تر زمانې پورې یا دَ کُنه دُ ستو پورې دَ قرآن حکیم چه څومره تفاسیر یا ترجمې شوی دی ټولو دَ خاتم النبیین تشریح دا کړیده چه دَ حضور علیه السلام نه پس بل چا ته نبوّت نشی ملاویدې لیکن څه وخت چه گوروا سپوری دَ نبی جوړیدو وغم اُخوېولو په اول کښې خو نه بلکه په اخر کښې ئې دَ ختم نبوّت خپله عقیده او خپله تشریح دے دَ پاره بدله کړه چه بخپله هم نبی جوړ شی او په دے کښې دَ اُمید خلاف کامیابی ده نه اُشوه ،

دَ هغه خپل بیان دے چه څما دا گمان هُم نه وو چه مسلمانان به دَ نبوّت جاری پاتې کیدل قبول کړی، لیکن انگریزی تعلیم او دَ انگریزی حکومت حمایت او دَ دین دَ پوهے او عظمت ختمیدو دا نه کیدونکې کار کیدونکے کړو، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ○ تر دے چه دے مصنوعی نبوت دَ یو کامیابے او فائده منده فیکټری شکل اختیار کړو او مُرتد سازی له ئے دَ تبلیغ اسلام په نوم د فیکټری په آمدنۍ کښے بنه زیاتے اُ کړو،



او بل طرف ته دَ دے نبوّت په منونکو دَ عهد وا وتنخواگانو باران اُوورید دا نو په دے دوی محسوسه کړه چه دا ټول هر څه په دے خود ساخته نبوّت دَ ایمان دَ اورو برکت دے، یا په نورو نکو کښې دَ مرزا معجزه ده دَ کومے دَ چه اکثریت دَ مسلمانانو محروم دے، کچرے دَ حالاتو یا څوبنۍ دَ غفلت دا دفتارو و توجیبه نده چه دَ مسلمانانو په سر یو بل اسرائیل سورشی او دَ غه وخت به بیا هیڅ تدبیر څه کار نشی کولے ع

کشورے محکم اساسے بایدت
مُرشدِ رومی حکیم پاک زاد

دیدۂ مردم شناسے بایدت
سِرّ مرگ و زندگی بر ما کشاد

هر هلاک اُمت پیشین کے بود ؛ زانکہ بر جندل گمان بُردند عُود !

(اقبال مرحوم)

(۱) امام المفسرین ابن جریر طبری په خپل تفسیر کښې فرمائی :-

| | |
|---|---|
| وَلٰكِنَّهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ الَّذِيْ خَتَمَ النُّبُوَّةَ فَطَبَعَ عَلَيْهَا فَلَا تُفْتَحُ لِاَحَدٍ بَعْدَهُ اِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ وَبِنَحْوِ الَّذِيْ قُلْنَا قَالَ اَهْلُ التَّاْوِيْلِ (ج ۲۲ ص ۱۱) | یعنے دوی دَ الله هغه رسول او خاتم النبیین دی کوم چه نبوت ختم کړو او په هغے ئے مُهر اولگولو او دَ هغه نه پس به هیچا دَ پاره تر قیامته نشی پرانستے کیدے او همدغه |

ملک دَ تفسیر اماما نو، صحابه کراموا و تابعینو اُ فرمائیل

(۲) دَ حضرت علی بن حسین نه ابن جریر رح نقل کړی،

کَسْرِ التَّاءِ مِنْ خَاتِمِ النَّبِيِّيْنَ بِمَعْنٰى : خَاتِمُ النبیین ذات، په زیر چه معنے اَنَّهُ خَتَمَ النَّبِيِّيْنَ اِلٰى قَوْلِهِ وَقَرَءَ . یعنے داوی چه هغوی ټول انبیاء ذٰلِكَ فِيْمَا يُذْكَرُ الْحَسَنُ وَالْعَاصِمُ . ختم کړل په قاسیا نو کښې دَ حسن رح

وخاتم النبيين بفتح التاء بمعنى: او عاصم رح نه د (ت) په زور، خاتم) أنه آخر النبيين (جلد ۲۲ صـ ۱۱) نقل دے په دے معنی چه دے آخری پیغمبر دے،

(۳) تفسیر ابن کثیر کښ دی:-

فهذه الآية نص في أنه لا نبي بعده وإذا كان لا نبي بعده فلا رسول بالطريق الأولى لأن مقام الرسالة أخص من مقام النبوة فإن كل رسول نبي ولا ينعكس وبذلك وردت الأحاديث المتواترة من حديث جماعة من الصحابة (ابن کثیر جلد ۳)

دا ایت صریح نص دے چه د محمد صلی الله علیه وسلم نه پس بل نبی نشی جوړیدے چه نبی نشی کیدے نو رسول خو په طریق اولی نشی جوړیدے ځکه چه رسالت د نبوت نه خاص دے هر رسول نبی وی خو هر نبی رسول نه وی، په دے د رسول الله صلی الله علیه وسلم متواتر احادیث وارد شوی دی کوم چه د صحابه کرامو یو لوئے ډلی د حضور علیه السلام نه نقل کړیدی، وړاندے لیکی:-

ليعلموا أن كل من ادعى هذا المقام بعده فهو كذاب أفاك دجال (جلد ۸ صـ ۹): دے د پاره چه امت په دے خبر شی چه د حضور علیه السلام نه پس څوک چه د دے مقام (نبوت) دعوے کوی هغه دروغژن، دروغ تړونکے او دجال دے۔

(۴) تفسیر کشاف کښ دی:-

خاتم بفتح التاء بمعنى الطابع: خاتم د (ت) په زور معنی ئے (مهر) وبكسرها بمعنى الطابع وفاعل الختم: (او د (ت) په زیر معنی ئے مهر لګوونکے) وتقويه قراءة عبد الله بن مسعود رض ولكن نبيا ختم النبيين: او د دے معنی تقویت قرآن د عبد الله بن مسعود رضی الله د ولی چه دا قراءة کړیده (ولکن نبیا ختم النبیین)



فإن قلت كيف يكون آخر الأنبياء وعيسى عليه السلام ينزل آخر الزمان قلت معنى كونه آخر الأنبياء أنه لا ينبأ أحد بعده وعيسى ممن نبئ قبله:-

کچرے ته اووائی چه دے آخری نبی ځنګه کیدے شی چه عیسی علیه السلام به په آخره زمانه کښ د آسمانه راکوز یږی نو جواب ئے دا دے چه د حضور علیه السلام نه پس به بل څوک نبی نشی جوړ ولے او عیسی علیه السلام خو د وړاندے نه نبی جوړ دے،

(۵) په تفسیر روح المعانی کښ دی:

والمراد بالنبي ما هو أعم من الرسول فيلزم من كونه خاتم النبيين كونه خاتم المرسلين، والمراد بكونه خاتمهم انقطاع حدوث وصف النبوة في أحد من الثقلين بعد تحليه عليه السلام بها في هذه النشأة ولا يقدح في ذلك ما أجمعت عليه الأمة واشتهرت فيه الأخبار ولعلها بلغت مبلغ التواتر المعنوي ونطق به الكتاب على قول ووجب الإيمان وكفر منكره كالفلاسفة من نزول عيسى عليه السلام آخر الزمان لأنه كان نبيا قبل تحلي نبينا بالنبوة في هذه النشأة:

د نبی مطلب د رسول نه عام دے نو هر کله چه حضور علیه السلام خاتم النبیین شو نو خاتم المرسلین خامخا شو او د ختمولو مطلب دا چه نوے نبوت په ثقلینو (پیریانو، انسانو) کښ ختم شو هر کله چه نبی علیه السلام پیغمبر شو او ختم نبوت د دے عقیدے خلاف نه دے په کومے چه امت اجماع کړیده او په هغے کښے مشهور احادیث وارد دی او کیدے شی چه د تواتر معنوی درجے ته رسیدلی وی، او په کومے چه قرآن تصریح کړیده او ایمان په هغے واجب دے، او د دے منکر فلسفیان کافر شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَعْدَهٗ وَاَخْبَرَ عَنِ اللّٰهِ اَنَّهٗ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَاَنَّهٗ اُرْسِلَ اِلٰى كَافَّةِ النَّاسِ وَاَجْمَعَتِ الْاُمَّةُ عَلٰى حَمْلِ هٰذَا الْكَلَامِ عَلٰى ظَاهِرِهٖ وَاَنَّ مَفْهُوْمَهُ الْمُرَادُ بِهٖ دُوْنَ تَاْوِيْلٍ وَّلَا تَخْصِيْصٍ فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ قَطْعًا اِجْمَاعًا وَّ سَمْعًا ؛

ورکړے دے چه هغه آخری نبی دے او د هغه نه پس بل څوك نبی نشی کیدے او هغه ټولو خلقو ته لیږلے شوے دے او د دے کلام په ظاهری معنیٰ حملولو باندے ټول اُمت متفق دے چه تاویل او تخصیص پکښ نشته او د دے ټولو کُفر کښ هیڅ شک نشته کوم چه بله معنیٰ د دے خلاف کوی ؛

⑨ امام غزالی رحمه الله لیکی :-

اَنَّهٗ لَيْسَ فِيْهِ تَاْوِيْلٌ وَّلَا تَخْصِيْصٌ وَّ مَنْ اَوَّلَهٗ بِتَخْصِيْصٍ فَكَلَامُهٗ مِنْ اَنْوَاعِ الْهَذَيَانِ لَا يَمْنَعُ الْكُفْرَ بِتَكْفِيْرِهٖ لِاَنَّهٗ مُكَذِّبٌ لِهٰذَا النَّصِّ الَّذِيْ اَجْمَعَتِ الْاُمَّةُ اَنَّهٗ غَيْرُ مُؤَوَّلٍ وَّلَا مَخْصُوْصٍ (الاقتصاد) ؛ ؛

په دے آیت کښ تاویل او تخصیص نشته او چه څوك داسے کوی نو بکواس کوی او ده باندے د کُفر حکم کول هیڅوك نشی بندولے ځکه چه امت په دے متفق دے چه تاویل او تخصیص په دے کښ نشته

دغه رنګ د تفاسیرو په ټولو کتابونو کښ د (خاتم النبیین) هم دا معنیٰ بیان شویده او په آثارو کښ د غلور شپیتو صحابه کرامو نه د ختم نبوّت هم دا معنی مغقول ده :-

د تسلو نه زیاتو آیتونو د قرآن کښ په عموف انداز دا مسئله ثابته ده چه د حضور علیه السلام نه پس بل چاته پیغمبری نشی ورکولے چه هغه مرزا س د خوعنوانا تو په ذیل کښ بیانوو خو دے نه وړاندے د قادیانیانو د خو تحریفونو او شیطانی وسوسے لرے کول غواړو چه د خاتم النبیین آیت سره تعلق لری :-



(یعنی نزول د عیسیٰ علیه السلام په آخره زمانه کښ) ځکه چه دے خو بتر د نبی علیه السلام نه وړاندے نبی شوے دے ؛

(۶) په تفسیر مدارك کښ دی ؛

خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ بِفَتْحِ التَّاءِ فِيْ قِرَاءَةِ عَاصِمٍ بِمَعْنَى الطَّابِعِ اَيْ اٰخِرِهِمْ لَا يُنَبَّأُ اَحَدٌ بَعْدَهٗ وَعِيْسٰى مِمَّنْ نُّبِّئَ قَبْلَهٗ وَغَيْرُهٗ بِكَسْرِ التَّاءِ بِمَعْنَى الطَّابِعِ فَاعِلِ الْخَتْمِ وَتُقَوِّيْهِ قِرَاءَةُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

د عاصم رح په قراءت کښ د دے په زور د (خاتم النبیین) معنیٰ طابع یعنی آخر دے مطلب ئے دا دے چه د ده نه پس به بل نوے نبی نشی جوړولے او عیسیٰ علیه السلام خو د حضور علیه السلام نه وړاندے پیغمبر شوے دے ؛ او د عاصم نه بغیر د ټولو قاریانو قراءت د (ت) په زیر دے چه معنی ئے ختم کوونکے او مهر لګوونکے دے او د ابن مسعودؓ قراءت د دے تائید کوی ؛

(۷) په زرقانی شرح مواهب کښ دی (خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ) اَيْ اٰخِرُهُمْ د خاتم النبیین معنیٰ آخری نبی (جلد ۵ ص ۲۶۷) هم دا په تفسیر د بحر المحیط جلد ۷ ص ۲۳۶ او ابوالسعود په حاشیه د تفسیر کبیر جلد ۶ ص ۷۵۹ کښ لیکی ؛

(۸) شفاء قاضی عیاض رح په تفسیر د آیت (خاتم النبیین) کښ لیکی (طبع بریلی ص ۳۶۲) :-

مَنِ ادَّعٰى مِنْهُمْ اَنَّهٗ يُوْحٰى اِلَيْهِ ؛ چه څوك د وحی دانلوخیل ځان ته وَاِنْ لَّمْ يَدَّعِ النُّبُوَّةَ اِلٰى اَنْ قَالَ ؛ دعویٰ لری اګر چه دعوه د نبوّ فَهٰؤُلَاءِ كُلُّهُمْ كُفَّارٌ مُّكَذِّبُوْنَ ؛ ئے نه وی خو دا ټول کافر دی نبی النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَنَّهٗ ؛ علیه السلام ته د دروغو نسبت اَخْبَرَ اَنَّهٗ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَلَا نَبِيَّ ؛ کوونکی دی، ځکه چه هغهؐ خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رومبے تحریف** | کچرے دَ خاتم النبیین معنیٰ آخری نبی وی نو دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نزُول کَ دے خلاف

دے ډے جواب تیر شو چه دَ ختم نبوت معنیٰ دَ نوی نبوت کرودگیدو بندیز دے دَ زوړ پیغمبر نه پیغمبری واپس اغستل نه دی، مُراد، په دور محمدی کښ دَ عیسیٰ علیه السلام را تلل داسے دی لکه یو گورنر دَ صوبے دَ بل گورنر صوبے ته په دے حیثیت را شی چه دَ دغے صوبے دا حکام دَ لاندے به وی، بلکه په غور او ژور کتلو سره معلومیږی چه دَ عیسیٰ علیه السلام را تلل، دَ ختم نبوت دلیل دے، کچرے آئنده کښ دَ نبوت سلسله ختمه نه وے نو دَ تیرشوو پیغمبرانو نه راوزے دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ راوستلو هیڅ ضرورت نه وُو، دَ ټولو نه دَ یو پیغمبر (عیسیٰ علیه السلام) راوستل دَ دے خبرے دلیل دے، چه دَ انبیاء علیهم السلام شمیر دَ حضور علیه السلام په نبوت ختم شو، لهٰذا دَ ټولو نه هم دغه یو پیغمبر ځکه مخصوص کړی شو

**دویم تحریف** | دَ خاتم معنیٰ مُهر دے یعنی دَ حضور علیه السلام نه رُستو کچرے پیغمبر جوړیدو نو ده علیه السلام

په مُهر او تصدیق سره به جوړیږی، نو اول خو موږ ته دا تپوس کول په کار دی چه دا معنیٰ دَ عربی لغت په کوم کتاب کښ لیکلے ده او په کوم حدیث کښ بیان ده او په کوم تفسیر کښ دا تشریح شوی ده؟

په قرآن، متواتر حدیثو او اجماع اُمت کښ خو دَ مُهر معنیٰ بندیز دا غلے ده لکه خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ او اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓی اَفْوَاهِهِمْ نو دَ دے ټولو په خلاف دَ مُهر معنیٰ جاری کول کله کیدے شی، ځکه چه ځنی مرزائیان هم دَ مُهر معنیٰ بندیز کړیده، او کچرے جاری کول مُراد وی، نو بیا دے کښ دَ حضور علیه السلام څه خصوصیت شو چه دَ نورو پیغمبرانو نه پس نبوت او دَ حضور علیه السلام نه پس هم جاری او کچرے دے نه مطلب نبوت جاری ساتل وے نو په دے



خوارلس سوه کالو کښ کم نا کم سل نبیان خو به راغلی وو کنه چه دَ حضور علیه السلام کمال خو بنه ښکاره شوے وے کنه، او کچرے نبوت دَ حضور علیه السلام په تابعداری ملاویدے، نو بیا به دا کسبی وے وهبی به نه وے، دَ دے نه علاوه په دے صُورت کښے به دا هم منل پکار وی، چه په دے خوارلس سوه کاله کښ دَ پیغمبر اسلام صلے اللّٰه علیه وسلم، داسے یو کامل متبع پیدا نشو چه دَ هغے په بدل کښے هغه ته نبوت ورکړے شوے وے، په دومره زمانه کښ هیله دَ انګریز په مهربانئ یوازے په آدیه ورت کښ هم یو پیدا شو چه دَ هغه تر آخره ځنیل نبوت کښ شک وو، کله اقرار او کله به ئے انکار نز دے چه دَ هغه منونکی په دوو ټولو کښ تقسیم شو:-

**دریم تحریف** | په آیت دَ خاتم النبیین کښ د (النبیین) الف لام ذهنی یا عهد خارجی دے

چه مطلب ئے صرف تشریعی انبیاء دی گویا که حضور علیه السلام دَ تشریعی انبیاؤ خاتم دے، جواب دا دے چه عهد خارجی دَ پاره په تیرشوی کلام کښ دَ تشریعی انبیاؤ علیهم السلام ذکر ضروری دے خو دلته نشته او عهد ذهنی دَ پاره دا ضروری ده چه استغراق هلته ممکن نه وی لکه اَکَلَهُ الذِّئْبُ او اِشْتَرِ اللَّحْمَ عِنْدَ عَامَّةِ اَهْلِ الْاُصُوْلِ وَالْعَرَبِيَّةِ لَامُ التَّعْرِيْفِ سَوَاءٌ دَخَلَتْ عَلَى الْمُفْرَدِ اَوِ الْجَمْعِ تُفِيْدُ الْاِسْتِغْرَاقَ اِلَّا اِذَا كَانَ مَعْهُوْدًا (كليات ابي البقاء ص٥٢٣) وَفِي الْكَشْفِ ج١ ص٢٢ وَاِنْ دَخَلَتْ عَلَى جمع وفي الرضي ج٢ ص١٣ فَاِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْبَعْضِيَّةِ لِعَدَمِ دَلِيْلِهَا وَجَبَ كَوْنُهَا لِلْاِسْتِغْرَاقِ:-

**څلورم تحریف** | خاتم النبیین کښ الف لام استغراقِ حقیقی

دپاره نه دے بلکه دَ عُرفی دَپاره دے، یعنے تش یو انبیاء مُراد دی
نهٔ چه مطلق انبیاء لکه رو یَقْتُلُوْنَ النَّبِیّٖنَ) کښ چه صرف بعضے هغه
انبیاء مُراد دی چه دَ بنی اسرائیلو په زمانه کښ وو، جواب ئے دا دے
چه استغراقِ عُرفی هلته اخستے شی کوم ځائے چه استغراقِ حقیقی
ممکن نهٔ وی لکه رجَمَعَ الْاَمِیْرُ الصَّاغَةَ) ځکه چه دَ ټولے دُنیا دَ
زرګرانو راجمع کول دَ عُرف او عادت په لحاظ مُمکِن نهٔ دی، لیکن
په رخاتم النبیین) کښ بے تکلُّفه استغراق درست دے، او
یَقْتُلُوْنَ النَّبِیّٖنَ) کښ استغراق ممکن نهٔ دے، مُونږ تپوس کوو
چه وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِیّٖنَ،
دا رنګ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِایْٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ، وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ
مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ کښ استغراق حقیقی مُراد دے او که عُرفی؟

## پنځم تحریف

دَ خاتم معنیٰ دَ ګوتے غمے دے چه مطلب ئے زینت (ښائست) دے یعنی حضور علیه
السلام دَ انبیاؤ علیهم السلام ښائست دے، جواب ئے دا دے چه حقیقی
معنیٰ مراد اخستل تر هغے محال نهٔ دی تر څو چه مجازی معنیٰ مراد اخستل
صحیح نهٔ وی او دلته خو حقیقی معنیٰ مُراد اخستل صحیح دی او لغت،
حدیث، او اجماع دا معنیٰ متعین کړے ده لهٰذا دلته مجازی معنے اخستل
غلط دی که داسے نهٔ وی نو بیا به دَ قرآن دَ یو لفظ معنے هم نشی
متعین کیدے او هر لفظ به دَ مجاز اتلو او تاویلاتو کار ه جوړه شی
او حقیقت به ورک شی، دَ صوم، صلوٰة او زکوٰة ټولو معنیٰ به بدلے شی.

دَ خاتم النبیین آیت نه پس مونږ دَ قرآنِ حکیم څو نور آیتونه پیش کوو

**کمالی دلیل:-** دویم آیت، اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ
عَلَیْكُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا (المائده آیة ۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دے آیت کښ دَ دین دَ کمال اعلان اُشو دَ بخاری دَ حدیث په مُوجب
هغه ورځ دَ عرفے وه، مظهری کښ دی چه دے نه پس حضور علیه السلام
یو اتیا ورځے ژوندے وو، ابن کثیر دَ دے آیت په باره کښ لیکی، چه دا آیت
په اُمت دَ ټولو نه لوئے نعمت دے، حَیْثُ اَكْمَلَ لَهُمْ دِیْنَهُمْ فَلَا
یَحْتَاجُوْنَ اِلٰی دِیْنٍ غَیْرِهٖ وَلَا اِلٰی نَبِیٍّ غَیْرِ نَبِیِّهِمْ وَلِهٰذَا جَعَلَهٗ خَاتَمَ
الْاَنْبِیَاءِ وَبَعَثَهٗ اِلَی الْاِنْسِ وَالْجِنِّ

امام رازی رح دَ دے آیت په تفسیر کښ لیکی، اِنَّ الدِّیْنَ مَا كَانَ نَاقِصًا
اَلْبَتَّةَ بَلْ كَانَ اَبَدًا كَامِلًا كَانَتِ الشَّرَائِعُ النَّازِلَةُ كَافِیَةً فِیْ ذٰلِكَ
الْوَقْتِ اِلَّا اَنَّهٗ تَعَالٰی كَانَ عَالِمًا فِیْ اَوَّلِ وَقْتِ الْبِعْثَةِ بِاَنَّ مَا هُوَ
كَامِلٌ فِیْ هٰذَا الْیَوْمِ لَیْسَ بِكَامِلٍ فِی الْغَدِ وَلَا یُصَالِحُ فِیْهِ لَاجَرَمَ كَانَ
یَنْسَخُ بَعْدَ الثُّبُوْتِ وَكَانَ یَزِیْدُ بَعْدَ التَّحَكُّمِ وَاَمَّا فِیْ اٰخِرِ زَمَانِ
الْبِعْثَةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ شَرِیْعَةً كَامِلَةً وَحَكَمَ بِبَقَائِهَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ
فَالشَّرْعُ اَبَدًا كَانَ كَامِلًا اِلَّا اَنَّ الْاَوَّلَ كَمَالٌ اِلٰی یَوْمٍ مَخْصُوْصٍ وَ
الثَّانِیْ كَمَالٌ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ فَلِاَجْلِ هٰذَا الْمَعْنٰی قَالَ اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ
لَكُمْ دِیْنَكُمْ:- دا آیت په لاندینو وجهو په ختم نبوّت دلالت کوی

(۱) دَ دین کمال پخپله دَ دے دلیل دے چه دَ حضور علیه السلام بعثت
دَ ټولو نه آخر کښ اُشو چه دَ نبوّت په فهرست کښ هیڅوک نبی
باقی پاتے نشو:-

(۲) دَ نبی را تګ په دین کښ دَ پاتے نقص لرے کولو دَ پاره، یا خو دَ
پورے دَ چلیدو نکو احکامو د نسخ دپاره یا په دین کښ دَ کړے شوی
تحریف لرے کولو دَ پاره وی لیکن قرآن او دینِ اسلام کامل دے
په دے کښ ترمیم او تنسیخ نشی کیدے او په (اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ
اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ⓚ) کښ دَ قرآن دَ الفاظو و معنو بلکه دَ تلفظ دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حفاظت اعلان دے لهٰذا د تحریف لرے کولو هم ضرورت نشته
باقی د تجدید او تبلیغ کار ټول اُمّت ته په جمع ورکړے شوید ے لکه
فرمائی كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ
تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط . نو ځکه د بل نبی ضرورت پاتے نشو۔
(۳) کچرے نبوّت جاری وی نو دین اسلام به ناقص پاتے شی او د اسلام
ټول احکام به فضول ثابت شی ځکه چه ټول پورے مسلمانان په دے
نوی نبی ایمان نه راوړی، نو په قرآن، حدیث او په ټول اسلامی
شریعت د اوّل نه تر آخره د ایمان راوړو باوجود به کافر او همیشه
جهنمی وی، نو دین کمال به په دغه نبی ایمان راوړو پورے منحصر وی
او په هغه به د ایمان راوړو نه بغیر دین نامکمّل بلکه کالعدم وی،

## میثاقی دلیل

ایت د وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّ
حِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَ
لَتَنْصُرُنَّهٗ ط: یعنی څه وخت چه الله تعالیٰ د نبیانو علیهم السلام نه
وعده واغسته چه څه به تاسو ته کتاب او حکمت درکوم او د هغے نه
رستو دا یے رسول راشی چه ستاسو د آسمانی کتابونو تصدیق کوی
نو تاسو به په هغه ایمان راوړئ او د هغه مدد به کوئ ـــ دا د ټولو
انبیاؤ علیهم السلام نه په عالَم ارواح کښے وعده اغستے شوے وه
په دے آیت کښ (ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ، نه حضرت نبی کریم صلی
الله علیه وسلم مُراد دے او د دوی د ټولو انبیاؤ نه روستو تشریف
راوړل ثابتیږی چه د دے خبرے دلیل دے چه مشیت الٰهی کښے
څومره انبیاء علیهم السلام چه مقدر وو، نو هغه ټول ئے د حضور
علیه السلام نه وړاندے مبعوث کړل او دوی علیه السلام ئے د ټولو



نه په آخر کښ راولیږلو د دے نه دا هم معلومه شوه چه د دوی بعثت د
بندیز باعث نه بلکه د ټولو په آخر کښ د دوی علیه السلام مبعوث کول
د الله په مشیّت کښ مُقدّر وو،

## د بعثت عمومی دلیل

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ
اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا ۨالَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج (الاعراف آیة ۱۵۸) او تَبٰرَكَ الَّذِيْ
نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ○ (سورة الفرقان
آیة ۱) او وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ○ (سورة الانبیاء
آیة ۱۰۷) دا ټول دلالت کوی چه د نبی کریم صلّی الله علیه وسلم بعثت ټولو
قومونو او زمانو د پاره وو او تر قیامته پورے انسانان د دوی علیه السلام
په اُمت کښے شامل دی، دا دلیل دے چه د دوی علیه السلام نه پس به بل
څوک نه مبعوث کیږی، او د دوی علیه السلام په موجودګئ کښے د بل
نبی راتلو ضرورت ځکه نشته، چه دوی علیه السلام اَكْمَلُ الْاَنْبِيَآءِ
دی، لکه چه نمر نه پس د ډیوے بلولو او د یاب نه پس د بړغ ضرورت
نشته، په (مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ) کښ ږُوجے د حضور
علیه السلام د نسبی پلار والی نفی اُشوه، او په (وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ
خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ) کښ ئے د روحانی او دینی پلار والی نفی ثابته معلومه
شوه چه د حضور علیه السلام په دینی پلار والی کښ د بل چا شرکت
نشی کیدے لکه څنګه چه په نسبی پلار والی کښ دَرسره هیڅوک شریکیدے
نشو ځکه چه د یو سړی هیچرے دوه نسبی پلاران نشی کیدے،
نو د یو اُمّت دوه روحانی پلاران څنګه کیدے شی، هیچرے نشی کیدے

**د وحی قبلی دلیل**، يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ
قَبْلِكَ (سورة البقرة آیة ۴ (۲) وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ، (سورۃ الانبیاء آیۃ ۲۵)

(۳) وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ (الزمر آیۃ ۶۵)

(۴) وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ سورۃ الفرقان آیۃ ۲۰)

(۵) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ (سورۃ الانعام آیۃ ۴۲)

(۶) قُلْ قَدْ جَاءَكُمْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِي بِالْبَيِّنَاتِ (سورۃ آل عمران آیۃ ۱۸۳)

(۷) وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ سورۃ فاطر آیۃ ۳۱)

په دے ایتونو مبارکو کښے او په دا سے نورو آیتونو مبارکو کښے د وحی الٰهی ذکر دا سے ذکر دے چه هغه ئے په قید د (قبلیت) سره مقید کړے شوے دے، کچرے مابعد کښ څوک وحی یا نبوت وے نو دا (قید) د گمراه کولو سبب وو، ځکه چه بیا به د "ماقبل" د وحی سره د "مابعد" د وحی هم ذکر کول ضروری وو او (مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ) سره به د (مِنْ خَلْفِهِ) ذکر هم ضروری وے او کم نا کم، وحی، خو به ئې (مطلق) پریښے وه چه د مابعد د وحی گنجائش پکښ هم پاتے وے.

## وعدی دلیل

فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

سورۃ الاعراف آیۃ ع ۱۵۷)؛

دا سے ټول آیتونه په کوموکښ چه صرف د الله او رسول په اطاعت د جنت او فلاح وعده شوے ده، نو دا د نبوت د ختمید و دلیل دے ولے که بل نبی را تلے ظلق وے او که بروزی، نو جنت او فلاح به د هغه په منلو هم موقوف وے، نو بیا به د دا سے آیتونو مضمون درست نه وے.



بهرکیف دے نه هم معلومیږی چه وحی بنده ده.

## حدیث او ختم نبوت

(۱)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ مَرْفُوعًا أَنَّ مَثَلِي وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَىٰ بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَتِهِ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيُعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ هَلَّا وُضِعَتْ هٰذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ؛

د ابو هریرۃ رضی الله نه مرفوعًا روایت دے، چه زما او زما نه د مخکښې د انبیاء علیهم السلام مثال دا سے دے چه یو سړے کور جوړ کړی او هغه ښائسته کړی مگر د یو خښتے ځائے په یو گوټ کښ پریږدی، خلق هغے سره تیریږی او خوشحالیږی او وائی چه دا یوه خښته ئې ولے نه ده

ایښے! نو وے فرمائیل، چه دغه آخری خښته زه یم او زه خاتم النبیین یم:۔

(۲)

إِنَّ لِي أَسْمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ إِلَى قَوْلِهِ وَأَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ (بخاری و مسلم)؛ زما ډیر نومونه دی زه محمد یم او زه احمد یم تر دے وینا مبارکے چه زه عاقب یم او عاقب هغه وی چه د هغه نه پس بل نبی نه وی (بخاری مشکوٰۃ شریف باب ع)

(۳) لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، کچرے زما نه پس بل نبی وے نو هغه به عمر رض وو (مشکوٰۃ مناقب عمر رض ازالۃ الاوهام ص ۲۳۶ ج ۹۰)

(۴) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَىٰ إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي (بخاری و مسلم، مشکوٰۃ باب مناقب علی)، حضور علیه السلام اُو فرمائیل علی ته، فرمائیل چه ته زما دا سے ئے لکه هارون علیه السلام چه د موسیٰ ؑ وو صرف دومره ده چه زما نه پس بل نبی نشته

(۵) كَانَتْ بَنُوْا إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ وَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ (بخاری شریف جلد ۱ ص ۴۹۱ ومسلم کتاب الایمان)

ترجمه : د بنی اسرائیلو د سیاست واکے د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس کښ به وه، چه یو نبی به فوت شو نو د هغه جانشین به بل نبی وو مګر ځما نه پس بل نبی نشته عنقریب د خُلفاءِ

کوامو سلسله به شروع شی چه کثیر به وی

مرزا ایلی چه وحی اور سالت به ختم وی مګر ولایت، امامت او خلافت به کله نه ختمیږی (مکتوب مرزا تشحیذ الاذهان جلد اول ص ۱)

(۶) إِنَّ الرِّسَالَةَ وَالنُّبُوَّةَ قَدِ انْقَطَعَتْ : رسالت او نبوت ختم دے د دے فَلَا رَسُوْلَ بَعْدُ وَلَا نَبِيَّ (ترمذی وصححه) : نه پس نه به رسول وی،

تحفۂ بغداد مرزا ص ۶ و مرزا ازالۂ اوهام ص ۶۱ کښ لیکی چه اوس او نه نبی وحی او رسالت تر قیامته ختم دے، په آئینهٔ کمالات ص ۳۷۷ کښ لیکی زما سره به هیچرے اُنشی چه الله تعالیٰ ځمونږ د نبی علیه السلام نه پس بل څوک نبی کړی او وے لیږی او دا به هم اُنشی چه سلسله د نبوت ختمیدو نه پس بیا جاری کړی" په حمامة البشری ص ۳۴ کښ لیکی "چه د حضور علیه السلام د وفات نه پس وحی ختمه شوه او الله تعالیٰ په ده علیه السلام د نبیانو خاتمه کړه" حقیقة ص ۶۴ ضمیمه عربی کښ لیکی إِنَّ رَسُوْلَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَعَلَيْهِ انْقَطَعَتْ سِلْسِلَةُ الْمُرْسَلِيْنَ،

(۷) عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى مَرْفُوْعًا أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمُقَفِّيْ (رواه مسلم جلد دوم ص ۲۶۱) قَالَ النَّوَوِيُّ الْمُقَفِّيْ الْعَاقِبُ، یعنی زه آخر الانبیاء یم

(۸) أَبُوْ نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ مَرْفُوْعًا : ګُوره ومبے نبی آدم علیه السلام يَا أَبَا ذَرٍّ أَوَّلُ الْأَنْبِيَاءِ آدَمُ وَآخِرُهُمْ مُحَمَّدٌ : او آخر محمد صلی الله علیه وسلم دے، ابن حجر په فتح الباری کښ دے حدیث ته صحیح و ئیلی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرزا په حقیقة الوحی ص ۱۴۱ کښ لیکی، او د تولو نه آخرے محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم پیدا کړو چه خاتم الانبیاء او ختم الرسل دے،

(۹) عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ مَرْفُوْعًا أَنَا آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَأَنْتُمْ آخِرُ الْأُمَمِ : یعنی زه آخر الانبیاء او تاسو آخر الامم یئی (ابن ماجه)

(۱۰) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى مَرْفُوْعًا لَيْسَ يَبْقٰى بَعْدِيْ مِنَ النُّبُوَّةِ : یعنی ځما نه پس به سوا د رښتیا بونو إِلَّا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ (نسائی وابوداؤد) بل هیڅ برخه پاتے نشی،

(۱۱) رنګ (أَنَا آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَمَسْجِدِيْ آخِرُ الْمَسَاجِدِ) (مسلم جلد اول ص ۴۴۶) وَفِي الْبَزَّارِ وَمَسْجِدِيْ آخِرُ مَسَاجِدِ الْأَنْبِيَاءِ، یعنی زه آخری نبی یم او ځما جُمات د انبیاء علیهم السلام د جُما تونو خاتم دے

دا رنګ د دوه سوو نه زیات احادیث د ختم نبوت باره کښ موجود دی او په دے عقیده قائمه شوید ه، د قرآن په هیڅ آیت او د احادیثو په هیڅ حدیث کښ د نبوت د سلسلے جاری کولو خبر نه دے ورکړے شوے نه د صحابه کرامو رض نه د تابعینو او تبع تابعینو رح، نه د دوی نه پس زمانے سوا د مرزا د چا دا عقیده پاتے شویده، په دا سے صورت کښ محض قیاس نه غلولو او لوی تراشلی تاویلونو سره د نبوت د جاری کولو عقیده پیدا کول د عقل او دین نه د محرومئی څو مره غټ دلیل دے،

اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْ هٰذِهِ الشَّقَاوَةِ :

## ختم نبوت او اجماع اُمت

ابن خلدون لیکی، چه په دے اُمت کښ ړومبی اجماع، د نبوت دعوے کولو په وجه د مسیلمهٔ کذاب په کفر او قتل اُشوه او د هغه نو دے خزا بئ صحابه کرامو رض ته د هغه د قتل نه پس معلومه شوے او دغه رنګ بے اختلافه اجماع صدیق په صدیق کے نبوت د دعویدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کفر، ارتداد او قتل باندې جاري ده او په دې کښې د تشريعي او د غير تشريعي نبوّت هيڅ تفصيل نه دې بيان شوې. خاتم النبيين للشيخ الانور ص۳۳ و ۳۴، علامه قاري شرح فقه اکبر مجتبائي ص۲۰۲ کښې ليکي دعوى النبوّة بعد نبينا کفر بالإجماع، دغه رنګ د تفسير په عامو کتابونو، د حديثو په شرحو او د علم کلام په کتابونو کښې د مدعي نبوّت په کفر د اجماع امّت تصريح شوې ده:-

## ختم نبوت او درايت

د الله نه بغير د هر څيز شروع او ختميدل دواړه وي د نبوّت هم شروع او ختميدل ضروري دي، د انساني ژوندګ و مثې زمانه د ماشوموالي وه، رو رو انساني عقل کښې اضافه کيدله لکه څنګه چه د ماشوم والي د وخت لباس د ماشوم د بدن د ودې په حواله بدليږي. د خاتم الانبياء عليه السلام زمانې پورې د انساني عقل او شعور وده مکمله شوه نو د غه وخت انسان ته د کامل شريعت او نبوّت غونډې نعمت عطا کولو ضرورت وو چه قرآن په اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ سره د شريعت کامله عطا کولو اعلان اوکړو، او اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ○ سره د دين او شريعت د حفاظت هم اعلان اوشو دے له پاره چه انسان د بل نبي د راتلو نه په مستقبل کښې بالکل بے طمع شي، ځکه چه تکميل دين او حفاظت دين دواړه شويدي د کوم د پاره چه د نبي د راتلو ضرورت وي تبليغ خو د امّت او د علماء کرامو کار دے چه د هغې د پاره د نبي ضرورت نشته لکه قرآن کښې دي. كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ، او وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ، او د مثال په توګه امّت د تبليغ فريضه په قول د ډاکټر سنتهه يواز ے شيخ معين الدين



نوي (۹۰۰۰۰۰) لکه هندوان مسلمانان کړل" ادا کړه (نقش حيات) تاريخ اسلام د دې ګواه دے چه حضور عليه السلام د خپل وصال نه پس تقريباً يو لک يا پاؤ باندې لګ مسلمانان پريښي وو او نن نوي کروړه ...... مسلمانان دي، چه د امت په تبليغ مسلمانان شول، نو دا څومعقول کار دے چه امت په کوشش نو او تبليغ سره دنوي کروړه مسلمانان په دنيا کښې موجود وي لا تبليغ جاري دے او بيا د هم د کوم يو نبي د راتلل ضروري وي چه دے کروړونو مسلمانانو ته کافرا اوائي او يواز ے يو څو مريدانو او چيله ګانو ته مسلمانان اوائي ګويا دده راتلل د کافرانو مسلمانانولو د پاره نه بلکه د مسلمانانو کافرولو د پاره دي فتلّموا فتلّمو

## د مرزائي وسوسو جواب

د نبوّت مسئله داسې بنيادي ده چه د کفر او ايمان په مينځ کښې د فرق او ستونکي توله کار کوي، هر کله چه مرزايانو د نبوّت جاري ساتلو مسئله د قرآن، حديث، اجماع امت، صحابهٔ تابعين، فقهاء، متکلمين او د محدثينو نه خلاف بيامونده، نو خپلو پېښوراتينګلو د پاره ئې د يو څو مصنفينو د په مبهمو عبارتونو دا نره اوکړه اګرچه په لوړو ځايونو کښې هم دغه مصنفينو په خپلو صريحو عبارتونو د حقيقت صفا ښکاره کړې دے خو سودا بوده کول هم يو لوئے مرض دے چه هغې نه د خلاصيدو اس د چا نه رسي نو دا وسوسې او دليلونه موږ ښکاره کوو او ور سره د جوابونه ور کوو:-

## په حضرت عائشه رض مرزائي افتراء

مرزايان وائي چه حضرت عائشې رض فرمائيلي دي، قُوْلُوْا اَنَّهٗ خَاتَمُ الْاَنْبِيَاءِ وَلَا تَقُوْلُوْا لَا نَبِيَّ بَعْدَهٗ، دا حديث په دُر منثور کښې د خاتم النبيين د آيت تشريح د پاره، او د مجمع البحار په تکمله کښې په صنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته خو اصلی عبارت بل شان دے چه مرزا یانو پکښې ډوکے کړیان
ګټ ګوټ کړے دے. دا لفظ صدیقه رض د حضرت عیسی علیه السلام په
سلسله کښې ارشاد فرمائیلے دے رَاَصْلُهَا فِیْ حَدِیْثِ عِیْسٰی اَنَّهٗ یَقْتُلُ
الْخِنْزِیْرَ وَیَکْسِرُ الصَّلِیْبَ وَیَزِیْدُ فِی الْحَلَالِ اَیْ یَزِیْدُ فِیْ حَلَالِ نَفْسِهٖ
بِاَنْ یَّتَزَوَّجَ وَیُوْلَدَ لَهٗ وَکَانَ لَمْ یَتَزَوَّجْ قَبْلَ رَفْعِهٖ اِلَی السَّمَآءِ
فَزَادَ فِی الْهُبُوْطِ فِی الْحَلَالِ فَحِیْنَئِذٍ یُؤْمِنُ کُلُّ اَحَدٍ مِّنْ اَهْلِ الْکِتَابِ
وَیَتَیَقَّنُوْنَ اَنَّهٗ بَشَرٌ وَعَنْ عَائِشَةَ رض قُوْلُوْا اِنَّهٗ خَاتَمُ الْاَنْبِیَاءِ وَلَا
تَقُوْلُوْا لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ، د دے پوره عبارت نه معلومه شوه چه
صدیقه رض اُ فرمائیل چه حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته ختل
نه وړاندے نکاح نه وو کړے آسمان نه را کوزیدو نو پس به نکاح کوی
اولاد به ئے هم کیږی او په حلالو کښې د اضافے مطلب هم دا دے دغه
خوړل او صلیب پرستی خاتمه به اُ کړی او ټول اهل کتاب به د ده په
او بشریت ایمان او یقین راوړی نو په دے وجه حضور علیه السلام ته خا
الانبیاء وائی لیکن لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ په دے بنیا د منه وائی چه د حضرت عیسی
علیه السلام د آسمان نه د را کوزیدو انکار اُ کړی، د هغوی بنګا
مقصد دا اُوو، چه حضور علیه السلام خاتم الانبیاء هم دے او د هغه نه
بل نوے نبی نشی جوړے دے دروسمی جوړ نبی حضرت علیه السلام د
راتلو د انکار د پاره دا لفظ مه استعمالوئ، حُکه چه صدیقه رض
د نوی نبوت د نفی قائله ده مسند احمد جلد ۶ ص ۱۲۹ کښې صدیقه
حضور علیه السلام نه مرفوعًا روایت کړیده رلَا یَبْقٰی بَعْدِیْ مِنَ النُّبُوَّةِ
اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ وَالرُّؤْیَا الصَّالِحَةُ، خو دا روایت د عائشے رض مجهول
هم دے

## په حضرت علی دروغ تړل

داچه حضرت علی د حسنینو اُستاذ ابوعبدالرحمن السلمی ته وئیلی وو چه او



وی ته رخاتم، په زور لولوه. د دے جواب ښکاره دے چه د حضرت علی
په یز د راجح قرأت د زور واله وو او موږ یو ها ندے په دلیلونو بیان کړه
ے چه د معنے په لحاظ د فتحے او کسرے فرق نشته پخپله حضرت علی رض د
نبوت د بندیز د حدیث راوی دے. بخاری او مسلم کښې شته چه اَنْتَ
مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هٰرُوْنَ مِنْ مُّوْسٰی اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ

## په شیخ اکبر رح دروغ تړل

داچه شیخ اکبر رح ولی د پاره نبوت ثابت کړیدے، جواب دا دے چه د
صوفیا کرم په اصطلاح کښې د نبوت لغوی معنی اِنْبَاءٌ عَنِ الْغَیْبِ
مُطْلَقًا وَحْیًا اَوْ اِلْهَامًا، هغوی وحی ته شرع او الهام ته غیر شرع وائی
کوندی هسے خو شیخ اکبر رح دا منی چه د شرعی نبوت دروازه بنده ده لکه
په فتوحات مکیه جلد ۲ ص ۴۹۵ کښې لیکی، اِنَّ الرُّؤْیَا جُزْءٌ مِّنْ اَجْزَاءِ
النُّبُوَّةِ فَبَقِیَ لِلنَّاسِ فِی النُّبُوَّةِ هٰذَا وَغَیْرُهٗ وَمَعَ هٰذَا لَا یُطْلَقُ اِسْمُ
النُّبُوَّةِ وَلَا النَّبِیِّ اِلَّا عَلَی الْمُشَرِّعِ اَیْ صَاحِبِ الْوَحْیِ خَاصَّةً او ص ۷۲
کښې لیکی، فَمَا تُطْلَقُ النُّبُوَّةُ اِلَّا لِمَنِ اتَّصَفَ بِالْمَجْمُوْعِ فَذٰلِكَ النَّبِیُّ
وَتِلْكَ النُّبُوَّةُ حُجِرَتْ عَلَیْنَا وَانْقَطَعَتْ، او هم دغه نه په الیواقیت
جلد ۲ ص ۳۸ طبع مصر کښې نقل دی. هٰذَا بَابٌ اُغْلِقَ بَعْدَ مَوْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ
وَسَلَّمَ لَا یُفْتَحُ لِاَحَدٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ لٰکِنْ بَقِیَ لِلْاَوْلِیَاءِ وَحْیُ الْاِلْهَامِ
الَّذِیْ لَا تَشْرِیْعَ فِیْهِ:

## په امام راغب دروغ تړل

داچه په بحر المحیط جلد دریم ص ۲۸۶ کښې د امام راغب په حواله دا خبره
موجوده ده چه په ارباب اطاعت کښې به نبی د نبیانو سره شامل وی
جواب دا دے چه د نه مراد د مومنو انبیاء علیهم السلام وی حُکه
چه امام موصوف د ختم نبوت تصریح کړیده لکه چه د ختم نبوت مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسے بیا نوی، اَنَّهٗ خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ لِاَنَّهٗ خَتَمَ النُّبُوَّةَ اَیْ تَمَّمَهَا بِمَجِیْئِه

## په جلال الدین رُومی رح دروغ تړل: نوائی،

فکر کن در راه نیکو خدمتے — تا نبوت یابی اندر اُمتے!

دَ دے نبوّت مقصد هغه قُربِ الٰهی دے چه دَ نبوّت د فیض نه حاصلیږی اصل نبوّت نږ مطلب نهٔ دے ځکه چه رومی رح پخپله دَ خَتمِ نبوّت قائله دے، لکه د دفتر پنجم کښ لیکی: ع

با رسول الله رسالت را تمام — تو نمودی همچو شمس بے غمام

او په څلورم دفتر کښ لیکی ع

این همه افکار کفران زادشان — چون در آمد سیّد آخر زمان

## په علامه قاری دروغ تړل

په موضوعات کبیر ص۵۸ کښ دا حدیث، لَوْعَاشَ اِبْرَاهِیْمُ لَکَانَ نَبِیًّا قُلْتُ مَعَ هٰذَا اَیِ الضُّعْفِ لَوْعَاشَ اِبْرَاهِیْمُ وَصَارَ نَبِیًّا وَکَذَا لَوْصَارَ عُمَرُ رض نَبِیًّا لَکَانَ مِنْ اَتْبَاعِهٖ عَلَیْهِ السَّلَامُ کَعِیْسٰی وَخِضْرَ وَالْیَاسَ عَلَیْهِمُ السَّلَامُ فَلَا یُنَاقِضُ قَوْلَهٗ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ اِذِ الْمَعْنٰی لَوْیَاْتِیْ نَبِیٌّ بَعْدَهٗ یَنْسَخُ مِلَّتَهٗ وَلَمْ یَکُنْ مِّنْ اُمَّتِهٖ"

دد ے جواب دا دے چه دَ ابراهیم او عمر رض نبوّت که وے، هُم نو دَ حضور علیه السلام په وخت کښ به وو نهٔ چه دَ حضور علیه السلام



نه دَ ستون زمانه کښ لکه چرے عیسیٰ، خضر او الیاس علیهم السلام راځی نو هغه پخوانی (وړاندینی) پیغمبران ع دی نوی نه دی او چه را ځی نو دَ اُمّتی په حیثیت به راځی، پخپله علامه قاری رحمه الله تعالیٰ په شرح شمائل باب اول ص۳۳ کښ فرمائیلی دی،

اَنَّهٗ خَتَمَهُمْ اَیْ جَاءَ اٰخِرَهُمْ فَلَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ اَیْ لَا یُنَبَّأُ اَحَدٌ بَعْدَهٗ فَلَا یُنَافِیْ نُزُوْلَ عِیْسٰی مُتَابِعًا لِشَرِیْعَتِهٖ مُعْتَمِدًا مِّنَ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ (وقَالَ فِی الْمِرْقَاتِ جلد ۵ ص۳۴۷) اَلْمُقَفِّیْ مَنْ قَفَا اَثَرَهٗ اِذَا تَبِعَهٗ یَعْنِیْ اَنَّهٗ اٰخِرُ الْاَنْبِیَاءِ الْاٰتِیْ عَلٰی اٰخِرِهِمْ لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ وَقَالَ فِیْ شَرْحِ الْفِقْهِ الْاَکْبَرِ (المجتبائی ص۲۰۲) وَدَعْوَی النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِیِّنَا کُفْرٌ بِالْاِجْمَاعِ ؛

دغه رنګ حدیث دَ (لَوْعَاشَ اِبْرَاهِیْمُ لَکَانَ نَبِیًّا) د ابن ماجه روایت دے چه په یکښ ابو شیبه ابراهیم بن عثمان ساقط راوی دے (تهذیب التهذیب) صحیح حدیث د بخاری دا سے دے لَوْ قُضِیَ اَنْ یَّکُوْنَ بَعْدَ مُحَمَّدٍ نَبِیٌّ عَاشَ ابْنُهٗ وَلٰکِنْ لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ ؛

## په امام ربّانی مُجَدِّدِ الف ثانی باندے دروغ تړل

دامام ربانی په مکتوبات جلد ۱ مکتوب ۲۷۱ کښ دا لیکل،

"حصول کمالات نبوت مر تابعان را بطریقِ تبعیّت و وراثت بعد از بعثت خاتم الرسل علیه و علی جمیع الانبیاء والرسل الصلوٰة والتحیات منافی خاتمیت او نیست، فَلَا تَکُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِیْنَ ە" مرزایانو دد ے عبارت نه دد ے ثابتولو کوشش کړیدے چه امام ربانی رح دَ نبوت جاری پاتے کیدو قائل دے، خو دا سے نه ده دَ لغوی مطلب دَ بعضو اجزاؤ دَ نبوت کمالات حاصلول دی، نه چه تول کمالات دَ نبوّت "یعنی نبوت شرعی" ځکه چه امام موصوف رح پخپله دویم دفتر ۳۴ او مه حصه مکتوب ۶۷ کښ دَ اهل السنت دَ عقائدو په باره کښ لیکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و خاتم الانبیاء محمد رسول است و عیسیٰ علیه السلام که نزول خواهد نمود عمل بشریعت
او خواهد کرد و بعنوانِ اُمّتِ او خواهد بوُد، او د دفتر دوم حصه ہشتم ص۳۴ و ۳۵
مطبوعه امرتسر تحتی کلان کښې لیکي؛ اول انبیاء آدم علیه السلام و آخر ایشان خاتم
نبوّت نشان حضرت محمد رسول الله است و عیسیٰ علیه السلام که از آسمان نزول خواهد
فرمود متابعت شریعتِ خاتم الرّسل خواهد نموُد، دا نقول بیان د میرزا ایت خلاف
دے، دَ ختم نبوت نه علاوه، په دے کښې د حضرت عیسیٰ علیه السلام نزُول
دآسمانه ذکر دے، او کیو مُجِدِّ د متعلّق مرزا پخپله په "شهادة القرآن"
کښې لیکي، دا وینا چه مُجَدِّد باندے ایمان راوړل فرض نه دی آو د هغه انکار
انحراف دی، ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی،

وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝

## په شاه ولی الله رح دروغ تړل

په تفهیمات الهیه جلد دویم ص۷۲ تفهیم ع۵۵ شاه صاحب لیکي
خُتِمَ بِهِ النَّبِيُّوْنَ اَیْ لَا یُوْجَدُ مَنْ یَّاْمُرُهُ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ بِالتَّشْرِیْعِ
عَلَى النَّاسِ، دے عبارت نه مرزایانو دا مطلب را ښکلو چه د حضرت
علیه السلام نه پس صِرف شرعی (تشریعی) نبوت بند دے، حالانکه د
تشریح شاه صاحب رح پخپله په تفهیمات جلد دوم ص۷۲ کښې کړې
فرمائی، وَصَارَ خَاتَمَ هٰذِهِ الدَّوْرَةِ لَا یُمْکِنُ اَنْ یُّوْجَدَ بَعْدَهٗ
نَبِيٌّ، او بیا جلد ۲ تفهیم ع۷۵ ص۱۳۷ کښې لیکي، مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ وَدَعْوَتُهٗ عَامَّةٌ لِجَمِیْعِ
الْاِنْسِ وَالْجِنِّ وَهُوَ اَفْضَلُ الْاَنْبِیَاءِ بِهٰذِهِ الْخَاصَّةِ وَبِوُجُوْهٍ
اُخْرٰی وَقَالَ فِیْ حُجَّةِ اللّٰهِ فِیْ حَدِیْثِ بَدْءِ هٰذَا الْاَمْرِ نُبُوَّةٌ
فَالنُّبُوَّةُ انْقَضَتْ بِوَفَاةِ النَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ
وَالْخِلَافَةُ لَا سَیْفَ فِیْهَا بِمَقْتَلِ عُثْمَانَ رض وَالْخِلَافَةُ



بِشَهَادَةِ عَلِیٍّ کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ وَخَلْعِ الْحَسَنِ، او په دے فارسی ترجمه
د خاتم النبیین کښې بیا لیکي، نیست محمد پدر هیچ کس از مردمان شما ولیکن
پیغمبر خدا و مُهر پیغمبران یعنی بعد از وے هیچ پیغمبر نباشد،

## په مولانا محمد قاسم رح دروغ تړل

مرزایانو مولنا محمد قاسم رح نه د ختمِ زمانی انکار منسوب کړیدے
حالانکه هغوی رح پخپله فرمائی، کچرے اطلاق او عموم شته نو خاتمیت
زمانی ثابت دے کچرے دا سے نه وی نو د خاتمیت زمانی لزوم منلے
دلالتِ التزامی خامخا ثابت دی، بل خوا د نبی علیه السلام دا قسم تصریحات
رانْتَ مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُّوْسٰی اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ، چه په
ذکر شوی، طرز د لفظ "خاتم النبیین" نه ما خوذ دی، په دے باب
کښې کافی دی، ځکه چه دا مضمون تواتُر ته رسیدلے دے او په دے
د امت اجماع هم دے، اګرچه الفاظ د "لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ" په سندِ مُتواتِر
منقول نه دی، نو د الفاظو دا عدمِ تواتُر با وُجود د اتواترِ معنوی
په دا شان دی، لکه د فرضو د رکعاتو تُو د شمیر تواتُر چه منکرے کافر د
دارنګ د دے "لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ" منکر هُم کافِر دے، په تحذیر الناس
ص۹ کتب خانه امدادیه او په مناظر عجیبه ص۳۹ کښے لیکي خاتمیت
زمانی خپل دین او ایمان دے البتّه د ناحق تهمت څه علاج نشته

## په مولنا عبد الحی رح دروغ تړل

مولانا موصوف په "دافع الوساوس فی اثر ابن عباس" ص۳۹ کښې لیکلی
دی، "د اهل سنت عُلماء هم دا خبره ښکاره کوی، چه د نبی علیه السلام په
زمانه کښې او یا وروسته کښې هیڅوک نبی خاوند د نوی شریعت نشی کیدے
او که نبی چه په د زمانه کښې دا څی، نو هغه به د شریعتِ محمدی تابع وی
نو په هر تقدیر بعثتِ محمدیه عام دے، جواب دا دے چه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمون د "مکي" د نورو طبقو او د هغوی د انبیاؤ متعلق دے لکه د دے وضاحت په "زجر الناس" صـ ۴۳ کښې چه دوی کړے دے، "خَتْمُ نَبِیِّنَا حَقِیْقِیٌّ بِالنِّسْبَةِ اِلٰی اَنْبِیَاءِ جَمِیْعِ الطَّبَقَاتِ بِمَعْنٰی اَنَّهٗ لَمْ تُعْطَ النُّبُوَّةُ لِاَحَدٍ فِیْ طَبَقَةٍ"، او "مجموع الفتاوی جلد اول صـ ۹۹ کښې مولانا موصوف لیکی "قَالَ اَبُوْ شَکُوْرٍ فِی التَّمْهِیْدِ اِعْلَمْ اَنَّ الْوَاجِبَ عَلٰی کُلِّ عَاقِلٍ اَنْ یَّعْتَقِدَ اَنَّ مُحَمَّدًا کَانَ رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالْاٰنَ هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَکَانَ خَاتَمَ الْاَنْبِیَاءِ وَلَا یَجُوْزُ بَعْدَهٗ اَنْ یَّکُوْنَ اَحَدٌ نَبِیًّا وَمَنْ اِدَّعَی النُّبُوَّةَ فِیْ زَمَانِنَا یَکُوْنُ کَافِرًا"، د داسے ښکاره خبرو کولو باوجود څو داو ئیلی شی، چه دے "د ختم نبوت منکر وو!!!

## ختمِ نبوّت د علامه اقبال رح په نظر کښې

(۱) لیکی چه "قادیانیت د یهودی مذهب چربه ده، ځما په نزد بهائیت د قادیانیت نه زیات مخلص دے، ځکه چه بهایان ښکاره د اسلام مخالف دی، لیکن قادنیان د اسلام څو اهم اصول ظاهری طور قائم ساتی مګر په پټه د اسلام د روح او مقاصدو مهلک دی، د قادیانی فرقے د خدائے داسے تصور چه هغه حاسد دے، او هغه سره د دشمنانو د پاره بیشمیره زلزلے او بیماری دی او د دوی د نبی په باره کښې دا تخیل چه هغه نجومی وی او د دوی عقیده چه د مسیح روح کښې تسلسل دے په هره زمانه کښې بیل بیل مسیح راتلے شی دا یو نه وو چه بس ختم شو (العیاذ بالله مترجم) دا ټولے عقیدے داسے دی چه د یهودیت عناصر لری ګویا که دا تحریک یهودیت طرف ته واپس بوتلل دی، "حرف اقبال" صـ ۱۲۳ مرتبه لطیف احمد شروانی)

(۱) په اسلامی ایران کښې د موبدانو اثر لاندے ملحدانه تحریکونه



اوچت شول او هغوی د بروز، حلول او ظل وغیره اصطلاح کانے دے له پاره رواجے کړے چه په هغې کښې د تناسخ تصور پټ کړے شی، د دے اصطلاح کا نو زوا نول په دے وجه ضروری وو چه د مسلمانانو په زړونو اول وار بدا نه لګی ترد ے چه د مسیح موعود اصطلاح هم اسلامی نه ده بلکه اجنبی ده چه شروع ئے هم د دغے موبدانه تصور نه شوے ده، ځکه چه دا اصطلاح کانے مونږ ته د اسلام د ومبی دور په تاریخی او مذهبی کتابونو کښے نه ملاویږی."

(حرف اقبال، صـ ۱۲۳ و ۱۲۴)

(۳) قادیانی ټولے د اسلامی یووالی دشمن دے مسلمانان د هغوی نه په معامله کښې د یر حساس دی، کوم چه د هغوی د یووالی د پاره خطرناک وی، چنانچه هر یو داسے مذهبی جماعت چه په تاریخی طور خو د اسلام سره تړلی وی، لیکن خپل بنیاد په نوی نبوت ږدی، او د دوی په الهامونو اعتقاد نه لرونکی ټول مسلمانان دوی کافر بولی دا خو مسلمانان د خپل یووالی د پاره خطره ګڼړی ځکه چه اسلامی یووالے په ختم نبوت مضبوطیږی." (حرف اقبال صـ ۱۲۲) مرزا محمود خلیفه دوم په آئینه صداقت صـ ۳۵ کښې لیکی، هر هغه مسلمان چه د حضرت مسیح موعود په بیعت کښې شامل نه دے نو هغه کافر دے د اسلام د دائرے نه بهر دے، اګرچه هغه د مسیح موعود نوم هم نه وی اوریدلے،

(۴) څه په دے هیڅ شک شبه نه لرم چه دا احمدیان د اسلام او دملک دواړو غدار دی (د اقبال "خط د جواهر لال په نوم"، څه زاړه خطونه، حصه اوّل صـ ۲۹۳ مرتبه جواهر لال مطبوعه جامعه ملیه نوے دهلی انډیا)

(۵) ځما په رائے کښې د قادیانیانو صرف دوه لارے دی چه یا خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو زړونو تقلید اُکړی او یا دَ ختم نبوّت تاویلونه پریږدی او هغه دَ خپل پوره مفهوم سره قبول کړی، ځکه دوی دا نوی تاویلونه صرف په دے غرض دی چه دَ دوی شمیر دَ اِسلام په حلقه کښې وی چه سیاسی فائده واخلی (حرفِ اقبال صـ۱۳۶ تا ۱۳۷)۔

⑥ خُما په رائے کښې حکومت دَ پاره بهترینه طریقه کار به داوی چه هغه قادیانیان یو بیل توے اُمنی چه دا به دَ قادیانیانو دَ پالیسی عین مُطابق وی او مُسلمانان به هُم دَروا دارئ دا سے مُعامله کوی لکه څنګه چه نورو مذهبونو سره کوی، او دا دَ قادیانیانو دَ پالیسی مُطابق ځکه دی چه دَ دویم خلیفه مرزا بشیرالدین پخپله خطبه په حواله دالفضل اخبار ۲۱ اگست سنه ۱۹۱۷ء حضرت مسیح موعود فرمائی، چه دَ هغوی (دَ مُسلمانانو) اسلام بیل او ځموږ اسلام بیل دے، دَ هغوی خدائے بل او ځموږ بل دے، دَ هغوی حج بل او ځموږ حج بل دے دغه رنګ ځموږ په هره خبره کښې اختلاف دے۔

⑦ دَ علامه اقبال انګریزی حکومت ته مشوره، په نوی دستور کښے دَ اقلیتونو دَ تحفُّظ خیال ساتلے شوے، دے خُما په خیال کښے قادیانیان به دَ حکومت نه دَ جُدا کیدو په مطالبه کښے وړاندے والے نه کوی خو ملّتِ اسلامیه د دے مطالبے پوره حق لری چه قادیانیان دِ جُدا کړے شی، کچرے حکومت دا مطالبہ اُ نه منله نو دَ مسلمانانو به شک وی چه حکومت دے نوی مذهب په جدا کولو کښے ډیل کوی، حکومت په سنه ۱۹۱۹ دَ سکهانو دَ جُدا کیدو دَ مطالبے انتظار اُ نکړو اُس دَ قادیانیانو دَ دے مطالبے انتظار کوی (حرفِ اقبال صـ۱۳۸) بانده علامه اقبال لیکی، په غونډ کښې قطع تعلّق په نکاح او نورو معاملو کښې د مسلمانانو نه بائیکاټ او دَ تولو نه زیات دا اعلان چه دُنیائے اِسلام کافره ده، او دا دِ اسلام نه دومره زیاته لرے ده څومره چه سکهان به دَ هندوانو نه لرے نه وی ځکه چه سکهان او هندوان خو خپل مینځ کښې ودونه کوی، هر کله چه قادیانیان په مذهبی، مُعاشرتی معاملو کښې ځان جُدا اُګنړی، نو په سیاسی ډول مسلمانانو کښے دَ شامل پاتے کیدو دَ پاره ولے پریشانه وی؟ (حرفِ اقبال صـ۱۳۱)

⑧ پابندی په باغی جماعت لګول ښکاردی، علامه اقبال انګریزی حکومت نه لیکلی دی، کچرے دَ یو قوم یو والے په خطره کښې وی نو هغه دَ پاره سوادے بل علاج نشته چه هغه دَ عِنادی قوتونو په خلاف مدافعت اُکړی، اُس سوال دا دے چه مدافعت طریقه دِ څه وی! هغه دا ده چه اصل تولی نه دِ دَ روادارئ تلقین اُکړیشی حالانکه دَ هغوی یو والے په خطره کښے وی او باغی ټولی ته دِ دَ هغه تبلیغ پوره اِجازت وی کوم چه دروغو نو ککړونه ډک پک وی (حرفِ اقبال صـ۱۳۲)

زه وایم چه دَ مرزا دا ټولو ککړونو ککړونه زیات دی کوم چه هغه په آئینه کمالات صـ۵۴۸ کښے لیکلی دی چه خوک ما نه منی او خُما د دعوے تصدیق نه کوی او ایمان پرِ نه راوړی نو هغه ټول دَ زِنا اولاد دی۔

## قیامت، معاد او مجازات دَ اعمالو

## دَ قیامت نومونه

دَ کوم خیز نومونه چه ګنړوی نو دا دَ هغه دَ لوئے والی دلیل دے، دَ الله تعالیٰ نومونه ګنړ دی دا هم دَ الله تعالیٰ دَ لوئیئ دلیل دے، امام سیوطی رح په بدور السافرة فی امور الآخرة، کښې دَ قیامت اتیا نومونه ذکر کړیدی (صـ۲ مطبوعه کانشی رام لاهور) مونږ به هغه کښے ښکاره مشهور نومونه ذکر کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) اَلسَّاعَةُ — د قیامت دا نوم له دوو وجهو دے، یو له دے وجهے چه قیامت به ناګهانه راځي، لکه چه یو ګینټه تیریدو نه پس ناګهانه چه دویمه ګینټه راځي، او دویم له دے وجهے چه قیامت کښې د اولینو آخرینو حساب به په لږ وخت مثلاً یو ګینټه کښې ختم شي او هم دا معنیٰ د (سریع الحساب) ده او هم دا معنیٰ د حضرت علی رضه منقول ده. (اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ لَّا رَیْبَ فِیْهَا) سورة الحج آیة ۷)

(۲) اَلْقِیَامَةُ — کُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ (سورة آل عمران آیة ۱۸۴) د دے نوم وجه دا ده چه د دے معنے اودریدل دي، او په دے ورځ به ټول خلق ملائکے او روح به د الله په مخکښې تر هغه وخته ولاړ وي تر کومے چه الله تعالیٰ جل شانه اُغواړي.

۳- اَلْقَارِعَةُ — قرع زړه درزولو او ټکولو ته ویلے شي، د دے ورځے د ویرے نه به هم زړونه درزیږي او ټکیږي (اَلْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ)

۴- اَلْحَآقَّةُ — دا د (حق) نه ماخوذ دے، د دے نوم مطلب دا شو چه دا ورځ حقه ده او په دے کښې د شک شبهے څه ګنجائش نشته (اَلْحَآقَّةُ مَا الْحَآقَّةُ)

۵- اَلْوَاقِعَةُ — دا د (وقوع) نه ماخوذ دے مطلب دا چه د دے په واقع کیدو کښې هیڅ شک نشته بلکه دا خامخا واقع کیدونکے حقیقت دے (اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ لَیْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ)

۶- اَلْغَاشِیَةُ — د (غشي) معنی پټول دي، د دے ورځے له هیبته به زړونه پټ شي او خلق به او تر شي (هَلْ اَتٰكَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ)



۷- اَزِفَةٌ — د (ازف) معنے نزدے کیدل (اَزِفَ الشَّیْءُ قَرُبَ)، او دا ورځ د حقیقت په اعتبار سره نزدے ده ځکه چه خامخا راتلونکے شیز نزدے وي او تلونکے شیز لرے وي، بله دا چه مرګ د قیامت دروازه ده او مرګ نزدے دے (اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ)

۸- یَوْمُ التَّغَابُنِ — غبن ټګۍ او دوکے ته وائي، په دے ورځ به دا ښکاره شي چه په دنیا کښې کوم خلق په دوکه کښې وو چه د عمر عزیز قیمتي برخه ئې په کومو مفیدو شیزونو کښې تیره کړې وه او د کومو قیمتي عملونو نه محرومه وه (ذٰلِكَ یَوْمُ التَّغَابُنِ)

۹- خَافِضَةٌ — ذلیله کوونکے ورځ چه دین نه اوړیدلي خلق به په دے ورځ په جهنم کښې په ډیر لاندے ذلت کښې وي

۱۰- رَافِعَةٌ — اُچتوونکے ورځ کومو خلقو چه د دنیا په ژوند کښې د دین خدمت کړے وي هغوی به په دے ورځ د جنت په لوړو اُچتو د شهنشاهیت مقامونو کښې وي (خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ)

۱۱- اَلطَّآمَّةُ الْكُبْرٰی — د دے معنیٰ لویه هلهګله ده او د قیامت نه بله داسې هیڅ هلهګله نشته چه په دے کښې به د ټولو انسانانو د قسمت ابدي فیصله کیږي (فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰی) قیامت او حشر نشر د انساني ژوند ډیره ضروري خانګه ده چه په دے ځائې خوشحالي او تباهي دارومدار دے او د قیامت په باره کښې د دے شیزونو د غور فکر جوګه دي.

(۱) د قیامت وجود، چه دا مونږ د قیامت صورت نه وایو.

(۲) د قیامت مقصد یعني د عملونو بدله، چه دا مونږ د قیامت نوم ترو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) د قیامت تفصیلات مثلاً د قیامت کیفیت، وزن د اعمالو، حوض کوثر، پل صراط، نور، جنت او دوزخ او داسې نور ډېر،

د دغو ټولو توجیه به موږ د قیامت او د معاد د صورت ذکر کوو او د دې عقلي او نقلي دلیلونه به پیش کوو،

## د معاد او قیامت نقلي ثبوت

(۱) ټول آسماني دینونه په قیامت قائیدوا او په دوباره ژوندون متفق دي او ټول آسماني ملتونه دا مني، په شرح مواقف جلد ۸ ص ۲۹۳ کښې دا نقل موجود دے. اَجْمَعَ اَهْلُ الْمِلَلِ وَالشَّرَائِعِ عَنْ اٰخِرِهِمْ عَلٰى جَوَازِهٖ وَوُقُوْعِهٖ: یعنې ټول ملتونه او شریعتونه منو نکي خلق د حشر اجساد په جواز او وقوع باندې متفق دي.

(۲) ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د قیامت خبر ورکول کړیدی د کوم ځیزونو چې ډېر یات د شتیق خلق په بنیاد موکښ نشته قرآن پوره تفصیل سره د قیامت بیان کړیدے او بیا د دے په باره کښې، مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ، فرمائیل د دے ثبوت دے چې قرآن د تیرشوو آسماني کتابونو د مرکزو عقائدو تصدیق کوي نو ځکه دا د نبوت، قیامت او د مجازات اعمال وغیره په باره کښې د دوی مبنو آسماني کتابونو هم تصدیق کوي، د قیامت نه پس د آخرت ژوند د دنیا د ژوند نه ډېر بهتر او پائیدار دے وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى، د آخرت ژوند بهتر او پائیدار دے او بیا ئې فرمائیل اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى دا مضمون د حضرت ابراهیم او د حضرت موسیٰ علیهما السلام په صحیفو کښې موجود دے.

## د فلسفیانو د انکار تردید

فلسفیانو د حشر اجساد نه انکار کړیدے د عملونو بدله هغوی هم مني



خو بعضې ئې د سعادت او شقاوت روحاني او بعضې ئې د تناسخ په صورت کښې موږ به د دے تردید کوو، خو اول دا والو چې د فلسفې د قوانینو په مطابق هم د دا انکار د منلو جوګه نه دے، ځکه چې د دوی هم ممکن د قدرت او طاقت لاندې مني او دا ظاهره ده چې حشر د اجسادو ممکن ځکه دے چې د حشر یو جزء انساني روح دے، دویم د بدن ذرې، او دریم د بدن جوړېښت، دا درې واړه څیزونه ممکن دي چې پر قدرت الٰهي شته دا درې واړه څیزونه د مرګ نه وړاندې د الله په ایجاد موجود شوي وو، بیا دا ناممکن او ممتنع وې نو اول ځل به هم نه وو موجود شوي دوباره ژوندي کیدل خو اُس عقل ته ډېر نزدې دي د منلو په باره دا قرآن بیان کړي دي، وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ، وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى، (سورة الروم آیة ۲۷) یعنې د انساني قدرت د قاعدې مطابق دوباره پیدا کول د ړومبي ځل پیدا کولو نه زیات آسان دي هر کله چې الله ډېر لوئې دے نو هغه ته دے دواړو تخلیقونو کښې هیڅ فرق نشته.

## د نیشت د شته کولو شبهه

فلسفیان بل انکار په دې قاعده کوي چې نیشت سره څیزونه بیا بیرې مطلب دا چې اول څیز یو وار ختم شي نو دویم وار هم هغه شے بیا نشي موجودیدے که وي نو هغه به بل څیز وي، لو دا غلط ده چې په قیامت کښې به هو بهو هم هغه انسان بیا دوباره ژوندے شي، دا شبهه بالکل باطله ده ځکه چې د اول وجود زمانه یوه او د بل وجود زمانه بله نو د اول زمانې وجود ختم شو او په بله زمانه کښې بیا موجود شو خو شے بدل نه او هم هغه شے دے، کوم چې تړد هیبو و مطلب دا شو چې دلته نشي کیدے چې په یوه زمانه کښې یو شے ختم شي او هم په دغه زمانه کښې هم دغه شے بیا

موجود شی نو دے کښې هیڅ اشکال پاتے نشو چه په بله زمانه کښې دیو شیز بعینه وجود کیدے شی او پوره ته ذکر قاعده د فلسفیانو غلطه ده، دا اعتراض خو کخند او رد دے چه اوله زمانه د اول شخصیت جُزء وو، بله زمانه به د بل شخصیت جزء وی هم د دُوهمې شخصیت نه ځکه چه زمانه د شخصیت جُزء هیچرے نشی کیدے هغه مُتشخصه نه ده که داسے وے نو د ن سره به هغه بدلیدلے ځکه نه وو چه زمانه بدله شویده، د پوهے د پاره یو آسان مثال، یو انسان په یو زمانه (دُنیا) کښې موجود مړ (معدوم) کیدو سره په برزخ (بله زمانه) کښې ورک او په قیامت (په دریمه زمانه) کښې هم دغه انسان داسے مثال لری لکه چه یو سړے د لاهور نه کراچۍ ته لاړ شی، زمانه بدله شوه مقامات بدل شول او سړے هم هغه دے اول وار لاهور کښې موجود وو (دُنیا) چه روان شو نو نه لاهور کښې وو او نه کراچۍ کښې وو معدوم شو (برزخ) او کراچۍ ته چه اُورسید و نو لاهور کښې نه وو (آخرت) دا درے زمانے بدلے شوے یو انسان معدوم شو او بیا موجود شو، خو هغه انسان دے او بالکل بدل نشو، نو دا اعتراض بالکل غلط شو چه د زمانے په بدلیدو سره شخصیت بدلیږی کچرے داسے وے نو د مکان په بدلیدو به شخصیت بدلیدو کوم سړے چه په لاهور کښې وی نو ملتان ته په تلو او رسیدو به د هغه شخصیت بدل شوے وو حالانکه داسے نه کیږی،

دویم دا چه د یو والی دارومدار د اصلی اجزاؤ او د رُوح په یو والی دے دے نه بغیر کچرے بل څه فرق راشی نو په شخصیت څه اثر نه غورزوی، مثلاً کچرے د یو سړی رنګ مخکښې سپین وو بیا ګرم ملک کښې به هغه کښې کالو سره د هغه رنګ که تور هم شی نو سړے هم هغه دے بدل نشو دغه رنګ که د ښځلسو کالو یو سړے د دیرش کالو شی نو رنګ او قد او غټ والی کښې فرق راتلو سره به هم دا هغه سړے وی کوم چه وړاندے وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو حکومت هم د هغه د نوکری تنخواه ور کولو نه په دغه بنیاد انکار نه کوی او دغه والی او اُوږدوالی په وجه یو عدالت چرے د چا مقدمه نه ده خارجه کړے چه ته اُوس بل سړے ئے، دغه رنګ که د نیک یا بد عمل په وجه کچرے شکل او رنګ کښې څه فرق په آخرت کښې هم شی، اصلی اجزاء ئے هُم هغه وی کوم چه دُنیا کښې وو نو دا به هُم هغه سړے ګڼلے شی کوم چه دُنیا کښې وو،

## دَ معاد په باره کښې مذهبونه

دُروح متعلق دوه رائے دی، اول دا چه جسم لطیف دے، دویم دا چه مُجرد غیر مادی دے ددے اختلاف په بُنیاد دَ معاد په باره کښې دَ شرح مواقف مصری جلد آتم صـ۲۹۷ـ دَ نقل مُطابق پنځه قواله دی:-

(۱) معاد صِرف جسمانی دے، ځکه چه بدن او رُوح دواړه جسمونه دی (صرف دَ کثافت او لطافت فرق دے) نو اعاده هم د جسم اُشوه دا د اکثرو متکلمینو دَ اسلام قول دے چه رُوح جسم لطیف دے:-

(۲) معاد صرف رُوحانی ځکه دے چه د جسم اِعاده نشتر یوازے په رُوح د سعادت او شقاوت دارومدار دے، دا دَ یونان دَ فلاسفهٔ الٰهیین قول دے

(۳) معاد جسمانی او روحانی دواړه دے دُنیا جسم او روح دواړه بیا به موجود شته دا قول حلیمی، غزالی، ابوزید دبوسی، راغب، معمر، د متأخرینو امامیه و لوا اکثرو صُوفیانو دے دا قول حضرات روح ته مجرد غیر مادی

(۴) معاد به نه جسمانی وی او نه رُوحانی، دا قول دَ یونانی طب د حکیمانو

(۵) دَ معاد دَ کیدو او نه کیدو هیڅ فیصله نه ده شوے توقف دے، چه دا قول دَ جالینوس دے ده ته دا شک پریوتے دے چه رُوح دَ هغه مزاج نوم دے کوم چه په مرګ ختم شو او که د هغه جوهر نوم دے چه مرګ نه پس هم باقی وی دا پنځه اقواله د انسان د بدن او رُوح سره تړون لری خو یو شپږم قول دَ تناسخ هم شته چه هغه دَ حکماء هند او دَ یونان د بعضے

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکماؤ ، او دَ بعضے منسُوب الی الاسلام خلقو دے مثلاً احمد بن حابط چه د ابراهیم نظام شاگرد دے ابُومُسلم خُراسانی ، محمد بن زکریا ، طبیب رازی او قرامطہ:

## دَ مجازاۃ درے شکله

دا آخِر حوالے دِ پاره دا ابن حزم ملل نحل جلد ۱ صفحه ۹۰ اُگورئ

دَ مجازاۃِ اعمال درے شکله دی :-

(۱) دَ جُثو حشر، دَ بعث بعد الموت په شکل کښی او د مجازاۃِ اعمال به د جنّت او دوزخ په شکل کښی وی ، دا رائے دَ اهلِ اسلام او دَ آسمانی مذهبونو والو ده۔

(۲) دَ جُثو دَ حشر نه بغیر صِرف رُوح دَ نیکئ او بدئ اثر (خوند او درد محسوس وی) دا قسم مجازاۃ دَ حُکماءِ الهیّین قول دے۔

(۳) دَ نیک او بد عملُونو په بدله کښی دَ یو انسان رُوح بل انسان ته بدلیل (تناسخ) مجازاۃ اعمال دے بعض حکما دَ یونان او اکثر حُکماء دَ هند دا قول کوی۔

## تنقید

دا دواړه آخیری قولُونه دَ انبیاء علیهم السلام دَ اِجماع او دَ آسمانی کتابونو نه خلاف دی او دعقل او فلسفے په بُنیاد هم غلط دی ، یوازے رُوحانی مجازات خو ځکه غلط دے چه اعمالو کښی بدن او رُوح دواړه شریک دی او بل له به یوازے رُوح ته ملاویږی ، اَدَ دے مثال داسے اُگنړئ ، لکه یو شل او ړوند دَ انارُو غلا کوی ، ړوند کچه او پوخ انار نه پیژنی او شل انار ته نه رسیدے نشی دوی ، داسے مشوره اُکړی چه ړوند لاندے شی او شل په اُوږه سور کړی انار دِ اُشوکوی دَ باغ مالک دا دواړه عدالت ته وړاندے کړی دواړه دَ ځان خلاصولو خپل خپل دَ لیلونه اُوائی ړوند وائی چه زه ړوندیم نه نو غلا څنګه کولے شم پوخ او کچه انارم څنګه اُپیژندل او شل به وائی چه څه انار ته نه رسیدے نه شوم ما غلا څنګه اُکړه ؟



...نو بنکاره خبره ده چه غلا خو شوے ده بلکه دواړو سره په موقع ...نیولے شوے دے نو دَ عدالت فیصله به ضرور دا وی چه غلا دواړو کړے ...دواړه په غلا کښی شریک دی نو سزا به هم دواړو ته ورکولے شی ، هم ...امثال دَ رُوح او بدن دے هر یو یوازے نیک او بد عمل نشی ...ے هر کله چه نیک او بد عمل په شریکه دواړه کوی نو جزاء او سزا دواړو ته ...شریکه پکار ده۔

...ے نه علاوه یوازے ، دَ رُوحانی مجازاۃ حقیقت دَ خوب دے چه څوک ...ونانک ے خوب اُوینی نو هغه ته صِرف په خوب کښی خوند او آرام وی او که ...په خراب خوب اُوینی نو په خوب کښی ورته به خوندی او تکلیف محسُوس ...نو دا قسم جزا سزالو بے توقے دی دَ اعمالو پائیدار او خوچندہ زیاته ...بکار ده چه انسان دَ هغے په طمع څه بنه عمل اُکړے شی دَ خوب د مزو ...طمع هیڅوک بنه عمل نه کوی او دے سره هیڅرے دَ اِنسان اِصلاح نشی ...ے دَ بنه عمل شوق پیدا کولو ، بلکه داسے بکار ده چه دَ دُنیا دَ فائدے ...په خو چنده زیاته فائده په آخرت کښی ملاؤ شی او بیا پائید ار ه ...وی ، لکه یو مړ کیدونکے سړے خپل یتیم کیدونکی ځوئے دَ پاره ...نو سړی سره لس زره (۱۰۰۰۰) روپئ امانت کیږدی ، دَ خوب دَنا پائیدار ...رساصلولو په خاطر دغه سړے که دغه یتیم ته دغه خپل امانت په ...کښی ورکړی نو کم عقل او پاګل به ځکه بنکاره شی چه دَ لسو زرو روپو ...فائده دَ خوب او تصور په فائده بیکل دهو بنیاد او دروغ سړی ...دے او دا باعث دَ امانت سپارلو هم نشی چو ړ یدے دَ امانت سپارلو ...هغه بدله کار ورکولے شی کومه چه دے نه په څو څو چنده زیاته وی ...پائیداره او حقیقی وی لکه په آخرت کښی دلسو زرو روپو امانت سپارلو ...نقصان کولو او قربانئ ورکولو په بدله کښی چه ده ته جنت یا دَ آخرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتناسخ رد

نور لعنتونه ورکړيشي :

(۱) د تناسخ په شکل کښې د عملونو بدله ورکول د عقل په موجب په دے وجهو درسته نه ده،

(۲) تناسخ له انصافه خلاف ځکه دے چه په عمل کښې بدن او روح دواړه شريک دی او د تناسخ په شکل کښې بدله صرف روح ته ورکولے شي مثلاً د يو مجرم انسان روح د مرګ نه پس په يو ذليل چوړی کښې يا په ذليل ښاروی او ښناور کښې واچولے شي نو سزا به يوازے روح ته ورکولے شي (بله د خندا خبره دا چه د بدمعاشي کوونکي بدن په ځائے به سزا د بل بے ګناه ذليل ښاور او د ښاروی بدن ته ورکولے شي. نو دا خو د خر په ځائے کلاوره دا غل شو بله دا چه دے ځائے نه به دا روح د بدلے د پاره که ځوا ځي او يل بدن ته چه لاړشي، نو دا به لبه د چاګنړے شي د ټولو نه کا که ورسره د زندے ځی ګ خيال اکرپيه نو دے نزغبت اوبز دا و جنجالی اشکا جوړيږی نو ځکه ئے بس کوم ـ د تناسخ قائل کيدل په تصور څان باچا دی مترجم) دلته دا خيال هم غلط دے، چه بدن صرف د عمل آله ځکه دا په مجازاة اعمال کښې شريکول إنه ی پکار او دے ته سزا ورکول به داسے وی لکه د يو قاتل په توپک ته سزا ورکول او يا د يو مسته او مکار تيشئ او کوندی ته جزا ورکول کوم چه جمات يا خانه کعبه جوړه کړی وی، دا خيال ځکه غلط دے چه بدن آله نه ده بلکه ټيل تو ده ليکن روح او بدن چه يو ځائے شي نو هله ځوک بنه يا بد شي نو اصل فاعل بدن دے چه د روح په اداره يو عمل کولے شي چه دا روح د بدن په هر اندام کښې ننوتے وی نو بنکاره شوه چه آله ځکه نه ده چه دا د روح په غم او خوشحالئ کښې ځا ځا شريک دی



نو توپک د قاتل، او تيشئ کوندی د خانه کعبے د معمار په غم او خوشحالئ کښې هيچرے نشي شريکيدے.

(۳) د تناسخ د پاره دا دليل باطل دے چه انسان د حيواناتو نه چه [illegible] آخلی يا د غريبے کورنئ يو ذليل انسان چه مصيبتونو کښې مبتلا شي، [illegible] دے بنياد دا دے، چه يو انسان بد عمل کړيوی، نو د هغه روح په ذليل [illegible] ښاور يا ذليل بل انسان کښې ننوزی او دا رنګ هغه وړاندينی کس ته [illegible] خپل عمل بدله د ښاور يا د انسان د ذلت په صورت کښې ملاوشي [illegible] باطل ځکه دے چه د ښارو فطری تقاضا دا ده چه انسان ته کار واخلی او د [illegible] پاره د جرم سابق هيڅ ضرورت نشته ځکه چه د دُ نيا نظام چلولو د پاره د حکمت الهی تقاضا او ظهور دے، کچرے انسان دے د کار نه اخيستے نو د ښارو وجود به لغو او بے فائده وے و دا هم د حکمت الهی د شان نه خلاف دی، دغه رنګ د دنيا د مو خوشحالی او بدحالی د هغوی فطری تقاضا ده چه غنی دِ د فقير نه کار واخلی، فقير د اُجرت محتاج او غنی د هغه د کار محتاج دے په دے احتياجونو د انسانی تمدن ربط قائم دے و د دُ نيا نظام پرے چليږی که د تناسخ تصور، پکښې راځلو نو انسانی تمدن به بالکل د نړے وړے شي دا انسانانو مصيبتونه او غمونه هم د حکمت [illegible] الهی نه خالی دا سے نه دی چه د صحت او خوشحالئ په حالت کښې د شکر جذبه او د مرض او د بدحالئ په حالت کښې د صبر جذبه انسانی کمالات بنکاره وی او په دے د الله لرے او نږدے بندګان پيژندے شي.

### په تناسخی مجازات کښې د جُرم علم نه وی

تناسخ په نامتلی صورت کښې يو حيوان او انسان ته دا علم نه وی چه هغه د کوم جرم په بدله کښې عذا بولے ګئ، يو انسانی عدالت کښې خو مجرم ته ورنود ے شي په هغه د تا بتولو خوادی اُکړيشي هله پس ته سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولے شی، لیکن د تناسخ په صورت کښې د الله عدالت دلو بوتو قو ښکار
کولے شی کوم کښې چه نه تحقیق وی، نه مقدمه چلول وی او نه مجرم ته
د خپل خپل جرم پته وی چه دا سزا هغه ته د کوم جرم په بدله کښې
ورکولے شی العیاذ بالله، نو ځکه د تناسخ داعقیده د عقل نه هم خلاف

## د مرګ او پیدائش شمیر کښې د جوړښت نشتولے د تناسخ تردید دے

د تناسخیانو په خیال کچرے د حیوانانو پیدائش د انسانانو د بدو عملونو
د پاره د بدلے په نتیجه کښې وے نو ضروری ده چه د بدو انسانانو د مرګ
په مناسب شمیر کښې هومره ځناور او حیوانات پیدا کیدلے خو دلته
ځکه نه ده چه موږ وینو مثلاً یوه ورځ کښې یو لک انسانان مری چه په
هغو کښې نیم څه بلکه زیات مجرمان او بدکاره وی، خو بل خوا نو حیوانات
هم په دغه ورځ کروړ و نه او اربو نه پیدا کیږی نو معلومه شوه چه د حیوانانو
پیدائش د مجرمو روحونو د تناسخی جنجال نتیجه نه ده بلکه د ابتدائی تخلیق
په وول د الله تعالی د حکمت په جوړ پیدا کیږی ځکه د تناسخ عقیده باطله ده
د تناسخ د تردید یوه غټه وجه دا هم ده، چه د تناسخ په صورت کښې به
منل ضروری وی چه د مجرمانو انسانانو او د حیوانانو روحونه یو دی حالانکه
موږ وینو ګورو چه دا جدا جدا دی، انسانی روحونو کښې عقل او نطق دے
لیکن حیوانی روحونه داسے نه دی یا مثلاً په پیشو کښې کچرے د انسان روح داخل
وے د انسانی روح په فطرت کښې د مږے نه کرکه پرته ده دا هیچرے
نشی کیدے چه پیشو کښې دانو تو نه فوراً بس فطرت داسے بدل شی چه
مږے پسے منډه کړی دا وے نیسی او په خوند سره یے خوری هر کله چه د فطرت
فوراً بدلیدل نامعقول دی د انسانی او حیوانی روحونو فطرتونه جدا
جدا دی په دے وجه د تناسخ عقیده هم تر پایه نامعقوله ده
هر کله چه د مجازات اعمال دوه صورتونه ردیوا نے د روح معاد او تناسخ



او نامعقوله ثابت شو، نو د دے حرف یو صورت باقی پاتے شو هغه دا چه
د مړی بدن او روح دوباره ژوندی کړیشی او د حساب کتاب نه
پس د جنت او دوزخ په شکل کښې په د قانون مجازات نافذ کړیشی، داخبره
یوازے په آسمانی شریعتونو او د انبیاء کرام علیهم السلام په تواتر
ثابته نه ده بلکه عقل او فلسفه هم دا موږ ته او معقول ګڼړی، په ظاهر
خو دا ډیره ګرانه ښکاری لیکن حقیقت کښې هیڅ ګرانه نه ده.
د معاد جسمانی حقیقت په دوو قاعدو مبنی دے، یو دا چه دا ممکن دے
او محال نه دے، بل دا چه دا د تخریب او تعمیر الهی نتیجه ده:-

## د جسمانی معاد دوېمه دلیل

د مجازات اعمال په خاطر روح سره د جسم دویم باره ژوندی کیدل ممکن دی او محال نه دی، د محال دوه معنی دی، یو عرفی چه مطلب یے ګران والے او سخت والے دی لکه یو سړی ته دا ویل چه دا ځه لاهور ته لاړ شه او هغه ته ورسه کړی چه نن شم تلے دا بل ورپورے اوبلی چه خانځا به یے نو هغه اوائی چه نا ممکنه (محاله) ده نو د دے مطلب به دا وی چه تلل ورته ګران دی. خو که روان کړے یے او ټکټ هم شی ورته برابر کړے وے د هغه اراده شوے وے نو لاهور ته تلل ناممکن او محال نه وو، او بل د فلسفے ممکن او محال دے معنی ده داچه نفی او اثبات یو ځائے کیدل چه هیڅکله نشی کیدے لکه یو سړے یو کمره کښې په یو وخت شته هم او نشته هم یا لکه دوه په دوه ضرب پنځه چه تول د دنیا د دے ضرب حاصل هغه ځلور بنائی چه پنځه نه وی، نو خلاصه مطلب به دا وی چه پنځه نه دی خو پنځه دی نو قیامت او معاد په دے معنی محال نه دے او کچرے محال په معنی د مشکل او د سخت وا خلو نو هغه به وی خو انسان د پاره چه د هغه ټول کارونه په اسبابو بنا دی او الله ته په دے معنی هم محال ځکه نه دے چه، إِنَّمَا أَمْرُهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ، او بله دا چه متواتر خبر
صادق دَ دے تصديق کړے دے، نو ځکه دا صحيح ده، چه کوم ممکن
تواتر سره تصديق اُشي يا اعتباري ذريعو سره دا ثابت شي نو
دَ هغے په واقع کيدو کښې هيڅ شک شبه نه پاتے کيږي، مثلاً تېر شوي
وخت کښې دَ جاپان هيرو. شيما پر ايټم بم تباه کيدل يو ممکن
معامله وه هر کله چه اعتباري ذريعو سره دَ دے تصديق اُشو نو
ټولے دُنيا اُمنله، دغه رنګ دَ موجوده دُنيا په شپيلۍ دَ اسرافيل
عليه السلام دَ چه ايټم بم نه په اربونو درجے زيات قوي دَه) تباه
کيدل ممکن امر دے او ورسره دَ دے تصديق آسماني کتابونو دَ انبياؤ
عليهم السلام غوندے رشتينو هستو په پرله پسے شهادتونو کړے دے
نو بيا دے په واقع کيدو کښې هيڅ شک شُبه نشي کيدے۔

## دَ جسماني معاد دويم دليل

دَ معاد جسماني حقيقت ورانول
او جوړه وَل دي مطلب

داچه دَ دُنيا نظام ورانه ول او دَ آخرت نظام جوړ وَل دَ معادِ جسماني
حقيقت دے دا به الله کوي نو ګرانه ځکه نده چه کوم انسان ګرانه
ګڼړي نو هغه ځان ته ګوري او په دے قياس کوي لکه چه شل منه اُوچتولے شي او ميرے ئے نشي اُوچتولے حالانکه دا ره حيوانات
دي خالق او مخلوق نو برابر کيدے هم نشي الله دا سے قوي دے چه نسبت
ئے دَ مخلوق سره کول ناممکن دي نو هغه ته دا هيڅ ګرانه نده چه
هغه چل جوړ کړے تعمير (دُنيا) وران کړي او دَ هغے په ځائے بل
تعمير (آخرت) اُکړي، ځکه چه دا سے خو انسان لګيا دے کوي
يو عمارت ورانوي او بل دَ هغے په ځائے جوړوي، نو ځکه الله تعالیٰ چه
بے انتها قوي دے، يقيناً دا سے کولے شي چه عمارت دَ دُنيا وران کړي



او عمارت دَ آخرت بيرا آباد کړي، او همدغه معادِ جسماني او قيامت دے
چه دَ هغے درستوالے او رشتينوالے په عقل ثابت شو،

## دَ قيامت او معادِ جسماني دريم دليل

خالق کائنات دَ انسان
نه دَ وهمه ژوندے ور

کړو (ليدلے کيدلے شي) په هغه وخت چه دَ ده نوم او نشان هم نه وو،
هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُورًا ۝،
سورهٔ دهر آية ۱ او بيا به ئې په قيامت کښې دَ مجازاتِ اعمال دَ پاره
ژوندے کوي، انسان نه دَ وهمه ځل بے نمونے پوشے جوړ کول ډير
ګران دي نو نه چه پيدا شي نو بيا دَ هغے بُنه ئے هم جوړ کړي، ولے
شي، اُو وهمه دَ انسان هيڅ نمونه نه وه ځدائے بے تکليفه پيدا کړے و نو دے
قوي ترين هستي ته دوباره پيدا کول دَ انسان څنګه ګران کيدے شي
لکه فرمائي:
كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا ۔۔ مونږ انسان دَ وهمه ځل جوړ کړو
عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (سورهٔ انبياء) دويم ځل به ئے هم دا سے جوړ کړو
آية ۱۰۴ ؛ دا خو مونږ وعده ده مونږ به ضرور دا سے کوو،
وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ ؛ انسان په مونږ مثال ځيږوي
مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ۝ قُلْ ؛ چه دا وراسته هډوکي به څوک
يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ؛ ژوندي کوي، (هغه چه څپل
سورهٔ يٰس آية ۷۸-۷۹ ؛ پيدا ئې هير کړو نو) نه ورته او وايه
چه چا اُوهمه وار پيدا کړے وو هغه به ئے دويم وار هم ژوندے کوي،
بلکه دويم ايت شريف کښې دي:
وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ؛ دا دويم باره پيدا کول دَ اُومبي وار پيدا کولو نه
ډير آسان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے خبرو سره قیامت په عقلی رنګ کښې ثابت شو دا آسانی ځکه په انسانی نسبت اُخود له ګوندی الله ته دوباره پیدا کول یو شان دی،

وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی :(د الله د پاره اعلیٰ کمال دے)

## د معاد څلورم دلیل

یو درزی چه کوټ او شیروانی جوړولے شی نو هغه به خامخا په ډیر آسانه ځکه جوړ ولے شی چه دا یو کار (ګنډل) دے، دغه رنګ پیدا کول د آسمان چه الله کړی دے نو دویم باره پیدا کول د ورکوټی غوندے ریه نسبت د آسمان) انسان پیدا کول خو بیا ډیر آسان ځکه چه کار (پیدا کول) یو دے،

ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ بَنٰهَا ، آیا ستا سو پیدا کول ګران دی که د رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰهَا (سورة النّٰزعٰت آیتہ ۲۸) آسمان چه الله جوړ کړ او دیر په اُوچت ځائے هغه کیښودو :

یعنی آسمان ته چه اګوره نو د هغے په نسبت انسان ډیر ورکوټے دے هرکله چه الله ته د آسمان پیدا کولو کښې هیڅ تکلیف نه وو نو د انسان په پیدا کولو کښې به ورته څنګه تکلیف وی، بنا په دے د انسان دوباره ژوند د عقل نه خلاف نه دے،

## د معاد او مجازاتِ اعمال پنځم دلیل

سوا د انسانه کُل کائنات د انسان د خدمت او فائدے لپاره پیدا شوی دی ( وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، د آسمانونو او د زمکے ټول کائنات الله تعالیٰ ستا سو په کار او خدمت کښې لګیا کړی دی خو انسان ئے د طاعت او عبادتِ خداوندی لپاره جوړ کړی دے وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ، مونږ پیریان او بنیادم د خدائے د عبادت د پاره پیدا کړی او د عبادت نتیجه د دے فائدے دی



کچرے قیامت، دوباره ژوند، مجازاتِ اعمال، جنت او دوزخ هیڅ نه وی نو د عبادت هیڅ فائده به کاره نشوه، له دے وجے د انسان پیدا کول عبث شو، او په دے بنا د کائنات تو پیدا کول هم عبث شو او په دے وول به (العیاذ بالله) د الله د ټول کار د نه عبث ثابت شی، چه د الله تعالیٰ د حکمت له شانه خلاف ده د الله تعالیٰ حکمت دا دے چه د انسان د عملونو پوره نتیجه د په قیامت ښکاره شی ځکه چه دُنیا کښې دا نه نشی کیدے رمونږ ورانلے تفصیل سره بیان کړیدے، چه د الله د عمل دا کارخانه عبث ثابته نشی او د دے او د انسان په پیدا کولو کښې د الله حکمتونه هم ښکاره شی، په دے خبرو د قیامت عقلی ثبوت راځی

## د قیامت او مجازاتِ اعمال شپږم دلیل

الله پاک انسان بیکاری د پاره نه دے پیدا کړے، اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ، (القیامة آیتہ ۳۶) آیا دا انسان دا خیال دے چه دے بربکاره پریښودے شی) دغه شان، اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ○ ، سورة المؤمنون آیتہ ۱۱۵) (آیا تا سو ګمان کوئ چه تا سو مونږ عبث پیدا کړی یئ او د عملونو نتیجو مونږ لو د پاره به قیامت کښې مونږ ته بیرته نه راځئ) خوګ دنیا کښے مونږ او ګن دوا ډوله قسم انسانان شته، څوک ظالم څوک مُنصِف، څوک نا فرمان څوک فرمانبردار، څوک متقی، څوک فاجر وغیره، د دُنیا ټول قومونه د الله د عدل او انصاف منته کوی د دے په جوړ د الله تعالیٰ سلوک د ټولو سره یو شان نه دے بکار ځکه چه د الله عدل به ښکاره نشی لکه یو انسانی بادشاه چه دا فرق کوی وفادار او باغی سره یو شان سلوک نه کوی وفادار له انعام ورکوی او باغی له سزا ورکوی په دنیا کښے دا نشو کیدے روبانځ تفصیل سره بیان شوے دے :

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دَ انسان دویم ژوند دَ الله دَ دے قسم انصاف کولو دَ پاره ضروری شو
هغه قیامت دے او دَ مجازاتِ اعمال ورځ ده چه دَ عقل له اړخه ضروری
ثابته شوه او قرآن دَ دے بیان داسے کوی چه:
اَمْ نَجْعَلُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ، آیا مونږ به آخرت کښے هغه مؤمنان
کَالْمُفْسِدِیْنَ فِی الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِیْنَ : یه الله باندے یقین کوونکی او
کَالْفُجَّارِ ○ نیکوکاره خلق مُفسدانو سره برابر ساتو او خدا ترسو به
بدکردارو په شان سلوک کوو، دا هیچرے نه

## دَ قیامت او مجازات اُوم دلیل

دا ضابطه شته چه هر مُرکب (اصلی یا مصنوعی) دَ پاره مفرد ضروری
دے لکه انسان چه دَ خاورے، اُبو، هَوا او اُور نه اصل مرکب دے نو ځان ځان
له دَ دے مفردات هُم شته خالِصے خاورے، خالِص اور وغیره وغیره مصنوعی
مرکب (شربت سکنجبین) دَ اُوبو سره اوچینو نه جوړ دے دا دوے دواړه
خالص خیزونه ځان ځان له هم موجُود دی دا ضابطه په احیانو، اعراضو
جواهرو او او صافو ټولو باندے حاوی ده، مثلاً دَ یو زړو رنګ چه
تور او سُور رنګ نه مُرکب وی، نو دا دواړه ځان ځان له خالِص هُم
شته، دُنیا کښې غم او خوشحالی یو مرکب دے چه هر انسان کښې دا
دواړه جمع وی، داسے انسان په دُنیا کښې نشته چه مکمل دِ خوشحالۍ له ډک
او هیڅ غم دِ ور سره نه وی، او داسے هم نشته چه بِتول دِ غم وی او خوشحالی
هډو وی نه نو دَ تیر شوے قاعدے په جوړ دَ خوشحالۍ او غم نه مرکب
دَ پاره خالص مُفردات ځان ځان له پکار دی چه خوشحالی ځان له بوائے
موجودی لکه جنت کښے دَ نیکانو دَ پاره او غم دِ ځان له یوازے موجود وی
لکه دوزخ کښې دَ بدانو دَ پاره، او هُم دَ دے نه دَ قیامت مجازاتِ اعمال
او دجنت او دوزخ ثبوت کیږیګ:



## دَ قیامت او مجازاتِ اعمال اتم دلیل

په دُنیا کښې نه خلق هُم شته او بد هم، داسے
اُکثره لکه ټول انسانان یو داسے مجموعه وی، چه پکښے اعلیٰ او قیمتی اجزاء
هُم وی، خسیس او کمے درجے والا اجزاء پکښے هم وی لکه دَ غنمو بوټی
کښې یو اعلیٰ جُزء دَ غنمو دانه (غلّه) ده او بل ادنی جُزء ئے دړوځه او بوس
دی دانه ئے دَ بنیادم خوراک ده او بوس دَ څناورو خوراک ده دَ دے بیلول
پکار دی چه هغه دَ پاره په دَرمن کښې دَ دے غو بلول او آلوزول پکار دی
غله به دَ انسان معدے ته ځی او بوس به دَ څناورو معدے ته ځی، دَ غه
رنګ میدان حشر درمن اُکثره چه هغه کښے دَ نیکانو او بدانو بیلول
مقصد دی وَامْتَازُوا الْیَوْمَ اَیُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ○ سورۃ یٰسٓ آیۃ ۵۹
(اے مُجرمانو دَ نیکوکارو نه بیل شئ)
اِنَّ یَوْمَ الْفَصْلِ کَانَ مِیْقَاتًا (النباء آیۃ ۱۷) دَ نیکانو او بدانو دَ بیلولو ورځ
ټاکلے شوے ده، نیکان به خپل فِطری ځائے جنت ته لاړ شی ګویا کښے جنت
اِنسانی معده شوه او بدان به خپل فطری مقام دوزخ ته لاړ شی ګویا کښے
دا دوزخ حیوانی معده شوه، او داسے شوه لکه نیکان غله او غنم وی
او بدان لکه بوس او دړوځه چه دَ حیوانانو خوراک شی یا سوزولے شی په
تنُورو وغیره کښې۔

## دَ قیامت او مجازات نهم دلیل

دَ انسان په فِطرت کښې دَ خالص آرام او خوشحالۍ تقاضا پرته
ده انسان دَ فرد په شکل کښې وی که دَ قوم یا دَ وطن په شکل کښې دغه آرزو او
تقاضا دَ دَه په فطرت کښې ځائے ناستے ده دَ اُس دا آرزو پوره کیدل ممکن ځکه
وی چه مونږ وړاندے تفصیل سره بیان کړیدے چه ناممکن خواهش
او آرزو باندے ټول دُنیا متفقه کیدے نشی لکه دَ نسا او افسانو تقلید دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی پاتے کیدو خواهش، هرکله چه دَ خالص راحت او خوشحالئ دَ تمنا پوره کیدو امکان ثابت شونو په دُنیا کښې دَ دے پوره کولو انتظام یو خوله دے وجې نشو کیدے چه دُنیا او زمکه تنګه ده ټول انسانان پکښې په یو ځل نشو جمع کیدے او بل دا چه خالصه خوشحالی او راحت په دنیا کښې ځکه نشی کیدے چه یو بادشاه چه ډیر خوشحاله او آرام کښې ښکاری خو زړګونه غمونه ورسره وی لکه د حکومت آوریدو دَ رعیت بغاوت او مرض بیماری دَ خپلو خپلوانو مرګ دَ بل ملک حمله وغیره، اُس عقل دا یقین لری چه قدرت دِ دَ خالص راحت او خوشحالئ غوندے فطری خواهش پوره کولو انتظام کړے وی لکه چه دَ نورو ټولو فطری خواهشاتو انتظام ئے ځکه کړیدے چه په فطرت کښې دَ اغیزلی خواهش دَ پوره کولو انتظام دَ قدرت ذمه داری دا ځکه دَه چه هغه حکیم او عادل دے دا سے خواهش په فطرت کښې نه ورځښوی کوم چه نه پوره کیدونکے وی او انسان پریشان نه کیږی، اُس دے پوره کیدونکی خواهش دپاره دیو لوئے بل جهان ضرورت دے چه هغه پوره ډیر وسیع اولوئے وی او دَ انسان دا فطری خواهش دَ جنت په شکل کښې پوره شی، لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝ رسوره البقره آیة ۳۸) نه به (په جنت کښې) دَ چا غم وی او نه به دویرے اندیښنه وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُکُمْ وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝ سوره حٰمٓ السجده آیة ۳۱) تاسو کاملو انسانانو له پاره به په جنت کښې هغه څیزونه وی کوم چه ستاسو زړه غواړی یا ئے تاسو په ښکاره اُغواړئ) هلته به خوانی وی بوډا توب به نه وی، صحت، غنا به وی او مرض او محتاجی به نه وی، دے خبرو سره قیامت او جنت خو عقلاً ثابت شو مګر په دے بنیاد دوزخ دا سے ثابتیږی چه دا دَ جنت ضد دے او تُعْرَفُ الْاَشْیَاءُ بِاَضْدَادِهَا، هر څیز په خپل ضد پیژندے شی، شپه هله پیژندے شی چه



ورځ اُپیژنی، سپین به هله پیژنه نشی چه تور اُپیژنی کوم به هله پیژندے شی چه تخ اُپیژنی په دے قاعده دوزخ هم ضروری شو چه هغه نه بدلان یعنی دَ نیکانو ضد مجرمان لاړ شی، جنت به همیشه وی ټول آرام او راحت به وی دوزخ به هُم همیشه وی، ټوله بے آرامی او تکلیف به وی دا دَ الله دانصاف تقاضا ده چه ټول جنت ته نه بوځی نو جهنم ځکه ضروری شو کوم قوم چه دَ جنت اقراری دے هغه دوزخ هم منی دے کښے څه اشکال نشته ځکه چه جنت او دوزخ ددنیاوی عملونو نتیجه ده دُنیا کښې ښه او بد عملونه او خلق وو نو قیامت کښې هم دد ے نتیجه به دغسے فرق ښکاره وه چه دَ الله تعالیٰ انصاف او عدل پوره ښکاره شی

## دَ قیامت او مجازاتِ اعمال لسم دلیل

دَ بشر اصلاح دُنیا ټول قومونه دا سے خوښوی چه هغه دِ نه دَ خدائے او نه د بنیاد موحق ضائع کوی چه انسان ژوند په اطمینان امن او خوشحالئ کښې تیر شی هم په دے اداره هر قوم په هر دور کښې دَ بشری اصلاح دپاره انتظامونه کړیدی مختلف ادارے ئے جوړے کړے مګر زړه پورے اصلاح اُنشو دَ اصلاح عقلی اسباب درے دی:

(۱) تعلیم (۲) قانونِ حکومت (۳) او عقیده دَ مجازاتِ اعمال

(۱) په تعلیم خو دَ نیک د بد عمل نه واقفیت راشی لیکن دَ عمل کولو باعث کیدے نشی،

(۲) دویم سبب قانون هُم په اصلاح بشری کښې پوره کامیاب نشو ځکه چه جرمونه روح کوی نو کومه چه روح کښې پاکیزګی او انقلاب نه وی را غلے نو دَ جرمونو سلسله نه ختمیږی قانون په دے وَ جهو مجرم ته په سزا ورکولو کښې پوره کامیاب نه دے، هر ځائے کښې دَ قانون حکومت نشی کیدے په غیر علاقو کښې نه قانون شته او نه حکومت، ځکه نه قانون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت وی نو بیا هم مجرمان د اسې ځائے او د لسې وخت کښې جُرم کوی چه هلته څوک ګواه نه وی په دے بنا هغه د سزا نه بچ شی او د اصلاح کار نامکمّله پاتې شی،

بعضې ځائے کښې ګواه خو وی لیکن د ښتیا ګواهی نه کوی۔

بعضې ځائے کښې ګواه ګواهی کول غواړی مګر د مدعی علیه له اړخه هغه ته څه مالی لالچ یا ویره ورکول هغه د ګواهۍ نه بند کړی،

بعضې ځائے کښې د ښتیا ګواهی اُشی لیکن د مخالف فریق د وکیل په جرح د غه ګواهی مشکوکه او بے اثره شی، او مجرم د سزا نه بچ پاتې شی،

کچرے جرح سره هُم ګواهی صحیح ثابته شی نو فیصله د جج په لاس کښې ده هغه غلطی هُم کولے شی بالخصوص هغه وخت چه په زړه کښې ترس رحم او خُدائے ترسی نه وی، نو رشوت او سفارش فیصله په بل مخ واړوی او مجرم سزا نه بچ شی؛

کچرے سزا او اُوشی نو هغه به د جرم په جوړ هومره سخته نه وی څومره چه جُرم سخت وی، دا شیُونه چه وی نو قانُون جرمونه نشی بندولے همدغه وجه ده چه قانُون او سزاګانے خو شته مګر جرمُونه زیاتیږی او قیدیان زندیان ، ورځ په ورځ دیماد دیږیږی، بنا په دے اِصلاح بشری کار د زړه ضمیر نه دا سے شروع کول پکار دی چه اول خو د جُرم اُنشی او بیا که اُشی نو د سزا نه د بچ نشی، د دے صُورت دا دے چه په زړه او ضمیر کښې د د مجازاتِ اعمال او قیامت دا سے پخه عقیده وی چه هغه نه سری سره دا فکر پیدا شی چه هره ګناه او حق تلفی کول خپل ځان په آخرت کښې تباه کول دی او د خوړو محو فانی فائده په بدل کښې د آخرت هغه دائمی فائدے بیلل دی چه دیو عقلمند سړی کار نه دے، دا هغه عقیده ده کوم چه غلط او وا کوان زعرب د جاهلیت، فرښتے



ځولی جوړ کړل او د دے عقیدے د پوخ والی په وجه د هغوی زړونه دومره د اسے روښانه شول چه د هغوی نه د جُرم تو، ظلم او حق تلفی نوم نښان ورک شو د بشری اِصلاح همدغه یو معجزه به نُسخه ده کوم چه د تجربو او مُشاهدو په بُنیاد ډیر اِصلاحی اثرات نه دُنیا واقفه کړه هم دغه یو دا [illegible] چه د بشر مکمل اِصلاح پرې کیدے شی، هغه ده د مجازاتِ اعمال [illegible] قیامت پخه عقیده او دا رنګ قیامت او مجازات اعمال عقلاً ثابت [illegible]

## د قیامت او مجازات یو لسم دلیل

انسان د کائناتو یو قیمتی جُز دے څو عمر او ژوند ئے لنډ دے آسمان او مکه او غرونه د ډیرے مُودے را سے دی لیکن د انسان ژوند لکه د لمبے دمرک په یو چپه ختمیږی لکه د چا کور کښے چه د خاورے لوښی وی، او د سرو زرو هم لوښی خاورین په ډیر زر زړه ختمیږی او دغه قیمتی د سرو لوښی به ډیر موده پاتې وی حکه چه قیمتی څیز څوک ځان نه نه لرے کوی، د دے نه معلومیږی، چه د قیمتی انسان سره مُناسب بل قیمتی اُوږد ژوند دے کوم کښې چه د ده به د عملونو بدله ملاویږی او دا به ثابتول غواړی چه د خسیسو شیُونو په مقابله کښې د قیمتی انسان عُمر ډیر زیات وی ﴿وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ﴾، د انسان اصلی ژوند د آخرت دے، چه دے قاعدے پنا شوے فرق زد خسیس او د قیمتی اعلیٰ پُوره ښکاره شی، د غه د قیامت د غه د مجازاتِ اعمال او د غه د آخرت :۔

## د مجازات او قیامت دولسم دلیل

[illegible] ډاکټر فرانک لیکی، چه د نوی دنیا په جوړ کړ انسان شخصیت په درے څیزونو ښکاره کیږی: (۱) نیت (۲) قول (۳) فعل

(۱) نیت دَ انسانی نفس لاندے پہ شعور کښې محفوظ دے چہ هغه یو خیال هیرکړې خوب کښې ئے اُګوری او بیا ورته را یاد شی۔

(۲) او قول دَ هوا پہ چپو کښې محفوظ دے چہ پہ دیرٔ یائی نظام یو خوا بل خوا پہ ولے ورٔاړولے شی ددے رفتار پہ یو سیکنډ کښې یو لاک او شپږ اتیا زره (۱۸۶۰۰۰) میله دے، ټول اقوال پہ فضا کښې محفوظ دی خو یو بل سره ګډ وډ دی داسے آله لا نه ده پیدا کومه چہ دیو بل نه دا بیل کړې کیدے شی چہ دُ ستو پیدا شی، پہ خلاف د ریډیائی نظام نه چہ پہ اُوګدوالی دَ ریډیو ستن پہ مختلفو لاندرو نو برابرو لو سره مختلفو ځائونو نه آوازونه را کاږی او یو بل سره ګډ وډ کیږی نه ځکه چہ دَ کوم چپے پہ اُوږد والی کښې بیلے دی دغه رنګ هر فعل پہ فضا کښې یو حرارت پریږدی چہ پہ تیز دے وخت کښې پہ نوی علمونو معلوم مولے شی، لیکن پہ ډیر وخت تیریدو سره داسے آله لا تر اوسه نه ده ایجاد چہ هغه دَ فضا نه بیرته را واخلی کیدے شی چہ دُ ستو داسے آله هم پیدا شی دے تقریر نه دَ آخرت وجود درست ثابتیږی چہ پہ هغے کښې دَ نیت قول او فعل (چہ محفوظ دی) نتیجے مرتبے شی،

دے نه علاوه دَ ماهرینِ ارضیاتو دَ تحقیق مطابق دَ زمکے پہ خیټه کښې دیارلس سوه (۱۳۰۰) درجے ګرمے شته حالانکه داؤ بو ویشتو لوَ پاره سل درجے ګرمی کافی ده۔ ددے نه علاوه هر کال د زمکے نه پہ زرګونو زلزلے پیدا کیږی دَ بعضے پته اُلګی او دَ بعضے اُنه لګی دا د هغه ګرمئ نتیجه ده کومه چہ دَ زمکے پہ خیټه کښې پرته ده، دا ټول او دَ سمندرو دا بو تر یخولے دَدے خبرے دلیل دے چہ جهنم د زمکے او سمندرو دَ لاندے او دا ټول دَ جهنم اثرات دی۔



# دَ قیامت تفصیلات

## دَ قیامت کیفیت

دَ قیامت حقیقت دوه خیزونه (۲) یو دَ دے جهان وران ټول او د بل جهان (آخرت) جوړول دا دواړه الله دَ دُ ټوکو سره ترلی دی، اول ټوکل تخریب دَ پاره دی او دویم ټوکل دَ تعمیر دَ پاره دی تخریب پہ حقیقت کښې دَ دُنیا مرګ دے عالم علالت دا دے، چہ مرګ دَ وړاندے څه مرض او رنځ دی هغه چہ پہ علاج بنه نشی نو دغه رنځ دَ طبیبانو پہ خیال کښې لا علاجه او مُهلک وی، نو هغه رنځور تر ... هلاک شی، ټول انسانان مجموعه یو جسم اُګنړه هرکله چہ هغه رنځور شی نو دَ دے قاعدے مطابق علاج ئے کولے شی که علاج ئے ممکن نه وی نو لا علاج شی او هلاکت ته نزدے شی او بیا دَ الله قانون دَ هلاکت پہ ده نافذ شی او هلاک شی، دَ انسان دَ پاره نو ټول کائنات خادمان دی هرکله چہ انسان نه وی نو بیا دے ټولو نورو کائناتو هیڅ ضرورت پاتے نشو نو ځکه دَ انسان هلاکت سره دا ټول کائنات اُترپلے شی او هلاک شی نو دغه قیامت دے ددے نه وړاندے حالت دَ دُنیا ددے مرض موت اُګنړه چہ دَ شریعت پہ اصطلاح کښې دے ته اَشراط الساعة یا دَ قیامت نښانے ویلے شی لکه چہ یو سړی کښې دَ مرګ نه وړاندے دَ مرګ نښانے ښکاره شی تر مرګه پورے شان و قفه وی دا خو ر کوچنے انسان دے خو د ټول عالم دَ مرګ حالت حُکم مختلف دے چہ دا دَ یو انسان پہ نسبت ډیر لوئے شے دے نو دده دَ مرګ او نښو دَ مرګ کښې به ډیره وقفه وی ددے نښے دَ مرګ علاماتِ کُبری دی کومے چہ شریعت ښودلی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عالمي مرض، موت يا د قيامت نښې

د خلقو ايمان او هغې سره تړلې ضروري څيزونه عالَم د پاره لکه د ژوندانه د روح مثال لري، هم دغه شان چه څومره کمزورتيا راځي هومره عالمي صحت د پاره مرض دے دا مرض چه عالمګير شکل اختيار کړي نو دا به د عالم هلاکت او د قيامت د پاره به غټې نښې وي او دے زمونږ تربيه مهلک وسيلې شي لکه چه احاديثو کښې دي :-

(۱) د ابن مسعود رضي الله تعالیٰ عنه نه مرفوعًا روايت دے چه قيامت به په شريرو انسانانو قائميږي (مسلم شريف)

(۲) حضرت انس رضي الله د حضور صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي چه څو پورے الله الله وئيونکي مؤمنان وي، نو قيامت به نه قائميږي،

(۳) حضرت حذيفه رضي الله تعالیٰ حديث شريف نقل کړے دے چه قيامت به تر هغې نه قائميږي څو پورے چه د دُنيا اقتدار د بد ترينو خلقو لاس کښې رانشي (ترمذي شريف)

دا احاديث ښائي چه هر کله بدي عالمګيره شي نو قيامت به نه کيږي او دا د هلاکتِ عالَم نښه ده او چرے لږ ايماندار خلق پاتے وي نو په مسلم کښې د حضرت عائشې رضا د روايت مطابق الله به ډير ښائسته هوا راليږي او په هغه به د مؤمنانو د روح قبض کړي او قيامت به بيا زر په بدو خلقو قائم شي بيا په دے قيامت قائمولو کښې يورپ ډير اهم کردار ادا کړيدے د دوي تولو علومو فنونو ايماني عقيدے او ايماني عملونه ختم کړل دليلونه دا دي :-

(۱) د امريکے د هم جنسيت پرستانو يعنې د لواطت د حاميانو د انجمن د رپورټ (روزنامه جنګ ۲۰ اپريل ۱۹۲۲ء کښې درج دے) په مطابق د امريکے فوج کښې يو کرور او يا لکه (۱۷۰۰۰۰۰۰) هم جنسيت پرستان يعنې لواطت



کوونکي دي او د امريکے په عامو خلقو کښې هر څلورم سړے په لواطت کښے بوخت دے :-

بيا زيے په برطانيه کښې څوارلس لکه (۱۴۰۰۰۰۰) هغه حراميان وارد دي د کوم عُمرونه چه شپاړس يا اوولس کاله دے :-

هر کال د حراميانو ورو پيدائش او يا زره دے دا د حمل غورځولو او د پيدائش بندولو نه علاوه دي او سطا هر څوارلسم کس حرامي وي ۱۹۲۸ء د رپورټ مطابق په سلو کښې نوي امريکنيان په زنا کښې او او يا په سلو کښې په لواطت بوخت دي، د دوي اندازه ده چه ۱۹۷۶ء پورے به هر پنځم بچے حرامي وي (رپورټ د ترجمان اسلام ۱۴ ارمئي ۱۹۷۶ء) مغربي تهذيب چه کومه خونريزي کړيده په هغې وړاندينه جنګِ عظيم موجوده جنګونه او ايټمي وسلے استعمال لوي د خدائے او داخلاقو نه انکار دے سود او شراب د دوي د ژوندانه يو غټه برخه ده په ډيرو کاتو او اخبارونو دروغ خبرے خورول د کامياب سياست نښه ګڼلے شي او تعجب دا دے چه دا ګناه هم نشي ګڼلے، لکه انګلستان او کنيډا چه د لاسونو په پرقاد کښې د لواطت د جواز قانون پاس کړو،

## د شپيلئ پوکل

**روحاني پوکل**

د جُمع په ورځ به د اسرافيل فرښته په ذريعه شپيلئ پوک وهلے شي په دے کښے به د جلالي تجلو دومره زيات طاقت وي چه د هغې خدائي اثر نه به دا ټول عالم دړے وړے شي دا پوکل به په حقيقت کښې د الله د "مُميت" د صفت مظهر وي چه هغے نه به په هر څيز (برّني او کوني) باندے موت او فنا طاري شي، د قرآن بيان دے وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ (سوره زمر آية ع ۶۸) شپيلئ به اپوکلے شي نو د آسمان او ځمکے کائنات به هلاک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوا دَ هغو چه الله ئے هلاکول نه غواړی ؛

دَ هلاکت نه دا څیزونه مستثنیٰ دی (۱) دوزخ کارکونکی فرښتے (۲) جنت او دَ هغے حورے غلمان ځکه چه دَ دوی پیدائش دَ بقاء دپاره دے فنا دپاره نه دے، (۳) ځلور مقرّبے فرښتے (۴) او مُدبّرات الامر کومو نه چه کارا غستل وی، دَ شهیدانو روحونه چه هغوی سره دَ همیشه ژوند وعده ده، (بدورالسّافرة فی امور الآخرة) کښ — د مستثنیات دَ حدیثو نه ثابت کړیدی، هم په دے کتاب کښ دَ بیهقی نه په روایت دَ مُقاتل منقول دی چه دَ شپیلئ د دا ئرے فراخی دَ آسمانونو او دزمکو دَ فراخئ برابر ده،،

## دویم پُوکل

قرآن شریف کښ دی (ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ○ (سورة الزمر آية ۶۸) ؛

دوباره شپیلئ پُوک وهلو سره به مړه انسانان او حیوانات ټول ژوندی شی هم دا دَ ابن عباس رضی الله نه په بدورالسافرة، کښ منقول دی، طبرانی مقدام رض نه په حَسَن سند نقل کړیدی چه دَ بچی نه تر بوډا په ټول را ژوندی شی، کوم حمل چه دَ وخت نه وړاندے غورځیدلے وی کچرے دَ هغه اندامونه پوره وی او ساه پکښ راغلی وی، نو ژوندے کولے به شی که دا سے نه وی نو نه به شی ژوندے کولے، دَ ټولو به عمر دَ دیرش کاله وی،

دا پُوکل به دَ الله دَ ،،مُحْیِی،، صفت مَظهر وی، دَ قرآن دَ ذکر شوی، دے آیت ترجمه دا ده چه (دویم باره به شپیلئ پوک وَهلے شی نو ټول مړی به ولاړ وی او گوری به) په دواړو پوک وَهلو کښ به دَ څلویښتو وقفه وی، (بخاری) په دے څلویښتو کالو کښ به څلوینت ورځے دعه نه ډکه سپینه اُوبو باران کیږی چه دَ مړو په خاورین قالب به وریږی



او دا به په انسانی شکلونو کښ بدلیږی، په بدورالسّافرة، کښ دَ ابوالشیخ دَ روایت مطابق په شپیلئ کښ دَ ټولو روحونو به شمیر سُری دی هغے کښ به د هغه روحونه وی په پوک وهلو به ټول خپلو خپلو قالبونو ته راوالوزی او پکښ به داخل شی، دَ بدن دَ ذرّو جمع کولو عمل به دَ زلزلے په ذریعه وی، لکه قرآن وائی (إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ○ سورة الحج آية ۱) هر کله چه دَ دوی دَ کالبوت شکل جوړ شی یا دَ مُدبرات الامر فرښتو په ذریعه جوړ شی، نو عرش به هغه سپین آب حیات څلویښتو ورځو پورے پرے ورَیږی،

په دے به دغه خاورین قالب (کالبوت) په غوښینی قالب (کالبوت کښ) بدل شی، او بیا به دا هیڅرے نه بدلیږی او نه فنا کیږی، دَ انسان بَد چے وجود دَ (ماء الفناء) او دَ ذکے دَ اوبو نه وو، او دا وجود به دَ (ماءُ الحیات) او دعرش داُوبو نه وی،،

او ابوهریره رضی الله دَ حضور علیه السلام نه نقل کړیدے چه دے ته (ماء الحیات) حضور علیه السلام فرمائیلی دی، په دویم پُوکی به دغه تیار دو قالبونو (کالبوتونو) کښ روحونه منتقل شی او روحونه به را پاسی

## دَ پُوکلو دَ حِکمت بیان

دَ دُنیا نظام په مادی اسبابو روان دے، نو په دنیا کښ پیدا کیدل هم په وار وار دی، او مرګ هم، نه ټول خلق یو ځائے پیدا کیږی او نه ټول خلق یو ځائے مری، بلکه پیدا او بنت او مړ کیدل په وار وار او رو رو وی، لیکن دَ آخرت جهان دَ معنویاتو او دَ جلال او دَ قدرت جهان دے دَ دے ته عالَم دَ دفعیات (په یو ځل فوراً) هم وئیلے شی، نو دَ دُنیا ټول الهی او انسانی آبادی به په یو ځل ختم کړے شی او په دویم ځل پُوک وهلو باندے به په یو ځل سمدستی ټول مړی را ژوندی شی، لکه چه فوځ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو شیبلي جمع کیږي او په یو خوځیږي، د انسان په رومبي ژوند د دنیا کښې د مور په خیټه د بنیاد د موکو قالبونو کالبوتونو) بوابز ولو کار (مُدَبِّرَاتِ الْأَمْرِ، فرښتو ته وا هستوا و دغه رنګ روح قبض کول او مره کول ئې هم د دغو فرښتو په ذریعه کېږي،

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ، فرښتې د روح قبض کولو د پاره لاسونه
قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِىْ ، خوروي) ته اووایه چه ستا سو روح
وُكِّلَ بِكُمْ (سورة السجدة آية ۱۱) ؛ هغه فرښتې قبض کوي کوم چه تاسو
مقرر دی)

د دے آیتونو په موجب د فرښتو په ذریعه په دنیا کښې الله تعالی انتظام د ژوندانه او مرګ اوچلولو، دے نه د الله تعالی احتیاج او کمزوري نه بلکه خپله باد شاهي ښکاره کول دي، دوا په ټوک وهل به حضرت اسرافیل علیه السلام کوي ځکه چه د اُسْجُدُوْا لِاٰدَمَ، د تقاضا مطابق د مکنی قوتونو خادمانه حیثیت پوره ښکاره شي، تردے پورے چه جنت او دوزخ پورے تړل انتظام او خدمت د انسانانو به فرښتې کوي، د جهنم انتظام فرښتې چلوي او جنت کښې د سلام اچولو فرض به هم د فرښتو په سپرو وي قرآن کښې ذکر دی، په رومبي ټوک وهلو به الله تعالی تجلي د امانت په کائناتو ور غورزوي او د په دويم ټوک د هلو سره به د احیا تجلي مرو ور غورزولے شي، د ورانولو په ټوک وهلو کښې به هم نظم او باقاعدګي وي شروع به د علویاتو (آسمانونو) نه کیږي، لکه اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ (الانشقاق آیة ۱) وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ چه آسمان به مات که شي کوم چه د دنیا چت دے دغه رنګ، اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝ وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ (التکویر آیة ۱،۲) په مطابق د کائناتو رونبا نه تول قسم ستوري به بیکاره او ختم کړیشي (وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝ (سورة



الانفطار آیة ۳) او اِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ (سورة التکویر آیة ۶) په مطابق تول خوږے او تریخ اوبه به یو ځائے کړیشي او په ګرمئ سره به ختم کړیشي د دغے ګرمئ نه به په اوبو ورا لګي بیا به غرونه په ګرد او غبار کښې بدل کړیشي زمکه به هواره کړیشي، لکه قرآن فرمائي «وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ) (وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ۝ (سورة الواقعه آیة ۵،۶) غرونه به والوزولے شي، او ذره ذره به کړیشي او تر به خورو ور ګرد و غبار جوړ شي ، بیا به دویم ټوک وهلو نه د تعمیر انتظام کیږي او مړي تول به را ژوندي شي او د الله په محکمه به په قطارونو کښې اودریږي،

## د محشر زمکه

د محشر زمکه به د دنیا د زمکے نه بدله وي،

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ) په دغه ورځ به د دنیا د زمکے نه بدله کړه شي دويم دا چه صفات به ئے بدل شي او دريم دا چه یو وار به ئے صفات بدل شي او بیا وار به ئے ذات بدل شي ، غوره قول دا دے چه صرف صفات به ئې بدل شي، د بخاري او مسلم شریف کښې د سهل بن سعد رض نه مرفوع حدیث را غلے دے، يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى اَرْضٍ بَيْضَآءَ عَفْرَآءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيْهَا عَلَمٌ لِاَحَدٍ، او په صحیحینو کښې د ابو سعید خدري رضی الله نه مرفوع حدیث را غلے دے،

تَكُوْنُ الْاَرْضُ خُبْزَةً وَّاحِدَةً ) معنئ ئې دا ده چه خلق به په دا سے زمکه راپاسولے شي، چه سپینه غنم رنګے به وي لکه د میده د ډوډئ پشان چه په دے به هیڅ قسم نښه نه وي، د ابو سعید رض د حدیث ترجمه دا ده چه دا زمکه به د یو ډوډئ په شان وي، بعضے روایتونو کښې چه د چاندئ ذکر دے، نو د هغے مطلب صرف سپینوالے د چاندئ پشان دے،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیهقی کښې د ابن مسعود رضی الله د په صحیح سند دا الفاظ نقل دی، تُبَدَّلُ الْاَرْضُ اَرْضًا كَاَنَّهَا فِضَّةٌ ، یعنې دغه نیا زمکه به په داسې زمکه بدله شي چې لکه د چاندۍ به سپینه وی، ابن جریر د زید بن ثابت رض نه مرفوعًا حدیث نقل کړې دے :

اِنَّهَا تَكُوْنُ يَوْمَئِذٍ بَيْضَاءَ مِثْلَ الْفِضَّةِ ، دا زمکه به په دغه ورځ لکه د چاندۍ سپینه وی د دے نه معلومیږی چې غوره قول د صفاتو بدلیدو دے،

## د مؤمن خوراک څښاک

په میدان حشر کښې به زمکه د کیک پشان وی او مؤمنان به د دے نه خوراک کوی، بدور السافره ص۲۲ کښې منقول دی، چې مؤمنان به د خپلو قدمونو له طرفه د دغه زمکې نه خوراک کوی، او د کوثر هغه اوبه به څکی کوم چې د پیو نه سپینې، او د ګبینې نه خوږې او د شاتو نه خوږې وی،،

حافظ بن حجر رح فرمائی، دا دے دپاره چې مؤمن ته د حشر په اوږده مُوده کښې د لوږے، تندے څه تکلیف نه وی، بدور السافره ص۲۲ کښې د طبرانی معجم اوسط نه مرفوعًا حدیث منقول دے، چې د عرش د لاندے به د الله له طرفه یو دسترخوان خور شی، چې په دے نعمتونه او د خوراک څښاک داسے څیزونه او میوے وی، چې چا به نه دی لیدلی، نه به ئې په خیال کښې راغلی وی څو به دغه خوانچه باندے به روژ تیان مسلمانان خوراک کوی د هغوی پیژندګلی به دا وی چې د هغوی د خلې نه به د مشکو او د کستورئی د خوشبوئی بوئ د ورنه خیژی،

## بیان د حوض کوثر

قرآن فرمائی، اِنَّا اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ، ابن عباس رض فرمائی چې د دے نه حوض کوثر مراد دے، په میدان حشر کښې به د هر پیغمبر د هغه د اُمت په جوړ یو حوض وی او په هغې کښې د حضور علیه السلام حوض به لوئ



لوئے وی، دا مضمون ترمذی شریف کښې د سمره رض نه د مرفوع حدیث په صورت کښې راغلے دے، د حضور علیه السلام حوض کوثر به میدان حشر کښې ډال د شپږ پنځوسو (۵۶) صحابو نه نقل دے چې په هغې کښې څلور خلفاء کرام رض او عشره مبشره هم دی، په ظاهر به هغه حوض څلور ګوټیز وی، او څلور وار ه غاړې به ئې په یو اندازه وی چې څلور وار ه به یو از سے ګویو میاشت په مزل اوږدے وی د هغې لوښی او کلاسونه به د آسمان د ستورو د شمیر نه هم زیات وی خو د هغه ستورو کوم چې مونږ او عوام ونه په نظر ښکاری د اوبو رنګ به د پیو پشان سپین د شاتو نه زیات خوږ او د واوره نه به یخے وی دا به هغه خلق څښی کوم چې د مؤمن نه علاوه د سنت نبوی تابعدار وی، بدعتیانو نه به د ګے ورکولے شی او دے نه به لرے کولے شی دا بدعت لکه د خوارجو، د روافضو او معتزله د اعتقادی وی او که عملی وی، ظالمان به هم دے نه شړلے شی دا قول روایات د حدیثونو د بدور السافره ص۹۶ نه ترص۱۰۱ اخستلے شی، حوض کوثر په حقیقت کښې د سنت نبوی یا د کتاب او سنت جسمانی صورت دے چې دے نه به یوازے په کتاب او سنت عمل کوونکی فائده اخستے شی ځکه چې آخرت کښې به اعمال ته جسمانی صورت اختیارژی بد عملونه به د ځهر شیونو او نیک عملونه به د فائده مند شیونو صورتونه اختیار وی،،

## عمل نامے

### په قرآن کریم کښې ذکر دے

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَسَوْفَ : چا ته چې په ښی لاس عملنامه يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا وَّيَنْقَلِبُ اِلٰى : ورکړے شی نو هغه به آسان حساب اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۝ وَاَمَّا : ورکوی او په خوشحالئ به جنت کښې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ فَسَوْفَ: اهل وعیال ته را اُرسی، او چا ته يَدْعُوْا ثُبُوْرًا وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا (سورة: چه د شاله طرفه عملنامه ور الانشقاق آية ۷ تا ۱۲) کړے شي نو هغه به هلاکت هلاکت چغې وهي او په دوزخ کښ به اُغورزيږي:

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ: چا ته چه په ښي لاس عمل نامه هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ، ورکړے شي، نو هغه به د خوشحالۍ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ: نه نوروته به وائي چه راګوري ځما عمل نامه ځما په دُنیا یقین وو چه په دے ورځ به د الله تعالیٰ سره ځما ملاقات وي:

(سورة الحاقة آية ۱۹ و ۲۰)

وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ فَيَقُوْلُ: او چا ته چه په ګس لاس کښ عملنامه يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ (سوره : ورکړيشي نو هغه به افسوس کوي الحاقة آية ۲۵) : چه دا عملنامه خو ما ته نه وے راکړے شوے،

اِقْرَاْ كِتٰبَكَ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ: هرڅوک ته به د خدائے تعالیٰ حکم حَسِيْبًا (بني اسرائيل آية ۱۴) : وي چه خپله عملنامه اُلوله او نه پخپله د خپل حساب له پاره کافي ئے:

بدور السافره ص ۱۰۶ تا ۱۰۹) کښ د احادیثو په بُنیاد بیان کړے شوے دے چه ټولے عملنامے به د لوح محفوظ د عرش نه راؤپریشي کوم به چه په دغه ورځ میدان محشر کښ وي او جمع به کړیشي نو الله تعالیٰ به بیاد خاص هوا په ذریعه هرڅوک ته خپله خپله عمل نامه د هغه د عمل په مُناسب لاس کښ ورکړي او د هرے عملنامے د رُو ښي الفاظ "اِقْرَاْ كِتٰبَكَ" به ورده او ورده د پلار نوم سره آواز کولے شي او حکم به ورته کولے شي دا عمل نامه به لوستي او نالوستي ټول لوستے شي، په دے وجه حدیث شریف کښ دي چه د اولاد به نوم مونږ را بندي، چه د چا نسب ثابت نه وي نو هغه به د



د مور په نوم بللے شي، دا د عقل خلاف نه ده چه نالوستي به هم خپله عملنامه لوستے شي، کوم علم چه خدائے پاک د اُستاذ په ذريعه بندوے شي، هغه بغير اُستاذ ه په الهامي طريقه هُم ښودے شي لکه د انبياؤ عليهم السلام عُلُوم او د حيوانا تو علُوم لکه د جولا د خپلے جالے جوړولو علم، د شاتو د مچئ د خپل کښين جوړولو علم ميږ و ته د اجتماعي اُمورو علم کوم چه په علم الحيوانات کښ بيان شوي دي، د دے زمانه کښ ړندو ته د ډېر سيدلو حروفو په ذريعه تعليم ورکولے شي ما په مشرق پاکستان کښ ښځه ليدلې ده

# ګواهي

## ۱- د انبياء عليهم السلام او د علماءِ کرام ګواهي

د جُرم ثابتولو د پاره د مضبوطو او اعتباري خلقو ګواهي ضروري وي انسانانو د قولو نه ژ وجے د انبياء عليهم السلام په ذريعه حق خبرے او د خدائے تعالیٰ حُکمونه رسيدلي دي په دا ے خلقو به پخپله پيغمبران عليهم السلام ګواهان جوړيږي او کچرے دا د پيغمبرانو وارثانو علماؤ کرام رسولي وي نو هم دوی به پرې ګواهان جوړيږي، قرآن کريم فرمائي وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ او فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍۭ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا (نساء آية ۴۱)

## ۲- د کِرامًا کاتبينو ګواهي،

دويم دا چه د احکامِ خُدا وندي نه د انسانانو خلاف کول او نه کول به څنګه ښکاره کولے شي، په دے به درے قسمه ګواهئ پيش کولے شي (۱) د کِرامًا کاتبين ګواهي کوم چه بيګناه د فرښتے دي (يَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ اَيِ الْمَلٰٓئِكَةُ، او اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ○ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ○ و

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ۝ کوم وخت چه د انسان عملونه دوه راغستونکی فرښتې راخلی او کیڼ او چپ طرف ته ناستې وی څه لفظ د خولې نه وتو سره ښیښ لګوونکې تیار وی او هر کس به داسې راځی چه یو فرښته به ئې راولی او دویم به ئې ګواه وی، د دُرِّ منثور په حدیثِ مرفوع کښې دی چه دا دوه فرښتې به هم هغه وی کوم به چه نیکی او بدی لیکله۔

## ۳- د اندامونو ګواهی

کوم اندامونو چه عمل کړې وی د هغې به هغوی بخپله هم ګواهی کوی اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ: ننن ورځ به مونږ د دوی په خولو مُهر اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا: اَلګوا و د دوی لاسونه به مونږ یَكْسِبُوْنَ ۝ (سورة يٰسٓ آية ۶۵): سره خبرې کوی او د دوی پښې به هم د هغې عمل ګواهی ورکړی کوم چه دوی به کول۔

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ: او تاسو نشئ پټ کیدې چه په تاسو عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا: ګواهی اُکړی ستا سو غوږ، و نه ستر ګې جُلُوْدُكُمْ (حٰمٓ السجدة آية ۲۲): او څرمنې۔

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ: او دوی به خپلو څرمنو ته وائی چه تاسو عَلَيْنَا ۭ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ: څمونږ خِلاف ولې ګواهی اُکړه هغوی اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ: به اُوائی چه مونږ هغه خدائے ګویا نه وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ (حٰمٓ السجدة آية ۲۱): کړو کوم چه هر شے ګویا کړې دے او هغه تاسو وړومبے وار پیدا کړی یئ او هغه ته به واپس ځئ۔

## ۴- د ځمکې ګواهی

قُرآن کریم فرمائی، يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا (الزلزال آية ۴) ابن عباس رض د دے، آیت په تفسیر کښې فرمائی، زمکه به د انسان د هغه عمل خبر ورکوی کوم ئے چه په دے کړے وے، دا ټول څلور قسمه ګواهی شوے، د پیغمبرانو او فرښتو علیهم السلام ګواهی اعتباری ده ځکه چه دوا ړه ګناه نه پاک دی، نورے دوه ګواهئ ( د اندامونو او د ځمکې) هم اعتباری ځکه دی چه د اخلاف عادت دی دوی بخپله خبرے نشی کولے الله پاک ئے خبرے را اُباسی نکه ځنګه چه دوی به بخپله هم د ابیان کوی نو د الله تعالیٰ نه زیات اعتباری به بل څوک وی،

دا اعتراض غلط دے چه اندامونه او ځمکه ژبے نه لری نو خبرے به څنګه اُکړی، ځکه چه یو انسان چه امید شی، رکیسټ او ټیپ، کښې خبرے محفوظ کولے شی، څه وخت چه غواړی نو هغه خبرے اُوړی، نو الله تعالیٰ خو په طریق اولیٰ داسے کولے شی، بله دا چه د الله کار دے ژبے نه خبرے اُباسی او که پښتو لا سونو نه ځکه چه ټول اندامونه د هغه دی او ول ئے ژبے نه خبرے راوېستے اُس د نورو اندامونو نه د الله پاک قُدرت او طاقت چه اُ منلے شی، نو داسے خبرو منلو کښې بیا هیڅ پس پیش نه وی، دے نه علاوه د ډلوی تحقیق په بنیاد جمادا تو او حیوا نا تو کښې د مرتبو په جوړونه هر شے ته او ګویائی هم لیکن د انسان نه علاوه د نورو ګویائی د انسان د غوږ و لو نه پټه ده۔

آیتونه | وَقَالَتْ نَمْلَةٌ - عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ، وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ، يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ،

"حضور علیه السلام سره د کانړو او د اُونږ خبرے په احادیثو کښې ثابت دی دا ټول شیز نه ښائی چه هر څه خبرے کولے شی خو فرق دا دے چه د اخو یا انسان آوریدے شی او یا بیرپوهیدی نه، خو آخرت کښې به د دے عادت په خلاف آوریدے شی ځکه چه آخرت هم د نا آشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیونو جهان دے، هسے خو تول هر څه الله ته معلوم دی، د ګواهو او د عملنامو ضرورت هغه ته نشته خو بیا هم دا سے الله د دے د پاره کوی چه بنیادم ته پخپله خپل عملونه یاد شی او پخپله په ځان اقرار اوکړی او ګواهان پرِ د ثبوت د پاره پیش کړیشی، چه دا الله عدل و انصاف به واضح شی. ځکه چه اقرار او ګواهان د مُدعٰی ثابتولو مضبوط دلیلونه دی هم هغه چه ډیره اعتباری وی او جرحه پرِ ځکه نشی کیدے چه دوی غیر جانبدار دی لکه پیغمبران او فرښتے علیهم السلام، دا دا امونو شهادت یو قسم اقرار دے چه ثبوتولو نه مضبوط ثبوت دے،

البته د ځانے ګواهی ځکه ډیره اعتباری ده چه وړا ندے بیان اُشو چه دا دا الله نِعل دے او په دے یو شهادت هم جرحه نشی کیدے ځکه چه بنیادی جرحے دوه دی یو دا چه ګواهی بے اعتباره ثابته کړیشی دلته دا ہے هم نشته ځکه چه پیغمبران فرښتے مکان او اندامونه تول اعتباریان دی د علماؤ تصدیق به هم پیغمبران کوی، ځکه د ګواهی هم اعتباری شوه، او دویمه دا چه د ګواهانو جانبداری ثابته کړیشی د دا هم ځکه لشته، بلکه چه انسان سره کوم هیڅ لاندے باندے هیچرته نشی کیدے چه دا سے تړون د یو بل سره اُلری بلکه د اندامونو ګواهی خو د ثبوتولو نه زیاته اعتباری ځکه ده چه دا پخپل ځان اقرار دے دوی به پخپله هم په د غه ګناه عذا بیږی،

## د عملونو تول

### قرآن فرمائی

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ: موږ به د انصاف تله د قیامت فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ط وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ: په ورځ اېږدو بیا به په چا هم ځکه حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ط وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ه نه وی او که چیرے د عمل مقدار داری





د دانے برابر وی هم به ئې موږ راولو، او موږ حساب د پاره کافی یُو وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِنِ الْحَقُّ ط: د قیامت په ورځ د عملونو تلل حق دی) فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ط: چه د چا تولونه دروند وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ه (سره ه: شو نو هغوی به د ژوند د الْقَارِعَة آیه ۶تا۹) پوره ګذران کښی وی، او د چا تولونه چه سپک شو نو د هغه ټکانه نره ګنده ده:

دا سے نورو آیتونو کښی او احادیثو او د اهلِ سُنّت د علماؤ اجماع سره ثابته ده چه عملونه به تللے شی، البته معتزله تول او سلفو کښی مجاهد، اَعمش او ضحاک دا وائی، چه تلل د عملونو نشته، کوم ځائے چه وزن لفظ راشی نو د هغه مطلب برابر ے او عدل الٰهی به وی پوره مطلب دا چه الله به د عمل په برابر (زیاته کمه به نه وی) د هغه جوګه د انصاف فیصله کوی خو دا قول ځکه غلط دے چه وزن او میزان په قرآن کښی دروند والی او سپکوالی سره موصوف دے که انصاف مطلب وے نو دے سره دروند والے او سپکوالے به ذکر نه وو ځکه چه انصاف دروند سپک نشی کیدے نو جمهور رائے دا سے صحیح ده، چه د غه تله به جسمانی او حسّی وی، معنوی تله (انصاف) تر نه مراد۔ د میزان حسّی په ثبوت کښی د سلمان فارسی رض دا مرفوع حدیث دے،،

یُوْضَعُ الْمِيْزَانُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَوْ وُضِعَ: تله به اُدروے شی هغه به دومره فِيْهِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ لَوَسِعَتْهُ: فراخه وی که چیرے ټول آسمانونه او زمکه په دے کښی کیښودے شی نو پکښی به ځائے شی،

حافظ بن حجر رح دا حدیث د بخاری د آخری حدیث په شرح کښی حاکم نه په روایت د سلمان رض او ابن مردویه نه په روایت د عائشے رض او بیهقی نه په روایت د انس رض او طبرانی نه په روایت د ابو هریره رض نقل کړیدے

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ابن المبارک رح دَ سلمان رض روایت په کتاب الزهد، ابوالقاسم لسکائی په کتاب السنة او آلوسی رح په تفسیر دَ سورة اعراف کښې نقل کړیدی

## تله یوه ده که ګنړے

دَ حافظ ابن حجر په رائے تله یوه ده خو کله که دَ جمع په صیغه ذکر شی نو هغه دَ اعمالو په اعتبار سره ځکه چه اعمال ګنړ دی نو جمع اعتباری شوه یا مُراد دَ جمع د سیغے نه تعظیم وی، مطلب ئے دا که یوه ده خو کلوئے والی په وجه دَ دے وَرِده چه ګنړے ورته او ویلے شی لکه كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِيْنَ، حضرت نوح علیه السلام ئے تعظیماً په ګنړو پیغمبرانو شمیر کړو دَ بعضو رائے ده چه تلے په ګنړے وی، یا دَ هر کس دَ پاره بیله بیله تله ده او یا دَ هر عمل دَ پاره بیله بیله تله ده، خو دَ وړمبے قول غوره دے؛

## دموزون لهم بیان

دَ چا عملونه به تلے شی، او دَ چا به نشی تلے، قسطلانی رح دَ امام غزالی رح نه نقل کړیدے چه دَ دریو دَ تولو عملونه به تلے نشی، او دَ نورو ټولو مکلفو به تلے شی، (۱) معصومین دَ ګناه نه پاک خلق پیغمبران علیهم السلام خوځکه په نزد دے کښې دَ مسلمانانو وارث او لیونی هم شامل دی، (۲) بل ټولے څلوراټه اویا کروړ (۰۰۰۰۰۰۰۹۸) خلق دی، (۳) دریم ټولے دَ کفارو تَللو دَ پاره مقابله ضروری وی په دغه مبو دوو کښې دَ مقابلے بد عمل نشته او په دریم کښې دَ مقابلے نیک عمل نشته، دا رنګ په آیت فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا کښې دا ښکاره ده چه دَ کُفارو عملونه به نشی تلے لیکن امام بخاری رح دَ ټولو دَ پاره دَ عملونو تلل هُم منی لکه فرمائی اِنَّ اَعْمَالَ بَنِيْ اٰدَمَ وَقَوْلَهُمْ يُوْزَنُ، چه دَ ټولو بنیاد دَ دوه قول او عمل به تلے شی او دا قول حافظ ابن حجر او علامه



آلوسی رحمه الله هم غوره ګنړلے دے نو فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا، کښې به دَ تول نه مطلب قدر او مرتبه وی، یعنی دَ قیامت په ورځ دالله په نزد دَ کفارو دَ عملونو هیڅ قدر او عزت به نه وی بلکه خبره دا چه امام قرطبی دَ تول دَ پاره اعمال متضاده ضروری نه ګنړی دَ کفارو دَ نیکئ چا برئ به تش وی او دَ کفر به ترخا ځکه چا برے دروند وی، یا ځکه چه دَ کفارو سره او خیراتونه دَ عذاب دَ کیفیت په کم والی کښې مؤثر ګنړے شی نه په کمیت کښې ځکه چه هغه په بل چا برئ کښې پراته هُم وی نو دَ کفر او ګناهونو په مقابله کښې دَ وبر کموالی په وجه دَ کفر چا برے دروند پاتے شی،

دریم قول دَ سبکی رح په شرح عقائد کښې امام ماتریدی نه منقول دے چه دَ کفارو دَ پاره به دَ تمیز او فرق معلومولو تله وی په هغے به دا معلومولے شی چه دَ کوم کفارو ګناهونه او کفر زیات دی نو دَ هغوی به عذاب هُم سخت وی او دَ هغوی په نسبت په کفر او ګناه کښې کم نفاق به دَ هغوی نه لږ شان کم عذاب وی اګر چه ابدی عذاب کښې خو به ټول کافران شریک وی دا فرق به دَ کیفیت زیاتوالی او کموالی دَ حافظ ابن حجر رح دَ ابولهب او ابوطالب دَ قصو نه دا دلیل نیولے دے چه دَ کفارو بعضے نیکئ دَ کموالی دَ سپکوالی دَ عذاب باعث جوړیدے شی، دَ سورة مؤمنون دَ آخر آیت نه دَ کفارو دَ عملونو تلل ثابتیږی، وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ؛ چه دَ چا تول سپک وی دا هغه الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِيْ جَهَنَّمَ؛ خلق دی کوم چه خپل ځانونه خٰلِدُوْنَ ○ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ؛ په نقصان کښې غورزولی وو، جهنم وَهُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ ○ اَلَمْ تَكُنْ؛ کښې به همیشه وی دَ دوزخ اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا ‹ دهغوی مخونه سوزوی او خولے به تُكَذِّبُوْنَ ○ (آیة ۱۰۳ تا ۱۰۵) ‹ بکښی ورانے وی، دوی ته به اُویلے شی چه آیا تاسوته زما آیتونه نه وو اوروَلے شوی چه هغه تاسو دروغ گڼل آخری فقره (فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ، به کفر ثابت شواو د دومبی فقره وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ، نه د عملونو تول ثابت شو،

## دَ موزُون بیان

په میزان کښې به څه تللے شی؛ په دے کښې دُ دے قوله دی اول دَ ابن عباس رضی الله عنهما قول دے چه اَعراض او اَجسامو ته به جسم جوړ کړے شی او تللے به شی او دا دے الفاظ (يُقَلِّبُ اللهُ الْاَعْرَاضَ اَجْسَامًا)، قسطلانی رح نقل کړی دی، او بدور السافره ص ۳۲۵ کښې د بیهقی دَ شعب الایمان دا الفاظ نقل دی يُؤْتٰى بِالْحَسَنٰتِ بِاَحْسَنِ صُوْرَةٍ وَيُؤْتٰى بِالسَّيِّاٰتِ بِاَقْبَحِ صُوْرَةٍ، یعنی نیکی به په ښه شکل او بدی به په خراب شکل کښې راوُړے شی، طیبی دمشکوٰة شریف په شرح کښې دے قول ته ترجیح ورکړے ده ؛

دویم قول دا دے چه عمل نامے به د عملونو د نوعیت په اعتبار تللے شی د دے دلیل حدیث (البطاقة) دے او دا امام ترمذی رح دَ عبدالله بن عمرو بن العاص نه نقل کړے دے او ښه (حسن) ئے ورته ویلی دی او ابن حبان هُم په خپل صحیح کښې دا حدیث راوُړے دے چه الفاظ ئے دا دی يُؤْتٰى بِتِسْعٍ وَّتِسْعِيْنَ سِجِلًّا فَتُوْضَعُ ‹ یعنی یو کم سل عمل کتابونه به فِيْ كَفَّةٍ وَّيُؤْتٰى بِالْبِطَاقَةِ فَتُوْضَعُ ‹ یو چا بری کښې کیښودلے شی، او یو فِي الْاُخْرٰى فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَ ‹ ورکوټے پرچه دَ کاغذ به بل چابری ثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ ‹ کښے کیښودلے شی، نو دغه یو کم سل کتابونه به سپک وی او هغه ورکوټے پرچه به درنه شی،

دے ته امام الحرمین ترجیح ورکړیده او ویلی دی چه درُوند والے به د



(جر په اَندَازه وی، قرطبی رح هُم دا غوره گڼړلے ده او دَ ابن عمر رضی الله عنه قول دے دریم قول دا دے، چه هُم عملونه به تللے شی چه په هغے د ترمذی او ابوداود هغه مرفوع حدیثونه دلیل دی او ابن حبان د دے تصحیح کړیده د حدیث الفاظ دا دی ؛

مَا يُوْضَعُ فِي الْمِيْزَانِ اَحْسَنُ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ (په میزان کښې به د ښه خوئے نه زیات خائسته عمل بل نشی تللے) دے له حافظ بن حجر ترجیح ورکړے ده، دَ عملونو تَلل به څوا د عقل نه لوے خبره گڼړلے شوه لیکن اُس خو په تهرما میټر، د بدن یا دَ موسم درجهٔ حرارت معلومیدے شی، حالانکه دا عرض دے، څمونږ په نزد دے درے وارړه اقوالو کښې اختلاف نشته، کیدیشی چه په درے واړو طریقو (عمل د جسم په شکل، عمل د عملنامے په شکل او عمل پخپله) دے دَ یارہ تللے شی، چه په آخری فیصله کولو کښې هیڅ قسم دَ شک شبهے ظاهری صُورت پنکاره نشی،

امام ذهبی رح دَ علم په فضیلت کښې دَ عمران بن حصین نه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړیدے چه دَ علماؤ سیاهی او د شهیدانو وینه به تللے شی خودَ علماؤ سیاهی به درنه وی (بدور السافره ص ۱۴۱)

## تلونکے

تلونکے دَ عملونو به څوک وی، دَ مختلفو روایاتو په بنیاد دے کښې دوه قوله دی (۱) الله جل مجده به تلونکے وی، دا د امام غزالی قول دے (الدرة الفاخرة فِيْ كَشْفِ عُلُوْمِ الْاٰخِرَةِ) او دلیل ئے دَ قرآن دا آیت بیږلے دے، وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ ‹ یعنی مونږ به ترازُو خان ته الله تعالیٰ نسبت کړے دے،

(۲) دویم قول دا دے چه تلونکے به مَلَكُ الموت وی او ورورو دَ انس بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالک نه دده روایت کړے دے (۳) دریم قول دا دے چه تلو...
به آدم علیه السلام وی په معجم صغیر کښې طبرانی دابو هریرة ...
په دے الفاظو نقل کړیدے،
يَا آدَمُ قَدْ جَعَلْتُكَ حَكَمًا بَيْنِي ؛ اے آدم علیه السلام ما ته حکما او د...
وَبَيْنَ ذُرِّيَّتِكَ قُمْ عِنْدَ الْمِيزَانِ ؛ او اولاد په مینځ کښې منصف مقرر کړ...
څه میزان سره اودریږه

(۴) څلورم قول دا دے چه تلونکے به جبرائیل علیه السلام وی دا روایت
ابوالقاسم الالسکائی د حذیفه په روایت نقل کړیدے،
خو په نزد دے څلورو واړو قولو کښې څه اختلاف نشته دا ټول صحیح د...
الله نه ے تلونکے په دے وجه اُونیلو چه ټول به د هغه په حکم کیږی...
او عام طور حکم کوونکی ته هم د هغے کار کوونکے ویلے شی، په دُنیا کښې...
پولیس چه چالان اُ کړی د هغے بیان افسل په عدالت کښې ضروری وی د...
رنګ عزرائیل علیه السلام د مړو چالان کړیدے د الله تعالی په عدا...
کښې به د ده بیان او موجودګی ضروری وی:۔

دنیاوی عدالتونو کښې د قانونی مشیر ضرورت وی د غه رنګ د الله...
عدالت کښې د جبرئیل علیه السلام پیشی دے د پاره ضروری ده چه...
قانون (قرآن) د الله له جانبه راوړے دے او د قانون شکنی په...
مقدمه کښې د ده پیشی ضروری ده:۔

د اولاد د آدم علیه السلام مقدمه پیش ده لوډسرپرست په حیثیت...
حاضری ضروری ده:

## د عملونو تللو حکمت

الله عالم الغیب د عملونو د ذرے ذرے نه خبر دے، نو د الله ...
عملونو تللو کښې هیڅ غرض نشته خو عملونه تلل د عدالتی کاروائی



تکمیل لپو ذریعه ده. (۱) عمل کوونکے د عملنامے په ذریعه د خپلو عملونو نه خبر شی که هیر کړی ئے وی نو را یاد به شی ورته رنګ په یاد کړی ګنو چه تیر شوی څیزونه را یادیږی) او نفسیاتی طور به اُمنی چه دا ټول درست دی په ژبه اقرار اُ کړی، او که اُ نه کړی، لکه ،، اِقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ، چه دے حکمت ته اشاره شویده ،،

(۲) د عملونو تللو سره نسبت معلومیږی چه نیک عمل یو توقه او د الله له طرفه د هغے بدل د غرنه هم لوئے د انسان ته په دے تللو د الله د فضل لوئے والے ښکاره کول دی، او د بد عمل په سزا کښې د الله پاک انصاف ښکاره کول دی:۔

(۳) د انبیاء علیهم السلام، د علماؤ، د فرښتو، د اندامونو او د کتلے د ګواهو تیرولو نه مطلب دا ظاهرول دی چه دا ټول کار او عدالتی کارروائی په حقیقت او انصاف بنا ده:۔

(۴) د دے ټولے کار روائی مقصد دا ښکاره کول دی، چه انسانی اعمال دومره اهم دی چه دا ټول انتظامات د هغے د پاره هم په دے وجه کیږی چه د کائناتو د تخلیق مقصد انسانی اعمال وو:۔

## د غوریزاو ناغوریز پیژندل

د نیکئ او بدئ د چابرو د رنید واو سپکید و پیژندلو کښې دوه قوله دی (۱) د دنیا د قاعدے په شان د آخرت هم دا قاعده ده چه د دُونه چابرے به ښکته او سپک به پورته ځی دا د جمهورو علماؤ قول دے:۔

(۲) دویم د دے په عکس دے مطلب دا چه کوم چابرے پورته ځی هغه به د دُونه او کوم چه ښکته ځی هغه به سپک وی، خکه چه څیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مرکز د میلان به آخرت کښې بدلیږي د نیکو مرکز به پورته وي کوم ځائې چه جنت دے او د بدو مرکز به ښکته وي کوم ځائې چه دوزخ دے دغه قول د بدرالدین زرکشي دے (البرهان في علوم القرآن) او شاه عبدالعزیز غوره کړیدے (فتح العزیز)

(۳) دریم قول دا دے، چه د نیکو د چاپیرې نه به یو تورانۍ ستن راوزي دا د نیکو د دروندوالي نښه ده او د بدو د چاپیرې نه به توره دتیره ستن راوزي نو دا به د دروندوالي نښه ده، دا قول علامه آلوسي رح د سورة قارعه په تفسیر کښې نقل کړیدے.

## د تول مقام

حکیم ترمذي به نوادر الاصول کښې او ابوالقاسم اللالکائي په کتاب السنة کښې نقل کړیدي چه میزان به د الله په وړاندے اودرولے شي، د نیکئ چابړے به د عرش په ښي اړخ او پورے به تر جنت وي، او د بدئ چابړے به د عرش چپ اړخ ته وي او پورے به تر دوزخ وي،

## د پل صراط تیریدل او نور

په قرآن کښې دي

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ : په تاسو کښې به دا سے هیڅوک نه وي چه د رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي : پل صراط په ذریعه به جهنم کښې نه وانه الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا : دا د الله پرے کړے فیصله ده بیا جِثِيًّا ۝ د سورة مریم آیة ۷۱،۷۲ : به د الله نه ویریدونکي خلق مؤمنین خلاص او ظالمان به ورته په ګونډو ورغورزوګو او پکښې به ئے پریږدو:

په دے آیت کښې ذکر دے چه ټول خلق به جهنم کښې وارد یږي، مسند احمد حاکم رح د سند د تصحیح او بیهقي ابو سمیه نه په اسناد د جابر رض مرفوعًا نقل کړیدے چه د (وَارِدُ) معنی داخلیدل دي او دا رنګ



مستدرک حاکم کښې ابن مسعود رض او ابن عباس رض نه هم منقول دي چه د هغے مطلب د ټولو جهنم ته داخلیدل دي امام قرطبي رح دا قول غوره کړیدے، دویم قول دا دے، چه وارد یدلو نه مطلب د پل صراط په ذریعه جهنم نه تیریدل دي، داخلیدل نه دي، دا قول امام نووي غوره کړیدے، دا قول په مسند احمد او ترمذي کښې دابن مسعود رض نه مرفوعًا نقل دے، په کوم کښې چه دا هم ذکر دي چه خوک به د بریښنا په شان تیریږي، او څوک به د هوا په شان څوک به د تیز آس په شان څوک به د ماړغانو په شان څوک به د سور لښې په شان او څوک به د جهنم په اور زخمي شي او تیر به شي او څوک به پکښې اوغورزیږي؛

دریم قول د وارد یدلو نه مطلب نژدے کیدل او د دوزخ لیدل دي چه حساب به دوزخ سره نژدے وي، بیا به کافران په دے کښې اوغورزولے شي او مسلمانان به جنت ته اوړولے شي، لکه څنګه چه د حضرت موسی علیه السلام په قصه کښې، وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ، راغلے دے د دے مطلب په اوبو کښې ننوتل نه دي بلکه هغے ته نژدے کیدل او ځوا ته ورتلل دي، څلورم قول دا دے، چه هر چا جهنم ته ننوتل به د عذاب د پاره نه وي بلکه په نیکانو خلقو به د جهنم اور اثر نه کوي او لکه د ابراهیم علیه السلام په هغوی به د غه اور یخ او سلامت جوړ شي لکه طبراني او بیهقي کښې چه خالد بن معدان نه منقول دے چه جنتیانو ته به پته هم نه لګي، نو وائي به چه موږ خو د وعدے د الله مطابق جهنم ته وارد نه شو نو د الله له طرفه به جواب ورکړے شي، مَرَرْتُمْ عَلَيْهَا وَهِيَ خَامِدَةٌ، تاسو په هغے تیر شوئ لیکن هغه مړه وه، طبراني رح او ابن عدي د یعلی بن منبه رض نه مرفوعًا روایت کړیدے چه دوزخ به مؤمن ته اوائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر شه ستا نُور څه او ورمړ کړه ورځ يَا مُؤْمِنُ اَطْفَأَ نُوْرُكَ لَهَبِيْ
بدور السافره، ص۵۲ و ص۱۵۳ د پُل صراط په خطرناک وخت کښې به
تياره وي، د لاس تګ به نه ښکاري، د اعمالو په مُناسب به په مؤمنانو ايماني
نُور تقسيمېږي بعضو سره به د غره هومره رڼا وي. بعضو سره به د تجوړې
داُونې په سمُون او تولو نه کم د نيک عمل خاوندانو سره د ګټې ګوتې په
سمُون رڼا وي (ابن جرير عن ابن مسعودؓ) دا رڼا چه اُوويني نو
منافقان به مومنانو نه خواست اُوکړي،
اُنْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ قِيْلَ ، بيرشان څه را شئ چه مُونږ هم ستاسو
اِرْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ط ؛ په رڼا کښې تېر شو نو هغوي به جواب
ورکړي چه دُنيا ته لاړ شئ او هغه ځائے نه رڼا راوُړئ
ځکه چه رڼا د عمل نه حاصلېږي او دارالعمل دُنيا ده آخرت نه دے
آخرت دارُ الجَزَاءِ دے (بدور السافره مع تشريح ص۱۳۵ و ۱۴۲)

## دَ صِراط حقيقت

دَ پُل صراط رغونږه د دېلوے سټيشن دَ پُل پشان معلومېږي، ابن عساکرؒ
دَ فضيل بن عياض رض نه نقل کړيدے چه دَ جهنم دَ پاسه دَ پُل صراط اُوږدوالے
دَ پنځلس زرو (۱۵۰۰۰) کالو مزل په اندازه دے دد ے په درے وُ برخو کښې
يوه برخه پوره ختل دي، بله د ريمه برخه راکوزېدل دي او ميڅنئ دريمه برخه
هوار تېرېدل دي، د بدور ص۱۴۲ بيهقي کښې د انس رض نه مرفوعاً منقول
دي چه اَدَقُّ مِنَ الشَّعْرِ وَاَحَدُّ مِنَ السَّيْفِ،
او دغه رنګ په مسلم کښې د ابو سعيد خدري رض او ابن جرير کښې دا بن
مسعود رض نه او مستدرک حاکم کښې دي چه دَ بعضو د پاره به دَ ويښته نه
نرے او تُورے نه تېره او دَ بعضو د پاره به دَ ميدان پشان فراخه وي

؛ ؛ ؛



## پُل صِراط او دَ نُور حِکمت

پُل صِراط با ندے تلل به دَ (موقف) ميدانِ حشر نه شروع کيږي او
دا پُل دَ دوزخ دَ پاسه دے. دغه نه چه تېر شي نو دَ جنت حد به شروع
کيږي، او بيا به جنت ته داخلېدل وي. لکه ځنګه چه بدور السافره
کښې دَ روايا تو نه ثابت دي، د يو قول مطابق ګډ ټول خلق به په جهنم دَ پاسه
تېرېږي نو اهلِ تقوي ته به هيڅ تکليف نه وي خو کفارو او فجارو ته به
تکليف وي، او کچرے دَ بل قول مطابق جهنم ته داخلېدل هر کس دَ پاره
ضرور دي نو اُس لږ ورانده مُونږ بيان کړيدے چه متقيانو ته به
تکليف او نه رسي ځکه نو ي چه دَ جهنم اور به هغوي ته يخ او سلام وي
او په دغه قرآن کريم کښې هم ذکر دے ،
ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ ؛ بيا به مُونږ تقوي دارو نه دَ پُل
فِيْهَا جِثِيًّا ۝ سوره مريم آية ۷۲ ؛ صراط او دَ دوزخ او رنه خلاصے
ورکړو، او کفارو او فجار به ورته په ګونډو دوا غورځوو، پُل صراط به دَ ويښته
نه نرے او دَ تُورے نه تېره صِرف کُفارو او فجارو دَ پاره وي دَ هر چا دَ پاره
به دا سے نه وي، لکه اُس لږ وړاندے مُونږ دا مُفصَّل بيان کړيدے، هان
کچرے دَ ټولو هر دغه پولا رد پُل صراط وي، نو بيا هم دَ مؤمن څه خطره
نشته، لکه چه امام بدرالدين زرکشي په رالبُرهان في علوم القُرآن)
کښې ذکر کړيدي، چه عالَمِ آخرت کښې به حيز او مرکز بدليږي دَ دُنيا
دَ دستُور مطابق به نه وي بلکه دَ شاه ولي الله رحمه الله دَ قول مطابق
احکام دارُوح به په احکام دَ بدن غالب وي دَ کُفّارو مرکزِ ميلان به ښکته
يعني جهنم اړخ ته وي، او دَ نيکو کارو او تقوي دارو مرکزِ ميلان به پورته
يعني جنت اړخ ته وي لهذا اَلکُفّار به دَ ټول پل زور پريوتو په جهنم کښې شي
اړنګ دوزخ به شي او دُ رزُ ورګُذا به شي او دَ تقوي دار د ميلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زور به پوره نه وی د پُل هیڅ بوجږ او زور به پرې نه پریوزی، او هیڅ تکلیف به ورته نه وی، د دې مثال داسې دې چه څوک د نورې په تېره پښه کیږدی نو تکلیف وی، بلکه زخمی کیږی، لیکن که پښه اُوچته کړی او بیا د نورې په تېره دپورته نه پرې پښه کیږدی، نو هیڅ تکلیف به ورته نه وی ځکه چه د قدم میلان پورته اړخ ته دے، بلکه کوز اړخ ته دے د ... حیزاو مرکز بدلیدو وجه دا ده چه کفارو په دُنیا کښی جهنمی عملونه کړی دی چه د هغه میلان او ماتے مرکز جهنم ته او جنتیانو به د جنتی عمل په وجه خپل میلان او ماتے جنت ته لوی بالی جهنم د کفر او گناه مثالی صورت دے، او جنت د ایمان او عبادت مثالی صورت دے، د گناهونو مزاج گرم دے او د اور او تیرے دے، او د ایمان او نیکئ مزاج یخ او د نور دے کوم ته چه د نبی علیه السلام په دے دُعا کښی اشاره ده:-

اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ "اے خدایه زما گناهونه د اوبو او د ګلئ په اوبو وینځه" په صحیحینو کښی حدیث دے:

حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، (جنت تکلیفونو کښی گیر دے او دوزخ خواهشاتو کښے گیر دے".

جنت ته تلو د پاره د پُل صراط نه تیریدو مطلب دا حقیقت ښکاره کول دی چه شریعت باندے عمل کولو د پاره دے خلقو هر قسم تکلیفونه تیر کړی دی او جنت د پاره ئے سړک تیار کړے وو، او د نورانی عملونو په وجه هغوی نورانی دار السلام او جنت ته اُورسیده، او چا د شریعت په پُل او په سړک باندے تلل پریښی وو یا ئے په شریعت تلل او ئے خپل طبیعت تلل وو جنت په سړک (شریعت) تلل لکه چه دوی ته په دُنیا کښی گران معلومیدل د غه رنګ به آخرت کښی هم د جنت په سړک (پُل صراط) تلل دوی ته گران وی مطلب دا چه آخرت عالم مثال دے، شریعت له به الله تعالیٰ د قیامت



په ورځ د پُل صراط شکل ورکړی د چا چه دے سره په دنیا کښے تعلق وو، خپل خواهشات ئے پریښی وو او په شریعت ئے عمل کولو هر قسم تکلیفونه برداشت کول او قربانئ ورکول دوی ته د شریعت د پاره آسان وو دوی شریعت سره داسے ځان عادت کړے وو چه هم په دے کښی به ورته آرام رسیدو او اطمینان حاصل وو، نو هغوی به په ډیرے آسانئ فراخئ او ورزا کښی په دے تیر شی، او خپل مرکز میلان (جنت) ته به اُورسی کوم چه د نیکو او ښیګړو مرکز هم دے، او کوم خلق چه په دُنیا کښی داسے نه وو، شریعت سره ئے تعلق نه ساتلو په دے باندے عمل کولو ته ئے ساده به وه، خپل خواهشات به ئے په د سے غوره گنړل، نو هغه خلق په پُل صراط هم نشی تیریدے دا به ورته د نورے نه تیره شی او د وینتو نه به نرے شی، لکه څنګه چه ورته د دُنیا کښی ښکاریده او دے نه د تیریدو په ځائے به خپل مرکز میلان (دوزخ) ته گذار شی کوم چه د بدو او گناهونو مرکز هم دے،

## د نور اسباب

اَلصَّلٰوةُ نُورٌ۔ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ، اَلصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ:

په پُل صراط به رڼا د لمونځ، قرآن، وی او دا به د ظلم په ذکولو سره حاصلیږی (بدور السافره ص۱۲۷)

## پُل صراط باندے تیریدل د کومو عملونو وجه آسانیږی

(۱) کمزورے سره د حکومت د ظلم نه په خپل اثر رسوخ خلاصول (طبرانی عن عائشة رض)

(۲) د دین کار د پاره ځماتونو سره تعلق لرل او هم په دے غرض ځماتونو ته بیا بیا راتلل (بزاز باسنادٍ حسنٍ عن ابی الدرداء)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶۲) په خپله رائے په دین کښې د زیاتئ نه ځان ساتل، او د سنّت تعلیم ورکول (د دیلمی فی الانابة بدر والسافرة ص۱۶۸)

# جَنَّت او دوزخ

د اهل السنّت والجماعت په دے عقیده اتفاق دے، چه جنت او دوزخ پیدا دی، امام ابوالحسن اشعری په مقالات الاسلامیین واختلاف المصلین کښې د بِلَفظِ مَا اَجمَعَ عَلَیهِ اَصحَابُ الحَدِیثِ وَاَهلُ السُّنَّةِ مطلب دا چه اهل حدیث او اهل سنّت په کوم عقائدو چه متفق دی د هغې په تفصیل کښې فرمائی: وَاَنَّ الجَنَّةَ وَالنَّارَ مَخلُوقَتَانِ (جنت او دوزخ پیدا شوی دی)

امام ابن قیّم رحمه الله صحابه کرامو رضی الله عنهم، تابعینو، تبع تابعینو رحمهم الله، اهل السنة والحدیث فقهاؤ او اهل تصوّف په دے عقیده اجماع نقل کړیده (حادی الارواح) د معتزله وُ دا وینا غلطه ده چه اُس جنت او دوزخ نه دی پیدا کړی قیامت په ورځ به پیدا کیږی چه ضرورت به ئې هغه وخت وی، غلطه ځکه ده چه اُس د دوارو موجود والے عبث نه دے بلکه په دے کښې فائدے دی۔

## د جنت او دوزخ د اُسنی موجودوالی دلیلونه

(۱) ټولو انبیاؤ علیهم السلام د جنت زیرے ورکړیدے او خوف ئې ورکولو تاثیر هله قوی وی چه دا دواړه اُس موجود وی۔

(۲) په صحیح احادیثو کښې د مرګ په وخت او په قبر کښې د جنت دوزخ لیدل او د هغې اثرات محسوسول ثابت دی چه دا د دے د اُس موجود والی دلیل دے، په صحیح احادیثو کښې داهم ذکر دی، چه د بعضې نیکانو



لکه شهیدانو، صدیقینو، انبیاؤ او بعضې مؤمنانو روحونه په مرګ د جنت د نعمتونو نه فائدے اخلی او بدکاره خلق د دوزخ تکلیفونه تیروی د قیامت نه وړاندے د نیکانو او بدانو د جنت او دوزخ سره ربط او ارتباط دا ښائی چه اُس هم دا دواړه موجود دی او د قیامت نه وړاندے د دے پیدا کیدل دا قسم فائده لری۔

## د جنت او دوزخ د وجود نقلی دلائل

په قرآن کریم کښې د آدم علیه السلام په جنت کښې آستوګنه او بیا د ځمکے ته راتلل ذکر دی، دا جنت آخرت واله هغه دارالثواب دے، زدا صحیح قول دے د امام رازی رحمه الله دا قول د ابوالقاسم بلخی معتزلی او د ابومسلم اصفهانی نقل کول چه د آدم علیه السلام د کینږد ځائے د ځمکے یو باغ وو، او بخپله د امام رازی په دے کښې خپله رائے نه ښکاره کول، یا د جُبّائی دا وینا چه دا د آدم آسمان جنت وو، یا د بعضې صوفیانو دا وینا چه د جبل یاقوت یو باغ وو، یا د یهودو نصارئ د باغ عدن یا فلسطین یا اصفهان متعین کول، ټول د عقل او نقل نه خلاف دی۔

## وجوهات دادی

## د آدم علیه السلام د کینږ و ځائے آسمانی جنت وو

هر کله چه د جنت لفظ په لام د تعریف سره ذکر شی او په الفاظو کښې د ځمکے د یو باغ مراد کولو څه قرینه هم نه وی نو جنت نه به مطلب هغه دارالثواب وی بالخصوص په دے صورت کښې چه د قرآن الفاظ په دوو قرینو دا ګواهی کوی چه د آدم علیه السلام د کینږو ځائے آسمانی جنت وو، یو خو په سورت طٰه کښې چه کوم صفتونه د جنت بیان دی هغه هم آسمانی کیدے شی کوم چه دارالجزاء دے د ځمکنئ نشی کیدے، هغه دا دے چه الله تعالیٰ آدم علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام نه دَجنت بوتلو نه پس اُفرمائیل، فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰ ۝ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ۝ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ۝ (سورهٔ طٰهٰ آیة ۱۱۷ تا ۱۱۹) دا پنځه صفتونه دَ دُنیا دَ هیڅ مقام نشي کیدے، مثلاً داچه دجنت نه به وتلو پس به تاته تکلیف وے کښي برلوږه نه وی، بربنډ به نه وی، تندَه به نه وی، او ګرمي به نه لګی، دا ټول خصوصیات دَ برنی جنت کیدے شی دَ زمیني نهٔ، ددنیا یو باغ کښي کومه فائده چه کیدے شی هغه دَ دنیا په بل باغ کښي هم کیدے شی چه دَ اوّل باغ نه راُوزی مګر نورے څلور فائدے دَ دُنیا په هیڅ یو باغ کښي نشي کیدے،

دُوَیم په سُورهٔ بقره کښي وی، قُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ۝ (سورهٔ البقرة آیة ۳۶) په دے آیت کښي دَ جنت نه په راکوزیدو دوه نتیجے مُرتبے کړے او له داچه ستاسو دَ اولاد په مینځ کښي به دُشمني وی لکه څنګه چه ورانده دَ فرښتو په ژبه هم ظاهره کړے شوے وه، أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ، چه نه دا سے خلق په زمکه کښي ځائي نشین کړے جو به کوم به چه فساد او خُون ریزی کوی، په دے آیت کښي اهبطوا کوز شئ بیا ئے دَ جمع په لفظ اُفرمائیل چه ستاسو اولاد به دیو بل دُشمنان وی، او بل داچه ستاسو او ستاسو دَ اولاد دَ استوګنه به تر تا کلي وخته پورے په زمکه وی او دے نه به فائده حاصلول وی کیږے دَ آدم علیه السلام دَ کیږدو ځائے آسماني نه وے نو دا الفاظ به الله تعالیٰ نه وے ویلے ځکه چه دُشمني خو دَ زمکے دَ ژوند خصوصیت دے او دا به ئے هم نه وے ویلے چه دَ کوزیدو نه پس به تاسو زمکه کښي اُسیږئ ځکه چه زمکے ته دَ کوزیدو واد



دَ زمکے دیو باغ نه بل باغ په تلو دا سے الفاظ هیڅ معنیٰ نه لری، زمکے نه زمکے ته کوز شئ، دَ زمکے دَ یو باغ نه اُوزئ او په زمکه کښے اُسیږئ معلومه شوه چه دا زمیني باغ نه وو بلکه آسماني جنت وو لوړ، باطني ذِلّت دے او بربنډ، والے ظاهري ذِلّت دے، تنده باطني ګرمي ده او دَ نمر ظاهري ګرمي، دَ دے په مینځ کښي جوړه نه ده، دَ آدم علیه السلام دَ کیدو ځائے دے ټولو نه پاک وو،

## دا دم علیه السلام د کیدو دَ ځائے متعلق استدلال

### دَحدیث استدلال

په صحیح مسلم کښي دَ ابو هریرة رضی الله او دَ حذیفه رض نه مرفوعاً حدیث دے چه دَ قیامت په ورځ به دَ آدم علیه السلام اولاد دَ آدم علیه السلام نه جنت پرانستو غوښتنه اُکړی ددے په جواب کښي به حضرت آدم علیه السلام اُفرمائی وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ، چه تاسو جنت نه هم ستاسو دَ پلار غلطي را ویستي یئ، دَ ځنه معلومیږی چه دَ قیامت جنت هم هغه دے کوم نه چه آدم علیه السلام را ویستے شوے وو، هر کله چه دَ جنت اُ سے وُجود ثابت شو نو دوزخ هم خامخا ځکه موجود دے چه دَ فرق هیڅوک قائل نه دے:

### قرآني استدلال

دَ جنت په باره کښي قرآن کریم فرمائی أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ۝ او دَ دوزخ په باره کښي فرمائی أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ۝ دوا پره دَ ماضي صیغے دی، مطلب ئے دا دے چه جنت او دوزخ دَ ورانده نه موجود دی، دریم دلیل دا دے چه فرعون سره دَ فرعونیانو هر کله چه غرقیدل نو قرآن فرمائی، أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا ۝ دا هم دوا پره دَ ماضي صیغے دی چه په تیره شوے زمانه کښي دَ فرعون او فرعونیانو غرقیدل وسره هغوی او دَ جهنم ته ننوستے شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو چې قیامت نه وي راغلې دوزخونه به نو دوی څنګه ته داخل کړې شوې

## د آدم علیه السلام د کیډ ځائې جنت وو په دې د شبهو ازاله

د آدم علیه السلام د کیدو ځائې جنت الخلد نه منلو شبهې دا دي،

(۱) جنت کښې داخله به د قیامت په ورځ وي، خو آدم علیه السلام د قیامت نه وړاندې جنت کښې څنګه داخل شو؛

(۲) جنت کښې به بربنډتیا او لوږه راتلل نه وي. که دا جنت الخلد وې نو آدم علیه السلام ته دا دواړه حالت څنګه پیښ شول.

(۳) جنت په آسمان کښې دې چرته چه امر او نهي نشته او نه مکلّف کیدل شته نو آدم علیه السلام ته د منع (نهي) حکم څنګه حالت راغلو،

(۴) آسماني جنت ته داخلې نه پس هلته نه وتل نشته، نو بیا آدم علیه السلام هلته نه ولې اُوویستې شو.

د دې ټولو ښو جواب هُم پوړ دې، هغه دا دې چه دا ټول واړه خبرې هغه وخت د پاره دي چه د قیامت په ورځ به مؤمنان د نیک اعمالو نه پس په نتیجه کښې داخل شي او د دې تائید د قرآني آیتونو سیاق او سباق نه کیږي دې کوم کښې چه دا ټول واړه خبرې په جنت کښې د قیامت نه دا خلې سره تړلې کړې شوې دي.

څلورمه دا شبه چه د جنت نه ویستلې شوې شیطان بیا جنت ته د آدم علیه السلام د ټولولو د پاره څنګه لاړو،

نو اول جواب دا دې چه وسوسې اچولو د پاره جنت ته داخیدل ضروري نه دي دا ټکی نه هم کیدې شي لکه څرنګه چه کوروړونو میله لرې. ښکاري په زمکه کښې د راکوزیدو نه پس هر کله د انبیاؤ علیهم السلام او موبږ ته کومي او زړونو ته اثر کولې شي، حالانکه ځمونږ جسم کثیف دې او د هغوی جسم لطیف (شیطان) خو دې نه زیات هم لرې نه ددوی نه زیات مضبوط اثر څوړ کولې شي، دوئیم جواب دا چه شیطان په جنت ډېر کې د آسمونګنې نه بندوو د هغې پېښیدوا و د امتحان او آزمیښت کولو



نه ووه، دریم دا چه د شیطان بندیز قانوني وو قانوني بندیز نه جرمان د بندیز ځلئ ته په پټه او غلا غلتیا تلې شي، دا ئله د پټ داخل مُمکن نه دي لیکن الله د څه حکمت د وجې نه د ده په دغه قسم دخول کښې څه دَخل اُ نکړو:-

پنځم دا شبه دا ده چه آدم علیه السلام په زمکه خلیفه جوړ شوې وو نو د آسمان جنت ته ولې بوتلې شو، د دې جواب دا دې، چه د الله حکمت د ده په دغه بوتلو کښې داسې وو لکه چه د عیسی علیه السلام ته آسمان ته په خیژولو او بیا په زمکه راکوزولو کښې څه حکمت دې، چه آسماني جنت کښې د آدم علیه السلام د استوګنې او د اُوښې د خوراک علیه السلام په وجه د هغه راکوزولو کښې د الله تعالی حکمت:

### دوهم حکمت

دوهم حکمت دا وو چه د آدم علیه السلام په اولاد کښې دا شعور مضبوط کړیشي چه د ددوی اصلي وطن دنیا زمکه نه بلکه آسماني جنت دې او دوی زمیني ژوندانه کښې د دې حاصلولو د پاره د انبیاؤ علیهم السلام د هدایاتو او د هغوی د تعلیماتو مکمل پیروي کړي او د خپل پلار ګني وطن جنت د حاصلولو پوره کوشش اُکړي دریم دغه وجه ده چه په قرآن کښې د آدم علیه السلام د نزول جنت نه پس دا مضمون ذکر دې، فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٥ د سورة البقرة آیة ع۳۸ معنی په زمکه د راکوزیدو نه پس هر کله د انبیاؤ علیهم السلام او د آسماني کتابونو په ذریعه د الله له طرفه کوم سامان د هدایت چه را شي نو څوک په هغې عمل کوي نو هغوی به د جنت هغه ژوند بیا مومي کوم چه جنت ډېرې او د غمه پاک دې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم حکمت

لکه څنګه چه دے واقع نه معلومیږی، دویم حکمت په دے کښ د الله د نافرمانئ دا ئمی خطرناکو نتیجو نه د انسانانو ویرول دی، آدم علیه السلام د انسانانو پلار او د خدائے تعالیٰ محبوب او مقبول بنده وو هرکله چه هغه په دا کار (هغه اونه خوړل) چه ګناه هم نه وه (وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا) د جنت نه خارج کړے شو نو د ګناه نتیجے خو به دے نه هم زیاتے خرابے وی. هغه نافرمانی د الله ده کومے سره چه قصد او اراده شامل وی قرآن ګواه دے چه د آدم علیه السلام دے فعل کښ اراده د نافرمانئ نه وه څکه چه جنت د شرعی احکامو ځائے نه دے چه د هغه خلاف کول ګناه اُبولے نو دا حکم تشریعی نه وو بلکه تشفیقی وو، د حکم تشفیقی دا مطلب وی، چه مثلاً یو ډاکټر ناجوړ ته د پرهیز کولو مشوره په دے غرض ورکړی، چه د دے په خلاف کولو کښ د ناجوړ نقصان دے هرکله چه بدپرهیزی اُوکړی نو د ډاکټر هیڅ نقصان اُنشو او نه حکم عدولی اُشو نقصان د ناجوړ اُشو چه د هغه زیاتے شو یا بل ناجوړ تر پید ا شو یا دا حکم عام وو د هٰذِهِ الشَّجَرَةَ، نه مقصد د الله تعالیٰ د هغه قسم بوټو اُونو نه بند بزوو او آدم علیه السلام د یو خاص اُونه بند ترینه مطلب واخستو دا غلطی اجتهادی وه او په اجتهادی غلطی عذاب نشته سوال پیدا کیږی چه هرکله دا ګناه نه وه، نو قرآن فرمائی، وَعَصٰی اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰی ﴿ د دے جواب دا دے چه حقیقت کښ عصیان او غوایت نه وو بلکه په صورت د دے وو. د دے د قواعدو په لحاظ هغه نیکئ نه هم بدی ویلے شی کوم چه د بدئ هم شکله وی لکه (جَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ مِّثْلُهَا) سورة الشوریٰ ... اوفَمَنِ اعْتَدٰی عَلَیْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَیْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰی عَلَیْكُمْ



سورة البقرة آیة ۱۹۴، د دومبی آیت کښ ئے د شکلئ په وجه د بدے ... نه بدی اُو ښیلے حالانکه بدله اخستل جائز دی، د غه رنګ دویم آیت کښ د زور ظلم بدل اخستلو ته د هم شکلئ په وجه زور ... او ښیلے شو حالانکه بدله اخستل څه بده ګناه خبره نه ده ... مطور دا سے خلق وائی چه د سپیرے بدل ئے په سپیره واخستو ... سپیره دے دواړه پوشان دی مګر دومبی سپیره ناجائز او دویمه سپیره جائز صرف شکل کښ دواړه سپیرے پوشان دی، خلاصه د تولو ... بحث دا چه د دے واقعے کښ د الله دا حکمت ښودل وو چه هرکله آدم علیه السلام دا سے یو کار اُکړو چه صرف شکل او صورت د ګناه وو حقیقت ګناه نه وه، مګر په نتیجه کښ ئے د جنت نه راُ بښکلو د هغه آرام او بې پایان نعمتونه ترے واخستے شو او د دنیا په تکلیفونو او زورونو غمونو ... سرګردانو کښ ئے مبتلا کړه او کار هم یو وو نو هغه کسانو له عبرت ... کول وو کوم چه حقیقی ګناه کوی او یو هم نه بلکه ټول عمر په ګناهونو ... آرام وی نو د هغه به څه حال وی څومره خطرناکے نتیجه به ئے د ... قیامت په ورځ را اُوزی، او هغه همیشه ژوند به ئے څومره خراب وی،

## دریم حکمت

دریم حکمت دا دے چه جنت د ارد راحت او زمکه دار د محنت دے لهذا په دے دار د محنت کښ دین ... پاره محنت کول د حقیقی راحت یعنی د جنت د حاصلولو اکیږو ذریعه ... په دے وجه زمکه کښ تکلیف تیر کړئ مشقت اُکړئ چه د جنت راحت مو نصیب شی،

براحتے نرسید آنکه محنتے نه کشید

د دنیا نظام هم دا سے جوړ دے چه څوک محنت کوی نو هغه راحت بیا مومی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم حکمت

دَآدم علیه السلام او دَابلیس دَ واقعې نه اِنسان ته دا ثبوت ورکول
چه شیطان دَ انسان دتل لپاره دُښمن دے دَ هغه کار دَ الله
تابعداري نه لرے کول او په خواهش نفساني کښ ګیرول دی
انسانیت او ابلیسیت کښ به جاري عداوت وي، خو دَ انساني کامیابۍ راز
په دے کښ پټ دے چه هغه دَ ابلیسي حربو اَو که نه ځان اَساتي
او ده ته دخپل پلار مقام او خپل وطن اصلي په ګوتو ورشي ګوند
دَ اصلي وطن نه به لاس وینځلے وي،

## پنځم حکمت

جنتي ژوند نه دَ سَر وکے شوند دَ آدم علیه السلام دا بدلول
حکمت دا هم وو چه دَ جنت دَ خوشحالو ډک ژوند دَ دُنیا دَ غمو
ډک ژوند سره مُقابله کړي او دا تاریخي حقیقت دِ په اولادِ آدم
السلام کښ برابر جاري وي چه خوریزه وند دَ آخرت دے ځکه
دوی دَ دُنیا په جنجالو نو کښ اُمیدو سره آخرت او دَ جنت حقیقي
شانه اُنه غور زوي، او دَ، وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى، را علی آیه هـ
دالصوُّ، چه دَ آخرت او دَ جنت تول عُمري او همیشه ژوند دیر
دَ اولادِ آدمؑ په هغه کوششو نو کښ دَ بِجلتي چپے پیدا کړي کوم
دجنتي ژوند ګټلو کپاره کوي،

## شپږم حکمت

دادم علیه السلام قصه دَ اِبلیسي عداوت بنکاره کولو دَ پاره یو آئینه
په دے کښ دَ الله تعالیٰ دا پټ حکمت ښکاره ګول دي چه انسان دپا د
دَ ابلیسي عداوت وجود له دے وجے ضروري دے چه هغه دَ دے نه
ځان محفوظ کولو دَ پاره هر وخت تیار او سیږي او دَ دین دَ دے خطر



غټ دُښمن دَ دُښمنۍ خیال په اِنسان کښ دَ دین دَ حفاظت خیال
او جذبه پیدا کوي، انساني وُجود یو ورکوټے حکومت اګنړه دَ دے
اندامونه دَ رعیّت پشان او رُوح ئے دَ یو بادشاه پشان دے، قانونِ الٰهي
ورشه یعنے دَ دے ورکوټي حکومت آئین او دستور دے شیطان او د
ابلیسیت لګی شی دغه اندامونه په بغاوت کولو آماده کوي، چه دغه
دستور اُنه مني کچرے دَ اِنسان رُوح دَ خپل دے حکومت په ټیک کولو
او په حفاظت کښ پاتے راشي نو دشمن به په خپته واچوي او دَ دے
انساني اندروني مملکت پوَل انتظام به ګډوډ کړي (لکه ن صبا لبنان
کښ چه اسرائیلو کړي) او کچرے دَ دشمن دَ چالو نو هروخت نګراني
کوي، دَ حکومت دَ حفاظت خیال ساتي او دغه انتظام ئے مضبوط وي
نو ابلیسي چلونه به ټول بیکاره شي، دَ دے ښکاره مثال دَ پاکستان
حکومت دے چه په خوا کښ ئے دَ بهارت یو مکار دُښمن حکومت موجُود دے
کچرے دا دُښمن نه وے نو حکومت او عوام دَ پاکستان دوا ړه به بے فکره
ناست وُو دَ خپل ملک دبچ کولو او دَ حفاظت دَ جوش ډک انتظام به ئے نه
کولو او دَ پاکستان بري، بحري او فضائي فوځ به دَ نیشت برابر وو، جنګي
وسله او جنګي قوتونه به بالکل نه وو ستل، دَا خو دَ غټ دُښمن بهارت
صدقه ده چه پاکستان کښ دِ فاعي ساز و سامان مخ په ترقئ دے،
مطلب دا چه دَ انسانیت دَ تکمیل راز دَ ابلیس په دُښمنئ کښ پټ دے
لکه چه حضرت علي هجویري رہ مشهور په داتا ګنج بخش، خپل هغه مُرید
دا سے یو شکوه کوم چه دَ دُښمنانو دَ ضررونو شکایت کړے وو، دا و فعه
علامه اقبال په خپلو شعرو نو کښے دا سے بیان کړي. ع

| | |
|---|---|
| راست ګویم عندلیبم یار لست | هستي او رونق بازار ست |
| هر که دانا ئے مقاماتِ خودي ست | فضلِ حق داند اگر دشمن قوي است |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشتِ انسان را عدو باشد سحاب | ممکنا تش را برانگیزد زِ خاک

## دَ جنت دَ ژوند حقیقت

دَ جنت حقیقت او نعمتونه دومره اُوچت دی، چه دَ انسان په خیال کښې هم نه شی راتلې:-

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِیَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ ج جَزَآءً بِمَا کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ○ سورة السجدة آیة ۱۷

ترجمه:- یعنې په خپلو سترګو کولیدل وړاندې هیڅ یو کس دا نعمتونه نه پیژنی کوم چه ماپټ ساتلی دی دوی دپاره دَ سترګو یخوالے دے، چه ددوی دَ عملونو بدله به وی۔

په بخاری او مسلم کښې دَ ابوهریرة رض په روایت دَ حضور علیه السلام ارشاد منقول دے، چه الله پاک فرمائی چه ما په جنت کښې هغه نعمتونه تیار کړیدی چه نه خو کومو سترګو لیدلی دی او نه کومو غوږونو دَ دے تعریف آوریدلے دے، او نه کوم یو زړه دده خیال ته رسیدلے شی، دَ دُنیا نعمتونو سره دَ دے نعمتونو هیڅ مُناسبت نشته ځکه دَ دے اصل حقیقت بغیر دَ لیدو او استعماله ممکن نه دے خو د انسان پوهولو دپاره دَ دے اجمالی پیژندګلی دَ علوم آخرت په ضمن کښې ضروری ده لیکن دَ انسان پوهه دَ دُنیاوی څیزونو نه پوره نه ده ځکه ځے په دغه رنګ کښې قرآن شریف او حدیث بیان آکړو۔

ابن عباس رضی الله فرمائی، چه دَ جنت نعمتونو دپاره دَ دُنیوی شیو نو کوم الفاظ چه استعمال شویدی دا صِرف دَ رسمی او تعبیری مناسبت په وجه دی ګوندی دَ آخرت دَ نعمتونو حقیقت دَ دُنیا دَ نعمتونو نه بالکل مختلف دے، ځکه وایم چه جنت کښې به هم اُوبه وی، او په دُنیا کښې هم اُوبه شته لیکن په دواړو کښې دَ آسمان او ځمکے فرق دے بلکه دَ ټولے دُنیا



دولت اُلګولے شی او په هغے یو ګلاس شربت تیار کړیشی نو دا به دَ جنت دَ اُوبو په مقابله کښې داسے وی چه په لیدو به ئے هغه چاته سرخوږ ورځی چاچه دَ جنت اُوبه څښلی وی ځکه چه دَ جنت په اُوبو کښې موندونکی خوندونه بدنی او رُوحانی اثرات هغه دی کوم چه دَ دُنیا په هیڅ څښاک کښې نشته ؛

## دَ آخرت دَ ژوند اجمالی نقشه

قُرانِ حکیم دَ جنت دَ ژوند په منفی انداز کښې دا نقشه راښکلې ده،

لَاخَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَاهُمْ یَحْزَنُوْنَ ○ ، هغه ژوند دَ ویرے او دغم نه بیخی پاک دے، او په مثبت انداز کښے داسے بیان کړے دے،

وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُکُمْ وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ○ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِیْمٍ ○ (سورة حٰمٓ السجدة آیة ۳۱ و ۳۲) ؛

ترجمه: یعنې دَ جنت په ژوند کښې به هغه شے ملاویږی کوم چه په زړه کښې تیر شی او هغه شے به هم ملاویږی کوم چه اُغوښتے شی، او پخپله دَ انتظام کولو ضرورت ځکه نشته چه هلته به خلق دَ الله پاک تول عُمری میلمانه وی، نو تول عمری انتظام به هم دَ الله پاک وی، په بدور السافره کښے مذکورا حادیثو کښې دَ دغے پاک ژوند دا تفصیل بیان دے ؛-

غِنَاءٌ لَا فَقْرَ صِحَّةٌ لَا مَرَضَ شَبَابٌ لَا هَرَمَ حَیَاۃٌ لَا مَوْتَ ؛ یعنې دَ جنت په ژوند کښې بے نیازی او غنی توب دے، فقیری او محتاجی پکښې نشته، ظاهری او باطنی تندرستی به وی او رنځ پکښې نشته ځوانی شته بوډا توب نشته، ژوند شته، مرګ نشته دا هغه لنډه نقشه ده، چه دَ هغے مُطابق یو مینټ ژوند به په دُنیا کښې ټولو نه لوے باد شاهۍ ته هم نه وی نصیب شوے په دے وجه دَ الله ارشاد دے، وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِیَ الْحَیَوَانُ ۘ لا (سورة عنکبوت آیة ۶۴) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یوازې دَ آخرت ژوند حقیقي دے، په حدیث شریف کښې راځي چه دیوجنتي سړي طاقت به دَ یو سلو مضبوطو ځوانانو هومره وي هیشه دَ پاره او هیڅ کمزوري به یې نه راځي دَ هغه ښائست به بې مثاله وي او په هغې کښې به زیات والے راځي، لکه چه په صحیح احادیثو مبارکو کښې ثابت دي، ددے نه علاوه دا چه دَ دیدار الٰهي خوند به دومره وي چه بل هیڅ دَ جنت خوند به دے ته نه رسي ؛

## دَ قیامت په نښو کښې دحضرت عیسٰی علیه السلام آسمان نه راکوزیدل په بحث کښې شامِل دي :

دحضرت عیسٰی علیه السلام آسمان نه ځیژول دا وخت دَ هغوی ژوندا او په آخره زمانه کښې په زمکه راکوزیدل دَ مسلمانانو اتفاقي عقیده ده ځکه چه په تیرشوو څوارلس سوو ۱۴۰۰ کالو کښې په دے کښې هیڅ یو مسلمان عالِم اختلاف په دے نه دے کړے چه دا دَ ټولو دا سے صفا مسئله ده چه اسلام او دَ دے انکار نشي جمع کیدے په بحر المحیط تفسیر جلد ۲ ص۴۷۳ کښې دَ امام ابن عطیه رح نه دَ اجماع الفاظ منقول دي ؛ " "

حَیَاۃُ الْمَسِیْحِ بِجِسْمِهٖ اِلَی الْیَوْمِ وَنُزُوْلُهٗ ؛ تر دے وخته دَ مسیح علیه السلام مِنَ السَّمَآءِ بِجِسْمِهِ الْعُنْصُرِیِّ مِمَّا اَجْمَعَ ؛ ژوند سره دَ جِسمه او جسم عنصري عَلَیْهِ الْاُمَّةُ وَتَوَاتَرَ بِهِ الْاَحَادِیْثُ ؛ سره دَ آسمان نه دده راکوزیدل دا سے یو عقیده ده چه په دے اُمت متفق دے او له متواترو احادیثو ثابت دے په جامع البیان تفسیر کښې دَ اِنِّیْ مُتَوَفِّیْکَ ، تفسیر دَ تفسیر و جیز نه نقل شویدے وَالْاِجْمَاعُ عَلٰی اَنَّهٗ حَیٌّ فِی السَّمَآءِ یَنْزِلُ یَقْتُلُ ؛ په دے اجماع ده چه الدَّجَّالَ وَیُؤَیِّدُ الدِّیْنَ ؛ حضرت عیسٰی علیه السلام په آسمان کښې ژوندے دے، راکوزیږي به دجال به قتل کوي او دین اسلام به مضبوطوي ، دارنګ دَ امام شوکاني رح په رساله اَلتَّوْضِیْحُ فِیْمَا تَوَاتَرَ فِي



الْمُنْتَظَرِ وَالدَّجَّالِ وَالْمَسِیْحِ ، او دَ امام سیوطي رح په اَلْاَعْلَامُ بِحُکْمِ عِیْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ کښې هم تواتر او اجماع مذکور ده ، بحیح الکرامة ص۴۳۳ کښې امام شوکاني رح یو کم دیرش احادیث دَ عیسٰی علیه السلام د نُزول په باره کښې ذکر کړي دي پس دَ تواتر او اجماع ذکر شویدے ، دغه رنګ حافظ ابن حجر په تَلْخِیْصُ الْحَبِیْرِ ، کتاب الطلاق کښې لیکلي دي ، اَلْاِجْمَاعُ عَلٰی اَنَّهٗ رُفِعَ بِبَدَنِهٖ حَیًّا ، یعنې په دے اجماع ده چه هغه سره دَ بدن نه ژوندے پورته کړے شویدے ،

دارنګ په رفتح الباري ، کښې دَ ادریس علیه السلام دَ ذکر سره دَ حضرت مسیح علیه السلام په نزول اِجماع منقُول ده ، دغه رنګ په تفسیر ابن کثیر کښې دَ نُزول تواتر صفا ښکاره کړے شویدے ، داشان (۱) مرزا غلام احمد ، براهین احمدیه ص۴۹۸ دَ حضرت مسیح علیه السلام دا سې ژوندون او دَ دوباره راتلو تصریح کړیده او دا کتاب دده دَ اقرار مُطابق هغه وخت لیکلے شوے دے چه هغه پخپل خیال کښې نبي وو ، دَ ایام الصلح ص۱۳۶

(۲) مرزا غلام احمد براهین احمدیه حاشیه ص۵۰۵ کښې دَ اِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ، په تفسیر کښې لیکي ، چه په دے کښې دَ مسیح علیه السلام په جلالي انداز راتلو ته اشاره ده ، کچرے نرمي نه قبلوله ، نو هغه زمانه هم راتلونکے ده چه مسیح علیه السلام به سره دَ جلالت په دنیا راکوزشي او جلال الٰهي به ګمراهي نیست او نابود کړي ، څنګه زمانه دغې زمانې دَ پاره د ارهاص په توګه واقع شویده ؛؛

(۳) مرزا غلام احمد په براهین ص۴۹۸ کښې ، دَ هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ تفسیر داسے بیانوي چه هرکله حضرت مسیح علیه السلام دویم ځلې دَ دے دُنیا ته تشریف راوړي نو دَ هغوی په لاس به دین اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېولو آفاقو او اقطارو کښې خور شي، (۴) مرزا غلام احمد په ازالهٔ اوهام ص۲۲۵ کښې لیکي چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم عمرؓ د قتل نه منع کړو او وے فرمائیل کچرے دا دجال وي نو د ده صاحب عیسیٰ علیه السلام بن مریم دے هغه به ئے قتلوي مونږ ده دے نشو قتلولے

د مسیح علیه السلام د ژوندون او د هغه د نزول په مسئله به مونږ د قرآن، حدیث، تاریخ، او عقل په رڼا کښې مختصر بحث کوو. د اجماع په رڼا کښې مونږ په دے مسئله بحث اُکړو.

## د مسیح علیه السلام ژوندون د قرآن په رڼا کښې

(۱) وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللّٰهُ ۖ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ آل عمران آیة ۵۴: یهودو د حضرت مسیح علیه السلام په خلاف چل اُکړو او الله د هغه د بچ کولو چل اُکړو، د الله چل د ټولو چلونو والو نه ډیر ښه دے مرزا صاحب د دے آیت دا مطلب بیان کړیدے، یهودیانو د حضرت مسیح علیه السلام د پاره د قتل او سُولئ چل جوړ کړے وو، خو دا خدائے تعالیٰ مسیح علیه السلام ته وعده ورکړه او وے وئیل چه تا به زهٔ خپل ځان ته را پورته کړم. (اربعین جلد دریم ۷ ص۱۰)

بیا په آئینه کمالات ص۲۶۹ کښې لیکي چه د وعدے الفاظ دلالت کوي چه هغه دیره د زړپوره کیدو نه بچ کړے (؟) بیا مرزا صاحب په ازالهٔ اوهام ص۳۰ کښې لیکي چه بیا د دے نه پس ئے هغه علیه السلام د هغوی (یهودو) په حواله کړو. په چابکونو اُوهلے شو، کنځل او ریدل، سپیرے خولې ئې ئے مسخرے وو پورے کیدل هغه اُلیدل آخر ئے په سُولئ اُخیژولو، دا مرزائي تفسیر یوازے بے دلیله او تحریف د قرآن نه دے بلکه یو لوئے بهتان دے او د ذاتِ الٰهي د شان هم خلاف دے د مرزا په قول یهودو د حضرت مسیح علیه السلام خلاف چل اُکړو او الله پاک د



هغه د بچ کولو چل اُکړو او بیا یهودو هغه په چابکونو او کړوړو اُوهلو کنځل ئے هم ورته اُکړل تو ئے مسخرے ئے هم ورپورے اُکړے په سُولئ ئے هم اُخیژولو. او بیا هم قرآن وائی چه الله خیر الماکرین دے. د ده چل ډیر ښه او کامیاب شو. کچرے د مرزائي تعریف دا دغه جوړه کړے شي نو بیا خو ټولے هم اُمطلب شي چه د سولئ نه راکوز کړلو په وخت یهودو هغه مړ اُگڼلو. لیکن آخري سلگئ ئے پاتے وے چه په علاج کولو ښه شو بیا کشمیر ته لاړو او ډیره موده پس طبعي مرګ مړ شو خو بیا هم ده د مرګ په لاره کښې د یهودو غلط فهمي یو ښه جوړ نشو او نه خپه طبیعه واقعه اُشوه.

په ذکر شوي آیت کښې د روح الله د حفاظتي تدبیر د یهودي چل سره د مقابله کولو کښې د الله د تدبیر دپوره کامیابي او لوئي بیا نول مقصود دی. لیکن د مرزا په تفسیر کښې د دے وعدے الٰهي سره هم یهودو به ختو حضرت مسیح علیه السلام سره هر هغه څه اُکړل کوم چه هغوی غوښتل او بیا هم د مرزا په قول تدبیر الٰهي او د هغه وعده پلنه او کامیابه شوه، مرزا په دے شان د حضرت مسیح علیه السلام او د قرآن والاحد آ د یهودو په مقابله کښې توهین او تذلیل اُکړو،

کچرے د ماغو کښې کوږوالے او الحاد نه وے نو د آیت مطلب صفا دے چه یهودو د حضرت مسیح علیه السلام خلاف چل اُکړو چه هغه بیغرته شي او سُولئ ته اُخیژولے شي، لیکن د الله تدبیر د هغه د بچ کولو و، لهذا د الله پاک تدبیر غالب شو هغه ئے آسمان ته پورته کړو او یهودو د هغه یو ویښته هم کوږ نکړو، خو الله سره کالونه خو د قرآني علومو ماهرانو صحابه رضوان او تابعینو رح وغیره د آیت نه دا مطلب واخستو لیکن په خوار لسم صدئ کښې د مسیحت د ګان برا نستوو الاد انا معقول"

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب دځانه جوړکړو :

(۲) اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَىَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ (سوره آل عمران آية ۵۵)

کوم وخت چه الله پاک اُوئیل اے عیسیٰ علیه السلام زه به تا واخلم او خپل طرف ته به دِ دا اُوچت کړم او د کافرانو نه به دِ پاک کړم او ستاتا بعداران به په کافرانو غالب کړم تر قیامته پورې بیا خما طرف ته ستاسو ټولو راتګ

دے بیا به زه فیصله اُکړم د هغې چه کوم تاسو جګړے کولے :.

د «توفیٰ» په باره کښ دا بوالبقاء په «کُلیات» کښ دی

اَلتَّوَفِّىْ اَلْاِمَاتَةُ وَقَبْضُ الرُّوْحِ وَعَلَيْهِ : د توفی معنی مرګ کول او روح اِسْتِعْمَالُ الْعَامَّةِ وَالْاِسْتِيْفَاءُ وَاَخْذُ : قبض کول دی او دا په استعمال الْحَقِّ وَعَلَيْهِ اِسْتِعْمَالُ الْبُلَغَاءِ :. : عوامو کښ لیکن د بلغاؤ په نزد د دے معنے پوره وصولول او صحیح اغستل دی ګویا که د هغوی په نزد په مرګ د توفیٰ اِطلاق په دے حیثیت سره دے چه په دے کښ د یو خاص انډام نه بلکه د ټول بدن نه روح اغستے شی، نو کچرے خدائے پاک د چا روح سره د بدن نه وا غستو نو هغه ته به په طریق اولی توفیٰ ویلے شی، ځکه چه د توفیٰ په مفهوم کښ روح سره د بدن نه اغستل پراته دی، عموماً روح بغیر بدن نه قبض کولے نشی نو ځکه په مرګ د توفیٰ اطلاق ډیر کیږی او دلته دا راز دے، چه د عیسیٰ علیه السلام حالت د عامو خلقو نه مختلف دو، او د ټولو نه زیات اهم ضرورت په موقعه هم الله تعالیٰ د عیسیٰ علیه السلام د «موت» لفظ استعمال نکړو، بلکه د «توفیٰ» لفظ ئے استعمال کړو چه هغه د روح یواز ے قبض کولو یا رُوح سره د بدن نه قبض کولو شامل دے



دا خبر غلط دے که څوک اُوائی چه حق ئے فاعل وی او ذی روح مفعول وی نو د توفی معنے به مرګ وی بالفرض که موت ورته مرګ په معنے اُمنو نو د ابن عباس شاګرد ضحاک په معالم کښ د تقدم او تاخر قول

چه د «مُتَوَفِّيْكَ» معنی به دا غه وی، چه زه به تا مړ کړم په زمکه راکوز ولو نه پس او دلیل ئے دا آیت دے، «اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِىْ لَمْ تَمُتْ فِىْ مَنَامِهَا»، دلته فاعل الله پاک دے او مفعول ذی روح دے، خو د خوب په وخت د توفیٰ معنے بیا هم مرګ نه دے لود دے حقیقت نه پس په تیر شوی آیت کښ د عیسیٰ علیه السلام د «توفیٰ» معنی مرګ نه دے، بلکه د دے معنیٰ پوره ته خیژول دی، لکه چه دا مطلب تر ابن عباس رض هم په صحیح قول کښ اغستے دے چه دا روح المعانی کښ ذکر دے، او د عیسیٰ علیه السلام د حال مناسب هم دے، حضرت عیسیٰ علیه السلام ته چه د یهودی ګیرے په وخت کوم پریشانی وه نو هغه په دے وجوه وے،

(۱) چه زه به د یهودو د تیښے او زور ظلم نه بچ شم که نه نو هغې په جواب کښ الله تعالیٰ اُفرمائیل (يٰعِيْسٰى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ) زه به تا واخلم او د هغوی د پنجے نه به دِ خلاص کړم، لکه چه بل آیت کښ فرمائی «وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ» زه به تا ته د هر رسید و نه بنی اسرائیل بند کړم :.

(۲) دویم فکر ورسره دا وُو چه زه به د دُنیا پرځ کښ پرے کیږم چه یهود به ما ته نشی رارسیدے که بل څه صورت به وی او نو دے په جواب کښ الله پاک اُفرمائیل چه زه به دِ خپل طرف آسمان ته دا پورته کړم :.

(۳) د خپلے مور بی بی او نور خاندان د پاره پریشانه وو، چه د خلقو د تهمتونو لو په وجه به د هغوی څه حال وی؟ نو الله اُفرمائیل :.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا (سورة آل عمران آیة ۵۵)
یعنې زه به دَ منکرانو نه تا او ستا مور بي بي پاکه کرم، لکه چه دا انتظام
دقرآن او دَ محمد رسول الله په ذریعه اُکړے شو، دَ عیسی علیه
السلام او دَ هغوی دَ والدے ژوند بے داغه وے،
(۴) یو پریشاني دا هُم وه چه څما دپوره تکولو پی به څما دَ تابعدارو
څه حال وي، نو الله تعالی اُفرمائیل، وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ
فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ (سورة آل عمران آیة ۵۵) چه تر
قیامته به ستا تابعداران ستا په منکرانو غالب وي، دا وعده
نن هم حقیقت دے، دَ اسرائیل وجود په دے وعده څه اثر نه
اچوي چه قرآن پخپله دَ یهودو دَ ذلت او مسکنت دوه استثنائي صورتونه
بیان کړي دي، یو دا چه یهود مسلمانانو ته شي او دَ اسلام په پناه کښې
راشي، او دویم دا چه دَ بل قوم (عیسائي) په پناه کښې راشي، إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ
اللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ (سورة آل عمران) اُس کله اسرائیل موجود دي
نو په دویم استثنائي صورت کښې ځکه چه دوی د برطانیه امریکه او نورو
عیسائي قومونو پناه اخستو په وجه موجود دي دَ یهودو اقتدار
او قوت دَ عیسایانو په آسرا قائم دے لیکن دَ مسلمانانو اقتدار دَ
عیسایانو دَ آسرے حاجتمند نه دے خواه امریکه وي او که روس وغیره
دوی که محتاج دي نو خپل منځ کښې دَ اتفاق لکه الله تعالی فرمائي:
وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (سورة آل عمران)،
او بل دَ سامان قوت تیارولو، لکه چه فرمائي وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا
اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ هر کله چه مسلمانان متحد شي او خپل مشترک
دولت په قوت جمع کولو کښې صرف کړي، نو مسلمانانو ته بیا هیڅوک شکست
نشي ورکولے، خو هله چه په حبل الله او اسلام باندے عمل



کوي نه چه مغربیت ته کچکول اُنیسي او په اسلام کښې تحریف اُکړي
دَ یورپ دَ قوت راز هُم اسلامي اجزاؤ باندے عمل کول دي، لکه
سامان دَ قوت جمع کول، کوندي هیڅ خو په غیر اسلامي اجزاؤ باندے
عمل کولو په وجه دوی ډیر کمزوري شویدي، غیر اسلامي اجزاء دا دي
چه دوی خدائے او آخرت هیر کړے دي، دَ پیغمبرانو علیهم السلام اخلاقي
قدرونه ئے دخپل ژوند او تهذیب، تمدّن نه خارج کړیدي، دَ نسل
او وطن غوندے بتانو عبادت کوي، زنا، لواطت، جواري، شراب
نوشي، سُود، عیاشي مغربي طاقتونه دومره کمزوري کړیدي چه دوی
دوجے نه برطانت دَ کوریا او ویت کانګ غوندے ډیر معمولي طاقتونو
دلاسه وهلے کیږي اُس خو تو به ته جوړ شویدي خو تو به ئے نه قبلیږي
دا دَ مغرب زده مسلمانانو بد قسمتي وه چه دَ دوی کمزوري ذهنونو
دوی لره دَ سامان قوت په پرېښودو (چه اسلامي جزء دے) او دَ
هغوی اخلاقي کمزوري په ځان کښې په راوستو (چه غیر اسلامي جزء دے)
مجبوره کړل او په خپل لوئے قوت (اسلام) کښې ئے تحریفونه اُکړل او
کوي، او دَ یورپ خطرناک شیطاني تهذیب په ځان کښې راولي،

۲- وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ
بُهْتَانًا عَظِيمًا ۝ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا
الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ
وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ
لَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ
لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ
إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ۝
بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

دَ یهودو په زړونو دَ هدایت دَ بندیز
مُهر لګیدلے دے د دوی دَ کفر په وجه
او په حضرت مریم باندے دَ غټ بهتان
ترلولو (تور پورے کولو) په وجه او په دے
وجه چه دوی وائي چه موږ دَ خدائے
رسول عیسی ځوئے دَ مریم بي بي وژلے
دے حالانکه نه دوی هغه قتل کړے
دے او نه ئے په سولي کړیدلے ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۝ سوٓ النساء آيه ۱۵۷ تا ۱۵۹ ؛

شک کښې پرېوتي دي او د حضرت عيسى عليه السلام متعلق چه دوى اختلاف کولو نو هغه شک کښې دي دوى يقيناً حضرت عيسى عليه السلام نه دے قتل کړے، بلکه الله تعالى هغه خپل طرف ته پورته کړے دے، هغه غالب او حکمت والا دے، د اهل کتا بو هيڅ يو به داسے نۀ وى خو ايمان به بيا راوړى په هغه د مرګ نه روړ مبے او د قيامت په ورځ به هغه په دوى ګواه وى

په دے آيت کښے څو څيزونه بيان شوى دى،

(۱) بو دا چه حضرت عيسى عليه السلام نه قتل شوے دے او نه په سولئ خيژولے شوے دے، څوک چه د قتل او د سولئ قائل دى، هغه بنکاره غلط دى، ځکه چه قرآن شريف بنکاره د دے رد کړو، د مرزا يا نو يا د منکرينا دا وينا چه په سولئ خيژولے شو يدے، ليکن هلته نه دے مړ شوے نو دا خبره هم لکه د يهودو او انصارئ د قرآن نه خلاف ده وَمَا صَلَبُوْهُ، دا معنى کول چه په سولئ اُخيژولے شو خو په سولئ مړ نشو د عربو د لغت نه خلاف ده، د (صَلَب) معنے په سولئ خيژول او د مَا صَلَبَ، معنى په سولئ نه خيژول دى دا خو قطعاً د قرآن تحريف دے چه د مَا صَلَبُوْهُ، دا معنى اُ شى چه يهودو حضرت عيسى عليه السلام په سولئ اُخيژولو خو هلته مړ نشو،

(۲) په آيت کښې د مَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا، نه پس اُ فرمائيل، بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ط يعنے حضرت عيسى عليه السلام قتل نشو او الله پاک خپل طرف ته پورته کړو، په مَا قَتَلُوْهُ، او بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ) دواړو کښې ضمير (ه) حضرت عيسى عليه السلام ته راجع دے او عيسىٰ د روح او جسم دواړو نوم دے مطلب دا چه روغ رُوح سره د جسم پورته اُخيژولے شو ځکه چه د



په نتيجه کښې جسم بے روحه پاتے شى نو د عدم قتل مطلب به جسم سره د روحه پورته کول وى، علاوه له دے د (رفع) د عيسىٰ عليه السلام نه مطلب هغه څهل د رُوح او جسم دواړو ۱ چترول دى او څو چه د دے خلاف بله قرينه نۀ وى، لکه د وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ، دا مطلب دے چه حضرت يوسف عليه السلام خپل والدين (رُوح سره د جسمه) تخت ته پورته کړل نۀ دا چه يوازے رُوحونه د هغوى ئے پورته کړل،

(۳) بچرے د عيسىٰ عليه السلام رُوحانى پورته کول مُراد واخستے شى، نو دا په څو وجو غلط دى،

① يو وجه دا ده چه بے له قرينے مجاز مطلب اخستل غلط دى، — يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ، کښې د دَرَجٰتٍ، په قرينه د دينى پورته کول مُراد دى جسمانى پورته کول نۀ دى مراد لکه څنګه چه په رَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ، کښې "دَرَجٰتٍ" په قرينه د رفع مجازى مُراد ده،

بله وجه په وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ، کښې د رفع رُوحانى رفع په دے معنے مراد اخستل چه يهودو قتل نۀ کړو خو خدائے د هغه درجه بلنده کړه غلط ځکه ده چه عيسىٰ عليه السلام د دے نه وړاندے مخلوبيت کاله پيغمبر وو او د پيغمبرئ نه بله اُوچته درجه نشته نو د درجے اُوچتولو دلته بيا هيڅ مطلب نه راوُزى او د الله کلام د دے نه پاک دے،

د دے نه علاوه په عربى ژبه کښې د (بَلْ) د ده مقابل څيزونو د پاره استعماليږى، کچرے دا معنے دلته واخلو چه عيسىٰ عليه السلام په سولئ کړے شو خو مرتبه ئے الله تعالى بلنده کړه نو مقابله را نغله او د بَلْ ،، استعمال به غلط وى چه د الله کلام له دے پاک دے مقابله به هلته راتله چه داسے وئيلے شوے وے چه يهودو په سولئ کړو خو الله تعالى ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library



درجه بلنده کړه ځکه چه یو مؤمن یا پیغمبر قتل شی نو الله تعالی هغه
له د شهادت رُتبه ورکړی، او په دا سې په "بَل،، استعمال هُم صحیح شوی
وی دلته د مرزا یا نو دا تو کړی دی یی کچه دی بلکه تحریف دے، چه د
ربائبل) په مُوجب (په سُولئ موی سړی ملعُون وی، نو د ربَل" په
تقاضا مقابله دا سې جوړیږی چه الله تعالی د سُولئ د قتل نه بچ
کړو کوم چه لعنت وو، او د هغه په مقابله کښې ئے ورله درجه بلنده کړه
نو مقابله هم را غله او مُراد هم پوره شو، زه وایم چه دا خیال باطل او ډیر
او غلط ځکه دے چه بائبیل کښې ئے هغه سولئ شوی سړی نه ملعُون ویلی
دی کوم چه څه جرم کښې په سُولئ شی او کوم چه ناحق سولئ شی نو هغه شهید
وی، نو د مرزا یانو د غلط خیال مُطابق په دے کښې بیا مقابله توت کیږی
او هسې ا ر ټُو پړ تو نړ جوړیږی او دا سې نسبت د الله کلام ته کول د هغه
توهین دے "اَعَاذَنَا اللهُ"

دریمه وجه دا ده چه رُوحانی رفعُ الله تعالی هر نبی ته ورکړے
وه، خصوصًا د ټولو نه زیا ته رفع خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ته ورکړے شوے وه، نو د عیسی علیه السلام خصوصیت په دے صُورت کښې نه
وو، دلته خصوصیت د رفع صفا ښکاره کوی چه رفع نه مُراد رفع جسمانی ده
کومه چه خاص ده عیسی علیه السلام سره یا چه د چا رفع جسمانی شوی
وی، څلورمه وجه دا ده چه دے رفع نه پس په قرآن کښې "وَكَانَ اللهُ
عَزِيزًا حَكِيمًا" الفاظ راغلی دی کوم چه د بل نبی د پاره په دے انداز
کښې نه دی راغلی نو دے نه هم معلومیږی چه رفع جسمانی مُراد ده په کوم
کښې چه قُدرت او قُوّت ښکاره کول هم مُراد دی چه لفظ د "عَزِيزًا"
پرې دلالت کوی او د حکمت اِظهار هُم دے چه لفظ د "حَكِيمًا" پرې
دلالت کوی، او دا بیان په اُس مُوبند لږ وخت پس کوو۔



دویمه خبره چه آیت نه معلومیږی هغه دا ده چه د اهل کتابو ټولے
فرقے به د عیسی علیه السلام د وفات نه وړاندے په هغه ایمان راوړی
کوم به چه د نزولِ قرآن نه پس زمانه کښې هغه وخت وی چه هغه دوباره
له آسمانه راکوز کړیشی، "بَلْ رَّفَعَهُ اللهُ" نه صُعُود ثابت شو نو په دے آیت
کښې د دواړه (صُعُود او نُزُول) ثابتیږی، تشریح ئے دا سے ده "وَاِنْ مِّنْ
اَهْلِ الْكِتَابِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ" نه دا ثابتیږی چه هر فرقه
د اهل کتابو به پرِ ایمان راوړی، د هغه د وفات نه وړاندے، ځکه چه د
(بِهٖ) او (مَوْتِهٖ) د دواړه ضمیرونه (هٖ) حضرت عیسی علیه السلام ته
راجع دی (لَيُؤْمِنَنَّ) کښې نونِ تاکیدِ ثقیله دے چه هغه د مضارع
صیغه مستقبل د پاره مخصوص کوی، نو مطلب به ئے دا شی چه د اهل
کتابو ټولے فرقے به د قرآن د نزول نه پس هغه وخت په عیسی علیه
السلام ایمان راوړی کله به چه هغه د آسمان نه راکوز کړے شی،
هم دا وجه ده چه صحیحینو کښې د حضرت عیسی علیه السلام د نزول حدیث
مرفوع روایت کولو نه پس ئے یو راوی ابوهریرة رض فرمائی "فَاقْرَءُوْا
اِنْ شِئْتُمْ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ" د کتنه دا ښودل
مقصُود دی چه اهل کتاب به په عیسی علیه السلام د هغه د آسمانه د
نازلیدو نه پس په هغه ایمان راوړی، دا مسئله خالص نقلی ده په عقل نه
معلومیږی په دے وجه د ابوهریرة رض موقوف حدیث د مرفوع حُکم
لری مطلب دا چه حضور علیه السلام نه به ابوهریرة رض ضرورا اوریدلی
وی، چه ټول اهل کتاب به خامخا په عیسی علیه السلام د هغه د نزول آسمانی
نه پس ایمان راوړی، د (مَوْتِهٖ) ضمیر (هٖ) کتابی ته راجع کول صحیح ځکه
نه دی چه انتشار د ضمائرو د بلاغت له شانه خلاف دے، دویم (مَوْتِهٖ)
قید به عبث او د بلاغت له شانه خلاف ځکه وی، چه معنی به ئے دا رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هرکتابي به په عیسی علیه السلام د خپل مرګ نه وړاندے ایمان
راوړي، ایمان راوړل خوی د مرګ نه وړاندے، نو دا قید لګول بیا
عبث شو، او که څوک په زور لګوی، نو دا بېکاره کول په ضروري شي چه
داسے وېنا نه جوړېږي، چه ما دو دئ د مرګ نه وړاندے اُخوړه او ما اُو
د مرګ نه وړاندے اُخښلے ) ځکه چه د دے قید لګولو ضرورت په د
نشته چه هرکس پوهېږي چه خوراک څښاک د مرګ نه وړاندې کیږي
د مرګ نه رُسته خو دوئ چا نه دی خوړلے، که څوک بیا هم زور لګوي
او وائي چه د ځنکدن په حالت کښ به ایمان راوړي نو دا ایمان منظور
ندے، هر کافر د ځنکدن په وخت کښ ایمان راوړي خو منظور یږي
نو تخصیص د عیسی علیه السلام پاتے نشو او دا سے نا منظور ایمان ذکر
د قرآن او د الله د شان سره مُناسب نه دے دا سے تاویلا تو نه
سائل پکار دي الله د ِ توفیق راکړی.

(۴) وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ۝ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝ (الزخرف آیة ۶۱، ۶۲) | حضرت عیسی علیه السلام د قیامت نښه ده، نو قیامت کښ شک مه کوئ او زما تابعداري اوکړئ هم دا سمه لار ده شیطان تا سو د دے خبرے منع نه کړي بیشک هغه ستاسو ښکاره دُشمن دے.

د دوو وجو نه ئے عیسی علیه السلام ته د قیامت نښه اُوبلی، یو د هغه
بغیر پلار نه پیدا ئش چه د مړو دوباره ژوندی کولو دلیل کیدے شی
دوئیم قیامت سره نیزدے د آسمانه د هغه نزول چه د قرب قیامت
نښه ده، د سیاق سباق مطابق د (اِنَّهُ) ضمیر (ه) عیسی علیه السلام
ته راجع دے نه بغیر هر یو بلے دا ئے ضعیف ده، ابن ماجه ص ۳۰۹
،، باب فتنه الدجال، کښ د حدیث اسراء په تشریح کښ حضرت عیسیٰ



د قیامت سوال اُوشو نو هغوی اُو فرمائیل، چه د هغے د واقع کیدو وخت
سوا د الله نه بل څوک نه پیژنی او څه وخت چه د دجّال ذکر اُوشو نو وے
فرمائیل چه ګ به راکوز یږم او هغه به وژنم، د دے آیت په تفسیر
کښ ابن جریر رح د حضرت عیسی علیه السلام د قیامت نه وړاندے نزول
د ابن عباس رض، ابی مالک رض، عوف رض، مجاهد رض، قتاده رض، سدی رض
ضحاک رض او ابن زید رض د روایاتو نه نقل کړیدے چه د هغوی علیه السلام
د نزول دلیل دے، او د دے نزول په وجه په دے آیت کښ ده نه د
قیامت نښه ویلے شوید ه او دا صحیح معنی ده، کچرے بغیر پلار نه
پیدائش نښه د قیامت ده، نو د دے حقدار د ټولو نه زیات حضرت
آدم علیه السلام وو چه د هغوی پیدائش د مور او پلار د دواړو نه بغیر
شوے وو، معلومه شوه چه دلته په آیت کښ د نښے د قیامت مطلب قیامت
ته نزدے د حضرت عیسی علیه السلام د آسمانه نازلیدل دی، او که څوک
په دے عقیده کښ خند ان پیدا کوی نو هغه شیطان دے.
(فَلَا یَصُدَّنَّکُمُ الشَّیْطٰنُ) ئے دلیل دے،

(۵) إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ (هغه وخت یاد کړئ) چه فرشتو
يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ (اُو ئیل اے مریم بیشک الله تا ته
عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا (زیرے د دکوی د یوے کلمے چه د الله له جانبه
فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (او به وی د هغه نوم به مسیح عیسی ابن مریم
(آل عمران آیة ۴۵) (وی باعزت به وی په دُنیا او آخرت کښ او د مقربینو
له ټولی به وی) د آیت کښ دا ویلے شوی دی چه عیسی علیه السلام د مقربینو
د ټولی نه به وی، په بل ځائے (سورة واقعه) کښ د جنتیانو په باره
کښ داسے بیان دے (أُولَٰئِكَ الْمُقَرَّبُونَ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ) په دریم ځائے
د ملائکو په باره کښ داسے راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝ ژ: مسیح علیه السلام د الله په بنده کیدو نه شرمیږي او نه مقربې فرښتې شرمیږي، دے د رسه وارو خدایر لوکښ د قُرب نه مُرا د جسمي جسّي او آسماني قرب مراد دے همدا وجه ده چه د دے آیت په تفسیرکښ امام رازی رحمه الله تعالیٰ په تفسیر کبیر کښ او ابوالسعود رح په خپل تفسیر کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام آسمان ته پورته کیدل د جسم سره ذکرکړیدی او مدارک خازن، سراج المنیر او کشاف کښ دی، وَكُوْنُهٗ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ د حضرت عیسیٰ علیه السلام د مقرّب کیدو مطلب د هغه آسمان ته پورته کول د فرښتو ملګرتیا ور ته حاصلیدل او بیا د نورو اُمورو تکمیل دپاره د هغه علیه السلام زمکے ته را نازلیدل لکه نکاح، حج، جهاد کولو او د مسیحي قومو نو فتنو ختمولو او زکولو دپاره؛

## د مسیح ژوندُون او نازلیدلُو د حدیث په رنړاکښ

بخاری کښ ابوهریرة رض د حضور علیه السلام نه حدیث نقل کوی، فرمائي رقسم دے په خُدائے وي چه علیه السلام به د پوس ته نه په تاسوکښ نازلیږي د حضرت مریمؑ خوئے چه حاکم به وي، انصاف دار صلیبي قوّت به مات کړي او د خنزیر د قتل حکم به ورکوي او د ټولو خلقو د مسلمانیدو په وجه به د جهاد ضرورت پاتے نشي، او خلقو ته به دومره مال ورکړي چه څوک قبلولو والا به نه وي، او د عبادت شوق به دومره زیات شي چه خلقو ته به یوه سجده د ټولے دُنیا د دولت نه ډیره ښه ښکاریږي، بیا ابوهریرة رض د دے تصدیق دپاره دے آیت آرخ ته توجُه ورکړه چه د هغے معنیٰ داده چه په دے وخت کښ به داسے یو کتابي پاتے نشي چه په عیسیٰ علیه السلام به ایمان را نوړي رد مرزا د قول مطابق قرآن نه پس د ټولو نه د صحیح کتاب بخاری حدیث دی،



دویم حدیث دادے، چه حضور علیه السلام اُفرمائیل، څما او د عیسیٰ علیه السلام په مینځ کښ نبی نشته او د هغه به راکوزیږي، چه څه وخت ئے اُوینئ نو دے پیژنئ، د هغه قد درمیانه سُور سپین دے، دوه زیړو جامو کښ به راکوزیږي د سرو ویښتو به ئې معلومیږي چه ګویا کښ اُوبه ترے راڅاڅي اګرچه اُو به ترے څڅوي نه وي رسیدلے، نو په اسلام به خلقو سره جهادکوی، صلیبي قوّت به مات کړی، د خنزیر د قتلولو حکم به ورکوی جزیه به بند کړی، په دے وخت کښ به د اسلام نه بغیر ټول دینونه ختموی، دجّال به قتل کړی، په زمکه به څلویښت کاله اُسیږی او بیا به وفات شي او مسلمانان به پرے د جنازے مونځ اُکړی (ابوداؤد عن ابی هریرة رض مرفوعًا جلد ۲ صـ۲۳۸)

(۳) په مشکوٰة باب نزول عیسیٰ م کښ عبدالله بن عمرو د حضور علیه السلام نه نقل کړیدی چه ابن مریمؑ به په زمکه راکوزیږي واده به کوي اولاد به ئے کیږی په زمکه به پنځه څلویښت کاله پاتے کیږی او بیا به فوت کیږی او دفن کیږی به څما په مقبره کښ نو قیامت کښ به زه او عیسیٰ علیه السلام د یو مقبرے نه پاسُو چه د ابوبکر رض او عمر رض په مینځ کښ به وی؛

(۴) په صحیح مسلم کښ روایت دے حضور علیه السلام فرمائی، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به د دمشق په مشرق کښ په سپینه مُناره په دوه جامو کښ د دوه فرښتو په مینځ کښ راکوزیږی، دواړه لاس تو تلی به ئے په فرښتو اینې وی، دجّال په رلُدّ دروازه بیا مومي او وے به ئے وژنی؛

د مسیح علیه السلام په ژوندُون آیتونه ډیردی او احادیث د تواتر حد ته رسیږي چه د بوکم ډیرشو صحابه کرامو نه منقول دی لیکن مونږ د اختصار په غرض په څو آیتونو او څلورو احادیثو اکتفا اُکړه، حضور علیه السلام په دے احادیثو کښ د ایمان د تحفظ او د ګمراهئ نه د بچ کولو دپاره د حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسیح علیه السلام چه کومې نښې نښانې ذکر کړی دی هغه کافي شافي دي.
او کوم ګمراهان چه د استعارات او مجازاتو په زور د پوره تاریخ او یو دنیا بدلول
غواړي نو هغوی د پاره د قرآن او حدیث پوره دفتر هم بیکاره دے. په دے
احادیثو کښې د حضرت مسیح موعود علیه السلام کوم پیژندلو چه کومې بینکاره
نښې نښانې دي هغه په نمبر وار دي:

(۱) د مسیح موعود علیه السلام به پلار نه وي، نو د هغه ضابطې خلاف به
هغه خپلې مور بي بي مریم ته منسوب وي. د مرزا غلام احمد پلار مرزا
غلام مرتضی وو او د مور نوم ئې ممتاز بي بي وو. د هغه نسبت به پلار ته
کیدو او مور ته نه.

(۲) هغه به حاکم وي لیکن مرزا غلام احمد د انګریزانو غلام وو.

(۳) هغه به عادل وي، د الله تعالی قانون چلول عدل دے، د مرزا
په وخت کښې شرعي قانون بند وو، او د انګریزانو قانون په ډاګه او ددهٔ
په مریدانو جاري وو.

(۴) حضرت عیسی علیه السلام به صلیبي قوت ماتوي خو د مرزا په
وخت کښې صلیبي قوت دومره زور اخستو چه دے نه وړاندے
چرے هم نه وو. پخپله د ده اقرار دے چه پلار ته ئې پنځوس آسونه سواره
ورکړی شوی وو او هغه د ۱۸۵۷ء په تحریک د آزادئ کښې په هندوستان
د صلیبي قوت مسلط کولو د پاره جنګ کړے وو او په تحفه قیصریه کښې مرزا
پخپله دخپلو او د مقصد دا ښکاره کړے دے، چه زه د انګریز صلیبي
حکومت د پاره بي د لسے فوځ تیار کړم چه د انګریز حکومت وفادار وي.

(۵) د حضرت عیسی علیه السلام په وخت کښې به د خنزیر خوراک ختم شي
لیکن د مرزا په وخت کښې دا زیات شو.

(۶) حضرت عیسی علیه السلام به په خلقو دومره مال ورکوي چه خوک به ئې



قبلوؤ ته نه وي، مرزا خو هیڅ چا له مال ور نکړو، بلکه پخپله ئې اخستو
چنده اخستل ئې عام کړل او د بهشتي مقبرے د پاره ئې چنده خوځول
د ایمان یو شرط اوګرځولو.

(۷) د عبادت خوند به د عیسی علیه السلام په وخت کښې دومره زیات
شي چه د یو سجدے قیمت به د خلقو په نظر کښې د ټولے
دنیا نه زیات وي لیکن د مرزا په وخت کښې عیسایانو مسلمانان د
لکهونو په شمیر کښې مرتدان کړل.

(۸) حضرت عیسی علیه السلام به د آسمان نه په زمکه راکوزیږي
لیکن مرزا په زمکه پیدا او هم په زمکه پاتے شو.

(۹) په فرښتو به حضرت عیسی علیه السلام لاسونه اینښي وي
لیکن د مرزا په نصیب کښې د یو فرښتے لیدل هم نه وو.

(۱۰) عیسی علیه السلام به د دمشق په سپینه مناره راکوزیږي،
لیکن د مرزا په نصیب کښې د لویو عرب زمکې لیدل هم نه وو.

(۱۱) حضرت عیسی علیه السلام به لد شي په (دروازه د لُد) به یهودي
دجال قتل کړي، لیکن د مرزا په قسمت کښې نه خو (لُد) لیدل وو او
نه د دجال، البته دده روحاني اولاد د دجال قوم یهودو سره تعلق په
دے وخت پیدا کړو، چه د عالم اسلام نه د دوی تعلق ختم دے. خبره
دا ښه معلومیږي چه د دجال په ظاهریدو به دوی د هغه مدد
د پاره د غلته د اوس نه موجود وي.

(۱۲) د عیسی علیه السلام په وخت کښې به یو باطل دین هم پاتے نشي
لیکن د مرزا په وخت ټول باطل دینونه په جوش وو
او د اسلام خلاف نور نوي دینونه را پیدا شو چه په هغے کښې
د هغه د مرزائیت هغه دین هم دے کوم چه د اسلامي یووالي په خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایتم بم دے (۱۳) حضرت عیسیٰ علیه السلام به حج کوی، لیکن تر مرګه د مرزا حج نصیب نشو:

(۱۴) د حضرت عیسیٰ علیه السلام به آسمان ته پورته کیدو نه وړاندې نه واده وی او نه ئے اولاد بلکه د نزول نه پس به واده کوی او اولاد به ئے کیږی، لیکن د مرزا د نبوت د دعوے نه وړاندے واده هم وو او اولاد هم وو:-

(۱۵) حضرت عیسیٰ علیه السلام به جهاد کوی او جزیه به بنده کړی لیکن مرزا د جهاد کولو په ځائے جهاد کولو ته حرام اُویلے:-

او د نصارٰے د استعمار لاره ئے صفا کړه او د جزیے بندولو هیڅ سوال پاتے نشو:-

(۱۶) د عیسیٰ علیه السلام په وخت کښے د ټولو خلقو یو دین یعنی اسلام به وی، نو په دے وجه اسلام سره د هیڅ یو مذهب جنګ به نشی کیدے لیکن د مرزا په وخت کښې کنزرو باطلو مذهبونو د هندوستان ترکی، فلسطین او شمالی افریقے په مسلمانانو کوم ظلمونه چه اوکړل د هغے مثال په تاریخ کښې نشته او دا د مرزا برکت کیدے شی:-

(۱۷) د عیسیٰ علیه السلام په وخت کښې به امن قائم شی او جنګ به ختم لیکن د مرزا په وخت کښې څه چه د هغے نه پس د امن و امان نوم او نښه پاتے نشوه او د جنګ د پاره هغه د سلے او سامان جوړے شو چه د مرزا د وخت او د هغے نه پس دیو جنګ بربادی د تیرشوو سوو نو جنګونو د بربادی نه زیاته ده:-

د دے ټولو نښو نښانو په رڼا کښې دا دینا په حقه ده چه مرزا د مسیح موعود ضد دے. لیکن د مجازاتو استعمارا تو او تاویلاتو په زور قرآن حدیث تاریخ او واقعاتو پورے چه مرزا کوم خندا کانے او ټوقے اوکړے



د هغے په موجب هیڅ یو حقیقت نشی پاتے کیدے دا څو مره دافسوس خبره ده چه د مسیح موعود علیه السلام ټولے نښے نښانے په داسے یو سړی (میرزا) ورد ... اُ تپلے شی چه نه ئے خپل نوم نه ئے د مور نوم نه د هغه مکان نه د نزول مقاصد مسیح موعود علیه السلام سره سمون خوری، په داسے بے سره او پښو تاویلونو خو د ټولو بادشاهیو نظام د کار او فائدے نشی پاتے کیدے:-

## شیخ اکبر رح او د عیسیٰ علیه السلام ژوندون

شیخ اکبر رح په فتوحات مکیه باب ص۳۶۷ کښې لیکی:

فِی حَدِیْثِ الْمِعْرَاجِ فَلَمَّا دَخَلَ بِجَسَدِهٖ فَاِنَّهٗ لَمْ یَمُتْ اِلَی الْاٰنَ بَلْ رَفَعَهُ اللّٰهُ اِلٰی هٰذِهِ السَّمَآءِ وَاَسْکَنَهٗ بِهَا وَحَکَمَهٗ فِیْهَا وَهُوَ شَیْخُنَا الَّذِیْ رَجَعْنَا عَلٰی یَدِهٖ وَلَهٗ بِنَا عِنَایَةٌ عَظِیْمَةٌ وَلَا یَغْفُلُ عَنَّا سَاعَةً وَّاَرْجُوْ اَنْ اُدْرِکَهٗ فِیْ نُزُوْلِهٖ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی:

د معراج په حدیث کښې دی چه هغوی داخل شو نو عیسیٰ علیه السلام سره د ځوځے ورسره ملاقات اُکړو ځکه چه هغوی علیه السلام لا مړ نده بلکه الله تعالیٰ هغوی علیه السلام دے آسمان ته پورته کړیدی دے کښې ئے اُ سوی او په دے کښې ئے د دوی حکم چلولے دے دا څو زمونږ هم عزت مند دے چه د هغه په لاس مونږ خدائے ته رجوع کړیده

د هغه په مونږ لویه مهربانی ده او مونږ نه یو ګهړی هم غفلت نه کوی ځما امید که خدائے پاک اُغوښته نو ځه به د هغه د نازلیدو (د هغه ته) زمانه بیا مُومم:

## په تاریخی لحاظ سره د مسیح علیه السلام ژوندون

حضرت مسیح علیه السلام حضور علیه السلام سره د ټولو نه زیات نزدے پیغمبر دے او ټول نصارٰی او مسلمانان د هغوی لوئی او شخصیت منی

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمانی ژوند دَ فرښتو په شان دے هلته هغه د زمکے دَ بشری خوراک محتاج نه دے ، بلکه دا سے خو په زمکه هم کیدے شی چه الله اُغواړی .،

(۱) طبقات شافعیه جلد عـ۵ صـ۳ کښې دَ شیخ عزیزالدین فارُوقی نه روایت دے ، چه هغه په عراق کښې داسے سړے لیدلے وو چه خوراک څښاک ئے نهٔ کولو .،

(۲) امام ذهبی فرمائی ، په اُندلس کښې یَوه داسے ښځه وه چه دَ شلو کالو ئے خوراک څښاک نهٔ کولو (دا واقعه مشهُوره ده)

(۳) حاکم تاریخ نیشاپُور کښې دَ عیسیٰ بن محمد الطهمانی نه نقل کوی ، چه دَ رحمت په نوم دَ یَوے ښځے خاوند شهید شوے وو . هغې دَغه خاوند خوب کښې داسے اُلیدلو چه دَ جنت طعام ئے خوړلو او تکړه ئے خپلے ښځے ته هُم ورکړه هغه چه له خوبه راو یښه شوه نو ټول عُمر ئے خوراک ته حاجت پیښ نهٔ شو دَ ذِکر شوی طبقات په حواله دویم جواب دا دے چه دَ آسمان او زمکے نسبت په خپل مینځ کښې لکه دَ عرش (آسمان) او دَ اُوری کَ دانے (زمکے) دے هر کله چه خدائے پاک په دے وړوکی زمکه دَ اربُونو مخلوقاتو دَ خوراک انتظام فرمائیلے دے نو په آسمان کښې دَ یو کس دَ ضرورت پوره کول هغه ته گران دی څه ؟ هیچرے نهٔ دی گران !،

## ۲ . دَ ختمِ نبوت په لحاظ د حضرت عیسےٰؑ دَ نزُولِ حکمت

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ لَمَآ اٰتَیْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰی ذٰلِكُمْ اِصْرِیْ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا

څه وخت چه الله تعالیٰ دَ نبیانو نه عهد واغستو چه څه کتاب او علم ما درکړو او بیا تاسو ته یو لوئے رسول راشی کوم چه تاسو سره کتاب ته هم رښتیا وائی نو تاسو به په هغه ایمان راوړی او دَ هغه مدد به کوئ ، وے فرمائیل



قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿ط﴾ سوره آل عمران : موږ ستا عهد قبول کړو ، هغوی اُو ئیل آیة عـ۸۱ : : چه موږ اقرار اُکړو ، نو وے فرمائیل تاسو اُس گواه اُسئ او زهٔ به هم تاسو سره گواه یم :

دَ حضرت علی او عبدالله بن عباس رضی الله عنهم دَ تفسیر مطابق دا نبیاؤ علیهم السلام نه دا وعده دَ خاتم الانبیاء علیه السلام په باره کښې اخستے شوے وه گویا کښې حضور علیه السلام (نبی الأمم) او (نبی الانبیاء) هم دے دَ ذکر شوی آیت په موجب انبیاؤ علیهم السلام دَ خاتم الانبیاء علیه السلام نبوت اعتقاداً او اقراراً او د هغه نصرت (امداد بالواسطه) اُمنلو ، ټولو انبیاؤ علیهم السلام دَ حضور علیه السلام دَ نبوّت تصدیق اُکړوا و خپلو اُمتونو ته ئے دَ هغه دَ نبوّت منلو او مدد کولو تاکید اُ فرمائیلو لکه چه موسیٰ علیه السلام دَ تورات کتاب استثناء باب عـ۱۸ او باب عـ۳۳ کښې داؤد علیه السلام په زبور باب عـ۴۵ کښې ، حضرت سلیمان علیه السلام په (غزل الغزلات) کښې حضرت عیسیٰ علیه السلام په انجیل یُوحنا باب عـ۱۹ آیت عـ۸ تر آیت عـ۱۵ کښې اِعلان کړے دے ، اُس کَ دے خبرے ضرورت وو چه دَ نبی الانبیاء ، عملی بالذات ظهور اُوشی ، لکه په حدیث دَ معراج کښې صورت دَ دے دا اُشو چه ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ته ئے امامت اُکړو او بل عملی صورت ئے دا شو چه کوم تر ټولو روستو پیغمبر حضرت عیسیٰ علیه السلام تر آخرے زمانے ژوندے اُساتلے شو او بیا دغه نبی دَ حضور علیه السلام دَ یو اُمتی په شکل دَ دین محمدی دَ خدمت دَ پاره دَ آسمانه راکوز کړے شو ، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ ټولو تر شعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



انبیاؤ علیهم السلام دَ یو نمائنده په توګه دَ شریعت محمدیؐ خدمت واملاداً عملاً کړی او په دے توګه دَ حضور علیه السلام دَ پیغمبرانو دَ پیغمبرئ عُهده واضحه کړی۔ دَ پیغمبرانو دَ پیغمبرئ دا عُهده دَ حضور علیه السلام دَ یو پیغمبر په ذریعه عملاً مُکمّلول ځکه ناممکن وو چه دَ حضور علیه السلام نه پس دَ نبوّت دروازه بنده ده د ختمِ نبوّت او دَ پیغمبرانو دَ پیغمبرئ عُهده دَ حضور علیه السلام بنه ښکاره کولو دَ پاره دَ یو پیغمبر رالیږل په توګ دَ اُمّتي ضروری وو چه په نزول دَ عیسیٰ علیه السلام دا حکمتِ الٰهي مکمل شو؛

نو داخبره یقیناً صحیح شوه چه دَ عیسیٰ علیه السلام نزول دَ حضور علیه السلام دَ ختمِ نبوّت په حیثیت دی؛

## ۳- دَ عالمي فِتنو او دَ عُمومي اِصلاح په لحاظ دَ مسیحؑ دَ نزول حِکمت

په دے باره کښې دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ نزول حکمتونه دا دی

(۱) دوی دَ نزول یو مقصد دَ دجال دَ فتنے ختمول او دَ دجال قتلول دی دجّال به دَ خُدائیٔ دعوید اروی، نو عیسیٰ علیه السلام به دَ توحید الٰهي قائمولو په غرض دجّال په دے جرم کښې اُوژنی چه هغه به دَ الله نه سِوا دَ بل چا خُدائیٔ ته خلق رابلی دَ دے بل حکمت به دَ عیسیٰ علیه السلام خپل اُمت (نصاریٰ) ته دا ښکاره کول وی چه دَ الله نه بغیر دَ بل چا دَ خدائیٔ عقیده لرونکے ګمراه دَ قتل حقدار دے، ځکه چه نصارٰی چِنِه هُم دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ خُدائیٔ دعوه لوی دی دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ لاس دَ (یهودی) دَجّال او دَ یهودیانو قتل کیدل دَ هغوی (یهودو) دَ دے دعوے تردید کول او سزورکول دی دَ کومے دَ مخه چه هغوی حضرت عیسیٰ ؑ خپل مقتُول او مصلُوب ګنړی ؛



(۳) دیو (رحمتی) مسیح (علیه السلام) په لاس دَ بل (لعنتی مسیح) (دجّال) او دَ هغه دَ مرید انو تباهی ډیره مناسب معلُومیږی، موبږ وړاندے بیان کړی دی، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام مسیح هدایت دے او بل په دے وجه مسیح دے چه دَ هغه خاص ځائے نه او سیاحت به ئے کولو او دا بل مسیح ضلالت دے او بل په دے وجه مسیح دے چه دَ هغه کینړه سترګه دا سے رنګه لکه چه هوار لیوور کړے شوے وی؛

(۴) نوی تمدُّن او دَ سائنس ترقیٔ دَ دُنیا تباهیٔ په غاړه اُدرولے ده، دا تباهیٔ ویجے بیُول او غټ فسادُونه په مادی قُوت چیرے نشی ختمیدلے، کے یو نیک حکومت کارخانے جورے کړی وسلے راجمع کړی نو خدائے دُشمن، فسادیان، دَ دُنیا تماه کوونکی مشرقی او مغربی غټ طاقتُونه په سائنسی، ایټمی، بلکه هرقسم سامانِ جنګ او تباهیٔ په چلولو کښې دومره وړاندے دی چه په مادی طاقت ئے دغه صالح طاقت (حکومت) نه شی رالاندے کولے دے دَ پاره داسے یو لوی روحانی طاقت پکار دو چه دَ هغه په یو شُف او دَ دُعا په یو جُمله دا ټول هرڅه تباه شی او دَ امن دوره دورشی، دے کار دَ پاره حضرت عیسیٰ علیه السلام ځکه مُناسب دے چه هغه کښې ټُول غټ خلافِ عادت رُوحانیتُونه جمع دی، هُغه دروح القدس له پُوکی پیدا دے دَ ذهکے په ژوند کښې رُوح القدُس ورسره وو، "وَاَیَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ"، آسمان ته دَ رُوح القدس په ذریعه اُوچت کړےشو، دَ آسمانه راکوزیدو په وخت به ئې دواړه لاسونه دَ دوو فرښتو په اُوږو ایښی وی "وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلٰى اَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ" داحدیث دلنواس بن سمعان په روایت دَ مُسلِم شریف دے، دَ دے خلورو خاص رُوحانیتُونو اثر به دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کله د دُعا په یو جُمله به ټول یاجوجي ماجوجي فسادي قوتونه په خپل خپل ځائے تباه شي ټوله زمکه به د دوی د مُردارو نه بدبُویه شي، په مُسلم شریف کښې د نواس بن سمعان په روایت حدیث شریف دے، چه یاجوج ماجوج به حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه ملګری راګیر کړي (فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسٰى وَأَصْحَابُهُ فَيُرْسِلُ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ، الحديث،

حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه ملګری به دُعا اُوکړي نو الله به د هغوی په څټونو د کرکټونو یو نوع راولي، فَيُصْبِحُونَ فَرْسٰى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ، نو ټول به د مرو یو داسے ډیرے شي لکه چه یو سړے مړ شوے وي یو لیشت زمکه به هُم د دوی نه تشه نه وي د بدبُوئ نه به وکه پکه وي نو الله تعالیٰ د مُرغۍ اُو بنا نو پشان غټ غټ مارغان را اُلیږي هغوی به د ضمُردارے چرته بل خوا یوسي،

د دُنیا ورا لوئو لوئو غټ ځواکونو دُښمن طاقتونه د دجّالي فتنه ده د قوم متعلق چه د عمران بن حصینؓ په روایت په مُسلِم شریف کښې حدیث دے د (مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ) یعنی آدم علیه السلام د پیدا ئش نه تر (أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ، ؛ قیامته پورے د دجّال د فتنے نه بله غټه فتنه نشته:

د یاجوج ماجوج په باره کښې ذکرپکار دے چه دا څنګه دے یاجوج ماجوج ته په عبراني ژبه کښې (غوغ ماغوغ) او په انګریزئ ژبه کښې د ګاګ میګاګ) وائي (عقیدة الاسلام ص٢٩٨) روس او چین یاجوج دي، او برطانیه او امریکه ماجوج دي چه بعضے د ګاس ر کاس میکاس) او بعضو ته (چین ماچین) (ناسخ التواریخ) د آدم علیه السلام نه ... ملګرو به ... تر تاریخ د ذوالقرنین پورے ... تاریخ

هبوطی لیکلے دے، او کله یاجوج ماجوج هر کافر ته د ویلے شي، الکه د حشر په حدیث کښې وي،

مِنْ يَّأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ أَلْفٌ وَّمِنْكُمْ رَجُلٌ، یعنی په دوزخ کښې به یاجوج ماجوج زرکسان او تاسو یوکس (یوکس په زرو کښې) حافظ ابن حجرؒ او قرطبیؒ د دے تشریح کړی ده، أَيْ مِنْهُمْ وَمِمَّنْ كَانَ عَلَى الشِّرْكِ مِثْلَهُمْ وَرَجُلٌ مِّنْكُمْ أَيْ مِنْ وَمِمَّنْ كَانَ مِثْلَكُمْ، ګویا کښې د زرو نه مطلب مُطلق کافر او د مِنْكُمْ نه مطلب مطلق مُؤمِنْ دے (سهدرین جوګا را یهود د یهودو په عقیده کښې د حدیث درجه لري په (خزائن الروم) کښې عبراني خط سره موجود دے، په دے کښې نقل دي، چه، عالم به د ٣٢٢٣ نه پس یتیم شي او د هغے نه پس به د ګوګ ماګوګ) جنګونه وي او پاتے زمانه به د ماشیح وي، صاحب ناسخ (ماشیح مبارک) خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ته وئیلي دي او په رعبري کماد) کښې د ماشیحؒ نه پس لیکلي دي چه د دے نه پس به دُنیا یتیمه بے محافظه پاتے شي، یعنی نبوّت به ختم شي،

## پنځم حکمت

پنځم حکمت دا دے چه د موجوده دور د عالمي فتنو او د ایټمي تباهو بانیان یهُود او نصارٰی دي، د اشتراکیت باني کارل مارکس یهودي دے د ایټم بم جوړونکے شوپن هار "یهُودي دے د نوي تهذیب خبرو نکے د فاسقانه معاشرے او انسان کُش سامراجیت بنیاد مسیحي طاقتونه قائم کړیدے او د تورومن هبو لو خصوصاً د مُسلمانانو عقیدے او عملونه خرابونکي قومُونه هم عیسایان دي، په دے وجه ضروري وه چه د یو اسرائیلي پیغمبر (چه عیسائي قوم ئے خپل پیشوا مني) د لاسه د دغه اُمت پیدا کړي فسادُونه ختم شي، غرض دا چه د عیسیٰ علیه السلام اُمت ما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سائنسي، ایټمي ذریعو سره کوم فساد چه دا پورته کړی دی، د آسماني تدبیر نه بغیر ... د دغه طاقتونو د هغې د مقابلې توان نه لري په دې وجه عقل، د عیسی علیه السلام راکوزیدل ضروري ګڼي د کوم چه تدبیر الٰهي په زړګوته کاله ورانه دے فیصله کړیده د دې دجالي قوتونو تالي ست دا اصلاح څیږې نشي کولے کوم چه عیسائي او مسیحي د کان چلولو د پاره د دجالي قوتونو قضه مضبوط کړے او د اسلام بوله ګټه د خوار لسو سوو کالو مسلمانان کافران کړی او تباه کړی:

## فائده
## د ذوالقرنین د بند متعلق

په دنیا کښې دا وخت دیر بند ونه دی تو د چین دیوال چه دیر اوږد او پلن دے او هغه ته په منګولی ژبه کښې (ډنګو ده) او په ترکي ژبه کښې (بوقور قه) ویلے شي.

دویم: د بخارا او ترمذ په مینځ کښې چه ورته (در بند) ویلے شي، دا د تیمور په وخت کښې موجود وو.

دریم د داغستان، بند۔ د دے نوم (باب ابواب) دے او دی (در بند) هم ورته ویلے شي، بستاني په (دائرة المعارف) کښې د دے تفصیل بیان کړیدے:-

څلورم، هغه بند دے کوم چه (کاکیشیا) قفقاز سره په داڑیال دره کښې دے (یاقوت) په (معجم البلدان) کښې لیکلي دي چه دا کوهي شوے تاله نه جوړ دے او دا نور دے د کانړو دی بنا په دے، د قرآن د تشریح مطابق د ذوالقرنین بند هم دا څلورم دے، په (ناسخ التواریخ) کښې دا بنکاره بیان شوي دے د دے تائیه دا دے هم کیږي، چه (خرداذبه) په کتاب المسالک، کښې لیکلي دي چه (عباسي خلیفه واثق بالله د ذوالقرنین



د بند د تحقیق د پاره د ماهرانو یو کمیشن اُلیږلو هغوی هم دا بند د قرآن مطابق د ذوالقرنین بند اُټاکلو، د ذوالقرنین دے بند ته په فارسي ژبه کښې (در آهني) ترکي ژبه کښې (دامرکپو) او په چیني ژبه کښې (بهاګ کوراني) وائي بعضے (کور) د (ر) د (کور) مطلب (کورش سائرس) دے چه دا د (کیخسرو) نوم دے،

## ذوالقرنین

د ذوالقرنین درے سفره په قرآن کښې ذکر دی، یو مغربي، بل مشرق او دریم غالباً شمالي دے، ذوالقرنین څوک وو، امام رازي رح په تفسیر کبیر سورة کهف کښې لیکي چه دا د مقدونیه سکندر د فیلقوس ځوئے د ارسطو شاګرد وو، امام رازي ارسطو ته بنکاره کافر ویلي دي، بعضو ذوالقرنین کیقباد ته ویلي دي، او بعضو مغفور چین ته، بعضو یمن بادشاه ذو نواس حمیري ته، او بعضو حضرت ابراهیم علیه السلام د زمانے ساي بادشاه ته ذوالقرنین ویلي دي، بعضے وائي چه دا مصعب بن عبدالله وو لکه چه ابن عبدالبر لیکلي دي، بعضے عبدالله بن ضحاک بنائي او بعضے دا سائرس (کورش) ګڼړي دا خبری صحیح دے نورے ټول غلط دي نور اقوال هم شته خو هغه هم غلط دي، د مصعب بن عبدالله او د عبدالله بن ضحاک سند صحیح نه دے حافظ بن حجر رح د دے تردید کړیدے، او دا ابراهیم علیه السلام د زمانے مصعب او عبدالله بن ضحاک په تاریخ دا ثابت نه دی چه دوی د ابراهیم علیه السلام د زمانے وو او دا هم نه دی ثابت دوی دا بند جوړ کړیدے، نور بادشاهان مومنان نه وو، سائرس ذوالقرنین چه مومن صالح وو او دے قبل از مسیح کښې تیر شویدے صحیح خبره دا ده چه دا بند هم دۀ جوړ کړیدے ځکه چه قرآن کم نام ده نه نیک سرے خو ویلي دي او د دے بند نسبت کول د ده ته درست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري دا رنګ په تاریخ کښې دده دې سفرونو هم ثابت دي، سکندر د قفقاز سفر نه دے کړے او نه نوروذکر شوو ګسانو سفر کړے دے د ذوالقرنین مغربي سفر د ایشیائے کوچک وو، او د نمر ډوبیدل په «عَيْنٍ حَمِئَةٍ» کښې د سمرنا د سمندر په اوبو کښې وو کوم چه توره دی، سائرس بابل فتح کړو بني اسرائیل ئے خلاص کړه، د بیت المقدس تعمیر ئے اوکړو او یسعیاه علیه السلام اته سلے کاله ړومبے د بیت المقدس د تعمیر پیشن ګوئي کړے وه، چه بابل کښې به آوریا کاله یهودیان قیدوی بیا به بیت المقدس آباد شي، امام رازی رح په تفسیر کبیر کښې ښکاره وئیلي دي چه دا بند سائرس جوړ کړے دے او دا چه ذوالقرنین یقیناً سائرس دے دانیال علیه السلام په دین وو، د تحقیق د تاریخ نه علاوه د یسعیاه علیه السلام صحیفے باب ۴۵ ع ۱تا۴ او د دانیال علیه السلام مکاشفې باب ۸ آیة ۱تا۸ د زکریا علیه السلام کتاب باب ۱ آیت ۱۲ او د عزرا باب ۱ آیة ۱تا۴ نه دا ښسته شو یده کوم چه د قدیم تاریخ اهم ترین بنیاد ګڼړ نه دی، ابراهیم زردشت هم د دانیال علیه السلام شاګرد او موحد وو ځکه چه د هغه اوستاد اعوذ بالله او بسم الله نه شروع کیږی د ابن کثیر تحقیق هم دا دے چه د کتبات اصطخر کښې دا الرا ته هم مؤمن او د مجوسیت دښمن وئیلے شوید ے، سائرس ذوالقرنین کیدا نه ورباندے نیر شویدے، د یاجوج ماجوج په باره کښے دهغوی د لوروالي واقعات غلط دی، ابن کثیر رح په خپل تاریخ کښې او بخاری رح په باب د یاجوج ماجوج کښې د دے تردید کړیدے، دغه رنګ په ترمذی کښې د ابوهریره رض هغه روایت چه هغوی بند کښې او بیا وائي چه صبا به نور کنو خوانشاء الله وئیل هیر کړي نو بیا بند په خپل حال شي او څه وخت چه د وی انشاء الله او وائي

نو دغه بند به مات کړی او نړ به را اوزی، دا هم ضعیف روایت دے، امام احمد بن حنبل رح ابن کثیر رح په خپل تفسیر جلد ۳ ص ۱۰۵ کښې نقل کړیدی چه دا خلاف قرآن دی،

فَمَا اسْطَاعُوٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا (سورة الکهف آیة ۹۷) یاجوج ماجوج نه په بند ختلے شی او نه پکښې سوری کولے شي:

ابن کثیر رح لیکی چه دا روایت ابوهریره رض د کعب الاحبار نه را غستے دے او خلقو د غلطئ نه ورته مرفوع وئیلی دی (د عقیدة الاسلام) په مطابق یاجوج ماجوج به په بند بهرته نه را پورے اوزی بلکه د بحیره کیسپین نه ترمنچوریا پورے به د یو ځائے نه را اوزی، قرآن د دے بند مضبوط والے بیان کړیدے او د هغه ماتول ئے د قیامت علامه بنودلے ده مګر د یاجوج ماجوج ذکر چرته چه را غلے دے هلته د بند ذکر نشته دے نه معلومیږی چه یاجوج ماجوج به د بند په لاره نه بلکه په بله لاره را اوزی (حدیث شریف متفق علیه) وَيْلٌ لِّلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مِثْلُ هٰذِهٖ، عمدة القاری جلد ۷ کښې ذکر ما نی نه منقول دی چه دا استعاره ده مطلب ئے فتنے خوریدل دی، لکه چه د ګوتے د کړئ په اندازه یو ځلے شی او فتنے تر را برسیره شی، لیکن مطلب ئے هرګز دا نه دے چه دغه د ذوالقرنین بند به ماتیږی او یاجوج ماجوج به پرے را اوزی، په عقیدة الاسلام کښې د ذوالقرنین تشریح په مختلفو اقوالو سره شویده لیکن د اصطخر له آثار قدیمه د ذوالقرنین کوم مجسمه چه برآمد شویده په هغه کښې د ذوالقرنین د سینے د پوښتکینړے او چپے غاړے ته له مینځه تښ د سینے ښکرونه غوندے جوړ شویدی د دے نوم دا وجه ښودل صحیح ښکاری:

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تتمّه

## دَكُفّارو دَعذاب همیش والے

دَ خَتَمَ اللّٰهُ آیت تفسیر بیانولو په وخت امام رازی رح په تفسیر كبیر كښې دَ كُفّارو په دائمی عذاب اشكالونه پیش كړی دی، احقر به دَ الله په فضل دغه شبهې نقل كو او جواب به ئے وركوی۔

**رُومبنئ شُبه** — په دے مسئله باندې اشكال داده ی چه دا دَ خدائے دَ انصاف نه خلاف ده، ددے جواب دا دے چه دَ عذاب همیش والے ظُلم نه دے بلكه انصاف دے، دَ ظُلم مطلب دا دے چه دَ بل په ملكیّت كښې تصرُّف اُوكړ شی اوكُفّار خود خُدائے مِلك دی خُدائے په خپل مِلك كښې تصرُّف كوی دَ بل چا په مِلك كښې نه كوی۔

**دویمه شُبه** — همیشه عذاب دَ خُدائے دَ رحمت خِلاف دے دَ دے جواب دا دے چه دَ مُجرم سزا عین رحمت دے ځكه كوم حكومت كښې چه سزا نه وی هغه به ټول خلق دَ رحمت نه خلاف كړی

**دریمه شُبه** — دَ جُرم وخت لږ دے یعنی دَ بلوغ نه تر مرګه او دَ عذاب وخت ختمیدُونكے نه دے دا مناسب نه ښكاری، دَ دے،

اوّل جواب دا دے چه دَ جُرم او سزا په وخت كښې برابرے ضروری نه دی اكے مار داكه دَ یو ګهنټے یا ګے غورځی لیكن سزا په كالُونو خوری اصلی خبره داده چه سزا دَ جُرم دَ نوعیت په مطابق وركولے شی دَ هغه دَ وخت په مطابق نه، دَ كُفر دَ جُرم نوعیت سخت دے، نو ځكه ئے سزا هم سخته پكار ده، دویم جواب دا دے چه دَ كفارو جُرم (كُفر) هم نه ختمیدُونكے دے په مرګ ختمیدل دَ ده په اختیار كښې نه وی دا ترے بے



اختیاره پاتے شو كه دے ژوندے وے نو په خپل اختیار ده كُفر ټول عُمر نه پریښودو، ددے اګیریدو او مجبُوری په حالت كښې مُجرم پاتے كیدل مخلُوق او خالِق دوارو نه منی، مطلب دا چه دَ كفر جُرم هم نه ختمیدونكے دے او عذاب ئے هم نه ختمیدونكے مُناسب دے۔

دریم جواب دا دے، چه كفار و دالله تعالٰے دلا محدُودو او بے پایانه انعامانو او كمالاتو نه انكار او بغاوت اُوكړو نو ځكه ئے سزا هم لامحدُوده او بے پایانه مُناسبه ده۔

څلورم جواب دا دے، چه دَ كفارو سزا دَ طبعی تاثیر په دول ده، لكه دَ سرطان جراثیم چه دَ عُمر سره سم وی ټول عُمر ترې نجات نه ورځی بے آرامه او تكلیف كښې وی، دَ كُفر جراثیم هم دائمی اثرات او نتیجے لری یعنی دا چه هغه په اود كښې همیشه پاتے كیدل، فرق او بیلتون صرف دومره دے چه دَ جسمانی رنځ (سرطان) اثرات او نتیجے دَ جسم په ختمیدُو په مرګ ختمے شی او دَ روحانی رنځ (كُفر) اثرات او نتیجے دَ رُوح سره تړلی دی كوم چه ختمیږی نه څو مره پورے چه دَ رُوح ژوندی وی (چه په آخرت كښې نه ختمیږی) نو مُناسب دی چه عذاب دَ كفر هُم په آخِرت كښې همیشه وی۔

پنځم جواب دا دے، چه دَ هر تكلیف سبب تر څو چه وی نو تكلیف به هُم وی لكه لیټنوركی كښې چه كانړے تر څو وی تر هغے به پهكښ درد هُم وی یا دَ اودكا دی په شیشه كښې دننه دَ ژنارتو ویستو ن ریلو نے حروف تر هغه وخت موجود وی تر كومه چه دا شیشه موجود وی، هر كله چه كانړے دَ لیټنوركی نه اُوتو یا شیشه چپ چُور شوه، نو هله به دا دغه حروف ختم شی، دغه رنګ دَ كُفر نه هر څو پورے چه روح كښې موجود وی نو عذاب به ئے هم تر هغے وخته وی مګر دا دے په نُوح كښې ورننوتے دے چه دَ بیلیدو امكان ئے هیڅ نشته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه الله تعالی فرمائی

وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ ؛ کچرې کفار د آخرت نه دُنیا ته راوستے (سورة انعام) ؛ شی نو بیا به هم دغه کفر کوی کوم نه چه منع کړے شوی وو. مطلب دا چه سبب یعنی کفر تر څو چه موجود وی، نو عذاب به ئے هم تر هغې وخته پورے وی. لیکن کفر په روح کښ داسے ننوتے دے چه تر جدا کیدے نشی او روح ختمیږی نه چه د هغې په ختمیدو دغه سبب (کفر) هم ختم شی نو ځکه ورله دائمی عذاب مناسب دے :

## تَمَّتْ بِالْخَیْر

# یوه نادره تحفه

# عصمت انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام

(اردو)

از افادات

علامه شمس الحق افغانی رحمة الله علیه

جمع و ترتیب :- شیخ فتح الرحمٰن لیکچرر شعبه عربی پشاور یونیورسٹی

ناشر

## تاج کتب خانه محله جنگی نزد قصه خوانی پېښور

د ملاویدو پته

کتب خانه رشیدیه محله جنگی قصه خوانی پېښور بازار


## د دین تبلیغ

په هر مسلمان نر او ښځه باندے فرض دے. خو څنګه چه د جهاد د پاره وسله ضروری ده. هم داشان د تبلیغ د پاره د دین علم ضروری دے. او د دین د زده کړے د پاره ښه کتابونه ځان سره ساتل او بیا یا لوستل پکار دی. د دے مقصد د پاره تاج کتب خانے تاسو د پاره ښائسته علمی ملغلرے د کتابو په شکل کښے چاپ کړے دی، چه په هر کور، حجره او جوماتونو کښے د هغې نه یوه ښائسته کتب خانه جوړیدے شی. ښه کتابونه ځان سره ساتل کار ثواب دے او د مرګ نه پس تر یو صدقه جاریه جوړیږی.

د مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع دیوبندی مشهور تفسیر

### مَعَارِفُ الْقُرْآن

په پښتو ژبه کښے یو اهم مقام لری. په پښتو ژبه کښے دومره مفصل او مستند تفسیر بل نشته چه په هغې کښے د قرآن کریم شان نزول، تفسیری بحثونه، د پخوانو تفسیرونو خلاصه او د موجوده زمانے د هر قسمه مسائلو وضاحت د قرآن مجید په رڼا کښے وړاندے شوے دے. د قرآن مجید د طالبانو، عالمانو او په کورونو کښے د زنانو د پاره عظیمه تحفه ده. هر چا سره چه دا تفسیر موجود وی هغوئ ته پکار دی چه نور خلق ځان سره کینوی او هغوئ ته د قرآن درس ورکوی. انشاء الله د زړونو او عملونو اصلاح به په تیزئ سره کیږی. دا تفسیر په (۳۰) جلدونو کښے چاپ شوے دے.

د شاه ولی الله او شاه عبدالقادر د فارسی او اردو تفسیرونو آسانه پښتو ترجمه.

### آسان تفسیر

په یو جلد کښے د قرآن مجید بهترین پښتو تفسیر دے. چه په دے کښے د قرآن مجید د لفظی ترجمے سره سره د پښتو محاورے خیال هم ساتلے شوے دے. او په حاشیه باندے ډیر قیمتی معلومات لیکلے شوی دی. د قرآن پاک د ترجمے د زده کړے د پاره دا په موجوده زمانه کښے یو لوئے نعمت دے. په غټ خط کښے هم چاپ شوے دے، او په وړوکی سائز کښے هم تر لاسه کیدے شی.

تاج کتب خانه ... محله جنگی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدایه شریف د اسلامی حنفی فقهے یو جامع او مستند کتاب دے چه په ټولو اسلامی مدرسو کښے لوستلے شی. په پښتو ژبه کښے تر اوسه پورے د دے کتاب شرح نه وه. تاج کتب خانه پېښور ته الله پاک توفیق ورکړو چه د ستر عالم حضرت مولانا حنیف ګنګوهی "غایة السعایة فی شرح معانی الهدایه" د پښتو ترجمے انتظام اوکړو او د فقهے دا عظیم الشان ذخیره

## تاج الهدایه پښتو شرح هدایه

په نوم په ډیر ښائسته د ول چاپ شویده. د دے کتاب په لوستو سره په اسلامی فقه کښے مهارت حاصلیدے شی.

---

د احادیث رسول صلی الله علیه وسلم اهمیت هرچا ته څرګند دے. د احادیثو او خوږه چینه ده چه تر قیامته به مسلمانان پرے خپله تنده ماتوی. د احادیثو په ذخیرو کښے

## مشکوٰة شریف

ته لوی مقام حاصل دے. موږ د پښتو لوستونکو دپاره د مشکوٰة شریف یوه داسے نسخه تیاره کړے ده چه د پاڼے په یو طرف مکمل عربی متن سره د اعرابو چاپ شوے دے. او مقابل ورته آسانه پښتو ترجمه ټکی په ټکی لیکلے ده. د دے کتاب په لوستو سره د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم قول مبارک ژوند او حکمتونه د سترګو په وړاندے اوګرځی. ایمان پرے مضبوطیږی او د نیک عمل شوق زړونو کښے پیدا کیږی او غلط عادتونو او عملونو نه یې د ګرځه ورکیږی. د علم دین د طالبانو نه علاوه په کورونو کښے زنانه ئے هم په آسانه لوستلے شی. مشکوٰة شریف پښتو په ښکلی ښائسته جلد دو کښے چاپ شوے دے.

****************************

* د حدیث شریف یو بل اهم کتاب سنن ترمذی دے. علماء وائی چه د چاپه کور کښے ترمذی شریف موجود وی نو هغوی د دے داسے اوګڼی لکه چه د دوئ جهانو سردار حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د هغه په کور کښے خبرے کوی. د دے سعادت د حاصلولو دپاره تاج کتب خانے ترمذی شریف (پښتو) په داسے انداز کښے چاپ کړے دے چه د پاڼے په نیم طرف مکمل عربی متن دے او مقابل ورته ټکی په ټکی آسانه پښتو ترجمه ده. (زیر طبع)

## تاج کتب خانه. محله جنګی، قصه خوانی پېښور

فون [illegible]

## په پښتو ژبه کښے د تاج کتب خانے علمی تحفے

چه د دین د علم دپاره د هر کور، مدرسے او کتب خانے دپاره ضروری دی.

### تفسیر معارف القرآن

د مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع دیوبندی د مشهور تفسیر پښتو ترجمه. په پښتو ژبه کښے دا تر اوسه لویه تفسیری ذخیره ده چه د عوامو او علماؤ دپاره یو شان اهمیت لری.

### مشکوٰة شریف

د احادیثو مشهور او مستند کتاب په ډیر ښائسته انداز او آسانه پښتو ترجمے سره ډیر زر چاپ کیده ونکے دے چه په لوستو ئے سترګے یخیږی.

### تاریخ اسلام

د حضور پاک صلی الله علیه وسلم او د هغوی د خلفاؤ او یارانو پاکیزه ژوندانه حالات په ډیر تفصیل سره علمی انداز کښے په دے کتاب کښے بیان شوی دی. [illegible] مسلمان سړی او ښځو دپاره [illegible] تصنیف دے.

### مکمل موضوع

د ماتے دپاره کتاب په پښتو ژبه کښے لومړنے او مستند کتاب چه هر قسم شامل بحث په ډیر تفصیل او وضاحت سره بیان شوی دی. په پښتو ژبه کښے د موضوع په باره کښے دومره مفصل کتاب د مطالعے [illegible] شوی دے.

### [illegible]

د [illegible] متعلق هر قسم ضروری [illegible] په دے ښائسته کتاب کښے راغونډ شوی دی، چه د هر تالیف [illegible] دپاره [illegible] ډیر ضروری دی.

### [illegible] منیه او قدوری پښتو شروح

د مدرسو د طالبانو او عامو مسلمانانو دپاره د فقهے دا کتابونه په عوامو کښے د پښتو شروحات سره چاپ شوی دی چه [illegible] طالبانو په مدرسو کښے [illegible]

### [illegible]

د عربی ژبے د طالبانو او استاذانو دپاره یو نایاب تحفه ده.

د مولانا محمد میاں صاحب مشهور تصنیف "تاریخ اسلام" سوالاً جواباً.

[illegible] چه د کتابونو د اشاعت او لوستو هر مسلمان ته ترغیب ورکړی [illegible]

## تاج کتب خانه. محله جنګی، قصه خوانی پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیرت النبي ﷺ

سید ابوالحسن ندوي

دَ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ربښتونے مینه دَ ایمان تهه ده. په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندے رحمت او درود ویل. دَ هغهٔ تعلیمات زده کول دَ هغهٔ دَ ژوند حالات معلومول دَ هر مؤمن دَ پاره ډیر ضروري دي.

دا دَ پښتون خوش قسمتي ده چه دَ سیرت النبيؐ په ذخیره کښے یو بهترین کتاب "نبي الرحمة" په پښتو ژبه کښے دَ "سیرت النبيؐ" په نوم چاپ شو. دا دَ موجوده زمانے دَ یو ستر عالم او مجاهد "سید ابوالحسن علي ندوي" تالیف دے. دا کتاب دَ سیرت دَ عربي، فارسي، اُردو او انګریزي کتابونو نچوړ او خلاصه ده. دَ نبي کریم صلی الله علیه وسلم دَ ژوند تفصیلي حالات دَ سیرت په باره کښے دَ دنیا دَ لویو لویو علماؤ تحقیقي معلومات، دَ مسلمانانو نه علاوه دَ غیر مسلم علماؤ خراج عقیدت، حضور صلی الله علیه وسلم دَ تعلیماتو بهترینه خلاصه او دَ هغهٔ دَ مبارک ژوند هر اړخ په دے کتاب کښے ډیر په وضاحت سره جمع کړے شوے دے.

دا کتاب ضرور په خپل کور کښے او ساتئ

# دَ وادهٔ مسئلے

هر بالغ نارینه او زنانه له پکار دي چه دَ کورني ژوند په باره کښے دَ الله او رسول دَ حکمونو نه ځان خبر کړي. دَ دے غرض دَ پاره موږ یو ښائسته او آسان کتاب "دَ وادهٔ مسئلے" چاپ کړے دے، چه په هغے کښے دَ ښځے خاوند تر مینځه دَ تعلقاتو، نکاح، طلاق، عدت او نور هر قسم ضروري مسائل جمع کړے شوے دي. دَ دے کتاب په نه لوستلو ستر کے پرانیستے شي او بکاره شي چه زموږ ناپوهه خلق دَ خپل جهالت په وجه څومره ګناهونو کښے مبتلا دي او دَ ځانه خبر نه دي. کتاب په ظاهره ورو کے دے، دلے په "کوزه کښے سمندر" هر دا کتاب ته دَ ګوري شي.

تاج کتب خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


* د اسلامي فقهې علم د هر مسلمان د عملي ژوند دپاره ډیر ضروري دے. په پښتو ژبه کښې د فقهې درسي کتابونو ترجمې خو کړې شوې دي لکه خلاصه، مُنیه، قدوري، کنز وغیره. ولے داسے یو کتاب چه په آسان انداز کښې د ژوند ټول اهم مسئلے پکښې ذکر شوے دي، تر اوسه ته نه وو چاپ شوے. د دے ضرورت د پوره کولو دپاره مونږ د عصر حاضر د ستر عالم مولانا مجیب الله ندوي صاحب مشهور کتاب:

## اسلامي فقه

پښتو ژبه کښې چاپ کړو. د دے کتاب یو څو خصوصیات دا دي:

* د فقهې د هر یو اهم بحث نه وړاندې د قرآن مجید د آیتونو او احادیثو په رڼا کښې په زیر غور مسئله بحث شوے دے.
* بیا په آسان ترتیب سره متعلقه مسائل یو له پسې بیان شوے دي.
* د یو عام مسلمان په ژوند کښې روزمره پیښیدونکې هر قسم مسائل د موجوده حالاتو د تقاضا مُطابق بیان شوي دي.
* د طهارت، مونځ، روژے، حج، طلاق، نکاح، میراث، رضاعت، تجارت، مضاربت وغیره

او د موجوده زمانے د نوے نوے مسئلو جوابونه د قرآن وحدیث په رڼا کښې وړاندې شوي دي. که څوک دا کتاب اوولي نو د فقهې په درسي کتابونو پوهه به ورته ډیره آسانه شي. او د خپل ځان نه علاوه د نورو خلقو رهنمائي به هم کولے شي.

* د قیامت علامے: ژوند د باد پشان تیریږي، هره شپه او هره ورځ مونږ قبر ته ورنزدے کوي. ولے مونږه په غفلت کښې پراته یُو. په قرآن مجید او احادیثو کښې بیا بیا د قبر او آخرت د ژوند بیان هم په دے غرض شوے دے چه انسان د غفلت د خوب نه راپیدار شي او آخرت دپاره تیار شي. په دے غرض مونږه د

مُستند کتاب تذکرة المعاد پښتو ترجمه

## د قیامت علامے او آخرت احوال

په نوم چاپ کړے دے. چه په لوستلو ئے زړونه ویلے کیږي، وینښتهٔ او د ریږدي، سترګے د اوښکو نه ډکے شي او انسان خپل خالق او مالک ته متوجه شي. د وعظ او نصیحت دپاره ډیر بنا ئسته کتاب دے. لیکونکے: مولانا سید روح الله د ماراټه

## تاج کتب خانه. محله جنګي، قصه خواني پیښور

فون: [illegible]

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**